فاسئلوا اهل الذكر ان كنتم لا تعلمون

احسن الفتاوى

پښتو ترجمه

تاليف

فقيه العصر مفتي اعظم

حضرت مفتي رشيد احمد رحمه الله تعالى

مكتبة فريدية

محله جنگی پشاور

قال الله تبارک وتعالی

بسم الله الرحمن الرحیم

﴿فَسْئَلُوٓا أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾

وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم

إِنَّمَا شِفَاءُ الْعِيِّ السُّؤَال (**الحدیث**)

احسن الفتاوی

دویم جلد

(له کتاب الصلوة څخه تر آخر د باب القراءة والتجوید ـ فاتحة الکلام ـ پورې)

تالیف فقیه العصر مفتی اعظم حضرت مفتی رشید احمد صاحب رحمه الله تعالی

ناشرین

مولوی محمد ظفر (حقانی) **مولوی امیر الله (شیرانی)**

د ملاویدو پته

مکتبه فریدیه محله جنگی قصه خوانی پیښور

د کتاب نوم احسن الفتاوی (دویم جلد) (له کتاب الصلوة څخه تر آخر د باب القراءة والتجوید ـ فاتحة الکلام ـ پورې)
د مؤلف نوم فقیه العصر مفتی اعظم حضرت مفتی رشید احمد صاحب رحمه الله تعالی
پښتو ترجمه او کمپوز قاري عبدالقیوم (لوګری)
ډیزاین ـ اصلاح او نظر ثاني حافظ محمد ولی (بغلاني)
د چاپ کال ۲۰۱۲
د چاپ شمیر ۱۰۰۰ ټوکه
ناشرین مولوی محمد ظفر ((حقانی)) مولوی امیر الله ((شیرانی))
د ملاویدو پته مکتبه فریدیه محله جنګی قصه خوانی پېښور
د مکتبې مسؤل مولوی محمد ظفر ((حقانی)) صاحب

كتاب الصلوة

د مازديګر د مستحب وخت تحقيق

سوال دلته يو مولوي صاحب د مازديګر لمونځ ډير ناوخته خلكو ته وركوي او وايي چه د احنافو په نزد دومره تاخير چه ((مالم تتغير الشمس بان لا تحار فيها الاعين)) مستحب دی او د حوالي په اړه وايي چه په هدايه كښي دا ډول حديث دی آيا دمولوي صاحب دا خبره صحيح ده او كه نه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په هدايه كښي خو د ماسپښي د وخت په اړه حديث شته ليكن د مازديګر په اړه هيڅ يو حديث نشته بلكه پخپل د هدايي عبارت دی د مازديګر په وخت كښي امام صاحب رحمه الله د جمهور په خلاف دی دري ګوني امامان رحمهم الله بلكه پخپله صاحبين رحمهما الله تعالى په نزد هم له لومړي مثل (د هر شي د سوري يو چند) څخه وروسته د مازديګر وخت شروع كيږي او له امام صاحب څخه هم يو روايت همدا ډول دی ليكن د امام صاحب د مشهور قول له مخي له دويم مثل (د هر شي د سوري دود چند) څخه د مازديګر وخت شروع كيږي.

قال الحافظ العينى رحمه الله وعند ابى يوسف و محمد اذا صار ظل كل شئ مثله يخرج وقت الظهر ويدخل وقت العصر و هى رواية الحسن بن زياد عنه وبه قال مالك و الشافعى و احمد و الثورى و اسحق رحمهم الله تعالى (الى ان قال) قال القرطبى خالف الناس كلهم ابو حنيفة فيما قاله حتى اصحابه الخ. (عمدة القارى ج۲)

پس د مازديګر د تاخير په قول كښي د څو وجوهاتو احتمال شته

۱ د فقهي په كتابونو كښي د مازديګر د تاخير له بيان څخه مقصد دا دی چه له دويم مثل څخه وروسته وشي چه له مخي ئي د دري ګوني امامانو او صاحبينو په خلاف د امام صاحب قول ته ترجيح وركول دي لنډه دا چه له تعجيل څخه مراد تر لومړي مثل وروسته او له تاخير څخه مراد تر دويم مثل څخه وروسته د مازديګر د لمانځه ادا كول دي

قال العلامة العينى رحمه الله و يؤيد ما قاله ابو حنيفة حديث على بن شيبان رضی الله عنه قال قدمنا على رسول الله صلى الله عليه وسلم المدينة فكان يؤخر العصر ما دامت الشمس بيضاء نقية. رواه ابو داؤد و ابن ماجة. و هذا يدل على انه كان يصلى العصر عند صيرورة ظل كل شئ مثليه و هو حجة على خصمه و حديث جابر رضی الله عنه صلى بنا رسول الله صلى الله عليه وسلم العصر حين صار ظل كل شئ مثليه قدر ما يسير الراكب الى ذى الحليفة العنق. رواه ابن ابى شيبة بسند لا بأس به. (عمدة القارى ج۲)

د علامه بدر الدین له دې بیان څخه مقصد دا دی چه د امام صاحب په مذهب کښې د دویم مثل تر پایه پورې باید تاخیر وشي
۲ - د فقهې په کتابونو کښې چه چیرته د مازدیگر د تاخیر یادونه شوې ده هلته ئې علت هم راغلی دی.

قال في الهداية لما فيه من تكثير النوافل لكراهتها بعده وفي العناية وتكثير النوافل افضل من المبادرة الى الاداء في اول الوقت وفي شرح التنوير توسعةً للنوافل وفي الشامية اى لكراهتها بعد صلوة العصر.

هو! چه کله له مازدیگر څخه مخکښې نفل کوونکي خلک موجود نه وي نو په مازدیگر کښې تاخیر به هم بهتر نه وي.
۳ - د نوافلو د ډیر والي په غرض سره هم باید دومره تاخیر و نه شي چه د مازدیگر تر لمانځه وروسته په پښو تلونکی سړی د لمر تر ډوبیدو مخکښې شپږ میله مسافه مزل وکړی شي. د عرض البلد او میل الشمس له مخې دا اندازه مختلفه وي.

روى الامام الطحاوي رحمه الله في شرح معاني الآثار عن ابي اروى قال كنت اصلي مع النبي ﷺ العصر بالمدينة ثم آتي الشجرة ذا الحليفة قبل ان تغرب الشمس وهي على رأس فرسخين ففي هذا الحديث انه كان يسير بعد العصر فرسخين قبل ان تغيب الشمس فقد يجوز ان يكون سيراً على الاقدام وقد يجوز ان يكون سيراً على الابل والدواب فنظرنا في ذلك (الى قوله) قال كنت اصلي العصر مع النبي ﷺ ثم امشي الى ذي الحليفة فآتيهم قبل ان تغيب الشمس ففي هذا الحديث انه كان يأتيها ماشياً. وايضاً فيه عن ابي مسعود رضي الله عنه قال كان رسول الله ﷺ يصلي صلوة العصر والشمس بيضاء مرتفعة يسير الرجل حين ينصرف منها الى ذي الحليفة ستة اميال قبل غروب الشمس وايضاً فيه عن ابي الابيض عن انس رضي الله عنه قال كان رسول الله ﷺ يصلّي صلوة العصر والشمس بيضاء محلقة (الى قوله) فذلك دليل على انه قد كان يؤخرها ثم يكون بين الوقت الذي كان يصليها فيه وبين غروبها مقدار ما كان يسير الرجل الى ذي الحليفة الخ وايضاً فيه والاولى بنا في هذه الآثار لما جاءت هذا المجيء ان نحملها ونخرج وجوهها على الاتفاق لا على الخلاف والتضاد فنجعل التأخير المكروه فيها هو ما بيّنه العلاء ان انس رضي الله عنه ونجعل الوقت المستحب من وقتها ان يصلى فيه هو ما بينه ابو الابيض عن انس رضي الله عنه والله على ذلك ابو مسعود رضي الله عنه. (شرح معاني الآثار ج۱)

امام طحاوي رحمه الله د حنفي فقهې لوړ پوړی امام او تر ټولو د امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله په مذهب زیات پوهیدونکی دی. د لوېې درجې فقیه او محدث دی د هغه پورتنی تحقیق او څیړنه دا څرګندوي چه د امام ابو حنیفه رحمه الله په مذهب کښې د مازدیگر تاخیر تر هغه وخته پورې مستحب

دی چه تر لمانځه وروسته یو څوک شپږ میله سفر د لمر تر ډوبیدو مخکښې وکړی شي د علامه عیني رحمه الله تحقیق هم د دې مطابق پورته تیر شو رد المحتار نومي کتاب کوم چه په حنفي مذهب کښې د فتاواوو له ټولو کتابونو څخه فائق (ممتاز او د لوړې درجې) کتاب ګڼل کیږي بلکه د فتاواوو معیار او مدار دی په هغه کښې هم د ماژدیګر د تاخیر په اړه د امام طحاوي تحقیق غوره شوی دی

قال الامام الطحاوی بعد ذکره ماروی فی التأخیر والتعجیل لم نجد فی هذه الأثار مما صحت الا مایدل علی تأخیر العصر ولم نجد مایدل منها علی التعجیل الا ما عارضه غیره فاستحببنا التاخیر ولو خلینا النظر لکان تعجیل الصلوات کلها افضل ولکن اتباع ماروی عن رسول الله ﷺ مما تواترت به الاخبار اولی وقدروی عن اصحابه مایدل علیه ثم ساق ذلک وتمامه فی الحلیة.(ردالمحتار ج۱)

په نوموړي عبارت کښې امام طحاوي رحمه الله چه د کوم تاخیر په زړورو الفاظو سره دعوی کوي دا هغه تاخیر دی چه تر هغه وروسته یو څوک شپږ میله سفر وکړی شي ((**کماهو مفصل فی شرح معانی الأثار**)) همدارنګه امام طحاوي له دې قول چه ((**ولو خلینا النظر ۔ الخ**)) څخه څرګنده شوه چه د ماژدیګر تاخیر د قیاس خلاف دی لهذا پخپل مورد باندې به منحصر پاتې کیږي د امام طحاوي له ثابت شوي تاخیر څخه زیات تاخیر له نبي کریم ﷺ څخه هیڅکله هم نه ده ثابته لهذا د قیاس په مقتضاء سره له دې زیات تاخیر کول به د استحبابو خلاف وي

د فقهې په کتابونو کښې چه کوم شی ((**مالم تتغیر الشمس بان لاتحار فیها الاعین**)) لیکل شوی دی د دې مطلب دا نه دی چه لمونځ په دومره تاخیر سره وشي چه له لمانځه څخه تر فارغیدو فوراً وروسته لمر تغیر وخوري او له دې څخه مخکښې لوستل ئې د استحبابو خلاف دی بلکه د دې مطلب دا دی چه د لمر له تغیر څخه تر مخکښې وخت پورې اجازه ده (اګر که مستحب وخت هغه دی کوم چه امام طحاوي صاحب ئې یادونه کړې ده) او تر تغیره پورې ئې تاخیر کول مکروه دي پس له دې څخه مقصد د کراهیت د پیل بیان دی نه د تاخیر د مستحب والي ((**کمایدل علیه ما نقلنامن عبارة الطحاوی فنجعل التاخیر المکروه ۔ الخ**)).

دنبي کریم ﷺ د عمل نمونه او د صحابه کرامو رضی الله عنهم عمل او د حنفي امامانو رحمهم الله تعالی د مسلک مطابق یواځې دومره تاخیر مستحب دی چه تر لمانځ وروسته او د لمر تر ډوبیدو مخکښې شپږ میله مزل وشي کله کله د کتاب په عبارت په نه پوهیدو سره انسان په ګمراهي کښې ولویږي

وکم من عائب قولاً صحیحاً وآفته من الفهم السقیم

د دې لیکنې خلاصه درې خبرې دي

پخپله په حنفي مذهب کښې چونکه صاحبین رحمهما الله تعالی د دې قائل دي چه د مازدیگر وخت له اول مثل څخه شروع کیږي او له امام صاحب څخه هم یو روایت د دې مطابق راغلی دی پس په حنفي مذهب کښې له مثل اول څخه وروسته د مازدیگر لمونځ صحیح دی د دې لپاره حنفي فقهاء رحمهم الله وایي چه تر مثل ثاني وروسته د مازدیگر د لمانځه ادا کول مستحب دي یعنی د تاخیر له استحباب څخه مراد ((تاخیر الی انقضاء المثل الثاني)) یعني دمثل ثاني تر تیریدو پورې تاخیر دی تر څو چه د امام صاحب د قول رعایت وشي او د اختلاف له شبهې څخه ځان ساتنه وشي

۲- د مثل ثاني تر ختمیدو وروسته زیات تاخیر د دې لپاره مستحب دی چه نفلونه زیات پکښې ادا شي ((فالحکم یکون دائراً مع علته)).

۳- د نوافلو د ډیروالي په غرض سره د حنفیه وو په نزد دومره تاخیر باید وشي چه تر لمانځه وروسته او د لمر تر ډوبیدو مخکښې یو څوک په پښو شپږ میله مزل وکړی شي د عرض البلد او میل الشمس د اختلاف له مخې دا اندازه مختلفه وي فقط و الله تعالی اعلم و علمه اتم و احکم

۱۳ ربیع الآخر ۷٤ هجری

په اوږدو ورځو درلودونکو ځایونو کښې د لمانځه او روژې د وختونو حکم

سوال- د اروپا په ځینو ځایونو کښې په کال کښې شپږ میاشتې یواځې نیم ساعت ورځ او درویشت نیم ساعته شپه وي او پاتې شپږو میاشتو کښې بې د دې برعکس وي. په داسې ځایونو کښې دصبح صادق. نصف النهار. دلمانځه اوروژې د وختونو تعین به څرنگه کیږي؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب- د ورځې لنډ والی[۱] په لمانځه او روژې باندې کوم اثر نه اچوي. د ورځې د لوییدو په صورت کښې که چیرته په څلورویشتو ساعتونو کښې د نه د لمر تر ډوبیدو وروسته د ضرورت په اندازه د څه خوړلو او چښلو وخت لاس ته راځي نو د لمر تر ډوبیدو پورې روژه فرض ده البته که چیرته ئې څوک برداشتولی نه شي نو په کوچنیو ورځو کښې دې بیا قضائي راوړي. او که چیرته تر غروب وروسته د ضرورت په اندازه د خوړلو چښلو وخت نه وي یا په څلورویشتو ساعتونو کښې بالکل غروب نه کیده نو په دې کښې مختلف قولونه دي په دغو کښې په هر یوه باندې د عمل کولو اجازه شته.

۱- د شافعي رحمه الله د قول مطابق تر ټولو ور نژدې علاقه کښې چه چیرته د لمر تر ډوبیدو وروسته د ضرورت په اندازه خوراک او چښاک وخت په لاس ورځي د هغه مطابق دې عمل وشي

---

۱ - په ډیرو زیاتو لنډو ورځو کښې د ماسپښین او او مازدیگر د لمانځه حکم د راتلونکي سوال په خواب کښې دی

۲. د هرو څلورويشتو ساعتونو تر پوره کيدو مخکښې يواځې د دومره وخت لپاره روژه وخوړه شي چه په هغه کښې د ضرورت په اندازه څه خوړل کيدلی شي د نتيجې له مخې په دغو دواړو قولونو کښې څه فرق نشته

۳. په نورو لنډو ورځو کښې دې قضائي راوړي

٤. په څلورويشتو ساعتونو کښې د نه د لمر د غروب په ورځو کښې تر ټولو په آخري ورځ د مازديگر د وخت له پيل يا ابتداء څخه چه څومره وروسته لمر غروب شوی وو. له مازديگر څخه همدومره وروسته افطار وکړی. دا قول د استصحاب حال. حديث دجال او د شافعي قول ته د نزديکت برسيره تر ټولو آسانه هم دی

قطبينو ته نژدې په ټول کال کښې هيڅکله هم د عام معمول مطابق څلورويشت ساعته شپه او ورځ پوره نه وي په دې ځای کښې په آخري دوو قولونو باندې عمل نه شي کيدلی لهذا هلته لومړی يا دويم قول به د عمل لپاره متعين کيږي که چيرته د دې تحمل نه وي نو د شافعي رحمه الله د قول په مقتضا سره تر ټولو ښارونو د ور نژدې ښار د لنډو ورځو د مقدار مطابق دې روژې ونيسي د لمونځونو حکم دا دی چه چيرته سپين مستطير (اوږد غزيدلی) شفق نه ډوبيږي يعنې لمر «۱۵» درجې د اُفق لاندې لاړ نه شي هلته د سره شفق د ډوبيدو په صورت کښې د ماسخوتن لمونځ ادا کړی. په دې وخت کښې لمر «۱۲» درجې د اُفق لاندې وي او چيرته چه سور شفق هم نه ډوبيږي هلته د ماسخوتن لمونځ د څينو علماوو په نزد معاف دی او د څينو په نزد فرض دی دويم قول ارجح او احوط دی

قال ابن عابدين رحمه الله بعد بحث طويل من الجانبين و الحاصل انهما قولان مصححان و يتأيد القول با لوجوب بانه قال به امام مجتهد وهو الامام الشافعي رحمه الله كما نقله في الحلية عن المتولي عنه.(ردالمحتار ج، ص۳۳۸)

دغو حضراتو دا تصريح نه ده کړي چه د ماسخوتن لمونځ کوم وخت بايد ادا شي. په اصولي توگه دا خبره ښکاره ده چه له نيمې شپې څخه مخکښې شفق په مغرب کښې داخل دی او تر دې وروسته په سهار کښې داخل دی د دې اصول او د دجال د حديث له مخې دا ثابتيږي چه په دې علاقې کښې چه په کومو ورځو کښې سور شفق غائبيږي په هغو کښې تر ټولو په آخره ورځ کښې چه د لمر تر ډوبيدو څومره خنډ وروسته د ماسخوتن وخت شروع کيده اوس هم همدومره خنډ وروسته د ماسخوتن د وخت پيل شمارل کيږي او د دې انتهاء په نيمې شپې باندې وي

د سهار د پای او د فجر د ابتداء په اړه دا اصول په نظر کښې ونيسی چه په کومی علاقی کښی سپين پلن شفق «۱۵» درجې د اُفق لاندې، په ډوبيدو سره بل سپين مستطيل سفق پيدا شي ...

که دا مستطیل د غروب سپین والی نه وي هلته د بیا معترض بیاض یا پلن سپین والي د ښکاریدو وخت به د سهار انتهاء او د فجر ابتداء وي او چیرته چه معترض بیاض نه ډوبیږي هلته د لمر له غروب څخه ونیسه د لمر تر ختلو پورې وخت په دوه برخو تقسیمیږي لومړنی نیمائي به ئې په شپه کښې داخله وي او دویمه نیمائي به ئې په صبح صادق کښې. چه په کوم ځای کښې سور شفق نه ډوبیږي د هغه هم همدا حکم دی.

که چیرته په څلورویشتو ساعتونو کښې لمر نه ډوبیده نو د ځینو په نزد شپه او ورځ که هر څومره اوږده وي تر دې پورې چه شپږ میاشتې ورځ او شپږ میاشتې شپه وي نو بیا په ټول کال کښې یواځې پنځه لمونځونه پخپلو اصل وختونو کښې فرض دي. لیکن په دې کښې ارجح او احوط قول دا دی چه په هرو څلورویشتو ساعتونو کښې د اندازې له مخې پنځه لمونځونه ادا شي. په تنویر الابصار کښې دا د وخت په تقدیر سره تعبیر شوی دی. علامه شامي رحمه الله د دې دوه مطلبونه بیان کړي دي یو دا چه د شوافعو د قول مطابق د دې علاقې د وختونو تقدیر یعنې تعیین له داسې تر ټولو نژدې علاقې سره وشي چیرته چه په څلورویشتو ساعتونو کښې پنځه وختونه تر لاسه کیږي. علامه شامي رحمه الله دې مطلب لره د څو وجوهاتو له مخې په غلط ګڼلو سره دویم مطلب دا بیان کړی دی چه دلته تقدیر د فرض په معنی سره دی یعنې د لمانځه وخت اګر که په حقیقت کښې موجود نه دی لیکن په حکمي توګه فرض شمارل کیږي بیا د دې هم دوه صورتونه کیدلی شي یو دا چه په معتدلو (درمیانه) ورځو کښې په فرضي توګه د هغو له حسابه پنځه ګوني وختونه متعین شي. یعنې په معتدلو ورځو کښې د لمانځ د وختونو تر منځ چه څومره وخت دی د هغه لحاظ وشي او دویم صورت دا دی چه په دې علاقې کښې چه په کومو ورځو کښې پنځه ګوني وختونه پیدا کیږي په هغو کښې تر ټولو آخري ورځ معیار وګڼل شي او د هغه په مطابق وختونه وټاکل شي. د فقهاء کرامو رحمهم الله په عبارتونو کښې دا تصریح تر لاسه نه شو چه په دغو دواړو صورتونو کښې کوم صورت معتبر دی. البته له عبارتونو څخه په ظاهره د دویم صورت مفهوم تر سترګو کیږي. برسیره پر دې دا صورت د شافعي د قول، د استصحاب حال او د دجال له حدیث څخه ئې هم تائید کیږي. ځکه چه د دجال په ورځو کښې په ظاهره سره له هم هغو ورځو څخه د تقدیر حکم دی کوم چه د دجال تر اوږدې ورځې د مخه وو نه د معتدلو ورځو تقدیر

په کومو ځایونو کښې چه هیڅکله هم په څلورویشتو ساعتونو کښې شپه او ورځ نه پیدا کیږي هلته د امام شافعي دقول مطابق د تر ټولو ور نژدې ښار حساب ټاکل کیږي. فقط و الله تعالی اعلم

۱۲ ذی القعدة ۸۱ هجری

د وخت د تخریج، د قبلې د سمت قواعد او قبطینو ته د نزدې خایونو د لمانځه د وختونو د تعین ضابطه



Department of Mathematical Sciences

بسم الله

۸شوال المکرم ۱۳۹۷ هجری
۲۲ستمبر ۱۹۷۷ ء

Mathematical Sciences Department
Rensselaer Polytechnic Institute, Troy, New York ۱۲۱۸۱, USA

په خدمت د مولانا مفتي رشید احمد صاحب لدهیانوي کښې
مهتمم دار الافتاء و الارشاد ناظم آباد کراچي. پاکستان

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته : تقریبا یو کال وشو چه دلته په آلبني (Albany,NewYork) کښې د اسلامي مرکز او جومات د نقشې د جوړیدو په وخت کښې د قبلې د سمت د تعین مسئله مخې ته راغله. په مونږ کښې چا ته په دې باندې د مسلمانو علماوو د تحقیق او څیړنې معلومات نه وو. د هیئت د علم د لږ او ډیر معلومات کوم چه ما ته حاصل وو. د هغه پر بناء ما کروي (دائروي) مثلث په حل کولو سره د قبلې سمت محسوب کړ «**کوم چه وروسته په امریکه او کاناډا کښې د انجمن طلبهٔ مسلمین له خوا څخه له څپاره شوي یوه چارټ سره په مقابله کولو باندې او بیا ستاسو د ورکړ شویو قواعدو په ذریعې سره د حساب لګولو باندې بحمد الله صحیح ثابته شوه**» لیکن ما ته په دې وخت کښې څه اطمینان حاصل نه وو. په هر حال په دې موقع باندې زما شوق پیدا شو چه زه په دې مسئله کښې او نورو اړوندو مسائلو لکه د لمانځه د وختونو تخریج، رؤیت هلال. د هجري او عیسوي کلونو د مطابقت په باره کښې د شرعي احکامو، علم ریاضي او علم هیئت له مخې د هغو لپاره صحیح ضابطې یا قوانین څرګند کړم. زما د دې شوق تسلي تر ډیرې اندازې پورې زر وشوه څکه چي په تیر ژمي کښې پاکستان ته په تلو سره ما ته په ناڅاپي توګه د خپل والد صاحب (محمد عثمان ابدالي صاحب) خوا ته د ملک بشیر احمد بګوي صاحب کتاب «**فن تخریج سمت قبله او اسلامي اوقات**» لاس ته راغی او بیا مې په هغه کښې ستاسو د ګرامي نامه حواله ولیدله ما **ستاسو کتابونه "صبح صادق" او "ارشاد العابد**» هم واخیستل دا کتابونه زما لپاره د بې اندازې معلوماتو خزانه ثابته شوه او په لاس ته راوړلو سره ئې دومره خوشحاله شوم چه بیان ئې له مبالغې ګټل کیږي

سر راتلو وروسته مې زړه غوښتل چه زه داسې کمپیوټر پروګرام ولیکم چه په هغه کښې د کوم کلي لپاره هم د غوښتنې مطابق د لمانځه د وختونو او سیوري په ذریعې سره د قبلې د سمت په پاکلو کښې د جدول کار ورکړی شي د خدای جل جلاله شکر دی چه دا پروګرام مکمل شو او په ظاهره صحیح کار کوي ((**د دغو پروګرامو د نتائجو څو نمونې ستاسو په خدمت کښې دي دا نتائج ما ستاسو په کتاب "صبح صادق" کښې د ورکړ شویو وختونو له مقائسه کولو سره صحیح وموندل**)) لږ زیات چه کوم فرق دی هغه د کمپیوټر د حساب په تقریبي غلطیو (**Approximation errors**) باندې محمول کیدلی شي او بل په دې خبرې باندې چه په پروګرام کښې شمسي میل او داسې نور د هر وخت لپاره محسوبیږي د دې په ځای چه د ماسپښین د وخت قیمت استعمال شي د دې فرق په تفصیل کښې زه وړاندې عرض کوم

د دې پروګرام صادرات داسې معلومات وي د ځای نوم: عرض بلد. طول بلد څه دي؟ د معیاري وخت طول البلد څه دي؟ آیا د کوم ځانګړي کال حساب په کار دي یا ((دائمي)) ((**د دې لپاره په اوس وخت کښې د ۱۹۷۸ زیږدیز کال استعمالیږي**)) آیا د ګرمي او ژمي د وخت فرق لحاظ کیږي؟ آیا یواځې د لمانځه د وختونو جدول غواړې ب یواځې له سیوري څخه د قبلې د پاکلو جدول او که دواړه؟ ((**د مازدیګر وخت د سیوري د یوه چند کیدو باندې داخلیږي او که د دوه چنده؟**)) د پروګرام صادرات داسې نقشې دي چه د هغو نمونې ستاسو په خدمت کښې دي

د دې پروګرام په لیکلو کښې یو خیال زما په ذهن کښې پاتې شو چه اګر که د لمانځه د وختونو لپاره خو دائمي یا تل پاتې جدول مناسب دې ځکه چه کال په کال په وختونو کښې یواځې د یوې یا نیمې دقیقې فرق پیدا کیږي او هغه هم هر څلور کاله بعد ډیر سپک یا کم پاتې کیږي . **لیکن د سیوري په ذریعې سره په مختلفو تاریخونو کښې د قبلې د سمت په پاکنه**)) کښې د وخت د دومره کلنې تغیر له اثر څخه د غلط کال له جدول څخه په پاکل شوي د قبلې په سمت کښې ((**پوره د یوې درجې (یا تر دې د لږ زیاتې) غلطۍ احتمال شته**)) د دې لپاره په ځانګړي توګه د جوماتونو د توجیه (قبلې ته د مخامخ کولو) لپاره که څیرته د هر کال ډیره صحیح توګه جدول جوړ کړی شي نو نوره به هم غوره وي دویم خیال دا را سره پاتې شو چه اوس کمپیوټر او لاسي کالکولیټر دومره عام او زر لاس ته راتلونکي شول چه د جدولونو استعمال غیر ضروري کیدونکي دي د مثال په توګه اوس د کمپیوټر په پروګرامونو کښې د مثلثي نسبتونو او لوګارثم (یو ډول ریاضي حساب کوم چه د حساب د خپریدو یا زیاتیدو مخه نیسي) او داسې نور د بو ځای کولو او کښودلو په ځای سر والي او آسانتیا په دې کښې محسوسیږي چه کله هم د دغو نسبتونو ضرورت پیښ شي هغوی له سره محسوبیږي د دې لپاره زما په پروګرام کښې هم د شمسي میل، او داسې نورو جدولونو په استعمالیږي بلکه هر یو یواځې د کوښو په شمار د مستقلو بنیادونو په اساس محسوبیږي ځکه

حرنګه چه هر ځانګړي تاریخ د مخصوص وخت د لمانځه لپاره په لومړي مدار کښې د لمر طول البلد محسوب شوی دی له دې څخه مستقیم صعود (Right Ascension) او شمسي میل او ساعتي زاویه (Hour Angle) بیا کوکبي وخت (Sidereal Time) او له دې څخه مقامي او معیاری وخت د لمانځه د وخت تقریبي قیمت د کال د لومړی ورځې لپاره دوه ځله دعمل په کولو سره را استنل سوی دی او بیا د هرې نسربدونکي ورځې وخت د تیرې شوې ورځې د وخت د تقریب په توګه استعمال سوی دی د هر کال لپاره خو ابتدائي مقدارونه د سنه ۱۹۰۰عیسوي د حوالې په مستقلو مقدارونو سره محسوب شوی دی همدارنګه د کلونو د فرق اثر هم په لحاظ کښې ساتل سوی دی او په دائمي جدولونو کښې به هم انشاء الله حساب ډیر د اعتبار وړ او صحیح وي

په لاس سره یا د کالکولیټر په مدد سره هم د هر یوه پوره کال لپاره دومره حساب به ډیر وخت وغواړي او غلطۍ به هم پکښې زیاتي شي لیکن له کمپیوټر څخه چه کله کار واخیستل شي نو د حساب به دې اوږدوالي کښې کوم نقصان نشته خیلي لبکل شوي ضابطې جلا او بیل لیکم او دروړاندې کوم ئې. په هغو کښې چه کوم مستقل اعداد استعمال شوي دي هغه هر کال American Ephemeris په تمهید کښې موجود پاتې کیږي په دې کښې New comb,s Table هم حواله ورکړ شوې ده چه په هغې کښې دا اعداد اخذ شوي دي په دغو Tables کښې د لمر د حرکت په حساب کښې او د ډیر قسم Perturbations او نورو مشکلانو یا سختیو هم تفصیل شته لیکن زما په پروګرام کښې دا ټول له نظره غورځول شوي دي ځکه چه د هغو په شاملولو سره د نوي پوره دقیقې د درجې په صحت کښې نوره ترقي نه کیږي او حساب سختیږي **((که چیرته د پروګرام په نتائجو کښې یا تر استعمال لاندې په حسابي ضابطو کښې تاسو ته کوم عیب په نظر درشي یا د هغه د لا ښیګړې کومه خبره ستاسو په ذهن کښې راشي نو خامخا مې پرې خبر کړئ))**

دا پروګرام د شمال د ښینو ښارونو لپاره کار نه کوي ځکه چه هلته په عامه معنی د سهار او ماسخوتن وختونه نه وي تاسو ته د خط په لیږلو زما اصل مقصد په دغو مسائلو کښې **((ستاسو د رائې معلومول دي))**

دا پوښتنه اکثره وخت کیږي چه په قطبینو (د لمر د راختو او ډوبیدو طرفونه) کښې چه چیرته شپږ میاشتې شپه وي لمونځونه په کومو وختونو کښې ادا کیږی د دې د تسلي بخښونکي ځواب له اوریدو څخه تر اوسه محروم یم لیکن لکه څرنګه چه په قطبینو باندې او په منجمدو برخو کښې د مسلمانانو آبادي نشته د دې لپاره د دې پوښتنه په اوس وخت کښې زیات عملي اهمیت نه لري لیکن د شمالي امریکې او اروپا ډیر د داسې لوړو عرض البلدونو لرونکي ځایونه شته چه هلته مسلمانان موجود دي لیکن چه حرنګه په ښنو ت ونو کښې د سهار او ماسخوتن وختونه د لمر د رأسي فاصلې (Zenith Distance) د تعریف له مخې نه پکل کیږي سو د صبح صدو


نومي كتابو كښې دا خاني نښې پريښودل شوي دي، بيا په قطبينو او نژدې مقاماتو كښې د مغرب تعين هم په دې تعريف سره ناممكن دى لكه څرنګه چه هلته په هغو تاريخونو كښې لمر تر أفق پورې كښته نه لوېږي بلكه په آسمان كښې دائره لګوي «**د هغو ځايونو يا مقاماتو لپاره دلته ځينو حضراتو دا رايه وركړې ده چه په هغو كښې دې د مكې مكرمې وختونه استعمال شي، د ځينو نورو حضراتو خيال دا دى چه په هغو ځايونو كښې د تر ټولو نژدې هغو مقاماتو وختونه غوره شي چيرته چه داسې وختونه ممكن دي**» ما ته دا نه ده معلومه چه دا رايې څومره مستندې دي ليكن له دغو دواړو څخه تر اوسه پورې ما ته تسلي نه ده را په برخه شوې د مكې مكرمې دوختونو په غوره كولو كښې ما ته دا مشكل په نظر راځي چه (كوم چه بنائي د نورو په نظر كښې د توجه وړ نه وي) چه په دې توګه د عرض بلد په زياتيدو سره د وختونو تغير په غير مسلسله توګه واقع كيږي يعنې داسې خو د شمال خوا ته د هر څو ميلونو په زياتيدو باندې د لمانځه په وختونو كښې (په تدريج) سره يو اځې څو دقيقې فرق كوي ليكن له كوم نقطهٔ نظر څخه چه د مكې مكرمې وختونه غوره شي هلته د لمانځه په وختونو كښې په ناڅاپي توګه په ساعتونو كښې فرق واقع كيږي **همدارنګه دا** صورت مخې ته راځي چه دوه كلي كوم چه شمالاً جنوباً په لږ غوندې فاصلې باندې واقع دي په هغو كښې د لمانځه وختونه بالكل مختلف وي په داسې حال كښې چه ټول فلكي (آسماني) مظاهر او د لمر د حركت په اعتبار سره په هغو كښې د وختونو لږ غوندې په تدريج سره فرق وي په نورو طريقو (يعني په كوم ځاى كښې چه د ختونو تخريج نه شي كيدلى هلته د تر ټولو نژدې ځاى وختونه را واخيستل شي) كښې چه كوم حل بيان شوى دى هغه زما په ذهن كښې نه راځي «**څكه چه كه چيرته د كوم لوړ عرض البلد لرونكي ځاى لپاره يواځې په همدې طول البلد باندې واقع د كم عرض البلد د ځاى پلټنه هم وشي نو څرنګه؟**» تر ټولو مخكښې يو داسې مقام راځي چيرته چه د لمر را ختل به په ډوبيدو باندې منطبق وي (دلته د لمر دائره له اُفق سره لګيږي) لږ نور په كښته تللو باندې طلوع او غروب مختلف كيږي ليكن سهار او ماسخوتن سره يو كيږي بيا څومره چه عرض البلد نور كميږي په سهار او ماسخوتن كښې فرق پسې زياتيږي ليكن دا بالكل **واضحه نه ده چه** سهار او ماسخوتن كښې كم تدر كمه بايد څومره موده وي «**بله دا چه ايا د طلوع او غروب وختونه به د يوه ځاى غوره كيږي او سهار او ماسخوتن به د بل ځاى؟**».

د ماسخوتن او سهار په باره كښې دا صورت حال هم په ځانګړې توګه سرى پريشانه كوي چه د لوړ عرض البلد په ځايونو باندې په ځينو تاريخونو كښې اګر كه ماسخوتن او سهار دواړه واقع كيږي خكه چه هلته لمر په مغرب او مشرق دواړو كښې له رأس څخه ۱۰۵° درجې كښته ځي ليكن د دغو دواړو وختونو منځنى موده ډيره مختصره وي د مثال په توګه ۵۲° شمال باندې په اووم ۷، جون د صبح صادق د كتاب په حوالي سره) د ماسخوتن وخت د شپې په ۱۱ بجو او ۳٤ دقيقو

باندي شروع دی بیا د دي په ۵۲ دقیقو کښي د ننه ۱۲ بجي ۲٦ دقیقي باندي د سهار د وخت ابتداء کیږي یو څو دقیقي نوري د شمال خوا ته په تلو سره» **د ماسخوتن او سهار تر منځ موده نوره کمیږي او دومره وخت نه پاتې کیږي چه سړی په صحیح توګه لمونځ ادا کړی شي »**

د دي لپاره زه په دي خبره کښي لږ شکمن یم چه د لمر دي فاصلي لره په مطلقه توګه د لمانځه د وخت بنیاد وټاکل شي دا تعریف په استوائي او تشبیبي معتدلو ځایونو کښي خو کار ورکوي لیکن په پورتنیو ځایونو کښي له دي څخه هیڅکله د لمانځه د وختونو تعین نه کیږي او کله کله د ټاکل کیدو باوجود هم غیر عمله په نظر کښي راځي «**مثلاً که چیرته په ماسخوتن او سهار کښي یواځي ۱۵ دقیقي فرق وي نو د دي په ځای چه سړی د ماسخوتن لمونځ وکړي او ویده شي او بیا له خوبه را پاځي او د سهار لمونځ وکړي، دواړه لمونځونه په "نیمه شپه" کښي له خوبه د پاځیدو په صورت کښي ادا کوي »**

اوس پوښتنه دا ده چه آیا داسي کول جائز دي چه په لوړو ځایونو کښي د لمر ساعتي زاویه Hour Angle (کوم چه تاسو غالباً دي ته تعدیل النهار وایی) په ذریعي سره د لمانځه د وختونو تعریف وشي یعني د لمر په دائره کښي کښته یوه ځانګړي برخه شپه وټاکی او په همدي برخي کښي یو دول طلوع، سهار، ماسخوتن او غروب وختونه غوره شي د مثال په توګه په شکل کښي د الف، ب، ج ځایونه کوم چه په تدریج سره ډیر د شمال خوا ته دي د دغو دریواړو لپاره د لمر د دائري د ط، غ برخه شپه و منله شي او ط، ف، ع، غ د سهار، ماسخوتن



او غروب د وختونو په توګه غوره شي په داسي حل کښي چه د فلکي مظهر نه لحظه یو څو د ب په مقام باندي حقیقي طلوع او اختیاري طلوع سره هم وخته دي د الف په مقام باندي اختیاري طلوع تر حقیقي طلوع څخه وروسته دي او د ج د مقام لپاره خو حقیقي ضوء نکل و یه کړي په اختیاري طلوع یو مفروضه شي دي په دي حل کښي یو لوی عیب دی چه کمه کمه ...

مقام باندي) د لمر له حقيقة ډوبيدو څخه مخکښې مابنام ګڼل کيږي او د طلوع نه کيدو وروسته پورې د سهار وخت باقي ګڼل کيږي ليکن دا صورت حال د قطبينو خوا ته مخکښې راتلل ضروري خبره ده اوس که چيرته د قطبينو خوا ته اوسيدونکو خلکو ته رخصت حاصليږي نو له دې سره همدا شان رخصت د شپې د ډير لنډوالي له وجې له قطبينو څخه لږ غوندې کښته اوسيدونکو ته به جائز وي؟ د شمالي اروپا په ښارونو کښې کوم چه د شپې او ورځې تر منځ ډير فرق وي د ژوندانه روزمره مصروفيتونه. دفتر او کاروبار وختونه او داسې نور په همدې ډول ګړی ته په کتو سره تر سره کيږي

که چيرته به دې طريقې سره د لمانځه د وختونو متعين کول د اصولو له مخې د قبول وړ وبلل شي نو بيا به دا مسئله د حل غوښتونکې ياتې شي چه د سهار. لمر ختلو. مابنام او ماسخوتن کښې د هر يوه وخت ساعتي زاويه څومره ده؟ او د څومره درجې عرض البلد څخه وروسته د لمر د رأسي زاويې په ځاى له ساعتي زاويې څخه د لمانځه وختونه مقرر شي

ما ستاسو په خدمت کښې بواځې دا سوال وړاندې کړ ناسو دا په شرعي احکامو کښې زما به زړورتيا باندې مه محموله کوئ او که چيرته فرصت وي نو ځواب ئې خامخا راکړئ ځکه چه په شمالي اروپا او کاناډا کښې ډير زيات مسلمانان الحمد لله موجود دي او د هغو لپاره د لمانځه د وختونو صحيح تعين يوه اهمه عملي مسئله ده و السلام **نيازمند کمال ابدالي**

هغه ضابطې چه د لمانځه په وختونو او دقبلې د جدول په پروګرام کښې استعمال شوي دي په لاندې ډول دي

۱ـ د مطلوبه کال لپاره يو ځل حساب شوي مستقل اعدادونه

علامات و- ۱۲ بجې د ورځې صفر جنوري سنه۱۹۰۰ څخه صفر ساعت **صفر جنوري مطلوبه** کاله پورې وخت ۳٦۵۲۵ ورځو په يونيز کښې

طش. بقش. کو - صفر ساعت صفر جنوري مطلوبه کل باندې د لمر منځنی طول البلد. منځنی بې قاعدګي (Anomaly) او کوکبي وخت (Sidereal Time)

قبق. قطش. فکو. مطق - ورځنی فرق په بې قاعدګي کښې. په منځنی شمسي طول البلد کښې. په کوکبي وخت کښې او د لمر د لارې ميلان (څلور واړه د کال په دوران کښې په مستقله توګه فرض کړی شوي دي)

ک۱. ک۲ - د مساوانو مرکز (Equation of center) په سر (Coefficients)

هغه مساوات دا دي

شمسي حقيقي طول البلد شمسي منځنی طول البلد- حقيقي بې قاعدګي اوسطه د

قاعدګي - ک۱ جب بقش + ک۲ (۲بقش) + خفیف رقمونه

ضابطې مطق - ۲۳ ۲۷ ۸,۲٦ _ ۸۴۵ ؛ ٤٦ × و + خفیف رقمونه

طش - ۲۷۹ ٤١ ٤٨,٠٤ + ۳٦٠٠٠ ٤٦ ۱۳ ۸/ × و + خفیف رقمونه

بقش - ۳۵۸ ۲۸ ۳۳,۰ + ۳۵۹۹۹ ۲ ۱/ ۵۹ × و + خفیف رقمونه

کو - ٦ ۳۸ ٤۵ ۸۳٦ + ۲٤۰۰ ۳ ٥٤۲ ٤ × و + ۰/۰۹۲۹ س × و + خفیف رقمونه

فبق - ۳۵۹۹۹ ۲ ۱/ ۵۹ / ۳٦۵۲۵ فطش - ۳٦۰۰۰ ٤٦ ۱۳ ۸ / ۳٦۵۲۵

فکو - ۲٤۰۰ گه ۳ ٤/٥٤۲ س / ۳٦۵۲۵

ک۱ - ۱ ۵۵ ۰۵۷ ۱۰ _ ۱٤۰ ۱۷ × و _ ۰۵۲ ۰ × و۲ + ۰۰۰۰

ک۲ - ۱ ۳۳۸ ۱۲ _ ۳٦۱ ۰ × و + ۰۰۰۰

۲ــ د لمانځه وخت په کوم مطلوبه تاریخ باندې د متعین کولو حساب

ع. ط. طم - د مقام عرض البلد. طول البلد. د معیاري وخت طول البلد

ت. و. ی - د لمانځه لپاره تاریخ. تقریبي وخت. صفر ساعت صفر جنوري څخه د لمانځه تر وخت ورځو کښې

بقش. طش. طحش - د لمانځه وخت د لمر بې قاعدګي (Anomaly) منحنی طول البلد. حقیقي طول البلد (شمسي)

ص. م. س. ر - د لمانځه په وخت کښې د لمر مستقیم صعود (Right Ascension). میل. ساعتي زاویه (Hour angle) رأسي فاصله (Zenith Distance)

کو. مو. معو - کوکبي وخت (Sidereal Time). مقامي وخت. معیاري وخت

ضابطې ي - ت + ط + و / ۲٤

بقش - بقش + ي × فبق طش - طش + ی × فطش

طحش - طش + ک۱ × جب بقش + ک۲ × جب (۲ × بقش) + خفیف رقمونه


ص - مس ۱ (جم مطق × مس طحش) اص به دې ربع کښې قطب


وي چه په هغه کښې طحش دی!

م - جب ۱ (جب مطق × جب طحش) ا - ۹۰ د م د +

س - جم ۱ جم ص جب م × جب ع / جم م × جم ع اصفر د س د ۲٤

اد لاندنی شکل مطابق خلورمه برخه غوره سی!





کو - س ۰ ص

مو - کو ۰ (کو ۱ ي × فکو)

دا شمار د مطلوبه تاریخ په صفر ساعت باندې کوکبي وخت دی

معو - مو + ط - ط مع

الجواب باسم ملهم الصواب

تاسو وایئ د دې لپاره په اوس حال کښې سنه ۱۹۷۸ عیسوي استعمالیږي

زه وایم د دائمي نقشې لپاره دلیپ کال (هغه عیسوي کال چې اعداد ئې په څلورو تقسیمیږي او د فروري میاشت ئې نهه ویشت ورځې وي) په استعمالولو کښې نتیجې زیاتې صحیح را وو یخي

تاسو وایی د مازدیگر وخت دې د سیوري یو چنده واخیستل شي او که دوه چنده؟

زه وایم د احنافو په نزد هم له یوه چند څخه وروسته د مازدیگر د لمانځه د ادا کولو گنجائش شته او د مرض. سفر او داسې نورو عذرونو په حالت کښې د دې ضرورت هم پیدا کیږي لهذا د دوارو وختونو د ورکولو ضرورت دی. همدارنگه د سره شفق (شفق احمر) یعنې °۱۲ تر افق لاندې (ناټیکل ټوائیلائټ) وخت هم ضروري دی ځکه چه د درې گوني امامو نه علاوه د احنافو رحمهم الله په نزد هم د شفق احمر قول راجح دی.

تاسو وایی د سیوري په ذریعې سره په مختلفو تاریخونو کښې د قبلې د سمت په ټاکلو کښې یوه پوره درجه یا تر دې څخه د زیاتې غلطۍ احتمال شته

زه وایم د دې نقشې د عامې گټې اخیستنې او د هر کس او ناکس لپاره د آسانتیا له مخې د یوې درجې غونډې معمولي فرق کوم اهمیت نه لري خصوصا چه کله په عملي توگه د دومره معمولي فرق څخه ځان ساتنه مشکله ده که چیرته د لیپ کال استعمال شي نو تر دې هم کم فرق پاتې کیږي

تاسو وایی که چیرته د پروگرام نتیجې یا تر استعمال لاندې حسابي ضابطو کښې تاسو ته کوم عیب په نظر درشي یا د دې لا ښه والي کومه خبره ستاسو ذهن ته درشي نو خامخا مې پرې خبر کړی

زه وایم په لیکل شوي ضوابطو باندې کما حقه د غور د کولو او د تجربې له مخې د تخریج فرصت نه لرم. له سرسري کتنې څخه د دغو ضوابطو د صحیح والي ظن غالب دی. خصوصاً په داسې حال کښې چه تاسو ئې نتائج زما د ارشاد العابد او صبح صادق کتابونو کښې نومونړي ضابطې او د هغو له نتائجو سره مقابله کړې هم ده

تاسو د کراچۍ لپاره د قبلې د سمت زاویه °۱ ۹۲ را اخیستې دی په داسې حال کښې چه په ارشاد العابد کښې د نومونړي قواعدو په مطابق صحیح تخریج °٤ ۹۲ دی. د دې لپاره سوزن

ملی په سمت باندې د راتللو په وختونو کښې زیات تفاوت دی

تاسو وایئ دا پوښتنه ډیره کیږي چه په قطبینو باندې چه چیرته شپږ میاشتې ورځ او شپږ میاشتې شپه وي نو لمونځونه به په کومو وختونو کښې ادا شي

زه وایم په دغو خاونو کښې د لمانځه د وختونو د تعین صحیح طریقه هغه ده کومه چه تاسو لیکلي ده یعني لکه څرنګه چه ژوندانه روزمره مصروفیتونه. دفتر او کاروبار د وختونو له تخمین او اندازې څخه تاکل کیږي. همدارنګه د لمانځه د وختونو تعین دې هم په ساعتونو سره وشي که چیرته تا دتعیین د معتدلو ورځو له مخې وشي نو حساب به ئې داسې وي. په معتدلو ورځو کښې طلوع له صبح صادق څخه د سپین شفق تر غروب پورې څوارلس ساعته . او له سپین شفق څخه طلوع تر صبح صادق پورې لس ساعتونه وي د دې له مخې د لمانځه د وختونو تعین به داسې وي د سهار وخت یو ساعت بیا د شپږو ساعتونو تر تیریدو وروسته ماسپښین. بیا تقریباً له څلور نیم ساعتونو وروسته مازدیګر (مثلین یعني دوه چنده سیوری) . د سهار له آخري وخت څخه د دولس ساعتونو په تیریدو سره مابنام. بیا له یوه ساعت وروسته ماسخوتن بیا لس ساعته وروسته سهار. لیکن راجحه دا ده چه د وختونو په دې تعین کښې د معتدلو ورځو د حساب لګولو په ځای په دې علاقې کښې چه په کومو ورځو کښې په څلورویشتو ساعتونو کښې پنځه وختونه مېندل کیږي په هغو کښې تر ټولو آخري ورځ د معیار جوړولو په مطابق ټول وختونه تعین شي او که چیرته عرض البلد دومره زیات وي چه هلته هیڅکله هم په څلور ویشتو ساعتونو کښې پنځه وختونه و نه میندل شي نو بیا له دې علاقې سره تر ټولو د نژدې علاقې کوم چه په څلورویشتو ساعتونو کښې د لمانځه پنځه وختونه پکښې مندل کیږي د هغه په مطابق دې وختونه تعین شي

دا حکم هلته دی چه کله په څلورویشتو ساعتونو کښې لمر ډوب نه شي. که چیرته په څلورویشتو ساعتونو کښې لمر ډوبیده نو د ماسپښین او مازدیګر لمونځونه په هر حال پخپلو معهودو وختونو کښې اداکیږي او د مابنام. ماسخوتن او سهار په باره کښې تفصیل په لاندې ډول دی

۱ـ که چیرته سور شفق ناتیکل تواتیلائټ - ۱۲° تر افق لاندې ډوبیږي نو د دغو دریو پرو لمونځونو وختونه به هم موجود وي. هر لمونځ به پخپل وخت ادا کیږي

سپین پلن شفق ۱۵° تر افق لاندې وخت دی په دوو برخو تقسیم شي اوله نیمایی ی به ماسخوتن کښې داخلیږي او دویمه نیمایي ئې به سهار کښې که چیرته په ولې نیمایي کښې دومره وخت وي چه په هغه کښې تکبیر تحریمه ویل کیدلی شي نو د ماسخوتن لمونځ فرض دی [illegible] وخت کښې [illegible] لمونځ شروع شي اګر که ئې تکمیل د وخت تر [illegible] وروسته [illegible] که [illegible]

د پلن سپین شفق اوله نیمائي د تکبیر تحریمه غوندې له وخت څخه هم کم وي نو ماسخوتن لمونځ مفقود گڼل کیږي چه حکم ئې مخکښې راغې

۲ـ که چیرته سورشفق نه ډوبیده نو په داسې علاقې کښې د ماسخوتن لمونځ مفقود دی او په دې اړه د حضراتو فقهاء کرامو رحمهم الله دوه قولونه دي یو دا چه په هغو باندې د ماسخوتن لمونځ فرض نه دی. دویم دا چه په هغو باندې هم د ماسخوتن لمونځ فرض دی او همدا راجح او احوط قول دی

په لومړي نمبر کښې د مذکوره تفصیل مطابق شفق احمر یعنې سور شفق هم په دوه برخو ویشل کیږي. اوله نیمائي په ماښام کښې شمیرل کیږي او دویمه نیمائي په سهار کښې. که چیرته اوله نیمائي د تکبیر تحریمه په اندازه وي نو د ماښام لمونځ فرض دی اګر که پوره ادا کول ئې د وخت تر وتلو وروسته وي که چیرته له طلوع څخه مخکښې د سهار د لمانځه پوره کول ممکن نه وو نو تر طلوع وروسته دې قضائي ادا شي، که چیرته اوله نیمائي د تکبیر تحریمه غوندې هم نه وي ن د دې حکم به د هغو ورځو په شان وي په کومو کښې چه په څلورویشتو ساعتونو کښې د نمر طلوع او غروب نه کیږي

۳ـ که چیرته د سره شفق په دویمه نیمائي کښې د تکبیر تحریمه د ادا کولو گنجائش خو وي لیکن یو اځې د فرضو دوه رکعتونه په مختصره توګه (د سنتو او آدابو په پرینښودو سره) نه شوای ادا کیدلی نو د سهار لمونځ فرض دی لیکن په دې وخت کښې ئې مه ادا کوی بلکه وروسته ئې قضائي را وګرځوی لومړی د ماسخوتن او بیا د سهار که چیرته ماښام هم نه شوای ادا کولی نو لومړی دې د ماښام بیا د ماسخوتن او بیا دې د سهار قضائي را وګرځوي

تاسو وایئ د دغو ځایونو لپاره دلته ځینو حضراتو دا رأیه ورکړې ده چه په هغو کښې دې د مکې مکرمې وختونه استعمال شي، د ځینو نور حضراتو خیال دا دی چه دغو ځایونو ته دې تر ټولو نژدې ځایونو وختونه غوره شي په کوم ځای کښې چه دا وختونه ممکن دي

زه وایم لومړی قول بالکل غلط دی دا نه چیرې منقول دی او نه هم په هیڅ ډول معقول. دویم قول صحیح دی لیکن راجحه دا ده چه په دې قول باندې یو اځې په هغه ځای کښې عمل کیدلی شي چیرته چه هیڅکله هم په څلورویشتو ساعتونو کښې پنځه وختونه پیدا نه شي، په نورو ځایونو کښې د وختونو د تعیین ضابطه پورته لیکل شوې ده یعنې په کومو ورځو کښې چه په څلورویشتو ساعتونو کښې د نمه پنځه ګوني وختونه پیدا نه شي په هغو کښې دې تر ټولو آخري ورځ معیار وټاکل شي

تاسو وایئ که چیرته د کوم لوړ عرض البلد د مقام لپاره یواځې په همدې طول البلد باندې واقع د کم عرض البلد د ځای پلټنه هم وشي نو څرنګه؟ الخ

زه وایم ور هغه ځای دې را واخیستل شي چه په هغه کښې د ماسخوتن د لمانځه لپاره د تکبیر تحریمه په اندازه وخت میندل کیږي

تاسو وایئ آیا د طلوع او غروب وختونه دې د یوه ځای غوره شي او د سهار او ماسخوتن وختونه دې د کوم بل ځای؟

زه وایم د طلوع او غروب وخت دې هم د همدې ځای واخیستل شي چیرته چه د ماسخوتن د لمانځه وخت د تکبیر تحریمه په اندازه میندل کیږي. د طلوع او غروب لپاره یو ځای او د سهار او ماسخوتن لپاره د بل ځای د وخت په اخیستلو کښې دا خبره پټه ده چه د ماښام او ماسخوتن به یو کیږي و د سهار وخت به تر طلوع وروسته متصور کیږي البته د روژې د ماتولو لپاره د هغه ځای غروب را اخیستل کیږي چیرته چه تر غروب وروسته د ضرورت په اندازه خوراک کیدلی شي. په دې کښې دا اشکال ضرور شته چه د ماښام لمونځ به د یوه ځای مطابق ادا کیږي او افطار تر دې دیر وروسته به د بل ځای مطابق وي لیکن دا د لومړي مخدور په نسبت سپک یا اهون دی چیرته چه لمر غروب کیږي لیکن د ماښام وخت ډیر لږ وي هلته د ماسخوتن د لمانځه لپاره چه کومه ضابطه بیان شوې ده په دې کښې هم د ماښام او ماسخوتن د وختونو یو والی لازمیږي لیکن د دې تحمل ځکه ناګزیر دی چه دلته په حقیقت کښې غروب موجود دی په خلاف دې د بحث لاندې صورت چه په دې کښې د ماښام او ماسخوتن وختونه دواړه تقدیري دي لهذا د دواړو تقدیر به له یوه ځای څخه کیږي

تاسو وایئ د ماسخوتن او سهار منځنی برخه نوره هم کمیږي او دومره وخت نه پاتې کیږي چه سړی په صحیح توګه لمونځ ادا کړی شي

زه وایم د دې تفصیل پورته لیکل شوی دی چه که چیرته د تکبیر تحریمه وخت پیدا شي نو په هغه کښې دې لمونځ شروع شي که چیرته تر پوره کیدو مخکښې وخت ختم شي تو څومره لمونځ چه په وخت کښې د ننه ادا شوی دی هغه ادا او پاتې په قضائي کښې شمارل کیږي

قال ابن عابدين رحمه الله في بحث فاقد وقت العشاء تحت (قوله ولا ينوي القضاء الخ) المنقول عن المحيط و غيره ان الصلوٰة الواقع بعضها في الوقت و بعضها خارجه يسمي ما وقع منها في الوقت اداء وما وقع خارجه يسمى قضاء اعتبار الكل جزء بزمانه فافهم. (ردالمحتار ج۱،ص۳۳۶)

تاسو وایئ که چیرته په ماسخوتن او سهار کښې یواځې د پنځلسو دقیقو فرق وي نو د دې په ځای چه سړی د ماسخوتن لمونځ وکړي او ویده شي او بیا له خوب څخه په را ویښیدو د سهار

لمونځ وکړي نو دواړه لمونځونه دې په نیمه شپه کښې را پورته شي او یو ځای دې ادا کړي

زه وایم په دې کښې شرعاً یا عقلاً څه تکلیف او څه بدي ده؟ فقط و الله تعالی اعلم

۲۴ شوال ۹۷ هجری

الحاق

۱ــ چیرته چه تر څلورویشتو ساعتونو پورې لمر نه ډوبیږي هلته د پنځه ګوني وختونو د تقدیر ی اندازه کولو لپاره د نصف النهار د دائرې معیار جوړول اګر که د فقهاوو رحمهم الله په عباراتو کښې مې نه دې تر سترګو شوي لیکن د شریعت د اصولو مطابق د دې اعتبار لازم معلومیږي. لهذا د لمر کُرَه له نصف النهار څخه تر تیریدو وروسته د ماسپښین وخت داخلیږي. بیا چه کله مخالف اړخ ته لمر په همدې دائرې باندې ورسیږي هغه وخت نیمه شپه ګڼل کیږي په دغو دواړو حصو کښې په یوه کښاې د سهار وخت او په بلې کښې دې د پاتې څلورو وختونو اندازه وشي

په دې سره د هغو حضراتو نظریه باطلیږي کوم چه تر شپږو میاشتو پورې په اوږدې ورځې کښې یواځې د پنځو لمونځونو قائل دي ځکه چه په څلورویشتو ساعتونو کښې یو ځل د نصف النهار له دائرې څخه د لمر د تیریدو له وجې د ماسپښین د لمانځه د وجوب سبب پیدا کیږي، او د ماسپښین تکرار د نورو لمونځونو تکرار لره مقتضي دی

۲ــ ۶۶° شمالي عرض البلد څخه څه نا څه په کم عرض کښې په جون کښې د لمر غروب او طلوع تر منځ دومره کم وخت وي چه په هغه کښې د ماښام و سهار لمونځونه نه شي ادا کیدلی

همدارنګه په دسمبر کښې ۶۷° شمالي عرض البلد څخه په څه زیات عرض کښې ورځ دومره لنډه شي چه په هغې کښې تر نصف النهار وروسته د ماسپښین او مازدیګر لمونځونه نه شي ادا کیدلی او په جنوبي عرض البلد کښې د دې برعکس وي.

له دې څخه ثابته شوه چه حضراتو فقهاء کرام رحمهم الله یواځې د ماسخوتن د وکت د فقدان په بیان باندې اقتصار د دې لپاره دی چه د وختونو د فقدان له لحاظه دا تر ټولو نژدې علاقه ده او له مخکښینې زماني څخه آباده ده او که نه حقیقت دا دی چه د پنځو لمونځونو په وختونو کښې دا سوال پیدا کیږي. په نوموړي ځواب کښې په داسې مقاماتو باندې د سهار او ماښام حکم صراحةً او د ماسپښین او مازدیګر حکم دلالةً تیر شو فقط و الله تعالی اعلم

منتصف رمضان المبارک ۹۹ هجری

په شکاګو کښې د صبح صادق او ماښام وختونه

سوال د شکګو (امریک) لپاره په رمضان المبارک کښې د سحري (پیشلمي) او افطاري (روژه ماتي) نقشه جوړه او را ولیږئ جزاکم الله تعالی

الجواب باسم ملهم الصواب د شکاګو مِنَسَتِّي (امریکا) طول غربي ۸۷/۴۵°. عرض شمالي ۴۲° ۴۵ لپاره د لمانځه د وختونو نقشه په لاندې ډول ده

تریخ	صبح صادق		طلوع		غروب		عشاء	
	ساعت	دقیقه	ساعت	دقیقه	ساعت	دقیقه	ساعت	دقیقه
۲۲ اکتوبر	۵	۵۴	۷	۱۳	۵	۵۷	۷	۱۶
۱ نومبر	۵	٦	٦	۲۵	٤	٤۵	٦	٤
۱۱ نومبر	۵	۱۷	٦	۳۷	٤	۳۳	۵	۳۳

تنبیه

۱ــ هلته د اپریل له آخري یکشنبې څخه د اکتوبر تر آخري یکشنبې پورې یو ساعت وخت ورسره زیاتیږي په نقشه کښې د دې رعایت ساتل شوی دی

۲ــ د صبح صادق له ورکړ شوي وخت څخه شپاړس دقیقې مخکښې صبح کاذب ښکاریږي کوم چه شرعا اعتبار نه لري

۳ــ له نوموړي وخت څخه پیشلمی (۷) دقیقې مخکښې پای ته ورسوی او روژې پنځه دقیقې وروسته ماتې کړی فقط و الله تعالی اعلم

رمضان المبارک سنه ۹۱ هجري

د هوستن د ملک د لمانځه د وختونو نقشه

سوال ټیکساس (یو- ایس- اې) په ښار هوستن کښې زما یو زوی تعلیم کوي له دې وجې د مهربانۍ له مخې د لمانځه د وختونو د معلومولو کومه طریقه را ته ولیکئ

الجواب باسم ملهم الصواب د هرې میاشتې د اولې او منځلمې ورځې وختونه درته لیکم او د منځنۍ ورځو خپله حساب ولګوئ

د ټیکساس (امریکا) د ښار هوسټن لپاره د لمانځه د وختونو نقشه

	فجر		طلوع		نصف النہار		عصر		غروب		عشاء	
	گ	م	گ	م	گ	م	گ	م	گ	م	گ	م
یکم جنوری	۶	۶	۷	۱۶	۱۲	۲۳	۳	۵۳	۵	۳۲	۶	۴۳
۱۵ ؍	۶	۸	۷	۱۷	۱۲	۳۰	۴	۶	۵	۴۳	۶	۵۲
یکم فروری	۶	۴	۷	۱۲	۱۲	۳۵	۴	۲۱	۵	۵۸	۷	۶
۱۵ ؍	۵	۵۵	۷	۲	۱۲	۳۵	۴	۳۱	۶	۸	۷	۱۵
یکم مارچ	۵	۴۱	۶	۴۶	۱۲	۳۳	۴	۴۰	۶	۲۰	۷	۲۵
۱۵ ؍	۵	۲۵	۶	۳۱	۱۲	۳۰	۴	۴۸	۶	۲۹	۷	۳۵
یکم اپریل	۵	۳	۶	۱۰	۱۲	۲۵	۴	۵۳	۶	۴۰	۷	۴۷
۱۵ ؍	۴	۴۵	۵	۵۳	۱۲	۲۱	۴	۵۸	۶	۳۸	۷	۵۷
یکم مئی	۵	۲۷	۶	۳۸	۱۱	۱۸	۶	۲	۷	۵۸	۹	۹
۱۵ ؍	۵	۱۳	۶	۲۷	۱۱	۱۷	۶	۵	۸	۷	۹	۲۱
یکم جون	۵	۴	۶	۲۰	۱۱	۱۹	۶	۱۰	۸	۱۸	۹	۳۳
۱۵ ؍	۵	۱	۶	۱۹	۱۱	۲۱	۶	۱۴	۸	۲۳	۹	۴۱
یکم جولائی	۵	۶	۶	۲۳	۱۱	۲۵	۶	۱۸	۸	۲۶	۹	۴۳
۱۵ ؍	۵	۱۴	۶	۳۰	۱۱	۲۷	۶	۱۸	۸	۲۴	۹	۴۰
یکم اگست	۵	۲۷	۶	۳۹	۱۱	۲۷	۶	۱۴	۸	۱۵	۹	۲۷
۱۵ ؍	۵	۳۷	۶	۴۸	۱۱	۲۵	۶	۷	۸	۲	۹	۱۳
یکم ستمبر	۵	۵۰	۶	۵۸	۱۱	۲۱	۵	۵۵	۷	۴	۸	۵۲
۱۵ ؍	۵	۵۹	۷	۵	۱۱	۱۶	۵	۴۲	۷	۲۷	۸	۳۳
یکم اکتوبر	۶	۹	۷	۱۵	۱۱	۱۱	۵	۲۶	۷	۷	۸	۱۳
۱۵ ؍	۶	۱۷	۷	۲۳	۱۱	۷	۵	۱۲	۶	۵۰	۷	۵۷
یکم نومبر	۵	۲۸	۶	۳۶	۱۲	۵	۳	۵۸	۵	۳۳	۶	۴۲
۱۵ ؍	۵	۳۸	۶	۴۷	۱۲	۹	۵	۴۸	۵	۲۵	۶	۳۴
یکم دسمبر	۵	۵۰	۶	۵۹	۱۲	۱۰	۵	۴۴	۵	۲۱	۶	۳۰
۱۵ ؍	۵	۵۸	۷	۹	۱۲	۱۶	۵	۴۶	۵	۲۲	۶	۳۴

تنبیہ :- اپریل کی آخری اتوار سے اکتوبر کی آخری اتوار تک یہاں ایک گھنٹہ وقت بڑھا دیا جاتا ہے اس نقشے میں اس کی رعایت
۱۳۹۳ھ

تنبیه د اپریل له اخیری اتوار (یکشنبې) نه د اکتوبر تر اخیری اتوار پورې هلته یو ساعت وقت
زیاتیږي په دې نقشه کښې دهغې روایت

په لاړکانه او مکه مکرمه کښې د صبح صادق وختونه

سوال د لاړکانه صبح صادق په کوم وخت باندې وي؟ همدارنګه د مکې مکرمې د صبح صادق
وخت هم وښایئ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د لاړکانه (عرض البلد - ۲۷° - ۳۲) په اتم (۸) مئی کښې د صبح

صادق وخت د بنده د کتاب "صبح صادق" په مطابق داسې را ووځي په °۲۰ عرض البلد کښې د صبح صادق وخت ٤ بجې ۲٦ دقیقې او په عرض البلد °۳۰ کښې د صبح صادق وخت ٤ بجې ۲دقیقې دی. له اوسط ایستلو څخه په عرض البلد °۲۷ – ۲ ۲ کښې ٤ بجې ۸ دقیقې دی د نصف النهار فرق (٤ دقیقې) - ٤ بجې ٤ دقیقې - فرقِ طول البلد (۲۷ دقیقې) - ٤ بجې ۳۱ دقیقې

مکه مکرمه (عرض البلد -°۲۱ – ۲۱) کښې په اول جون کښې به د صبح صادق وخت داسې وي عرض البلد ۲۰ کښې د سهار وخت - ٤ بجې ۱٥ دقیقې او عرض البلد °۳۰ کښې د سهار وخت - ۳ بجې ٤٥ دقیقې دی له اوسط ایستلو څخه عرض البلد °۲۱ – ۲۱ کښې ٤ بجې ۱۱ دقیقې د نصف النهار فرق (۲ دقیقې) - ٤ بجې ۹ دقیقې - فرق طول البلد (۲۰ دقیقې) - ٤ بجې ۲۹ دقیقې دی

فقط و الله تعالی اعلم ۲۰ ربیع الاول ۹۲ هجری

په لاهور کښې د صبح صادق وخت

سوال ۱۷ مئی باندې به د لاهور صبح صادق په څو بجې وي؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په لاهو کښې په ۱۷ مئی باندې به صبح صادق ۳ بجې او ٤۹ دقیقې وي چه تفصیل ئې په لاندې ډول دی

ج - د نصف النهار تر لمر وروسته درجې (°۱۰۵) + عرض البلد (°۳۱/ ۳۳) - °۱۳٦/ ۳۳ – میل موافق دې (°۱۹/ ۲٤) - °۱۱۷/ ۹ ÷ ۲ - °٥۸ / ۳٥ - ن. °۱۰٥ –°٥۸ / ۳٥ - °٤٦ / ۲٥ لوک چه کله ن (۱/۹۳۱۱) - لوک چه کله ج - ن (۸٥۹۹/ ۱ - ۷۹۱/ ۱، جم میل (۹۷٤٦/ ۱) + جم عرض (۱/۹۳۰٦)- (۹۳۰٦ ۱) -۱/۹۰٥۲- ۸۸٥۸ / ۱ ÷ ۲ - ۹٤۲۹ / ۱ -°٦۱_ ۱٥ (ق) × ۲ - ۱۲۲ / ۳۰ (ق) - ۸ بجې ۱۰ دقیقې. مقامي نصف النهار (۱۱ / ٥٦)- فرق طول (۰ / ۳) - ۱۱ / ٥۹ _ ۸ / ۱۰ - ۳ / ٤۹ صبح صادق

فقط والله تعالی اعلم ۱۳ ربیع الآخر ۹۲ هجری

د شفق احمر (سره شفق) قول مفتٰی به دی

سوال څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې د صاحبینو رحمهما الله تعالی په نزد ل شفق څخه مراد سوروالی دی او د امام اعظم رحمه الله په نزد سپین والی دی فتوی د چا په کوم قول بندې ده؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د مفتی به قول مطابق د سره شفق په ډوبیدو سره د ماښام وخت ختمیږي او د ماسخوتن وخت شروع کیږي د حضرت امام اعظم رحمه الله هم آخري قول همدغه دی او ائمۀ ثلاثه رحمهم الله هم د همدې قول قائل دي

قال في شرح التنویر ووقت المغرب منه الی غروب الشفق وهو الحمرة عندهما وبه قالت الثلاثة والیه رجع الامام

كما في شروح المجمع وغيرها فكان هو المذهب وقال ابن عابدين رحمه الله (قوله اليه رجع الامام) اى الى قولهما الذى هو رواية عنه ايضا وصرح فى المجمع بان عليها الفتوى. ورده المحقق فى الفتح بانه لا يساعده رواية ولا دراية الخ وقال تلميذه العلامة قاسم فى تصحيح القدورى ان رجوعه لم يثبت لما نقله الكافة من لدن الائمة الثلاثة الى اليوم من حكاية القولين ودعوى عمل عامة الصحابة بخلافه خلاف منقول قال فى الاختيار الشفق البياض (الى قوله) لكن تعامل الناس اليوم فى عامة البلاد على قولهما وقد ايده فى النهر تبعاً للنقاية والوقاية والدرر والاصلاح ودرر البحار والامداد والمواهب وشرحه البرهان وغيرهم مصرحين بان عليه الفتوى وفى السراج قولهما اوسع وقوله احوط والله تعالى اعلم. (رد المحتار ج۱، ص۳۳۳) فقط والله تعالى اعلم ۱۹ محرم ۸٦ هجرى

د طلوع (د لمر د راختلو) په وخت كښې د سهار لمونځ صحيح نه دى

سوال كه چيرته د سهار لمونځ عين د لمر د راختلو به وخت كښې ادا شي نو آيا بيرته را گرځول ئې واجب دي او كه نه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب عين د لمر ختلو په وخت كښې لمونځ په شروع كولو سره نه منعقد كيږي او كه چيرته د لمر له ختلو څخه مخكښې شروع شي او د لمانځه په حالت كښې لمر وخيژي نو لمونځ فاسديږي لهذا دا لمونځ صحيح نه دى. قضائي را گرځول ئې فرض دي

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله واعلم ان الاوقات المكروهة نوعان الاول الشروق والاستواء والغروب والثانى ما بين الفجر والشمس وما بين صلوة العصر الى الاصفرار فالنوع الاول لا ينعقد فيه شئ من الصلوات التى ذكرناها اذا شرع بها فيه وتبطل ان طرأ عليها الا صلوة جنازة حضرت فيها الخ (رد المحتار ج۱، ص۳۳٦)

فقط والله تعالى اعلم ۱۰ ذى القعده ۸۷ هجرى

د سهار او مازديگر په لمونځونو كښې د لمر د راختلو او ډوبيدلو حكم

سوال كه چيرته د سهار د لمانځه په ادا كولو كښې لمر وخيژي يا د مازديگر د لمانځه په ادا كولو كښې لمرډوب شي نو آيا د همدغه سهار او مازديگر لمونځونه وشول او كه نه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د مازديگر لمونځ صحيح كيږى او د سهار نه صحيح كيږى

قال فى التنوير وكره صلوة (الى قوله) الا عصر يومه وفى الشرح فلا يكره فعله لادائه كما وجب بخلاف الفجر وفى الشامية اى فانه لا يؤدى فجر يومه وقت الطلوع لان وقت الفجر كله كامل فوجبت كاملة فتبطل بطرو الطلوع الذى هو وقت فساد. (رد المحتار ج۱، ص۳۳٦) فقط والله تعالى اعلم ۲۷ ربيع الاول ۸۹ هجرى

د سهار لمونځ د طلوع (لمر ختلو) تر ابتداء پورې ادا کیدلی شي

سوال که چیرته د سهار لمونځ په جماعت سره ادا نه شي او په داسې وخت کښې جومات ته ورسیږي چه لمر په راختلو وي نو د ساعت په اعتبار سره دې لمونځ باید د لمر تر راختلو حومره مخکښې باید ادا شي؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب که چیرته نقشه د کوم مستند سړي له خوا جوړه شوې وي نو بیا هغې کښې د ورکړ شوې وخت مطابق د لمر تر راختلو دوه یا درې دقیقې مخکښې باید د سهار له لمانځه څخه د فارغیدو کوشش باید وشي که چیرته وچ تر همدې وخت پورې فارغ شي نو بیا نې هم لمونځ صحیح دی فقط و الله تعالی اعلم ۱۳ رمضان المبارک ۹۴ هجری

د طلوع په وخت کښې د تلاوت د سجدې حکم

سوال ښاغلی او مکرم جناب مولوي جمیل احمد صاحب سلمه الله تعالی

السلام علیکم و رحمة الله و برکته

هیله ده چه صحت مو ښه وی. ښائي چه تاسو ته به یاده وي چه په کراچۍ کښې د پاتې کیدو په دوران کښې ما پوښتنه کړې وه چه د لمانځه په ممنوعه وختونو کښې د تلاوت د سجدې څه حکم دی او تاسو ښاغلي ویلي وو چه که چیرته سجدهٔ تلاوت تازه وي نو به هر وخت کښې ادا کیدلی شي یعني د لمانځه په ممنوعه وختونو کښې ئې د ادا کولو اجازه شته

زمونږ په جومات کښې دا پوښتنه را پورته شوه او یو څوک وائي چه ما تحقیق کړی دی چه د لمر د را ختلو په حالت کښې سجده مه کوی دا پوښتنه داسې را پیدا شوه چه د سهار د لمانځه وروسته دلته درس قرآن ویل کیده او د سجدې یو آیت تلاوت شو. په دې وخت کښې لمر د راختلو په حال کښې وو یا دا چه طلوع بالکل نږدې وو د کرم او مهربانۍ له مخې دا څرګنده کړی چه صحیح خبره کومه یوه ده آیا د سجدې تازه تلاوت شوی آیت هر وخت ادا کیدلی شي او که کوم قید یکښې شته چه په فلاني وخت کښې باید ادا نه شي؟ بینوا توجروا

جواب له جامعهٔ اشرفیه لاهور څخه مُبَسمِلاً و مُحمِدِلاً و مُصلّیا و مُسَلِّماً بحر ص۲۴۴ ج۱ ومنع عن الصلوة وسجدة التلاوة و صلوة الجنازة عند الطلوع و الاستواء و الغروب الخ. و اراد بسجدة التلاوة و صلوة الجنازة ما وجبت قبل هذه الاوقات اما اذا تلاها فيها او حضرت الجنازة فيه فاداها فانه يصح من غير كراهة. اذا الوجوب بالتلاوة و الحضور و ظاهر التسوية بين صلوة الجنازة و سجدة التلاوة انه لو حضرت الجنازة في غير مكروه فاخرها حتى صلاها في الوقت المكروه فانها لا تصح و تجب اعادتها كسجود التلاوة.

له دې عبارت څخه څرګندیږي چه که چیرته د سجدې آیت په هغه [illegible]
[illegible]

یعنی په مکروه وخت کښی د تلاوت له وجې سجده په چا واجبه شي نو په مکروه وخت کښې ئې ادا کول جائز دي او که چرته له مکروه وخت څخه مخکښې سجده واجبه شي نو په مکروه وخت کښې ئې ادا کول جائز نه دي که چیرته ئې ادا کړي نو بیرته را گرځول به ئې واجب وي فقط و الله تعالی اعلم

عزیز الرحمن نائب مفتي جامعهٔ اشرفیه، نیلاگنبد لاهور ۱۹ جمادي الاولی سنه ۸۴ هـ

الجواب صحیح **جمیل احمد عفا عنه**

د بنده رشید احمد لیک په نامه د مفتي جمیل احمد صاحب.

بسم الله الرحمن الرحیم

مکرم او محترمه زیدت عنایاتکم

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

هیله ده چه مبارک صحت مو ښه وي. ستاسو د محترم یوه افتاء مې تر سترگو شوه چه په هغې کښې لیکل شوي دي چه شروق (د لمرد را ختو)، غروب (د لمر د ډوبیدو) او استواء (د ورځې با لکل په نیمائي یعني غرمه) کښې د سجدې د تازه تلاوت شوي آیت سجده جائزه ده او په استدلال کښې دې د بحر الرائق دا عبارت لیکلی دی چه ((**اما اذا تلاها فیها او حضرت الجنازة فیها فاداها فانه یصح من غیر کراهة**)). زما بنده ناقصه رایه دا ده چه ستاسو په فتوی کښې له جواز څخه مراد جواز مع الکراهیة التنزیهیة دی او د بحر له جزئیه (**من غیر کراهة**) دکراهیت تحریمیه د نفی مقصود دی **قال فی العلائیة فلو وجبتا فیها لم یکره فعلهما ای تحریماً و فی التحفة الافضل ان لاتؤخر الجنازة و فی الشامیة (قوله ای تحریماً) افاد ثبوت الکراهة التنزیهیة و ایضا فیها تحت قوله (و فی التحفة) فثبتت کراهة التزیه فی سجدة التلاوة دون صلوة الجنازة.** (ردالمحتار ج۱،ص۳۴۴)

له دې څخه څرگنده شوه چه کومو حضرانو د کراهت نفی کړې ده له هغې څخه مراد د کراهتِ تحریمیه نفی ده نه د کراهتِ تنزیهیه. پخپله علامه شامي له نوموړي بحث څخه مخکښې د اوعل جنازة لاندې ((**والا فلا کراهة کما سیذکره الشارح**)) کښې د کراهت تحریمیه نفی کړې ده او بیا د شارح د قول لاندې علامه شامي صاحب کراهت تنزیهیه ثابته کړې ده کما قدمنا او په عالمگیري کښې ئې له خلاصې څخه نقل کړی دی چه په سجدهٔ تلاوت کښې تاخیر افضل دی.

په هر حال په دې اړوند مو له خپلې گرامي رأیې څخه خبر راکړی او د مقدسې میاشتې په مبارکو ساعتونو کښې مو د خیر له دُعاگانو څخه مه هیروی دا به ستاسو ډیر ښیگړه وي فقط و السلام علیکم رشید احمد عفا الله عنه

غرهٔ رمضان المبارک ۸۸ هجری

ځواب له مفتي جميل احمد صاحب څخه

محترمه و عليكم السلام و رحمة الله و بركاته

جزاک الله راجح او قوي قول د مکروه تنزيهي دی نه دا وه چه په فتوی کښې ليکل شوی وای. احتياط هم په دې کښې دی څکه چه لکه څرنګه چه ځينو حضراتو خلاف افضل ورته ويلي دي، ځنو مکروه تحريمي هم ورته ويلي دي. خير الامور اوسطها هم ورته ويل شوي دي. عالمګبري ورته غير افضل ويلي دي **لكن الافضل التأخير فيها.**

د اصل سائل خط د حضرت مفتي محمد شفيع صاحب رحمه الله په نامه

مکرم او محترم جناب مفتي صاحب قبله زاد مجده

السلام عليکم و رحمة الله و برکاته

هبله ده چه طبعيت به مو ښه وي د ليکنې باعث دا دی چه آيا سجدهٔ تلاوت په هر وخت کښې ادا کيدلی شي او که د لمانځه په ممنوعه وختونو کښې به ئې څوک نه ادا کوي؟ مولوي جميل حمد صاحب د مدرسهٔ اشرفيه لاهور مفتي څخه مې پوښتنه کړې وه هغه را ته ويلي وو چه سجدهٔ تلاوت چه تازه وي يعنې په همدې مکروه وخت کښې د سجدې آيت تلاوت شوی وي نو هر وخت ادا کيدلی شي زه پرې مطمئن شوی وم په زړه کښې مې دا فکر وکړ چه د جنازې په لمانځه او د تلاوت په سجدې کښې کوم فرق نشته بله دا چه د حضرت تهانوي يوه خبره مې ذهن ته راغله چه کله ما هغه ته خپل معمولات وليکل نو دا مې هم وليکل چه د سهار او مازديګر له لمونځونو پرته تر هر فرض لمانځه وروسته په سجدې کښې د قرآنکريم فلانی فلانی آيت تلاوت کوم او دعاء کوم په دې باندې حضرت تهانوي صاحب خط واخيست او په حاشيه کښې ئې وليکل چه "د شکر سجده له سهار او مازديګر څخه وروسته هم جائزه ده" زمونږ په جومات کښې د سهار تر لمانځه وروسته د قرآن درس ويل کيده د طلوع وخت وو چه د سجدې يو آيت تلاوت شو بو څوک وائي چه د طلوع په وخت کښې د تلاوت سجده که تازه وويل شي او که زړه بايد چه ادا نه شي د کرم او مهربانۍ له مخې به دې مو خبر کړې چه صحيح قول کوم دی؟ آيا د تلاوت تازه سجده هر وخت ادا کيدلی شي او که کوم قيد پکښې شته که چيرته قيد پکښې وي نو بيا کوم قيد دی؟

ځواب له دار العلوم کراچي څخه

په فتاوی عالمګيری کښې درې ساعتونه دي چه په هغو کښې فرض لمونځ، د جنازې لمونځ و د تلاوت سجده جائزه نه ده لومړی د لمر ختلو وخت دوهم خاص د غرمې وخت. دريم د لمر د ډوبيدو وخت مخکښې ئې له خلاصې څخه نقل کړی دی چه دا حکم هلته دی چه کله د جنازې

لمونځ او د تلاوت سجده په داسې وخت كښې واجب شي چه په هغه وخت كښې ئې ادا كول مباح وو او بيا ئې تر دې وخت پورې ځنډولې وي كوم چه په دې وخت كښې ئې ادا كول قطعاً جائز نه دي ليكن كه حبرته په داسې وخت كښې واجب شي او په همداسې وخت كښې ادا هم شي نو بيا جائز دی ځكه چه لكه څرنګه چه د هغو په وجوب كښې نقصان وو همدارنګه ئې په ادا كښې نقصان شته همدا خبره په السراج الوهاج.كذفي او تبيين كښې ليكلې ده ليكن د تلاوت په سجدې كښې تاخير (ځنډ) افضل دی او په جنازې كښې تاخير مكروه دی مولوي مفتي جمل احمد خبره بالكل صحيح ده فقط و الله اعلم و علمه اتم

احقر الانام محمد صابر عفی عنه ، نائب مفتي دار العلوم كراچي ۱ نانك واړه

الجواب صحيح بنده محمد شفيع عفا الله عنه

د بنده رشيد احمد خط په خدمت د حضرت مفتي محمد شفيع صاحب كښې

بسم الله الرحمن الرحيم

مشفقي المكرم زيدت عناياتكم

السلام عليكم و رحمة الله و بركاته

هيله ده چه طبعيت به مو روغ وي دمفتي محمد صابر صاحب ليكل شوې فتوى چه ستاسو حضرت صاحب دستخط هم پرې باندې شته را ورسيده چه څو اشكالات پرې باندې شته

۱ـ د طلوع په وخت كښې ئې د تلاوت تازه سجده ئې جائزه او تاخير ئې افضل ليكلې ده به دې كښې مناسبه دا وه چه د طلوع په وخت كښې ئې د كراهت تنزيهي تصريح كړې واى

قال فى العلائية فلو وجبتا فيها لم يكره فعلهما اى تحريما. وفى الشامية (قوله اى تحريماً) افاد ثبوت الكراهة التنزيهية وايضاً فيها تحت (قوله وفى التحفة) فثبتت كراهة التنزيه فى سجدة التلاوة دون صلوة الجنازة الخ. (رد المحتار ج۱،ص۳۴۷)

۲ـ په سوال كښې منقول عبارت "د شكر سجده د سهار او مازديګر تر لمونځونو وروسته هم جائز ده" څخه څرګنديږي چه تر هر لمانځه وروسته سجده جائزه ده په داسې حال كښې چه دلته دوه جلا مسئلې دي

۱ـ تر لمانځه وروسته په همدې ځاى كښې سجده كول. دا په هر حال كښې مكروه تحريمي دی اګر كه تر هر لمانځه وروسته هم وي

۲ـ د سهار او مازديګر نه وروسته د نفلو په مكروه وخت كښې د شكر سجده كول كومه چه به لمانځه سره متصله نه وی دا سجده به صحيح وي ليكن له كراهت تحريميه سره

قال فی الشامیة تحت (قوله لا شکر) فتحصل من کلام النهر مع کلام القنیة انها تصح مع الکراهة ای لانها فی حکم النافلة. ثم قال فی النهر عن المعراج واما ما یفعل عقب الصلوة من السجدة فمکروه اجماعاً لان العوام یعتقدون انها واجبة. (رد المحتار ج ۱، ص ۳۳۳)

لنډه دا چه په لاندیني مسائلو کښې زما رایه دا ده

۱ـ د طلوع، غروب او استواء په وخت کښې د تلاوت حاضره سجده مکروه تنزیهي ده

۲ـ په لمانځه پسې متصل د شکر د سجدې ادا کول مکروه تحریمي دي هغه که د هر وخت لمونځ هم وي البته که چیرته په خلوت (یواځې ځای کښې) سجده وکړي. خپل عادت ئې جوړ نه کړي او سنت ئې و نه ګڼي نو بیا پروا نه لري

۳ـ تر مازدیګر وروسته او د سهار په وخت کښې د شکر سجده مکروه تحریمي ده اګر که تر لمانځه پسې متصل وروسته هم نه وي

په دې اړوند مو تاسو له خپلې رایې څخه خبر کړئ

د رمضان المبارک په میاشت کښې د مخصوصو دُعا ګانو درخواست دی. سخت محتاج یم

فقط و السلام علیکم ((رشید احمد عفا الله عنه)) غرهٔ رمضان المبارک ۸۴ هجری

خواب له حضرت مفتي محمد شفیع صاحب څخه

و علیکم السلام و رحمة الله و برکاته، خوابونه صحیح دي. ستاسو لپاره له زړه څخه دُعا کوم او د ځان لپاره د دُعا غوښتونکی یم ((بنده محمد سفیع عف الله عنه)) له دار العلوم کراچي څخه ۱۲/۹/۸۴ هجری

د مازدیګر تر لمانځه وروسته د تلاوت سجده جائزه ده

سوال یو سړی د مازدیګر تر لمانځه وروسته تلاوت کوي. په تلاوت کښې د سجدې آیت راغی؟ آیا دی د مازدیګر او ماښام تر منځ وخت کښې د تلاوت سجده کولی شي او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب هو، کولی ئې شي البته که د لمر رڼا تغیر خوړلې وي نو مکروه تنزیهي ده دا حکم د تازه تلاوت دی. که چیرته یو څه نه غیر مکروه وخت کښې تلاوت کړی وی نو په مکروه وختونو (طلوع، غروب، نصف النهار کښې ئې ادا کول مکروه تحریمي دی د جنازې د لمانځه هم همدغه حکم دی البته که چیرته په مکروه وخت کښې جنازه تیاره شوې وی نو سمدستي وخت کښې باید ادا شي او په دې کښې د تازه تلاوت غوندې تنزیهي کراهت نشته

قال فی التنویر بعد صلاة فجر و عصر لا یکره قضاء فائتة و سجدة تلاوة و صلاة جنازة (رد المحتار ج ۱، ص ۳۴۸)

وايضاً فيه وكره صلاة ولو على جنازة وسجدة تلاوة وسهو مع شروق واستواء وغروب الا عصر يومه (الى قوله) و سجدة تلاوة وصلاة جنازة تليت فى كامل وحضرت قبل، وفى الشرح لوجوبه كاملاً فلا يتادى ناقصاً فلو وجبتا فيها لم يكره فعلهما اى تحريماً وفى التحفة الافضل ان لا تؤخر الجنازة وقال ابن عابدين رحمه الله (قوله تحريماً) افاد ثبوت الكراهة التنزيهية وقال تحت (قوله وفى التحفة) فتثبت كراهة التنزيه فى سجدة التلاوة دون صلاة الجنازة. (ردالمحتار ج۱،ص۳۴۷) فقط والله تعالى اعلم ۲۰ ربيع الاول ۹۳ هجرى

په مکروه وختونو کښې د جنازې د لمانځه حکم

سوال د جنازې لمونځ په کومو کومو وختونو کښې مکروه دی؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب که چيرته جنازه له مخکښې څخه تياره وه نو په غروب او نصف النهار په وخت ئې ادا کول ئې مکروه تحريمي دی او که چيرته په همدې مکروه وخت کښې تياره شوې وي نو بيا هيڅ کراهت نشته او په همدې وخت کښې دې لمونځ وشي ځنډوي دې نه البته د تلاوت تازه سجده مکروه تنزيهي ده.

قال فى التنوير وكره صلاة ولو على جنازة وسجدة تلاوة وسهو مع شروق واستواء وغروب الا عصر يومه (الى قوله) وسجدة تلاوة وصلاة جنازة تليت فى كامل وحضرت قبل، وفى الشرح لوجوبه كاملاً فلا يتادى ناقصاً فلو وجبتا فيها لم يكره فعلهما اى تحريماً وفى التحفة الافضل ان لا تؤخر الجنازة وقال ابن عابدين رحمه الله (قوله تحريماً) افاد ثبوت الكراهة التنزيهية وقال تحت (قوله وفى الصحفة) فتثبت كراهة التنزيه فى سجدة التلاوة دون صلاة الجنازة. (ردالمحتار ج۱،ص۳۴۷)

د شرعي او عرفي نصف النهار پيژندنه او د هغه حکمونه

سوال له شرعي نصف النهار او عرفي نصف النهار څخه څه مراد دی او د هغه د را ايستلو کومه قاعده ده؟ د روژې نيت بايد تر کوم وخته پورې وشي او لمونځ دې تر نصف النهار څومره مخکښې او وروسته بايد ادا نه شي؟بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب شرعي نصف النهار له صبح صادق څخه واخله تر غروب پورې د ټول وخت نيمائي نصف النهار دی او له عرفي نصف النهار د لمر له ختو څخه واخله تر ډوبيدو د لمر پورې د ټول وخت نيمائي څخه مراد دی دا د استواء د معلومولو تقريبي طريقه ده کوم چه تقريب تر ځلوېښتو عرض البلدو پورې کار ورکوي د نصف النهار د معلومولو تر ټولو صحيح قاعده کومې چه په هر ځای کښې کار ورکوي زمونږ په کتاب ارشد العابد کښې ملاحظه کړی. د

شرعي نصف النهار د معلومولو آسانه قاعده دا ده چه د صبح صادق له پیل څخه د لمر تر خلو پورې چه څومره وخت وي د هغه نیمائي وخت د عرفي نصف النهار له وخت څخه کم کړی د مثال په توګه د صبح صادق ټول وخت یو ساعت وي نو له عرفي نصف النهار څخه نیم ساعت مخکښې نه نصف النهار شرعي وي، د اردو د مسائلو په کتابونو کښې شرعي نصف النهار له عرفي نصف النهار څخه یو نیم ساعت مخکښې اتکل شوی دی، چه په دې کښې درې دوله غلطي شوې ده

۱ـ د صبح صادق په ځای ئې صبح کاذب ټاکلی دی. د دې غلطي پوره تفصیل زما د «صبح صادق» په کتاب کښې شته.

۲ـ د هر موسم او هر ځای لپاره ئې یو معیار متعین کړی دی په داسې حال کښې چه په هر ځای او هر موسم کښې وختونه مختلف وي

۳ـ له عرفي نصف النهار څخه د صبح کاذب د ټول وخت په برابر وخت کم کړی شوی دی په داسې حال کښې چه د صبح صادق د ټول وخت نیمائي باید ترې کم شي

د روژې نیت د شرعي نصف النهار څخه مخکښې کول ضروري دي او د لمانځه په کراهت کښې عرفي نصف النهار معتبر دی. علامه برجندي رحمه الله په شرح النقایه کښې په دې باندې اشکال ښکاره کړی دی چه د عرفي نصف النهار وخت ممتد (اوږد) نه دی د دې لپاره په دې کښې لمونځ متصور کیدلی هم نه شي نو له دې څخه منع صحیح نه ده په دې بناء باندې ځینو حضراتو له شرعي نصف النهار څخه واخله تر حقیقي نصف النهار پورې وخت لره د لمانځه لپاره مکروه بللی دی لیکن زما په خیال کښې یواځې د دې اشکال له وجې د شرعي نصف النهار مراد اخیستلو ګنجائش نشته په داسې حال کښې چه له یوه حدیث څخه هم د دې تائید نه کیږي بلکه ټول حدیثونه په عرفي نصف النهار باندې دلالت کوي، د نوموړي اشکال ګڼ ځوابونه کیدلی شي

۱ـ اګر که په دې وخت کښې پوره لمونځ نه ي متصور کیدلی لیکن مقصد دا دی چه د لمانځه هیڅ یوه برخه هم په دې وخت کښې واقع نه شي، دا ځواب پخپله علامه برجندي رحمه الله هم ورکړی دی (رد المحتار ج۱، ص۲۴۹)

۲ـ د لمر د مرکز په ځای د هغه د ټول جرم یا جسم اعتبار دی. کما فی حدیث عبدالله الصنابحي رضي الله عنه ثم اذا استوت قارنها فاذا زالت فارقها. (موطاء امام مالك ص۲۰) د نصف النهار له دائرې څخه د لمر د محیط د یوې خنډې له تیریدو څخه واخله د بلې خنډې تر تیریدو پورې د حساب له مخې دوه دقیقې او اته ثانیې لګیږي. په دومره وخت کښې لمونځ متصور کیدلی شي

۳ـ د شرعي احکامو دار و مدار په ریاضي حسابونو باندې نه بلکه په مشاهدې باندې دی او په مشاهده کښې له قدرو روز نزدې، استواء څخه تر قدرو حلا کوونکي زوال پورې عرصه نسبي

دقیقې تخمین شوی دی لهذا په نفشو کښې د زوال له ورکړ شوي وخت څخه پنځه دقیقې مخکښې او پنځه دقیقې وروسته لمونځ باید ادا نه شي

ويؤيده مانقله ابن عابدين رحمه الله عن الطحطاوي في تفسير قول شارح التنوير (ووقت الظهر من زواله اى ميل ذكاء عن كبد السماء) اى وسطها بحسب مايظهر لنا. (ردالمحتار ج۱، ص۳۴۲)

د کراهت له تعلیل څخه هم همدغه ثابتېږي. د لمانځه غوندي د لمر عبادت هم په یوه آن کښې خو نه شي متصور کیدلی. ښکاره خبره ده چه د لمر عبادت کوونکي استواء لره خاص د مشاهدې په حساب سره د عبادت وخت ټاکلی دی. فقط و الله تعالی اعلم **۲۷ ربیع الاول ۸۹ هجری**

په رمضان شریف کښې د ماښام په لمانځه کښې د تاخیر حکم

سوال د رمضان په میاشت کښې د ماښام په لمانځه کښې ۵ دقیقې تاخیر کول په دې خیال سره چه خلک روژې ماتې کړې او په جماعت کښې شامل شي نو آیا داسې کول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب اصل خواب خو دا دی چه د ماښام په لمانځه کښې دومره ځنډ کول چه دوه رکعته لمونځ پکښې کیدلی شي په اتفاق سره له کراهیت پرته جائز دی او له دې څخه په زیات تاخیر کښې اختلاف دی. د ځینو په زد پرته له کراهت څخه جائز دی او د ځینو په نزد مکروه تنزیهي دی البته دومره تاخیر کول چه ډیر ستوري وځلیږي په اتفاق سره مکروه تحریمي دی په رمضان المبارک کښې که چیرته لوږه زیاته وي او خوراک تیار وي نو پنځلس شل دقیقې تاخیر کولو کښې څه پروا نشته. ځکه چه دا تاخیر له زیات څخه زیات په مکروه تنزیهي کښې راځي او د لوږې په حالت کښې د خوراک په موجودوالي کښې لمونځ کول مکروه تحریمي دي لهذا له خوراک څخه د فارغیدو په صورت کښې به اطمینان او د زړه په فراغ سره باید لمونځ ادا شي

فقط و الله تعالی اعلم **۱۶ رجب ۹۰ هجری**

د لمانځه تر ادا کولو وروسته معلومه شوه چه دلمانځه وخت وتلی دی

سوال بکر د سهار لمونځ په دې نیت ادا کړ چه وخت خو لا شته په داسې حال کښې چه لمر ختلی وو لیکن د وریځ له وجې بکر ته د لمر ختل معلوم نه وو نو آیا په داسې حالت کښې د بکر لمونځ وشو او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب که چیرته ئې د مکروه وخت له ختمیدو څخه مخکښې لمونځ شروع کړی وي نو لمونځ ئې صحیح نه شو او که چیرته ئې وروسته شروع کړی وي نو په دې کښې تفصیل دا دی چه که چیرته ئې د وختي سهار نیت کړی وو نو لمونځ ئې نه وشو او که ئې د نن سهار نیت کړی وو نو لمونځ ئې صحیح شو

قال فی التنویر ولو نوی ظهر الوقت فلو مع بقائه جاز ولو مع عدمه وهو لا یعلمه لا. وفی الشرح فالاول نیة ظهر الیوم لجوازه مطلقاً. وفی الحاشیة (قوله وهو لا یعلمه) ای لا یعلم خروجه ومفهومه انه لو علمه یصح کما قدمناه عن الشرنبلالیة. (ردالمحتار ج۱ ص۲۹۲) فقط والله تعالی اعلم. ۱۶ رجب ۹۰ هجری

د لمانځه د وختونو تعین په ساعتونو سره ممکن نه دی

سوال بناغلی مولانا مفتي رشید احمد صاحب. السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

له دار العلوم کراچی ځخه مې د یوې پوښتنې د ځواب غوښتنه کړې وه هغو ستاسو خوا ته د رجوع لاربنوونه را ته کړې ده. د سوال نقل سره له ځوابه در لیږم هیله ده چه تاسو زما لاربنوونه وکړی. د خپلی پوښتنې د زیات وضاحت لپاره عرض کول غواړم چه لکه څرنګه چه د لمر د ډوبیدو له یوه ساعت ا شلو دقیقو وروسته پورې د ماښام وخت په ځای وي او له دې وروسته د ماسخوتن وخت شروع کیږي او دا وقفه یعنې یو ساعت او شل دقیقې په هر موسم کښې یو شان وي. همدارنګه د مازدیګر د لمانځه وخت هم د لمر له ډوبیدو دوه ساعته مخکښې شروع کیږي یا که چیرته همدا ډول صحیح وقفه معلومه شي نو د مازدیګر د لمانځه وخت مقررول به آسانه شي. نور که چیرته دا څرګنده شي چه د لمر تر ختلو یو ساعت او دیرش دقیقې مخکښې (یا تر تحقیق وروسته چه کومه وقفه هم معلومه شي) صبح صادق وي. او دا وقفه هم په هر موسم کښې یو شان وي نو د لمر تر ختلو او ډوبیدلو ځخه د سهار. مازدیګر. ماښام او ماسخوتن د صحیح وختونو معلومول ډیر آسانه کیږي او د ماسپښین د لمانځه د وخت هم له نصف النهار ځخه صحیح ټاکل کیدلی شي لهذا تر تحقیق وروسته ما ته اطلاع راکړی چه داسې یوه کُلي قاعده ممکنه ده او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د صبح صادق له ابتداء ځخه د لمر تر ختلو پورې او د لمر له ډوبیدو ځخه د شفق تر ډوبیدو پورې. همدارنګه د مازدیګر له ابتداء ځخه د لمر تر ډوبیدو پورې وختونه په ساعتونو متعین کول ممکن نه دي. په مختلفو موسمونو کښې د لمر د میل د اختلاف له وجې د دغو وختونو اندازه مختلف کیږي. همدارنګه د عرض البلد د اختلاف له وجې هم په دې اندازې کښې فرق وی له دې فن ځخه خینو بې خبرو خلکو څه داسې قواعد لیکلي دي کوم چه په قطعي توګه غلط دي. د هغو له زیات ځخه زیت تاویل دا کیدلی شي چه هغو خلکو ۱ ـ په کومې خاصې علاقې کښې. ۲ـ په خاصو ورځو کښې. ۳ـ تجربې حساب لګولی دی او له دې فن ځخه بې خبرۍ له وجې ئې دا د هر ځای او هرې زمانې لپاره قاعدهٔ کلیه ګڼلې ده.

د وختونو د تخریج او د قبلې د سمت په باره کې زما دوه رسالې په "ارشاد العابد" او "صبح صادق" نامه شته ممکنه ده چه له هغو ځخه څه استفاده وکړای شي. فقط والله تعالی اعلم

غرهٔ شعبان ۹۲ هجری

د لمانځه د وختونو نقشې

سوال د لمانځه د وختونو. طلوع. غروب او داسې نورو د ټول کال يوه نقشه دلته د مولانا مظهر الله شاه نقشبندي شاهي د فتح پوري دهلي د جومات امام او مفتي له خوا نياره شوې ده او يوه بله نقشه همدارنګه د مولوي محمد دين صاحب د اشرفيه کتب خانه راولپنډۍ له خوا په جوماتونو کښې زړيږي يو ځل ستاسو د ليکنې له مخې په دې نقشې کښې څه فرق ښکاره کړې وو په داسې حال کښې چه په دغو دواړو نقشو کښې هم ځاې ځاې فرق پيدا کيږي يعنې ټول وختونه ئې له يوه او بل سره برابر نه دي، اوس د پوښتنې ځاى دا دى چه تاسو جناب د کومې نقشې په اړه د نه اطمينان اظهار کړى وو. څيني وختونو په لومړنۍ نقشې کښې د طلوع. غروب او داسې نور د واقعيت مطابق ښکاره شوي دي. او که دواړه نقشې ستاسو خدمت ته در وليږم او بيا به تاسو تحقيق پرې کوى؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب تر ننه پورې چه څومره نقشې خپرې شوي دي په ټولو کښې د صبح صادق او ماسخوتن وختونه غلط دي د يوې بنيادي غلطۍ له وجې چه تفصيل زما د "صبح صادق" په رساله کښې شته د نورو وختونو په اړه چه نقشه وګورم نو بيا څه ويلى شم. د ليپ له يوه کال څخه ونيسه د ليپ تر بل کاله پورې څلور کاله دي د طلوع. غروب او داسې نورو وختونه يو دوه دقيقې فرق کوي لهذا د دائمي نقشې د ترتيبولو لپاره دا تفاوت تر نظره غورځول کيږي د دې لپاره نقشې پخپل منځ کښې سره متفاوتې وي چه له دې څخه يوه هم خالي نه ده البته که چيرته د ليپ کال د نقشې بنياد کېښودل شي نو په وختونو کښې د احتياط اړخ را ووځي په هر صورت هرې نقشې باندې د دريو، څلورو دقيقو د احتياط د خبردارۍ ليکل لازم دي

فقط و الله تعالى اعلم ۶ ربيع الاول ۹۳ هجرى

د سهار د لمانځه مستحب وخت

سوال فقهاوو د سهار د لمانځه مستحب وخت دا ښودلى دى چه کله ښه رڼائي جوړه شي او دومره وخت پاتې وي چه د سُنتو مطابق په ښه توګه لمونځ ادا شي او له لمانځه څخه تر فارغيدو وروسته دومره وخت پاتې وي چه د سنتو په طريقې سره د لمانځه را ګرځول ممکن وي که چيرته په کوم جومات کښې د ((وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوجِ فى الركعة الاولى وَالطَّارِقِ فى الركعة الثانية)) ويل عادت وي نو بيا د سهار لمونځ په داسې وخت کښې شروع کړي چه د لمانځه بيرته را ګرځول په همدغو دوو سورتونو سره ممکن وي يا نې په داسې وخت کښې شروع کړي چه د لمانځه را ګرځول په مسنونه طريقه سره په طوال مفصل سره ممکن وي؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دا عادت د سُنتو خلاف دى لمونځ بايد په داسې وخت کښې شروع

سي چه په هغه کښې د مسنون قرائت تر کولو وروسته که چیرته د فاسدوالي صورت منځ ته راشي نو بیا نې په مسنونه طریقه سره بیرته را ګرځولی شي له تجربې څخه ثابته شوي ده چه د لمر تر ختلو تقریباً نیم ساعت مخکښې د مذکوره قاعدې مطابق لمونځ کیدلی شي فقط و الله تعالی علم

۹محرم ۹۵ هجری

له طلوع څخه وروسته او له غروب څخه مخکښې د مکروه وخت اندازه

سوال د لمر تر ختلو څومره خند وروسته او د لمر تر لویدو څومره خند مخکښې د لمانځه ادا کول جائز دي او آیا د وخت کومه داسې ټاکلې اندازه شته چه په هر ځای کښې معتبره وي یوه داسې ضبطه یا قاعده را وښایئ چه په ټولې دنیا کښې هر ځای په کار ورشي. زه د هغه په مطابق د ټورنټو (کاناډا) د نقشې جوړول غواړم؟ بینوا توجروا

ځواب په دې باره کښې اصل ضابطه کومه چه د ټولې دنیا لپاره په کار راتلونکې ده دا ده چه تر څو پورې لمر تر ختلو وروسته په داسې کیفیت سره پاتې شي چه هغه تر ډیره پورې په کتلو سره سترګو ته تکلیف او خړوالی نه ورکوي تر هغه وخته پورې د لمانځه ادا کول جائز نه دي همدرنګه په مازدیګر کښې چه کله د لمر داسې کیفیت شروع شي نو لمونځ مکروه دی الا عصر یومه لکن دا معیار به هلته صحیح وي چه په مطلع (د لمر د ختلو په ځای) باندې وریځ، ګرد، غبار او داسې نور نه وي او که نه نو نوموړی کیفیت د عوارضو له وجې تر ډیره خنده پورې تر دې پورې چه په ځینو ورځو کښې تر غرمې پورې پاتې کیږي او په ځینو علاقو کښې ټوله ورځ د لمر په رڼا کښې تیزوالی نه راځي یو بل معیار هم فقهاء کرامو رحمهم الله لیکلی دی او هغه دا چه کله لمر تر را ختلو وروسته له افق څخه د یوې نیزې په اندازه را پورته شي نو د لمانځه ادا کول صحیح کیږي. همدارنګه تر مازدیګر ورسته چه کله د لمر لوړوالی له افق څخه د یوې نیزې له اندازې څخه په کمیدو شي نو لمونځ صحیح نه دی (الا عصر یومه) د نیزې اندازه دولس لویشتې ده

قال العلاء فی بیان وقت العصر مالم یتغیر ذکاء بان لاتحار العین فیها فی الاصح و قال ابن عابدین رحمه الله صححه فی الهدایة وفی الظهیریة ان امکنه اطالة النظر فقد تغیرت وعلیه الفتوی و فی النصاب وغیره وبه أخذ هو قول المشایخ الثلاثة و مشایخ بلخ و غیرهم کذا فی الفتاوی الصوفیة. (الی قوله) و قیل هذ التغیر ان یبقی للغروب اقل من رمح و قیل ان یتغیر الشعاع علی الحیطان کما فی الجوهرة ابن عبد الرزاق. (رد المحتار ج۱ ص۳۶۳) وقال ابن عابدین ایضاً (قوله مع شروق) وما دامت العین لاتحار فیها فهی فی حکم الشروق کما تقدم فی الغروب انه الاصح کما فی البحر ح اقول ینبغی تصحیح ما نقلوه عن الاصل للامام محمد من انه ما لم ترتفع الشمس قدر رمح فهی فی حکم الطلوع لان اصحاب المتون مشوا علیه فی صلوة العید حیث جعلوا اول وقتها من الارتفاع ولذا جزم به فی الفیض ونور الایضاح. (ردالمحتار ج۱ ص۳۴۳) وقال فیه ایضاً (قوله قدر رمح) هو اثنا عشر شبراً. (ردالمحتار ج۱ ص۲۷۱)

د غور له کولو څخه ثرګندیږي چه اصل اعتبار د لمر رڼا لره دی او د نیزې له اندازې حده د همدې تخمین کیدلی شي کما یظهر من قول ابن عابدین رحمه الله وقیل حتی تبیض وقیل حتی تحتمرا نها یضی للغروب اقل من رمح. درانهٔ هم د لمر تغیر لره د معیار ګنلو وجه معقوله ده او د نیزې اندازې لره مقصود بالذات ګنل غیر معقول دی ((الا ان یوجه بانه قد یعطی لقرب الشئ حکم الشئ فقدروا القرب بما دون الرمح ولکن تقدیر الفاصل بین القرب والبعد بالرمح ایضا یحتاج الی وجه)) که چیرته د قدر رمح (د نیزې د اندازې) قول مستقل قول و منل شي نو بیا به هم د لمر د تغیر قول به راجح وي ((لکونه موجها)) د نیزې د اندازې په ځای د لمر د تغیر خوړلو ثرګندول آسانه هم دی لنډه دا چه اصل اعتبار رڼا لره دی که چیرته د فضا د خړپړتیا له وجې د رڼا اندازه و نه شي لګولی نو د نیزې په اندازې سره دې اندازه ولګول شي اصل معیار خو همدغه دواړه دي کوم چه ذکر شول ځکه چه دا د ټولې دنیا لپاره ده او د پیژندلو لپاره ئې نه د کومې آلې ضرورت شته او نه د ګړی یا ساعت. هر خاص او عام ئې پیژندلی شي. د اسلام دین د فطرت دین او عالمګیر کیدلو هم خاص د همداسې معیار مقتضي دی د وخت داسې یوه ټاکلې اندازه نه شي ټاکل کیدلی کوم چه په هر ځای کښې وچلیږي ځکه چه په مختلفو ځایونو او موسمونو کښې د دې وخت د اندازې مختلف کیدل یوه ضروري خبره ده په لویو ښارونو کښې لکه ثرنګه چه د طلوع او غروب په وخت کښې د لمر لیدل مشکل دي د دې لپاره د کوم معیار د ټاکلو ضرورت شته. څو کاله مخکښې ما د نورو علماوو تر څنګ په ۸° ۲۵ عرض البلد کښې دا مشاهده وکړه نو له طلوع څخه لس دقیقې وروسته او له غروب څخه پنځلس دقیقې مخکښې فیصله مو وکړه لیکن دا مې په زړه نه ده چه دا فیصله مو په کوم تاریخ کښې کړی وه د دې لپاره له دې څخه کوم معیار نه شي ټاکل کیدلی. په تیر رمضان کښې د دې مقصد لپاره ما مدرسهٔ محمدیه ټنډو آدم (طول ۷° ۶۸ ، عرض ۸° ۲۵) ته سفر وکړ لیکن د وریځ له وجې څخه مشاهده و نه شوای کړی با لاخره مې د مولوي محمد صدیق صاحب د مدرسهٔ محمدیه مهتمم نه مې دا ذمه واري په غاړه ور واړوله چه هغه په ۲۱. ۲۲. ۲۳ ستمبر باندې له ځان سره کم تر کمه دوه درې نور پوه سړي کړي او تر دریو ورځو پورې پرله پسې سهار او ماښام مشاهدات وکړی د نتیجې نې ولیکي لکه ثرنګه چه د لاربنوونې له مخې له مشاهداتو څخه دا ثابته شوه چه له طلوع څخه نهه دقیقې وروسته په لمر کښې معهوده ګرمي راغله او له غروب څخه دیارلس دقیقې مخکښې د مکروه وخت شروع شو دا فیصله په ډیر احتیاط سره وشوه او که نه حقیقت دا دی چه مکروه وخت په دواړو خواوو کښې له دې څخه هم څه کم وو ما د د کروي مثلث له حسابه مذکور وخت کښې د لمر د زاویې لوړوالی معلوم کړ نو نهه دقیقې -۴° ۱ او دیارلس دقیقې -۴° شو. په دی تخریج کښې د دې لحاظ سوی دی چه د طلوع او غروب په وخت کښې لمر له افق څخه

۸۰ درجي لاندي وي ليکن د د حقيقي أفق د لوړوالي زاويه له (۹۰) درجو څخه اخيستل شوي دی د ارتفاع يا لوړوالي د زاويې تر تعين وروسته په هر ځای او هر موسم کښې د مکروه وخت دائمي نقشه تياريدلی شي چنانچه د ارتفاع زاويه ۱/۴ په مطابق په کراچی کښې د مارچ او ستمبر په مستو کښې تر طلوع وروسته نهه دقيقې او په جون او دسمبر کښې په يوولسو دقيقو کښې د مکروه وخت پای ته رسيږي او د مازديگر مکروه وخت له زيات څخه زيات له لمر لويدو څخه تېرس دقيقې مخکښې شروع کيږي فقط و الله تعالی اعلم ۱۳شوال ۹۷ هجری

په صبح صادق کتاب کښې د اشراق په ورکړل شوي وخت باندې د مکروه وخت پای ته رسيږی.

د سيوري تر دويم چنده پورې د ماسپښين د لمانځه په ځنډولوکښې د کراهت تحقيق

سوال زمونږ د فوجي ملازمينو (نوکرانو) رخصتي په ژمي کښې دوه بجې وي په لومړي چند کښې جماعت ته رسيدل مشکل وي او امام صاحب له هغو خلکو سره چه نوکري ني نه وي په مثل اول د سيوري په لومړي چند) کښې لمونځ کوي امام صاحب وايي چه د ماسپښين وخت اگر که تر مثلنو پورې د مشهور روايت له مخې وي ليکن په اول مثل کښې د لمانځه ادا کول د لاندېني وجوهاتو له مخې ضروري دي

۱- په ژمي کښې تعجيل مستحب دی کوم چه د مثل اول لومړنی نمايي ده (اشعة اللمعات ص۱۵۱، او کفاية شرح هدايه ص۴۵)

۲- د دويم مثل وخت مختلف فيه دی تر دې پورې چه د امام ابو حنيفه د يوه روايت مطابق دا وخت د مازديگر وخت دی. دا روايت په هدايه، در مختار، شامي او داسې نورو کښې موجود دی او د يوه روايت مطابق دا وخت مهمل (پرېښودل شوی. بې فائدې) دی (کبيري ص۲۲۵، شامي ص۲۵۱، کفايه ص۴۵، وغيرها)

همدارنگه مثل اول ته رجوع ثابت دی. لکه څرنگه چه په مجموعة الفتاوی عبد الحی ص۲۳۹، ج۱، کښې دی چه **نعم هو ثابت بتصريح جمع من الفقهاء الخ** او فيض الباری شرح د بخاري ص۹۴ ج۲ کښې دی **رجوع الامام الی هذه الرواية الخ** او په موطا امام محمد کښې د ليکو په منځ ص۴۵ کښې دی **قد ذکر جمع من الفقهاء رجوعه الی المثل**

۳- د ظاهر الروايه په کتابونو کښې د ماسپښين د آخري وخت روايت نه دی ذکر شوی

وفی البدائع ج۱، ص۱۲۲، ان آخر الوقت لم يذکر فی ظاهر الرواية فاذا خلت هذه الکتب الستة عن ذکر آخر الوقت علم انه لم يکن فی ظاهر الرواية الخ (بدائع الصنائع ج۱، ص۱۲۲)

۴ په نور الایضاح کښې دي چه مع مراعاة الوقت المستحب الخ وفی حاشیته افاده لا یجوز التاخیر عن الوقت المستحب الی المکروه مطلقاً اه وفی الطحطاوی ص۱۱۷ وفی الدر المختار مراعیاً لوقت الندب وفی کتاب الفقه علی المذاهب الاربعة مع المحافظة علی قدر الفضیلة.

۵ وفی ط عن الحموی عن الخزانة الوقت المکروه فی الظهر ان یدخل فی حد الاختلاف واذا اخره حتی صار ظل کل شئ مثله فقد دخل فی حد الاختلاف. (شامی ص۲۵۳، وطحطاوی ص۱۰۷، وغایة الاوطار ص۱۴۶)

د پورتنیو او داسې نورو وجوهاتو له مخې د احنافو علماوو دا فیصله کړې ده چه د ماسپښین لمونځ دې د سیوري له اول چند څخه باید ناوخته نه شي او مازدیګر دې په د سیوري په دویم چند کښې ادا شي

قال المشائخ ینبغی ان لا یصلی العصر حتی یبلغ المثلین ولا یؤخر الظهر الی ان یبلغ المثل لیخرج من الخلاف فیهما. (کبیری ص۲۲۵، ومعناه فی رد المحتار ج۱، ص۲۵۱، ومراقی الفلاح ص۱۰۲، والتنقیح الضروری شرح القدوری ص۲۰ وغیرها) آیا سره د نوموړي مجبوری او د امام صاحب د بیان له وجې په دویم چند کښې مونږ د جماعت د لمانځه اهتمام کولی شو؟ او که ئې کولی شو نو په دلائلو سره ئې بیان کړی همدارنګه د هرې شمارې تائید یا تردید په واضحو الفاظو کښې ولیکی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په نوموړي تحقیق کښې د دوو خبرو وضاحت ضروري دی

۱۔ د حضرت امام اعظم صاحب د اول مثل قول ته رجوع اګر که له ځینو څخه منقل دی لیکن د دې غالب ظن نشته که چیرته دا خبره د ظن د غلبې په درجه کښې ثابته وای نو مشائخو به په دې کښې اختلاف نه کاوه. په داسې حال کښې چه د دواړو قولونو یو شان تصحیح او ترجیح له مشائخو څخه منقول دي

ان الادلة تکافأت ولم یظهر ضعف دلیل الامام بل ادلته قویة ایضاً کما یعلم من مراجعة المطولات وشرح المنیة وقد قال فی البحر لا یعدل عن قول الامام الی قولهما او قول احدهما الا لضرورة من ضعف دلیله او تعامل بخلافه کالمزارعة وان صرح المشائخ بان الفتوی علی قولهما کما هنا. وقال ایضاً والنظر هل اذا لزم من تأخیره العصر الی المثلین فوت الجماعة یکون الاولی التأخیر ام لا. والظاهر الاول بل یلزم لمن اعتقد رجحان قول الامام تأمل. (رد المحتار ج۱، ص۲۴۳)

د شفق احمر او ابیض د بحث لاندې په فتح الملهم کښې دي وما فی الدر المختار ان الامام رجع الی قول صاحبیه فقال العلامة قاسم فی تصحیح القدوری ان رجوعه لم یثبت لما نقله الکافة من لدن الائمة الثلاثة الی

اليوم من حكاية القولين ودعوى عمل عامة الصحابة بخلافه خلاف المنقول. (فتح الملهم ج۲، ص۱۹۸)
۲ په دويم مثل کښې د ماسپښين د لمانځه د کراهت قول د تنزيهي کراهت متبادر دی اګر که له مطلق کراهت څخه کراهت تحريمي مراد وي ليکن دلته د دويم مثل قول چونکه ډيرو مشائخو نې تصحيح کړې ده د دې لپاره کراهتِ تنزيهي متبادر دی
په هر حال د جومات د امام لپاره ښه دا ده چه د دويم مثل له شروع کيدو څخه دې مخکښې د جماعت لمونځ ورکړي. په حکومت باندې لازمه ده چه نوکرانو ته په مثل اول کښې د ننه د لمانځه د ادا کولو اجازه ورکړي
لاړښوونه په راولپنډۍ کښې د جنوري په اوله لومړی چند په دوه بجې او يو پنځوس دقيقې باندې پای ته رسيږي او دويم چند په درې بجې او يو ديرش دقيقې باندې. په نورو موسمونو کښې تر دې څخه هم زيات وخت وي له دې وجې څخه له سرکاري دفترونو څخه په دود بجو تر رخصت کيدو وروسته هم په هر موسم کښې د ماسپښين لمونځ په اول مثل کښې په جماعت سره ادا کيدلی شي فقط و الله تعالی اعلم ۱۵ محرم الحرام ۹۸ هجری

که چيرته د مازديګر جماعت له مثلينو څخه مخکښې وشي نو څه حکم لري

سوال په حرمين شريفينو کښې د مازديګر جماعت له مثلينو څخه مخکښې کيږي. آيا مونږ جماعت پريږدو او تر مثلينو وروسته يواځې لمونځ ادا کړو او که ئې له همدې جماعت سره ادا کړو؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب قال فی الشامية و انظر هل اذا لزم من تأخيره العصر الى المثلين فوت الجماعة يكون الاولى التأخير ام لا. والظاهر الاول بل يلزم لمن اعتقد رجحان قول الامام. تأمل. (رد المحتار ج۱، ص۲۲۲)

له دې څخه ثابته شوه چه تر مثلينو وروسته د مازديګر د لمانځه ادا کول افضل دي اګر که جماعت هم فوت شي ليکن دا حکم د عامو ځايونو لپاره دی په حرمين شريفينو کښې فضلت ته په کتو سره بايد هلته جماعت ترک نه شي بلکه په مثل اول کښې دې له جماعت سره لمونځ ادا شي فقط و الله تعالی اعلم ۱۵ محرم الحرام ۹۸ هجری

د غروب (د لمر ډوبيدو) علامه (تنبيه)

سوال په عمومه توګه مشهوره ده چه کله د مشرق خوا ته په اُفق باندې توروالی راښکاره شي نو دا د

لمر د ډوبيدو علامه گڼل كيږي حالانكه له مشاهدې څخه ثابته شوې ده چه د لمر تر لويدو وروسته څه مخكښې د مشرق خوا ته توروالى تر سترګو كيږي په دې باره كښې تحقيق څه دى؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د لمر د ډوبيدو د علامه په حديث كښې هم راغلې ده **اذا اقبل الليل من ههنا ـ الحديث** د دې په شرح كښې حضرت ګنګوهي صاحب قدس سرّه فرمائي **والعبرة انما هو لارتفاع الظلام من المشرق الى حيث يوازي رأس الرائى (لامع الدراري ج٥ ص٣٨١)** يعني د مشرق خوا ته د تياره محض ښكاريدل كافي نه دي بلكه دا شرط دى چه له اُفق څخه دا تياره دومره لوړه شوې وي چه د ليدونكي له قد او قامت سره برابره وي.

بنده يو بل عالِم هم له ځان سره كړ او د دې مشاهده ئې وكړه نو بالكل ئې صحيح ومينده فقط و الله تعالى اعلم ٢٢ رمضان ٩٨ هجرى

د ماښام او ماسخوتن تر منځ د وخت هيڅ تحديد نشته

سوال څه فرمايي د دين علماء كرام او د شرع متين مفتيان كرام د دې مسئلې په باره كښې چه له ماښام څخه تر ماسخوتن پورې بايد څومره وخت وي زمونږ ځينې علماء كرام وايي چه كم تر كمه يو ساعت او اتلس دقيقې باندې د ماسخوتن وخت شروع كيږي او له زيات څخه زيات په يو ساعت پنځه ديرش دقيقو باندې د ماسخوتن وخت داخليږي ځينې وايي چه يو ساعت او شل دقيقو باندې د ماسخوتن وخت داخليږي د كرم او مهربانۍ له مخې مفتى به قول ذكر كړى بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د ماښام او ماسخوتن تر منځ د استواء د ليكې په ځاى باندې په معتدلو ورځو كښې كم تر كمه ٥٧ دقيقې وي. دا وخت سپين شفق ډوبيږي او سور شفق له دې څخه هم دولس دقيقې مخكښې ډوبيږي د دې په مطابق د لمر له لويدو څخه ٤٥ دقيقې وروسته د ماسخوتن وخت شروع كيږي دا قول ارجح دى او لومړى قول احوط دى په نورو ورځو او نورو ځايونو كښې تر دې زيات وخت وي او د زياتوالي هيڅ اندازه نه نشته تر دې پورې چه په ملڪ د كښې د اورې په موسم كښې د ماسخوتن وخت خو بالكل نه راځي د دې وخت اندازه به هر ښار د هر موسم كښې مختلفه وي د تفصيل لپاره د بنده كتاب ،،صبح صادق،، مطالعه كړى

فقط و الله تعالى اعلم ٢٤ ربيع الآخر ٩٨ هجرى

(رسائل)

بسم الله الرحمن الرحیم

﴿وَمَا تَوْفِيقِيٓ إِلَّا بِٱللَّهِۚ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ أُنِيبُ﴾

شرحُ الصدر

فی الفرق بین

صَلوتی الفجر والعصر

د غروب په وخت کښې د مازدیګر لمونځ سره له کراهیت نه صحیح دې لیکن د طلوع په وخت کښې د سحر لمونځ صحیح ندې

د دواړو تر مینځ د فرق متعلق یو عجیب بلکه اعجب تحقیق

د لمر په ختو باندې د سهار د لمانځه په اتمام یا فساد پورې د اړونده حدیثونو عجیبه توجیه، د صحیح البخاري له تقریر څخه اقتباس

قال رسول الله ﷺ اذا ادرك احدكم سجدة من صلوة العصر قبل ان تغرب الشمس فليتم صلوته الى آخر الحديث ص ٥٠

د جمهورو په نزد د مازدیګر او سهار دواړو یو حکم دی چه کله لمونځ شروع شوی وی او په منځ کښې لمر ډوب شي یا وخیژي نو لمونځ دی پوره کړی دا حدیث د جمهورو د مذهب مستدل دی او د طرفینو رحمهما الله په نزد په مازدیګر او سهار کښې فرق شته چه د همدې ورځې د مازدیګر په لمانځه کښې که لمر ډوب شي نو لمونځ دې پوره کړي او که چیرته په سهار کښې لمر وخیژي نو لمونځ ئي فاسدیږي د دې لپاره دې وروسته بیا قضائي را وګرځوي امام ابو یوسف رحمه الله حخه امام سرخسي رحمه الله یو روایت نقل کړی دی چه که چیرته د سهار په لمانځه کښې لمر وخیژي نو په دې حالت کښې دې امساک وکړي تر دې پورې چه مکروه وخت [illegible] دې وروسته [illegible] وکړي یعني لمونځ دې پوره کړي

د امام طحاوي رحمه الله تحقیق دا دی چه د مازدیګر [illegible] صحیح کړی د [illegible] سهار او مازدیګر دواړه د لمر په ختو او ډوبیدو [illegible] امام طحاوي [illegible] حنفیه رحمهم الله په مذهب باندې [illegible] دی لیکن د دې [illegible] کښې [illegible] د حنفیه په خلاف ځي نو هغه ئي قول ته را [illegible] کړی

د [illegible] له صحیح البخاري [illegible]

كښې هم د بحث لاندې باب په نورو خايونو كښې دا ډول راغلى دى **(من ادرك ركعة قبل ان تغرب الشمس فقد ادرك)** همدا ډول الفاظ د سهار په اړه هم راغلي دي احنافو همدغو الفاظو ته په كتو سره د حديث د ځواب د وركولو كوشش كړى دى د دې روايت حقيقي معنى خو دا ده چه چا د لمر تر ختلو يا ډوبيدو څخه مخكښې د يوه ركعت وخت پيدا كړ په تحقيق سره هغه ټول لمونځ پيدا كړ چه ظاهري معنى ئې دا ده چه د يوه ركعت په ادا كولو سره ئې لمونځ پوره شو او د نورو د ادا كولو ضرورت نشته ليكن د دې ظاهري مفهوم هيڅوك هم قائل نه دى لهذا په اتفاق سره دلته به څه محذوف منلو ته به سړى تياريږي

جمهور د دې تقدير داسې كوي چه **(فقد ادرك وقت الصلوة)** يعني يو ركعت ئې ادا كړنو هغه ته د لمانځه وخت په لاس ورغى د دې لپاره دې لمونځ پوره كړي

د احنافو لخوا څخه امام طحاوي رحمه الله د دې په ځواب كښې وايي چه مونږ د لمانځه وخت مقدر نه منو بلكه د لمانځه حكم را باسو يعني هلك بالغ شي يا حائضه ښځه پاكه شي يا يو كافر اسلام راوړي په داسې وخت كښې چه له طلوع يا غروب څخه مخكښې يو ركعت ادا كولى شي نو هغه د لمانځه حكم يعني د لمانځه وجوب پيدا كړ په هغه باندې به لمونځ فرض كيږي چه وروسته به ئې قضائي راوړي پرې ضروري وي

اشكال په دې كښې د سهار او مازديگر څه تخصيص (ځانګړتوب) دى؟ دا قاعده خو د هر لمانځه په باره كښې ده چه د وخت له پاى ته رسيدو څخه مخكښې دومره وخت ئې پيدا كړ چه په هغه كښې يو ركعت ادا كيدلى شي نو لمونځ فرض ګرځي

ځواب د سهار او مازديگر ذكر (يادوني) د تخصيص لپاره نه دى بلكه د دغو دواړو وختونو اختتام چونكه د مشاهدې له مخې په آسانۍ سره څرګنديږي د دې لپاره دا دواړه ئې ذكر كړل او كه نه نو دا حكم د ټولو لمونځونو لپاره عام دى

ابن الملك د مشارق الانوار شارح د دې روايت ځواب داسې وركړى دى چه مونږ نه وخت د لمانځه مقدر ګڼو او نه حكم د لمانځه بلكه ثواب د لمانځه مقدر دى مطلب دا چه يوه سړي د ځان لخوا پوره كوشش وكړ چه تر طلوع يا غروب څخه مخكښې لمونځ ادا كړي ليكن د ده د كوشش تر څنګ د لمانځه په منځ كښې طلوع يا غروب وشو نو هغه نه ثواب وركول كيږي د دې لپاره چه هغه د ځان لخوا څخه پوره كوشش كړى دى په كوشش باندې د ثواب حاصليدل ﴿وَمَن يَخْرُجْ مِنۢ بَيْتِهِۦ مُهَاجِرًا إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ يُدْرِكْهُ ٱلْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِ﴾ څخه ثابت دى همدارنګه نبي كريم ﷺ وفرمائيل چه تاسو كوم ځنګل پا كومه دره نه قطع كوى ليكن هغه خلك به له تاسو سره وى صحابه كرامو رضي الله عنهم عرض وكړ چه كوم خلك ؟ نو هغه ﷺ وفرمائيل چه معذورين د دې نور تفصيل

او په دې باندې نور روايتونه په ارشاد الفاري کښې د "انما الاعمال بالنيات" لاندې راغلي دي

د ابن الملک دا توجيه ډير لطيف دی ليکن د امام طحاوي او ابن الملک دواړو تقرير د صحيح البخاري په تقرير کښې د بحث لاندې حديث باندې نه شي چليدلی ځکه چه په دی حديث کښې (فليتم صلوته) الفاظ دي چه د اتمام صلوة حکم پکښې ورکړ شوی دی د ابن الملک د دی د خواب ورکړی دی چه اتمام په دوو معنوو کښې استعماليږی

۱ . تر شروع کولو وروسته پوره کول

۲ له پيل څخه په ښې طريقې سره ادا کول لکه څرنګه چه له ﴿ وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ ﴾ څخه شوافع استدلال کوي چه امر د وجوب لپاره وي نو ثابته شوه چه عمره واجبه ده احناف د دی د خواب ورکوي چه له دې آيت څخه د نفس عمره وجوب نه ثابتيږي بلکه د عمرې د پوره کولو حکم دی يعني د عمرې تر شروع کولو وروسته د هغې پوره کول واجب دي شوافع د دي خواب دا ورکوي چه دلته اتمام تر شروع کولو وروسته د پوره کولو په معنی نه ده بلکه په کامله طريقه سره د ادا کولو په معنی ده همدارنګه ابن الملک (فليتم صلوته) کښې هم له اتمام څخه په کامله توګه د ادا کولو مراد اخلي يعني (اداء کما وجب) د مازديګر لمونځ په ناقصه توګه واجبيږی لهذا د غروب په حالت کښې ئې ادا کول صحيح دي او د سهار لمونځ په کامله توګه واجبيږي د دی لپاره د طلوع په حالت کښې به ئې ادا کول صحيح نه وي

ليکن د ابن الملک دا تقرير هم ډاډ بخښونکی نه دی ځکه چه د اتمام دا معنی د متبادر خلاف دی د دی لپاره په ﴿ وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ ﴾ کښې چه کله شوافع دا مراد اخلي نو مونږ ئې په نو دا د انصاف خلاف دی چه شوافع دا معنی بيان کړي نو مونږ ئې قبول نه کړو او په دی حديث کښې د خپل مذهب د حفاظت لپاره ئې هغه معنی بخپله بيان کړو

همدارنګه د (فليتم صلوته) په الفاظو کښې خو تا څه نا څه تاويل وکړ ليکن تر څو د سنن کبری للبيهقي په روايت کښې دا الفاظ دي (من صلى ركعة من العصر قبل ان تغرب الشمس ثم صلى ما بقى بعد غروب الشمس فلم يفته العصر و قال مثل ذلک فی الصبح). او د دار قطني روايت له دې څخه هم زيات صريح دی فرمايي (اذا صلى احدكم ركعة من صلوة الصبح ثم طلعت الشمس فليصل اليها اخرى) په دغو ټولو کښې په مذکوره تاويلاتو کښې د هيڅ هم ګنجائش ـــــ

حضرت مولانا انور شاه صاحب رحمه الله د (فقد ادرک) روايت په مسبوق باندې محمول کړی يعني هغه چه له امام سره يو رکعت وسو هغه د ټول جماعت ثواب حاصل کړ ليکن [illegible] کښې خو دی په سبب خکه چه [illegible] معلوميږي د [illegible] (قبل ان تطلع الشمس) [illegible]

قبل ان تغرب الشمس) الفاظ بې معنی بې کړي شاه صاحب د دې د خواب ورکولو کوشش هم کړي دی لیکن صحیح خبره دا ده چه خواب نه جوړیږي

همدارنګه د سنن کبری او دار قطني او صحیح البخاری تر بحث لاندې حدیث ته څه خواب وي د سهفي روایت لره شاه صاحب د معلول ثابتولو کوشش کړي دی لیکن که چیرته په انصاف سره ورته وکتل شي نو څرګنده به شي چه د شاه صاحب له ټول تقریر څخه تسلي نه حاصلیږي

ابن همام رحمه الله د احنافو د مذهب د ثابتولو لپاره دا طریقه غوره کړې ده چه په دغو روایتونو کښي د طلوع او غروب په وختونو کښي د اتمام صلوة حکم ورکړ شوی دی او په نورو احادیثو کښي په دغو وختونو کښي د لمانځه له ادا کولو څخه منع راغلې ده پس د تعارض (ټکر) له وجي په احادیثو کښې به تساقط منځ ته راځي او مونږ قیاس ته رجوع کوو. پس د قیاس مقتضی دا ده چه د مازدیګر لمونځ دې صحیح شي او د سهار دې صحیح نه شي کوم چه تفصیل ئې د فقهې په کتابونو کښې موجود دی

ابن همام رحمه الله دې تحقیق لره ډیر خوښ کړی دی چنانچه احنافو تر دې تحقیق وروسته دا فکر وکړ چه مونږ د خپل مذهب په ثابتولو کښي کامیاب شولو لیکن حقیقت دا دی چه معامله اوس هم هغسې ده ځکه چه په روایتونو کښې د تعارض (ټکر) په وخت تر ټولو د تطبیق د صورت لټون ضروري وي که چیرته کوم صورت ممکن نه وي نو د ترجیح د وجې پلټنه کیږي. که چیرته هغه هم نه وي نو په دریمه درجه کښې د تساقط له قاعدې څخه کار اخیستل کیږي په دې مسئلې کښي چه خورمره متعارضه روایتونه دي په هغو کښي د تطبیق صورت هم موجود دی او د ترجیح وجه هم موجوده ده په داسې حالت کښې د روایتونو پریښودل اودقیاس خوا ته تلل به څرنګه جائز وي؟

د ترجیح صورت خو بخپله امام طحاوي رحمه الله بیانوي چه د اتمام روایتونه خبر واحد دي او د نهي روایتونه د تواتر حد ته رسیدلي دي له دې امله د نهی روایتونه به راجح وي همدارنګه د محرّم او مبیح (حلال او حرام شي) د تعارض (ټکر) په وخت کښې محرم ته ترجیح ورکول کیږي دریمه دا چه اباحت اصلیه دی او نهی شرعي وي د دې لپاره چه چیرته د مبیح او محرم تاریخونه معلوم نه شي هلته مبیح مقدم او محرم مؤخر ګڼل کیږي او محرم لره د مبیح لپاره ناسخ شمېرل کیږي د دې لپاره امام طحاوي رحمه الله فرمایي چه نه د سهار لمونځ کیږي او نه د مازدیګر

ابن قیم او شوافع د تطبیق صورت غوره کوي شوافع دا وایي چه د نهی له احادیثو څخه د سببي احادیث مخصوص او مستثنی دي او ابن قیم په اعلام الموقعین کښي فرمایي چه کله یو شی په پیل یا ابتداء کښي ناجائز وي لیکن بقاء او مداومت یې کیدنه او همیش والی ئې جائز وي لکه څرنګه چه د احرام په حالت کښې ابتداءً خوشبوئي لګول او نکاح کول ناجائز دی لیکن که چا ئې خوشبوئي لګولې وه او احرام ئې وتاړه نو د دې خوشبوئي بقاء جائزه ده همدارنګه.

نکاح تر کولو وروسته ئي احرام وناړه نو هغه د نکاح د بقاء منافي نه ده. په همدې ډول که څوک واخست چه نکاح به و نه کړم نو د نکاح په ابتداء سره به حانث کيږي او له مخکښې څخه د شوي نکاح په ابقاء سره نه حانث کيږي همدارنګه په دغو روايتونو کښې فرمائي چه د نهی د روايتونو مطلب دا دی چه په دغو وختونو کښې د لمانځه ابتداء جائزه نه ده او د باب له احاديثو څخه د ثبتيږي چه که چيرته ئي له مخکښې څخه ابتداء کړې وي او په منځ کښې طلوع يا غروب وشي نو همدا لمونځ دې جاري ساتي او پوره کوي دې په دواړه ډوله روايتونو کښې کوم منافات يا تکر نشته

د تطبيق دا صورت په ځينو ځايونو کښې پخپله احنافو هم غوره کړی دی لکه څرنګه چه د فقهي په کتابونو شامي او داسې نورو کښې دا تحقيق راغلی دی چه که چيرته چا په مکروه وختونو کښې نفلونه شروع کړل نو هغه دې پوره کړي او وجه ئې دا بيانوي چه روايتونه متعارض

دي او په قرآنکريم کښې راغلي دي چه ﴿وَلَا تُبْطِلُوٓا أَعْمَٰلَكُمْ﴾ د دې لپاره د نوافلو پريښودل د عمل د ابطال له وجې جائز نه دي له دې امله اتمام ضروري دی تعجب دا ده چه د نوافلو د اتمام (پوره کولو) ليکن د فرائضو د ماتولو حکم ورکوي لنډه دا چه د اصولو تقاضا دا ده چه د تطبيق صورت غوره شي د دې لپاره د سهر او مازديګر دواړو لمونځونه بايد صحيح وګڼل شي لکه څرنګه چه د جمهورو مسلک دی په دويمې درجې باندې بايد د ترجيح صورت غوره شي کوم چه د امام طحاوي رحمه الله مسلک دی. ليکن د حيرانتيا خبره ده چه د احنافو مسلک نه دلته پيدا کيږي او نه هلته البته د حديث د راوي حضرت ابو هريرة رضي الله عنه فتوی د لمانځه په باره کښې د احنافو په مطابق ده په کنز العمال کښې د دې تصريح شته

لنډه دا چه دا مسئله تر اوسه پورې د تحقيق (څيړنې) تږې ده. سره له دې زمونږ فتوی او عمل به د حضرت امام اعظم رحمه الله د قول مطابق وي ځکه چه مونږ د امام رحمه الله مقلدين يو او د مقلد لپاره د خپل امام قول حجت وي نه د ادلهٔ اربعه وو (څلورګوني دليلونو) ځکه چه له هغو څخه استدلال د مجتهد کار دی

په دې باره کښې تر ډيرې مودې پورې د حيران اوسېدو وروسته د حضرت تهانوي قدس سره عجيب او غريب تقرير په بوادر النوادر نومي کتاب کښې تر سترګو شو چه له هغه څخه مې پوره تسلي وشوه (فالحمد لله علی ذلک ولله در حکيم الامت قدس سره. وهاهو ذا).

اعلم ان العلماء اختلفوا في ما اذا طلعت الشمس في صلوة الفجر او غربت في صلوة العصر هل تصح الصلوة او تفسد فقال الشافعي و من والاه تصح فيهما و قال الطحاوي تفسد فيهما و قال امامنا ابو حنيفة رحمه الله تفسد في الفجر و تصح في العصر و مبنى هذا الاختلاف اختلافهم في توجيه الروايات التي وردت في هذا الباب و

للمبر داولاً تلك الروايات ثم نذكر التوجيهات.

فروى الشيخان من حديث ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ من ادرك من الصبح ركعة قبل ان تطلع الشمس فقد ادرك الصبح و من ادرك ركعة من العصر قبل ان تغرب الشمس فقد ادرك العصر و في لفظ للبخاري اذا ادرك احدكم سجدة من صلوة العصر قبل ان تغرب الشمس فليتم صلوته و اذا ادرك سجدة من صلوة الصبح قبل ان تطلع الشمس فليتم صلوته. (زيلعي ج۱،ص۱۱۹) وروى نحو ذلك في فتح الباري ج۲، وفي كنز العمال ج۴. فعمل الشافعي و من معه بظاهر احاديث الاتمام و حمل احاديث النهي على تأثيم متحرى هذه الاوقات مع القول بصحة الصلوة و الطحاوي قال بالفساد فيهما حملاً لظاهر احاديث النهي على الابطال و اوّل حديث الادراك ايجاب الصلوة على من اسلم في آخر الوقت او بلغ الحلم فيه او امرأة طهرت من الحيض فيه و اوّل ما في احاديث الاتمام بكونها منسوخة باحاديث النهي و اما نحن معاشر الحنفية فتوجيهها الذي اذّى اليه نظري و ان كان مأخوذاً من كلام من تقدمنا ان يقال ان روايات الاتمام و الادراك تقتضي صحة الصلوة فيهما و احاديث النهي يحتمل امرين اما تأثيم المصلي فيهما مع صحة الصلوة و اما بطلان الصلوة فيهما كما قال به الطحاوي فان النهي الشرعي يستعمل في كلا المعنيين مثال الاول النهي عن الصلوة مقعيا او متخصرا و مثال الثاني النهي عن الصلوة بغير طهور.

و ان خالجك قول الاصوليين ان النهي عن الافعال الشرعية يقتضي مشروعية الاصل مع فساد الوصف فهو اكثري لا كلي و الا لانتقض بكثير من المسائل.

و ان رابك ان النهي في الصلوة بغير طهور قد وقع بصيغة النفي فاقتضى البطلان بخلاف النهي عن الصلوة في الاوقات المكروهة فلم يوجد ما يقتضي البطلان فازحه بورود هذا النهي ايضاً بصيغة النفي في بعض الروايات كما روى الشيخان عن ابي سعيد الخدري رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ لا صلوة بعد الصبح حتى ترتفع الشمس ولا صلوة بعد العصر حتى تغيب الشمس. (مشكوٰة ج۱،ص۸۹)

و روى مسلم عن عبد الله الصنابحي رحمه الله في صلوة العصر قال قال رسول الله ﷺ و لا صلوة بعدها حتى تطلع الشاهد. (مشكوٰة ج۱،ص۸۷)

و روى رزين عن ابي ذر رضي الله عنه قال سمعت رسول الله ﷺ لا صلوة بعد الصبح حتى تطلع الشمس ولا بعد العصر حتى تغرب الشمس. (مشكوٰة ج۱،ص۸۷)

فلما احتمل النهی الامرین ینظر ان الاحتیاط ی ای الامرین و الصلوۃ محل احتیاط بلیغ فظاهر ان الاحتیاط فی الحمل علی البطلان لان القضاء اذًا یکون فرضاً بخلاف احتمال الکراهۃ لحملنا علی البطلان ای بطلان الفریضۃ لا بطلان نفس الصلوۃ لان المقتضی للبطلان کان الاحتیاط و الاحتیاط محفوظ مع القول بصحۃ النفل فبهذا الوجه قد جاء التعارض بین احادیث النهی و ینبغی ان یکون هذا هو التفسیر لقول علمائنا بوقوع التعارض بین قسمی الروایات فلما وقع التعارض رجعنا الی القیاس کما هو حکم التعارض و لیس معنی هذا الرجوع ترک الاحادیث و العمل بالقیاس بل معناہ ترجیح بعض محتملات الاحادیث بالقیاس ثم العمل به من حیث انه حکم الحدیث لا من حیث انه حکم القیاس فافهم فلما رجعنا الی القیاس حکم القیاس بترجیح توجیه یقتضی البطلان فی احادیث الفجر و بترجیح توجیه یقتضی الصحۃ فی احادیث العصر فعملنا فی الفجر باحادیث البطلان و اولنا احادیث الاتمام و عملنا فی العصر بالعکس بالظاهر فی بعضها و با لمؤول فی بعضها. والأن بقی امران :

الاول : ما وجه القیاس فی الصلاتین؟

الثانی: ما التأویل فی الاحادیث؟

بیان الاول: ان الفجر وقت الشروع قبل طلو الشمس وجب کاملاً لکمال السبب و هو الوقت و بالطلوع صار الوقت ناقصاً و صارت الصلوۃ ناقصۃ فلا یتأدی الکامل بالناقص ففسدت و العصر وقت الشروع قبل المغرب وجب ناقصا لنقصان الوقت فاداہ کما وجب فلم تفسد۔ هذا

بیان الثانی: ان معنی قوله علیه السلام فقد ادرک ما قاله الطحاوی رحمه الله و معنی فلیتم انه لا یبطل التحریم بل یمضی فی الصلوۃ لانه ان لم یتاد فرضاً فقد صحت نفلا کما فی الدر المختار کما هو الحکم فی الحج الفاسد و معنی فلم یفت صلوته لم یفت وقت صلوته بل کان مدرکا للوقت فیکون حاصل معناہ هو معنی فقد ادرک.

تفصیل المقام: ان تأخیرہ ﷺ قضاء الصلوۃ الی ارتفاع الشمس مع قوله ﷺ من نسی صلوۃ او نام عنها فکفارتها ان یصلیها اذا ذکرها رواہ مسلم و فی روایۃ لا کفارۃ لها الا ذلك. (ج۱ ص۲۴۱) الدال علی وجوب التعجیل فی القضاء اذا لم یکن عذر قوی و هو المذهب ایضاً کما فی الدر المختار مع رد المحتار (ج۱ ص۵۵۰) و نصه التاخیر بلا عذر کبیرۃ لا تزول بالقضاء بل بالتوبۃ اذا قضاها و اثم التاخیر باق بحر آه. و فی الدر ایضاً و یجوز تأخیر الفوائت و ان وجبت علی الفور لعذر السعی علی العیال و فی الحوائج علی الاصح. آه قال الشامی تحت قوله و

یجوز تأخیر الفوائت ای الکثیرۃ [1] المسقطۃ للترتیب آہ. (ج۱،ص۶۸) فیہ دلیل علی ان ما بین طلوع الشمس و ارتفاعھا وقت ناقص لا یصلح للفرائض ولو فائتۃً والا لما اخرھا فلما ثبت کونہ غیر صالح للفرض واذا طلعت الشمس فی اثنائہ یقع بعض الفرض فی ھٰذا الوقت فیحکم بفسادہ.

لا یقال کان ھٰھُنا عذران

احدھما: التحرز عن الکراھۃ الزمانیۃ المفھومۃ من قولہ ﷺ فی حدیث عمرو بن عبسۃ و اذا طلعت فلا تصل حتی ترتفع فانھا تطلع بین شیطان.

ثانیھما: التحرز عن الکراھۃ المکانیۃ کما یشعر بہ قولہ ﷺ فی حدیث ابی ھریرۃ ؓ فان ھٰذا منزل حضرنا فیہ الشیطان فاین فیہ الدلالۃ علی کون التأخیر للکراھۃ الزمانیۃ وانھا مفسدۃ للفرض.

لانا نقول: حضور الشیطان لا یصلح مانعاً اذ قد عرض للنبی ﷺ فی صلوتہ فلم یخرج منھا حتی اتمھا و قال لو لا دعوۃ اخینا سلیمان ؑ لا صبح موثقا یلعب بہ ولدان المدینۃ و الحدیث مشھور فی الصحاح فاستحال ان یکون التأخیر لذٰلک سیما و فی حدیث ابی قتادۃ ؓ انہ اخر الصلوٰۃ الی ان ارتفعت الشمس ثم صلاھا (و فی حدیث عمران بن حصین بروایۃ الحسن ثم انتظر حتی استعنت الشمس و فی حدیث نافع بن جبیر عن ابیہ ثم قعدوا ھنیھۃً کما مر فی المتن) ففیہ ان تأخیرہ انما کان لیحل وقت الصلوٰۃ لا لما سواہ کذا فی المعتصر من المختصر. (ج۱،ص۵۰) و قد صرح بذٰلک ابن عباس رضی اللہ عنھما کما سیأتی و قال فلم یصل حتی ارتفعت و کان سبب التأخیر عندہ التحرز عن کراھۃ الوقت فقط و الصحابی اعرف بعلۃ فعل الرسول ﷺ من غیرہ وبا لجملۃ فان الکراھۃ المکانیۃ لا تصلح سببا للتأخیر و انما یستحب التحول لاجلھا الی مکان آخر اذا وجد مسوغ للتأخیر مستقل و لیس ھو ھناک الا الکراھۃ الزمانیۃ لحسب فتم ما قلنا ان تأخیرہ ﷺ قضاء الصلوٰۃ الی ارتفاع الشمس مع وجوبہ علی الفور دلیل علی کون الوقت غیر صالح للفرض

فان قیل: سلمنا ان سبب التأخیر ھو الکراھۃ الزمانیۃ ولکن فیہ احتمالان

الاول: ما قلتم ای الکراھۃ الشدیدۃ التی لا تجتمع مع الصحۃ.

والثانی: الکراھۃ الخفیفۃ وھی لیست کذٰلک کما لا یخفی.

قلنا: من ابتلی ببلیتین یختار اھونھما و قد اختار النبی ﷺ تأخیر الصلوٰۃ الی ارتفاع الشمس فثبت ان

---

[1] - قلت وھٰذا القید یدل باعتبار مفھوم المخالفۃ وھو معتبر فی کتب القوم وان لم یکن معتبراً عندنا فی الکتاب والسنۃ علی ان الفوائت لو کانت اقل من ھٰذا الحد لا یجوز تأخیرھا قالہ الشیخ. ۱۲ منہ

الکراھۃ فی قضائہا عند طلوع الشمس اشد وایضاً فالصلوۃ محل الاحتیاط وھو فیما قلنا فانا اذا حکمنا بالفساد یکون قضاء تلک الصلوۃ فرضاً اذا حکمنا بالکراھۃ الخفیفۃ لا یکون القضاء فرضاً فقلنا بالکراھۃ الشدیدۃ التی لا تجتمع مع الصحۃ ویؤیدہ امنع بعض الصحابۃ عن قضاء الفجر فی ھذا الوقت قبل ارتفاع کما سیأتی.

فان قیل: ورد النھی بعد صلوۃ الصبح الی ان تطلع الشمس وبعد الشمس وبعد صلوۃ العصر حتی تغرب و خص بالتطوع اتفاقا وصح قضاء الفائتات فیہما فلیکن النھی فی ھذہ الاوقات کذلک.

قلنا: النھی فیہما لمعنی فی الصلوۃ بدلیل ان من صلی الصبح او العصر لیس لہ ان یصلی فیہما التطوع ومن لم یکن صلاھما لہ ان یصلی فیہما. (ای رکعتین تطوعاً قبل صلوۃ الصبح وما شاء من النوافل قبل العصر) و الوقت بالنسبۃ الیہما واحد وفی الاوقات الثلثۃ النھی لمعنی فی الوقت لقولہ تطلع بین قرنی الشیطان ونحوہ فافترقا فلا یجوز قیاس احدھما علی الآخر واذا کان النھی لمعنیً فی الوقت لا یجوز فیہ صلوۃ اصلاً سواء کانت فرضاً او نفلاً او فائتۃً لانہا تستدعی وقتا صالحاً لہا وھذہ الاوقات لا تصلح لہا للعلۃ التی ذکرھا النبی ﷺ و ھی عامۃ لا تختص بصلوۃ دون صلوۃ الا ان النفل یصح فیہا مع الکراھۃ لما ثبت فی الاصول ان النھی عن الافعال الشرعیۃ تستدعی مشروعیتہا فی الجملۃ والا لم یکن النھی معنا واما الفرض فلا یصح فیہا بصفۃ الفرضیۃ بل ینقلب نفلاً لان النھی عن الصلوۃ فی ھذہ الاوقات انما تستدعی المشروعیۃ فی الجملۃ لا علی صفۃ الکمال ویکفی لہا الصحۃ نفلاً کما لا یخفی لانہ من ادنی مراتب الصحۃ والضروری انما یتقدر بقدر الضرورۃ وقد صرح فقہاؤنا رحمہم اللہ تعالی بانقلاب فرض الفجر نفلاً بطلوع الشمس من غیر فسادہ کما فی الدر المختار آخر باب الاستخلاف. (ج۱،ص۶۲۴)

واورد: الحافظ فی الفتح علینا فقال وفیہ ای فی قولہ فان ھذا منزل حضرنا فیہ الشیطان رد علی من زعم ان العلۃ فیہ کون ذلک وقت الکراھۃ بل فی حدیث الباب انہم لم یستیقظوا حتی وجدوا حر الشمس ولمسلم من حدیث ابی ھریرۃ رضی اللہ عنہ حتی ضربتھم الشمس وذلک لا یکون الا بعد ان یذھب وقت الکراھۃ آہ. (ج۱،ص۳۸۰)

قلنا: لا دلیل فیہ علی الارتفاع قبل الاستیقاظ اذ یحتمل ان تکون طلعت بحرارتہا کما ھو موجود بالحجاز فی حرھا الی الآن کذا فی المعتصر من المختصر (ص۲۵) ولا بد من ھذا التأویل فقد روی عن ابن عباس رضی اللہ تعالی عنہما ما یدل علی استیقاظہ قبل الارتفاع اخرج النسائی بسند حسن وسکت عنہ قال ادلج رسول اللہ ﷺ ثم عرس فلم یستیقظ حتی طلعت الشمس او بعضہا فلم یصل حتی ارتفعت الشمس فصلی الحدیث (ج۱،ص۱۰۲)

بسم الله الرحمن الرحیم

لایغرنکم الفجر المستطیل

صبح صادق

او تقریباً د ټولې دنیا د لمونځ د وقتونو نقشه

❋ په دې رساله کې د قران، حدیث، فقه او دفلکیات قدیمه اوجدیده د حوالو په ذریعه او دعلماء کرامو د پسوي لويې ډلې د مشاهداتو نه ثابتیږي چه د لمونځ دوقتونو متعلق په عامو نقشو اوجنتریانو کې دصبح صادق او ماسخوتن وقتونه غلط دي

❋ صبح صادق او په هغې کښې دعمومي غلطۍ ازاله

❋ پخواني تحقیقات

❋ جدید حقیقات

❋ د ماسخوتن د وقت تحقیق

❋ د صبح صادق متعلق د حضرت مفتي محمد شفیع صاحب تر مشرۍ لاندې د بوولسو علماء کرامو مشاهدات

❋ په مشاهده کښې د غلط فهمې اسباب

❋ د صبح صادق متعلق مغالطې وجوهات

❋ د ۶۰ عرض البلد تر شمالي او جنوبي پورې د لمونځ د وقتونو نقشه

❋ د پاکستان، ایران، سعودي عربستان، افغانستان او هندوستان د مشهورو ولایاتو او ښارونو د لمونځونو وقتونه

❋ په سنه ۱۳۸۸ هـ کښې مؤلف لره د لمونځ په عامو نقشو کښې د صبح صادق او ماسخوتن له وقت سره متعلق خبرداري وشو او له هغه وقت نه يې دنورو علماء کرامو هم دې طرف ته د متوجه کولو کوشش شروع کړو

❋ په ربیع الاول سنه ۱۳۸۹هـ کښې دا تحقیق دتحقیق مسائل جدیده کراچي دمجلس د متفقه فیصلې نه وروسته په مختصر ډول فقط په څلورو صفحو کښې خپور شو

❋ بیا په مختلفو وقتونو کښې په دې کښې اضافې کیدلې او دصحیح وقتونو نقشې هم په کښې درج شوې

❋ په ربیع الاخر کال ۱۳۹۰ هـ کښې حضرت مفتي شفیع صاحب د بوولسو علماء کرامو دډلې سره بوخای تر درې ورځوپورې دخپلو داتي مشاهداتو اوسترګو لیدلې حال ولیکلو

❋ په ذي القعده کال ۱۳۰ ،کښې حضرت مفتي محمد شفیع صاحب د دې په تائید کښې فتوی ولیکله

❋ په رمضان کال ۱۳۹۱ ،کښې مفتي محمد شفیع صاحب د سحر او افطار د وقتونو په نقشه کښې د پخوانيو وقتونو د سحر انتهاء احتیاطًا او د جدیدو وقتونو د سحر د اذان وقت ، عنوان لاندې فتوی شائع کړه

❋ په ذي القعده سنه ۱۳۹۳هـ کښې مجلس تحقیق د دې خبرې دوباره تائید وکړو

❋ د مجلس تحقیق اول تصدیق اوبیا تر درې ورځو پورې مشاهدات اوبیا وروسته له دویم توثیق نه په کال ۱۳۹۳هـ کښې مفتي محمد شفیع صاحب او مولانا محمد یوسف بوري صاحب له دې تحقیق نه رجوع وکړه لیکې د مؤلف په دریافت باندې هم هغوئ دهغې وجه ونه ښودله، د هغوئ لیکل بعینه په کتاب کښې نقل کړ او د ضرورت په اندازه په هغې تبصره هم کړې

❋ په ربیع الاول کال ۱۳۹۴هـ کښې د تحقیق او خبرنې د خلاصې اضافه وشوه

د خيړنې خلاصه

۱ په دې خيړنې کښې له مختلفو حوالو څخه دا ثابته شوې ده چه په زړو نقشو کښې ورکړ سوې د صبح صادق په وخت لمر له اُفق څخه ۱۸ درجې کښته وي بيا د څو حوالو له مخې ثابته شوه چه تر اُفق لاندې د لمر په ۱۸ درجو کښې صبح کاذب وي او صبح صادق ۱۵ درجې تر افق لاندې وي دغو مصنفينو د دې تصريح هم کړې ده چه هغو دا اصول له ګڼو مشاهداتو څخه وروسته ټاکلي دي

۲ د حضرت مفتي محمد شفيع په مشرۍ کښې يوولسو علماوو تر دريو ورځو پورې له مشاهداتو څخه د حضرت مفتي صاحب خپل ليکل شوی روئيداد او د هغه نتائج دومره څرګند او بديهي دی چه تر دې وروسته د شک او شبهې هيڅ ګنجائش نه پاتې کيږي. له دې څخه پورته بل کوم دلېل کيدلی شي ﴿فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ﴾.

۳ دا خبره له احاديثو او فقهې څخه ثابته ده او په دې باندې د ټول امت اجماع ده چه د صبح کاذب رڼا له اُفق څخه مستطيل وي او صبح صادق معترض (شمالاً جنوباً خپريدنکی) وي او د بيروني په قول سره د نيمې دائرې شکل جوړيږي. دې معيار لره په نظر کښې نيولو سره هر سړی د مشاهدې له مخې دا فيصله کولی شي چه د زړو نقشو په وخت باندې د ښکاريدونې رڼا صبح کاذب دی ځکه چه دا به مستطيل وي د حضرت مفتي صاحب د پخپله ليکل شوي روئيداد مطابق هم په دې وخت کښې ټنډو آدم او کراچۍ کښې اوږده رڼا په نظر راغله

په فلکيات قديمه کښې هم د دې تصريح شته چه په دې وخت کښې ظاهريدونکې رڼا مستطيل وي. هغو دا فيصله له رصدګاه څخه تر مشاهداتو وروسته کړې ده. چه کله د دې رڼا له اوږدوالي څخه بلنوالی په زياتيدو شي نو په دې وخت کښې به د صبح صادق ابتداء وي کوم وخت چه به زما د نقشې مطابق وي لکه څرنګه چه د ټنډو آدم په مشاهداتو کښې وشول

۴ . الله تعالى د صبح صادق ښکاره علامه دا بيان کړې ده چه د سهار سپين تار له تور تار څخه فرق متميز سي فرق نې وشي، دا سپين او تور تارونه د زړو نقشو په وخت باندې تاسو ته نه چرته په نظر درشي ۱۵ درجې تر افق لاندې وخت د سهار رڼا او تر هغه لاندې د افق د ستره نه مقام نه اتصال باندې شمالاً او جنوباً د سپينو او تورو تارونو صورت تر سترګو کيږي چه مطلع صاف نه وي نو دا مشاهده لږ تورو هم په ځنډ سره کيږي

۵ د احاديثو، فقهې او لغت څخه دا ثابته شوې ده چه د صبح صادق په ابتداء کښې لږ غوندې توروالی ګډ وي. د زړو نقشو په وخت باندې به تاسو ته خالص سپين و نه په نظر درشي د تور والي احساس له ۱۵ درجو څخه مخکښې تر افق لاندې په هيڅ حال کښې هم نه وي و د مضبه

د نه صف والي په صورت کښې له ۱۵ درجو تر افق لاندې څخه هم وروسته وي
۶ د حدیثو، فقهي او فلکیاتو په حوالو سره لیکل شوي دي چه له صبح صادق څخه مخکښې د صبح کاذب رڼا ښکاریږي کوم چه تر صبح صادق پورې باقي پاتې کیږي په فقهي او فلکیاتو کښې دا وضاحت هم شته چه له صبح صادق څخه یواځې درې درجې مخکښې صبح کاذب تر سترګو کیږي همدارنګه دا چه صبح کاذب په هر موسم کښې وي. د زړو نقشو له وخت څخه مخکښې متصل ناسو ته هیڅکله رڼا تر نظر نه درځي د فلکیات جدیده او قدیمه ماهرین ټول په دې باندې متفق دي چه له دې وخت څخه مخکښې متصل په افق باندې هیڅ رڼا نه وي. د ټنډو آدم او کراچۍ له مشاهداتو په اړه د حضرت مفتي صاحب په روئیداد کښې هم د دې تصریح موجوده ده چه په دې وخت باندې هیڅ ډول رڼا نه وه له دې څخه هم ثابته شوه چه په زړو نقشو کښې د صبح کاذب وختونه دي. له دې وخت څخه ډیر مخکښې د شپې په مختلفو برخو کښې. په مختلفو ځایونو باندې، مختلفو زمانو کښې په مختلفو نومونو خو قسمه رڼا ګانې ظاهریږي او له نوموړي وخت څخه ډیر مخکښې ختمیږي هم لهذا په دغو کښې په هیڅ یوه باندې هم د صبح کاذب نوموړې تعریف نه صادقیږي کله کله له کهکشان او داسې نورو څخه په دې وخت کښې د رڼا د موجودوالي مغالطه کیدلی شي چه تفصیل ئې د «د غلط فهمي اسباب» تر عنوان لاندې راغلی دی

۷ پورتنیو ذکر شویو رڼا ګانو څخه یوې ته زوډیکل لائټ ویل کیږي د دې په اړه جارج ایبل نومي سړي لیکلي دي چه "چه دې ته کله کله صبح کاذب هم ویل کیږي . لیکن د لاندینیو وجوهاتو له مخې دې رڼا ته د شرعي په اصطلاح کښې صبح کاذب ویل صحیح نه دي
۱- دا تر صبح صادق پورې نه پاتې کیږي
۲- دا رڼا له صبح صادق څخه درې درجې مخکښې د را برسیره کیدو په ځای ډیر مخکښې شروع کیږي بلکه له دریو درجو څخه ډیر مخکښې پای ته رسیږي
۳- دا رڼا په ټول کال کښې یواځې تر دوو میاشتو پورې ښکاریدونکې ده
برسیره پر دې قطع نظر له دې څخه چه زوډیکل لائټ لره شرعي صبح کاذب ګڼل صحیح دي او که نه د بحث لاندې مسئلې صحیح حل په دې فیصلې باندې موقوف دی چه د زړو نقشو په وخت باندې ښکاریدونکې رڼا باندې د صبح صادق تعریف صادقیږي او که د صبح کاذب؟ د متقدمو د تصریحاتو او مشاهداتو په اړه د حضرت مفتي صاحب په لیکنه کښې تر مکملې څرګندونې برنه دصبح صادق او صبح کاذب د پورتنیو ذکر شویو نښو په نظر کښې ساتلو سره هر سړی چه کله هم وغواړي مشاهده وکړي نو دا قطعي فیصله کولی شي چه دا رڼا د صبح کاذب دی نه د صبح صادق
له پورتنیو خبرو څخه ثابته شوه چه زړې نقشې د قرآن، حدیث، فقهي جمع من تعمه

فلکیات جدیده او قدیمه او د مشاهداتو په خلاف دي

خبرداری په ذکر شوی تحقیق باندې دا اشکال مخته راتلی شي چه دا وخت افق دومره روښانه کیږي چه هر لیدونکی ئې ورځ ګڼي

د دې ځواب دا دی چه د همدې لپاره دې ته صبح صادق ویل کیږي کوم چه شریعت د ورځې په حکم کښې ګڼلی دی او که چیرته دا مطلب وي چه له دې وخت څخه مخکښې هم رڼا تیزیږي نو د دې ځواب دا دی چه په رڼا کښې کمی زیاتی یو نسبي امر دی چه شریعت دې ته اعتبار نه دی ورکړی ښه پوه شی چه شرعاً د صبح صادق دارومدار د رڼا په زیاتوالي پورې نه دی بلکه د هغې په طول او عرض (اوږدوالي او پلنوالي) پورې دی. رڼا اګر که هر څومره زیاته شي لیکن تر څو پورې ئې چه پلنوالی تر اوږدوالي زیاته نه شي هغه صبح کاذب دی که چیرته صبح کاذب لره د ورځ ګڼلو غلطي عامه نه وای نو نبي کریمﷺ به دا خبره نه وای کړي چه "تاسو دې فجر مستطیل په دوکه او فریب کښې وا نه چوي" **رشید احمد** ۸ربیع‌الآخر ۹٤ هجری

د دې نه علاوه

۱ــــ د صبح کاذب او صبح صادق چه کوم معیار ما لیکلی دی بعینه د دې مطابق د امداد الاحکام لومړی جلد صــ۳۲۳ کښې حضرت حکیم الامت او مفتي عبد الکریم ګمتلهوي رحمهما الله فتوی او په صــ۳۰۹ کښې د مولانا ظفر احمد عثمانيؒ فتوی لیکلی ده. په صــ ۳۰۹ کښې د قلم د سهو له مخې د کاذب په ځای صادق لیکل شوی دی

۲ــــ د عربو ا مراکش له علماوو څخه تر مکاتبت وروسته په سنـــ۱٤۰۲ هجري کښې معلومه شوه چه مراکشي فلک پوهانو په نزد د صبح صادق په وخت کښې د °۱۸ . °۱۹ . °۲۰ درجو تر افق لاندې قولونه هم راغلي دي. د هغو د ابطال لپاره د بنده لومړنی لیکنه کافي ده. د کوم نوي بحث ضرورت نشته

بسم الله الرحمن الرحیم

له پاکستان او هندوستان څخه خپریدونکي عامي جنتری او د لمانځه د وختونو نقشی د ګرینویچ له شاهي رصدګاه (هغه عمارت چه د قوي دوربین په ذریعه د فلکیاتو او داسې نورو شمسي نظامونو مشاهده پری کیږي کوم چه په لندن کښې موقعیت لري) څخه د خپریدونکی کتاب نټیکل المنک له مخې مرتب کیږي. په دغو وختونو کښې یوه وخت ته استرونومیکل توائلائټ ویل کیږي. په دې وخت کښې لمر له افق څخه اتلس درجې لاندې وی. د فلکپوهانو ...

زاړه ماهرین په دې باندې متفق دي [1] چه له دې وخت څخه مخکښې یوه ستاره وي چه د لندو ...
له کوچنې څخه کوچنې ستورې (پانچ میګنیټیوډ) هم په نظر راځي تر دې وروسته پر له بسې صبح
کاذب شروع کیږي. د هیئت د مخکښنیو علماوو برسېره د فقهي او فلکیاتو دواړو ماهر او ستر
عالم علامه برجندي رحمه الله هم د دې تصریح کړې ده چه دا صبح کاذب دی او صبح صادق له دې څخه
درې درجې وروسته وي علامه شامي رحمه الله په کتاب الصلوٰة او کتاب الصوم کښې دوه ځله
لیکلي دي چه د صبح کاذب او صبح صادق تر منځ درې درجې فرق وي لیکن د لمانځه د وخت
مرتب کوونکي حضرات په دې غلط فهمي کښې لویدلي دي [2] چه هغو ایسټرو نومیکل
توائیلائټ (اتلس درجې تر اُفق لاندې) لره صبح صادق په ګڼلو سره د دې مطابق د سهار او
ماسخوتن وختونه تاکلي دي په داسې حال کښې چه په حقیقت کښې دا د صبح کاذب پیل دی د
یولې دنیا منل سوی او متفق علیه یورتنی حقیقت لره بنده حو څو خلې تر څو ورځو پورې په ډیرو
د تجربې بصیرت په خاوندانو مې مشاهدې هم وکړې [3] او بخپله هم د بصیرت له ګڼو خاوندان مې
له ځان سره کړل او څو ځله مې مشاهده وکړه یو ځل مو د بحري بیړۍ دوربین هم استعمال کړ هر
ځل همدا ثابته شوه چه په جنتریانو کښې تر ورکړ شوي وخت پورې مکمله تیاره وي او دا وخت
صبح کاذب شروع کیږي د شفق د ډوبیدو په یوره احتیاط سره له مشاهدې څخه هم د یورتنې
تحقیق تائید وشو دا مشاهدات د کراچۍ له ګرد و غبار څخه د ډکې فضا څخه د باندې په ونلو
سره تر سره شوي دي لکه څرنګه چه په سهار کښې مستطیل سپین والي معتبر نه دی همدارنګه
په ماسخوتن کښې هم [4] سپین مستطیل شفق اعتبار نه لري بلکه د مستطیر (پلن) سپین شفق به
ډوبیدو سره د ماسخوتن وخت شروع کیږي
لنډه دا چه په جنتریو کښې چه د صبح صادق کوم وخت ورکړ شوی دی هغه په حقیقت کښې د
صبح کاذب وخت دی او صبح صادق له دې څخه درې درجې وروسته وي د خط استواء په څنډ
باندې په معتدلو ورځو کښې صبح صادق له صبح کاذب څخه دولس دقیقې وروسته راځي او
ماسخوتن د مستطیلې سپینې رڼا له ډوبیدو څخه دولس دقیقې مخکښې راځي به نورو ځنډو

---

۱ - د نوي او زاړه تحقیقاتو تفصیل په راتلونکي "حواله جاتو" تر عنوان لاندې راځي

۲ - متقدمینو په قصد سره د صبح کاذب د وختونو د تخریج معمول درلود تر څو څه خلک د صبح صادق په اړه تیاروې ... ددې تفصیل به راتلونکي د صبح صادق په اړه د مغالطې وجوهات تر عنوان لاندې راځي

۳ - دحضرت مفتي محمد شفیع رحمه الله صدر دار العلوم کراچي سره مشرې کښې د مشهورو علماء کرامو یوې لویې ډلې د مشاهداتو روئداد لیکلې کارکړدګي دحضرت مفتي صاحب رحمه الله د لاس سره محکمه راځي

۴ - د دې حوالې هم مخکښې راځي

کښې او په نورو ورځو کښې له دې ځخه هم زیات فرق وي چنانچه په کراچۍ کښې صبح صادق په نقشو کښې له ورکړ شویو وختونو ځخه په مختلفو موسمونو کښې له ١٤ ځخه تر ١٩ دقیقو پورې وروسته وي په نورو ځایونو کښې (چه عرض ئې له کراچۍ ځخه زیات دی) له دې ځخه به هم زیات فرق وي په رمضان المبارک کښې په جنتریو کښې له ورکړ شوي وخت ځخه یواځې لس دقیقې وروسته د کراچۍ په عامو جوماتونو کښې د سهار جماعت دریږي یعنې په رمضان المبارک کښې د سهار لمونځ د وخت له شروع کېدو ځخه مخکښې ادا کیږي. او آذانونه خو تقریبا همیشه له وخت ځخه مخکښې ورکول کیږي

د لمانځه د وختونو د نقشو او جنتریو له خپروونکو حضراتو ځخه هیله

١- په راتلونکې خپروني کښې د ماسخوتن او سهار د وختونو تصحیح وکړئ

٢- په خو جنتریو کښې د مختلفو ځایونو د فرق فهرست مې تر سترګو شو د وخت دا فرق یواځې د طول البلد له حسابه وي په داسې حال کښې چه له نصف النهار ځخه پرته په نورو ټولو وختونو باندې د عرض البلد اثر هم لویږي او د یوه عرض البلد وختونه له بل عرض البلد سره ډیر مختلف وی لهذا په راتلونکې کښې داسې فهرست مه شائع کوی او که نه نو کم تر کمه دا خبرداری ضروري ورکړی چه د وخت دا فرق یواځې د نصف النهار فرق دی. نور وختونه په دې باندې قیاسول صحیح نه دي. د نورو وختونو د تخریج قاعده بله ده

٣- په یوې جنترۍ کښې ئې د مظاهر حق نقشه د شیخ عبد الحق خوا ته منسوب کړې ده په داسې حال کښې چه دا کتاب د نواب قطب الدین دی او نقشه د خیر الله منجم (نجومي) ده. بیا نقل هم د دې نقشې د وختونو په پوهیدو کښې غلطي کړې ده. ځلورمه غلطي دا چه دې نقشې لره ئې په کراچۍ باندې تطبیق کړې ده په داسې حال کښې چه دا نقشه د دهلي لپاره ده. دې نقشې لره په کراچۍ یا کوم بل ښار باندې تطبیقول هیڅکله صحیح نه دي

٤- په هرې جنترۍ باندې د دې خبرداری لیکل ضروري دي چه "په ټولو وختونو کښې درې یا ځلور دقیقې احتیاط ضروري دی" ځکه چه دا وختونه په حسابي طریقې سره مرتب کیږی. د کوم ځای په طول او عرض کښې د فرق پر بناء په دغو وختونو کښې معمولي فرق لویدلی شي. برسیره پر دې د هر کال وختونه د بل کال له وختونو سره څه نا څه مختلف وی او بیا هر ځلور کاله وروسته مخکښې وخت سره را ګرځي د هر کال په وختونو کښې له دې معمولي غوندې فرق ځخه د نظر تیرولو برته هیڅ یوه دائمي نقشه نه شي جوړیدلی

بنده محمد شفيع دار العلوم كراچي

محمد يوسف بنوري عفا الله عنه ، ولي حسن غفر له

د قديمه تحقيقاتو (مخکښينو څيړنو) حواله جات

١- قال فى التصريح اذقد علم بالتجربة ان انحطاط الشمس اول الصبح الكاذب واٰخر الشفق ثمانية عشر درجة. (تصريح ص٦٩)

٢- و فى حاشية ابى الفضل محمد حفيظ الله رحمه الله على التصريح و اعلم ان المراد من الانحطاط فى الجانبين انحطاط مركز الشمس عن الافق الشرقى او الغربى و هو قدر ثمانية عشر درجة و يقطعه الفلك الاعظم فى ساعة و خمس ساعة و هٰذه مجموع الصبحين الصادق و الكاذب و من ذٰلك المجمو خمس ساعة حصة الصبح الكاذب و الساعة الواحدة حصة الصبح الصادق و اما بيان تفريقها اليهما ففى ذكره اطناب لايسعه الرسالة. (تصريح ص٦٩)

٣- و فى شرح الجغمينى و قد عرف بالتجربة ان اول الصبح و اٰخر الشفق انما يكون اذا كان انحطاط الشمس ثمانية عشر جزءًا ففى بلد يكون عرضه اقل من تمام الميل بثمانية عشر جزءًا يتصل الشفق با لصبح الكاذب اذا كانت الشمس فى المنقلب الصيفى. (شرح چغمينى ص١٤٥)

٤- و نقل العلامة عبد الحكيم اللكنوى رحمه الله فى حاشيته على شرح الچغمينى عن العلامة عبد العلى البرجندى رحمه الله فى شرح (قوله اذا كان انحطاط الشمس ثمانية عشر جزءًا) هذا هو المشهور و وقع فى بعض كتب ابى ريحان انه سبعة عشر جزءًا و قيل انه تسعة عشر جزءا و هذا فى ابتداء الصبح الكاذب و اما فى ابتداء الصبح الصادق فقد قيل ان انحطاط الشمس حينئذ خمسة عشر جزءا و الله تعالى اعلم. (شرح چغمينى ص١٤٥)

٥- قال البيرونى [١] وذٰلك هو الفجر و هو ثلاثة انواع (ثم قال بعد ذكر الانواع الثلاثة) و بعد

---

١ بعضي خلقوته دا وهم کېږي چه په علامه بيروني ٨° لاندې له افق نه څه کوم معتبر نيولي دي ... فجر صادق سره تعلق لري. د دې په بطلان باندې دا لاندې شواهد دي

١ بيروني اول د فجر تعريف کړي دې. ... دهغې درې قسمونه بيان کړي دي. ... ابتداء معتبر نيولې دي. له هغې نه صفا دا ښکاري چه دا د فجر د ... قسم يعني فجر کاذب ...

الحاجة الی الفجر و الشفق رصد اصحاب هٰذه الصناعة امره لحصلوا من قوانین وقته ان انحطاط الشمس تحت الافق متی کان ثمانیة عشر جزءا کان ذلك وقت طلوع الفجر فی المشرق و وقت مغیب الشفق فی المغرب و لما لم یکن شیئا معینا بل بالاول مختلطا اختلف فی هٰذا القانون فراٰه بعضهم سبعة عشر جزءًا. (القانون المسعودی لابی ریحان البیرونی ج۲، ص۹۴۹)

ـــ ی له عبارت نه د ښکاره کېدلو باوجود دوړو فلکیانو له طرز تحریر سره هم موافق دي ځکه چه هغه له ۸ لاندي له افق نه د مطلق فجر تعبیر کولو سره فجر کاذب مراد کوي. د فجر صادق په بیان کښې د بیروني قول ,,وتنعقد به شروط العبادات،، نه دا نه ثابتېږي چه د دري قسمونو د بیان د ختمولونه وروسته چه کوم د سحر د ابتداء معیار بیان شوي دي هغه د فجر صادق دي. که چیرته د عباداتو د شرطونو په نظر کښې ساتلو سره د معیار بیان مقصود وی نو سور شفق د غروب معیار دي هم بیان کړي شی. لکه ځنګه چه واختلاف الائمه فی اسم الشفق علی ابهما یقع اوجب ان یتنبه لهما معًا، نه دهغې علم اهمیت هم بیان کولی سی

۲ بیروني د فجر صادق تعریف داسې کړي دي چه ,,منبسط فی عرض الافق مستدیر کنصف دائرة،، ۸ لاندي د افق نه د نیمي دائرې په شکل کښې هیڅکله په نظر نه راځي. چه کله غواړئ او حرته غواړئ مشاهده یی کړئ اوفیصله وکړئ. د فلکیاتو بول ماهرین په دغه وقت کښې ښکاریدونکې رڼا مستطیله ښودلي ده. او د بوولس ۱۱ علماء کرامو د دري ورځو مشاهداتو نه هم دغه رڼا مستطیل په نظر راغله. لکه ځنګه چه د حضرت مولانا مفتی محمد شفیع رحمه الله د لاس په لیکلو کښې موجوده ده

۳- د بیروني عبارت ,,وبحسب الحاجه الی الفجر والشفق رصد اصحاب هذه الصناعة امره فحصلوه من قوانین وقته- الی قوله اختلف فی هذا القانون فراه بعضهم سبعة عشر جزءًا ،، نه ثابته شوه چه هغه په خپلي داسې مشاهدي او دهغې په بناء باندي په خودګویی فیصله نده لیکلې بلکه د نور د فلکیونو ماهرینو د مشاهداتو اودهغوئ مختلف اقوال یی نقل کړی دی او دا یی ثابته کړې ده چه نور بول دفلکیاتو ماهرین دیته فجر کاذب وایی

۴ علامه برجندي رحمه الله تعالی له بیروني نه ۱۷ زیر أفق باندي د صبح کاذب قول نقل کړی دی . له دی نه ثابته شوه چه هغه هم دبیروني دا عبارت له صبح کاذب سره متعلق کړی دی . د برجندی مکمل عبارت په سرو صفحاتو کښې وګورئ

۵ د بیروني له ذکر شوی عبارت نه ظاهرًا او دهغه د کتاب مفهوم، عبارت نه معلومه الصبح لکذب الفجر الصادق معترضًا علیه منبسطًا فی الافق کښې له معترضًا علیه جملي نه صراحة ثابته شوه چه د بیروني په نزد باندي هم له محکمې له صبح صادق نه متصل د صبح کاذب وجود ضروري دی حالانکه ۱۸ زیر افق نه مخکښې متصل د نحواتو اومعاصرو فلکیانو په اجماع سره هیڅ ثبوت نه بوی دحضرت مفتی محمد شفیع رحمه الله په سرپرستۍ کښې د بوولس ۱۱ علماء کرامو په مشاهداتو کښې هم په دی په باندي کومه رڼا په نظر نده راغلی

۶ ۔ قال المحقق الطوسی فی الزبدۃ فی الباب الرابع و العشرین بعد ذکر الانواع الثلاثۃ من الفجر و الشفق و قد علم بالرصد ان اول الفجر و اٰخر الشفق یکون وقت انحطاط الشمس عن الافق ثمان عشرۃ درجۃ من دائرۃ ارتفاعھا۔

و قال فی تبصرتہ فی الفصل التاسع من الباب الثالث و قد عرف بالتجربۃ ان انحطاط الشمس عند اول طلوع الفجر ثمانیۃ عشر جزءًا۔

و قال فی بست باب: نظیر درجۂ آفتاب را بر مقنطرۂ ہجدہم درجہ نہم و مری را نشان کنم پس بر افق غربی نہم و مری را نشان کنم و میان ہر دو نشان بشمرم و بر پانزدہ قسمت کنم آنچہ بیرون آید ساعات مستوی باشد میان طلوع صبح (کاذب، شرح) و طلوع آفتاب (الی قولہ) واگر نظیر درجۂ غربی بود و بیشتر از ہژدہ درجہ ہنوز صبح بر نیامدہ باشد واگر کمتر از ہژدہ باشد صبح برآمدہ باشد واگر ہژدہ درجہ بود اول وقت طلوع صبح ہست۔

(بست باب للمحقق الطوسی باب نہم)

۷ - اذا صارت الشمس قریبۃ من الافق بقدر ثمانیۃ عشر جزءًا (الی) یری البیاض الطویل فی جناب المشرق ھو یسمی بالصبح الکاذب کأن کان الافق بعدہ مظلما یکذب کونہ نور الشمس والمنتشر فی الافق بعدہ بزمان یسمی بالصبح الصادق لکونہ اصدق ظھوراً من الاول قیل ابتدائہ حین انحطاط الشمس خمسۃ عشر جزءًا۔ (تحفۃ اولی الالباب شرح بست باب للعلامۃ عبد الباقی الکتواری)

۸ - اعلم انہ قد علم بالتجربۃ ان اول الصبح الکاذب انما یکون اذا کان انحطاط الشمس من الافق الشرقی ثمانیۃ عشر جزءًا۔ (شرح لمربر حاشیۂ بست باب)

۹ ۔ ذکر العلامۃ المرحوم الشیخ خلیل الکامل فی حاشیتہ علی رسالۃ الاسطرلاب لشیخ مشائخنا العلامۃ المحقق علی أفندی الداغستانی ان التفاوت بین الفجرین و کذا بین الشفقین الاحمر و الابیض انما ھو بثلث درج۔ (شامیۃ ج۱ ص۳۳۲)

۱۰ ۔ بدانکہ صبح دو باشد یکی کاذب کہ ہنگام انحطاط بر ہژدہ درجہ از درجات دائرۂ ارتفاع مارہ بمرکز شمس سپیدی ضعیف و دراز باریک بر اجزاء لطیفہ سطح مخروط ظل زمین مسمی بلیل نمودار شود و اورا کاذب

ازین جهت گویند که فق تکذیبش می کند که دران حال مظلم باشد (الی قوله) و دوم صبح صادق و آن ... نهار در افق شرقی باشد هنگام انحطاط آفتاب پانزده درجه قاله البرجندی. (حاشیة مالابدمنه ص۲۹)

پورته د شرح جغمني له حاشيي څخه هم د برجندي عبارت نقل شو. علامه برجندي رحمه الله د فقهي او فلکياتو دواړو منل شوی امام دی. په فلکياتو کښي د ده ډير کتابونه شته لکه شرح محسطي. شرح رساله اسطرلاب للطوي. شرح التذكرة النصيرية. حاشية شرح جغمني

(الفوائد البهية للعلامة عبدالحی اللكنوی ص۱۵ وهدية العارفين لاسمٰعيل پاشا ج۱، ص۵۸٦)

په فقهه کښي د ده تصنيف شرح نقايه ډيره مشهوره ده. علامه شامي. شيخ اسمعيل. نوح. حموي. ابن نجيم او فتال رحمهم الله غوندي مشهورو فقهاوو د ده تحقيقات نقل کوي

د مخکښينو تحقيقاتو د زباړې خلاصه

۱ له تجربي څخه له شپهي پرته ثابته شوي ده چه د صبح کاذب ابتداء او د شفق په آخر کښي لمر له افق څخه اتلس درجي لاندي وي (تصريح ص٦٩).

۲ له شرقي او غربي افق څخه د لمر د مرکز انحطاط مراد دی او هغه اتلس درجی دی. فلک اعظم دي مسافي لره په (۵/۱ = ۱) ساعت کښي وهي او دا د صبح صادق او کاذب دواړو مجموعه ده په دي مجموعي کښي (۵/۱) ساعته د صبح کاذب برخه ده او يو ساعت د صبح صادق برخه ده د دی تقسيم يا وبش په تفصيل کښي تطويل (اوږدوالی) دی چه په دي رسالی کښي ئی گنجائش نشته (حاشية تصريح ص٦٩)

۳ له تجربي څخه ثابته شوي ده چه د سهار ابتداء او د شفق انتهاء هغه وخت وي چه کله لمر له افق څخه اتلس درجي لاندي وي لهذا چه د کوم ښار عرض له تمام الميل څخه اتلس درجي کم وي هسه انقلاب صيفي (د اوړي را گرځيدل) د ۲۲ جون وخت شفق له صبح کاذب سره يو ځای کيږي شرح جغمني ص۱۷۵.

۴ دا اتلس درجي تر افق لاندي د صبح کاذب ابتداء ده او د صبح صادق د ابتداء په باره کښي ئی له شپهي وړل شوی دی چه په دی وخت کښي لمر پنځلس درجي لاندی وی (حاشية شرح جغمني ص۱۷۵)

۵ ابو ريحان بيروني د سهار د ډيو د لويو ... سولو ورروسته فرمايي چه لمر کله ... درجي ... لاندی وی په دی وخت کښی د فجر کاذب ابتداء او د شفق انتهاء وی ... مسعودی ص۹۴۹ ج۲

٦ محقق طوسي د سهار او شفق د ډيو ... ... لیکلي دي چه ...

ښځه د مشاهداتو او تجرباتو ښځه ثابته شوې ده چه د فجر ابتداء او د شفق انتهاء هغه وخت وي
چه کله لمر له افق ښځه اتلس درجې لاندې وي (زبده. تبصره. بست باب)

۷ - چه کله لمر له افق ښځه اتلس درجې لاندې وي په هغه وخت کښې د مشرق خوا ته یوه اوږده
رڼا یه نظر راځي هغې ته صبح کاذب ویل کیږي له دې ښځه څه وخت وروسته په اُفق کښې
خپریدونکی رڼا ته صبح صادق ویل کیږي داسې ویل کیږي چه د دې رڼا د ابتداء په وخت کښې
لمر پنځلس درجې تر اُفق لاندې وي (تحفه)

۸ - په دې شه چه له تک پرته د تجربې له مخې ثابته شوې ده چه د صبح کاذب د ابتداء په
وخت کښې لمر اتلس درجې لاندې وي. (شرح لم)

۹ - د صبح صادق او کاذب او شفق احمر او ابیض تر منځ د دریو درجو فرق وي (شامي ج۱.
ص۳۳۲)

۱۰ - د صبح کاذب به وخت کښې لمر له اُفق ښځه اتلس درجې لاندې وي او د صبح صادق په
وخت کښې پنځلس درجې (حاشیة ما لا بد منه ص۲۹ بحواله برجندي)

تحقیقات جدیده (نوې څېړنې)

۱ - معیار الاوقات. د دې کتاب په سر پاڼه کښې دا لیکلي دي چه "مصنفه مولوي عبد
الواسع صاحب پروفیسر دینیات کلیه جامعه عثمانیه متفقه مجلس علماء منعقده محکمه
صدارت عالیه سرکار عالي منظوره بارګاه خسروي جهان پناهي حیدر آباد دکن" له دې ښځه ثابته
شوه چه د دې کتاب به صحیح والي باندې د علماوو د یوه داسې مجلس اتفاق دی چه نواب حیدر
خان د دکن متعین کړی وو. بیا نواب صاحب د دې کتاب څېړنې منظورې کړې. دا کتاب د خاص
انجمن ترقي اردو. اردو یوهنتون کراچي کښې موجود دی د دې کتاب په ۱۴. ۱۵. ۲۵. ۲۸ مخ
کښې دا وضاحت موجود دی چه د صبح کاذب به وخت کښې لمر اتلس درجې او د صبح صادق به
وخت پنځلس درجې لاندې وي


۲ - [illegible] مرلني مینول آف نیوي ګیشن ص۱۳۷، ج۲

۳ - بیسک [illegible] نوی ګیشن ورلز

۴ - [illegible] ونومکل افمیرز

۵ - [illegible] مکل المنک

۶ ـ د ډائرکټر هائیډرو ګرافي نیول هیډ کوارټرز حکومت پاکستان کراچي لخوا راليږلی شوی خط[1]



D.O.No. HD/0102121. 13 October, 1970.

From:- Captain S.R. Islam, P.N.
Director of Hydrography.

Dear Sir,

Reference your letter dated 24-6-1970 and Mufti Rashid Ahmad's letter dated [illegible].

The Nautical Almanac is a standard publication of the Royal Navy and its contents are extensively used for the computation of the rising and setting phenomena of the heavenly bodies and other astronomical information mainly connected with navigation. The accuracy of tables in the nautical almanac meets these requirements and is considered sufficient to cover the problems indicated by you From the nautical almanac of 1970 the times of sunrise and twilight have been calculated to compare your computations. The results are as under:-

Place	Date	Stated time of صبح صادق	Calculated time when Sun is 15° below horizon.
Goth Fakir (Lat.25° 46'N Long.68 40'E)	11.6.70	04 hrs. 19 min. (Zone - 5 hours)	04 hrs. 20 min. (Zone - 5 hours)
Karachi (Lat.24° 52.5'N Long.67° 2.6'E)	20.6.70	04 hrs. 30 min.	04 hrs. [illegible] min.
	20.9.70	05 hrs. 17 min.	05 hrs. 18 min.
	20.12.70	06 hrs. 03 min.	06 hrs. 02 min.

2. The calculated time as given above is based upon the following data given in the Nautical Almanac (Page 258) and Admiralty Manual of Navigation Vol. II (Page 137) :-

EXTRACT from Nautical Almanac 1970 (Page 258)

Basis of the tabulations. At sunrise and sunset 16' is allowed for semi-diameter and 34' for horizontal refraction, so that the times given the Sun's upper limb is on the visible horizon; all times refer to phenomena as seen from sea level with a clear horizon.

---

[1] د نوي تعلیم یافته طبقې د اطمینان په خاطر د هغوئ د محکمو نه تصدیق کول کېږي او که نه نو موږ ته دهغې هیڅ ضرورت نه وو رشید احمد عفي عنه.

At the times given for the beginning and end of twilight, the Sun's zenith distance is 96° for civil, and 102° for nautical twilight. The degree of illumination at the times given for civil twilight (in good conditions and in the absence of other illumination) is such that the brightest stars are visible and the horizon is clearly defined. At the times given for nautical twilight the horizon is in general not visible, and it is too dark for observation.

Times corresponding to other depressions of the Sun may be obtained by interpolation or, for depressions of more than 12° less reliably, by extrapolation; times so obtained will be subject to considerable uncertainty near extreme conditions.

EXTRACT From Admiralty Manual of Navigation Vol.II. (Page 137).

Astronomical twilight. This is said to end or begin when the Sun's centre is 18° below the horizon, at which moment absolute darkness is assumed to begin or end so far as the Sun is concerned.

3. The times of ____ or ____ and other requirements can be obtained from the above stated arguments according to the definitions of the terms.

4. A comparison of the times given by you for 22nd September and 22nd December, 1970 indicates that they relate to Astronomical twilight (morning) when the sun is 18° below the horizon. For 22nd June 1970 the time given is a little earlier.

5. The chart of time supplied by you has also been compared and the times given for ____ as well as sunrise generally tally with other times calculated from the Nautical Almanac for Astronomical twilight and sunrise respectively.

Yours Sincerely

(S.R. ISLAM)
CAPTAIN PAKISTAN NAVY

Maulana Ehtisham-ul Haq Thanvi,
[illegible], Jacob Lines,
Karachi.

Copy to:- Mufti Rashid Ahmad
Darul Iftaa wal [illegible]
Nazimabad,
Karachi.

۷. د دایرکټر محکمهٔ موسمیات حکومت پاکستان لخوا رالیږل شوي خط د مولانا احتشام الحق تهانوي صاحب په نوم

(۷) مراسلۂ ڈائرکٹر محکمۂ موسمیات حکومت پاکستان بنام مولانا احتشام الحق تھانوی

PAKISTAN METEOROLOGICAL DEPARTMENT
Office of the Deputy Director, Climatology, Hydrometeorology Oceanography, University Road, Karachi.

No. Cl-11(7)/68

Karachi,
dated the 18th September, 1970.

To

Maulana Ehtishamul Haq Thanvi,
56, Jacob Lines,
Karachi.

Dear Sir,

Kindly refer to your letter dated the 21st June, 1970. Replies to the queries at the end of page 4 of the report received alongwith your letter, are given below seriatim:

1. We have no comments to offer.
2. The time for the begining of moring astronomical twilight for 12th June is [illegible]. The begining of morning astronomical twilight is taken to be the time when the Sun is 18° below horizon. We have no comments to offer on the timings in the different charts given, the timings of Sub-he-Sadiq for Karachi.
3. When the Sun is 18° below horizon, all light from the sun is cut off.
4. This Department has not undertaken any work on the determination of the timings of Sub-he-Sadiq according to the definition given in the 'note' at the end of page 4 of the Report enclosed with your letter. These timings can, however, be calculated for any location if the phenomena Sub-he-Sadiq is precisely defined with respect to the position of the Sun below horizon. Without this the calculation of the timings will not be possible and as you have yourself noticed, will be subject to the personal error of the observer.

Delay in the reply to your letter is deeply regretted.

Yours faithfully,

([illegible] SIDDIQUI) 18/9/70
for DIRECTOR

۸ خط له خده رشيد احمد نام دپټي ډائرکټر محکمهٔ موسميات حکومت پاکستان کراچي

بسم الله الرحمن الرحيم

بخدمت عالي محترم دپټي ډائرکټر صاحب محکمهٔ موسميات پاکستان

السلام عليکم و رحمه الله و برکاته د لاندني امورو په باره د خپلې محکمې تحقيق ولیکئ

۱ د کراچي په عمومي مشهور کلې د صبح صادق وخت دا دي ۲۲جون ۴ بجي ۱۱ دقيقې. ۲۲ستمبر ۵ بجې ۳ دقيقې. ۲۲ دسمبر ۶ بجي ۱۹ دقيقې په دې وخت کښې لمر له أفق نه څومره درجې لاندې وي؟

۲ چه کله لمر له أفق نه اتلس درجې لاندې وي په دې وخت کښې په أفق باندې کوم دول رنړا وي او که نه وي؟

۳ د کراچي لپاره د صبح صادق پنځلس درجې تر افق لاندې وخت وليکئ فقط و السلام عليکم

رشيد احمد ۳۰ رجب سنه ۱۳۹۰ هجري، مطابق ۲ اکتوبر سنه ۱۹۷۰ء

دار الافتاء و الارشاد ناظم اباد کراچي

د خط خواب له طرف د اين اې قريشي دپټي ډائرکټر محکمهٔ موسميات حکومت پاکستان کراچي څخه

No. CL 11(1?)/69, 1667
PAKISTAN METEOROLOGICAL DEPARTMENT
OFFICE OF THE DEPUTY DIRECTOR
CLIMATOLOGY HYDROMETEOROLOGY &
OCEANOGRAPHY

From:- N. A. Quraishi,
Deputy Director.

To :- Mufti Rashid Ahmed,
Darulifta wal Irshad
Nazimabad IV
Karachi-18.

Karachi, the 21st October, 1970.

Dear Sir,

Reference your letter dated 2.10.1970.

2. The replies to your [illegible] are as follows seriatim

(i) The sun is [illegible] 17 degrees below the horizon at the times given on the dates specified.

(2) When the sun is 18 degrees below the horizon all light from the sun is cut off.

(3) The times, correct to the nearest half min., calculated for meteorological Observatory at Karachi Airport (coordinates 24°54 N & 67°08'E) when the sun is 15° below the horizon on the dates specified are as follows:

22.6.1970 :	04 hrs 29½ min.W.P.S.T.
22.9.1970 :	05 hrs 17 " " " "
22.12.1970:	06 hrs 4½ " " " "

Kindly acknowledge receipt.

Yours faithfully,

21/X/1970

(N. A. QURESHI)
Deputy Director
Phone : 415549

د ډائرکټر هائیډرو ګرافي نیول هیډکوارټرز حکومتِ پاکستان کراچي د خط د ترجمې خلاصه

اوقات ۱۵ درجې تر افق لاندې	صبح صادق	تاریخ	مقام	
٤ بجې ½ ۲۹ دقیقې	٤ بجې ۳۰ دقیقې	۲۰،٦،۷۰	کراچي	
٥ بجې ۱۸ دقیقې	٥ بجې ۱۷ دقیقې	۲۰،۹،۷۰	٥ ۲ ٥ ۲٤	عرض البلد
٦ بجې ۲ دقیقې	٦ بجې ۳ دقیقې	۲۰،۱۲،۷۰	٥ ۲ ٦۷	عرض البلد

د سهار په وخت چه کله لمر اتلس درجې تر افق لاندې وي دا وخت د پوره تیاره د ختمیدو او د ماښام په وخت په اتلسو درجو باندې د پوره تیاره ابتداء وي

۲۲ ستمبر او ۲۲ دسمبر ورکړ شوي وخت کښې لمر ۱۸ درجې تر افق لاندې وي او د ۲۲ جون وخت له دې څخه هم څه مخکښې وي

ستاسو په را لیږل شوبو (زړو) نقشو کښې د صبح صادق وخت د اتلسو درجو تر افق لاندې سره مطابق دې

دستخط ایس. آر اسلام کپتان پاکستان نیوی

دمولانا احتشام الحق تهانوي ۵۶ جیکب لائن کراچي په نوم باندې خط

د خط را لیږل شوی نقل په نامه د مفتي رشید احمد دار الافتاء و الارشاد ناظم آباد کراچي

د ډائرکټر محکمه موسمیات حکومت پاکستان کراچي د مراسلې خلاصه ترجمه

۱ - ۱۲ جون ایسټرونومیکل ټوائیلائټ ٤ بجي ۱۱ دقیقو باندې شروع کیږي (لکه څرنګه چه په مروجه نقشو کښې دي) دا وخت لمر اتلس درجې تر افق لاندې وي

۲ - چه کله لمر ۱۸ درجې تر افق لاندې وي هغه وخت د لمر هر ډول رڼا له افق څخه منقطع وي

دستخط ټي ایچ صدیقي برای ډائرکټر

د ډپټي ډائرکټر محکمه موسمیات حکومت پاکستان کراچي د مراسلې د ترجمې خلاصه

۱ ناسو چه د کومو تاریخونو وختونه لیکلي دی دا وخت لمر اتلس درجې تر افق لاندې وي

۲ چه کله لمر اتلس درجې تر افق لاندې وي به دې وخت کښې ئې رڼا بالکل منقطع وي

۲۲جنوري سنه۱۹۷۰عیسوي	٤ بجي ۲۹ دقیقي
۲۲ ستمبر سنه۱۹۷۰ زیږدیز	٥ بجي ۱۷ دقیقي
۲۲ دسمبر سنه۱۹۷۰ زیږدیز	٦ بجي ٤ دقیقي

دستخط این اے قریشي ډپټي ډائرکټر

ټیلفون ٤۱٥٥٤۹

له ماسخوتن سره د اړونده وخت حواله جات

قال الامام الطحاوی رحمه الله و کان النظر فی ذلك عندنا انهم قد اجمعوا ان الحمرة التی قبل البیاض من وقتها و انما اختلافهم فی البیاض الذی بعدہ فقال بعضهم حکمه حکم الحمرة و قال بعضهم حکمه خلاف حکم الحمرة فنظرنا فی ذلك فرأینا الفجر یکون قبله حمرة ثم یتلوها بیاض الفجر فکانت الحمرة و البیاض فی ذلك وقتا لصلوة واحدة وهو الفجر فاذا خرجا خرج وقتها فالنظر علی ذلك ان یکون البیاض و الحمرة فی المغرب ایضاً وقت الصلوة واحدة و حکمهما حکم واحد اذا خرجا خرج وقت الصلوة اللذان هما وقت لها. (شرح معانی الآثار ج۱ص۱۰٦)

د امام طحاوي رحمه الله له دې تحقیق څخه ښکاره شوه چه کوم ډول سپین سنوالی به سهار کښې معتبر دی په ماسخوتن کښې به هم د هغه اعتبار وي

وقال الامام الکاسانی رحمہ اللہ فی بیان اول وقت العشاء ولابی حنیفة رحمہ اللہ النص والاستدلال اما النص فقوله تعالیٰ اقم الصلوٰة لدلوك الشمس الی غسق اللّیل جعل الغسق غایة لوقت المغرب ولا غسق ما بقی النور المعترض وروی عن عمرو بن العاص رضی اللہ عنہ انه قال اٰخر وقت المغرب ما لم یسقط نور الشفق وبیاضه والمعترض نوره وفی حدیث ابی هریرة رضی اللہ عنہ وان اٰخر وقت المغرب حین یسود الافق وانما یسود باخفائها بالظلام. (الی قوله) واما الفقهی فهو ان صلاتین یؤدیان فی اثر الشمس وهو المغرب مع الفجر الخ. (بدائع الصنائع ج۱. ص۱۲۴)

د (**النور المعترض او حین یسود الافق**) الفاظ صریح نص دي چه له شفق ابیض څخه ابیض معترض مراد دی. بر دې وروسته به فقهي دلیل کښې هم ماښام او سهار دواړو لره د لمر په اثر کښې له یو ځای کولو څخه ثابته شوه چه د سهار غوندې په ماښام کښې هم بیاض مستطیل معتبر نه دی

وقال العلامة حسام الدین الحسین بن علی رحمہ اللہ ان المغرب بمنزلة الفجر ثم البیاض المعترض فی باب الفجر فی حکم الحمرة فلیکن کذلك فی مسئلتنا هذه. (نهایة علی هامش الهدایة ج۱. ص۸۲)

وقال الشیخ الانور رحمہ اللہ ولنا ما عند الترمذی رحمہ اللہ هی یسود الافق ولیس هذا السواد الا بعد البیاض فا لتحقیق فیه عندی ان الشفق من الاشفاق والشفقة هی الرقة فهو امر بین البیاض الناصع والحمرة القانیة واعلم ان الوقت فی الیوم الواحد من انبلاج الصبح الصادق الی طلوع الشمس یکون کما بین غروبها وغروب الشفق الابیض فی ذلك الیوم کذا حققه الریاضیون. (فیض الباری ج۲. ص۱۳۱)

په دې عبارت کښې دری خله دی حقیقت لره واضح کړی سوې دی اولاً (**حتی یسود الافق**) څخه. د معترض بیاض په ډوبیدو سره به افق باندې تیاره خورېږي ثانیاً د شفق تعریف (**فهو امر بین البیاض الناصع والحمرة القانیة**) څخه. دا کیفیت په بیاض معترض کښې وي. بیاض مستطیل ناصع وی. د مغرب په طرف د بیاض معترض غوندی د مشرق په طرف د صبح صادق په بیاض کښې هم د سوروالي اثر وی (**کما سیاتی انشاء اللہ تعالی**). ثالثاً په آخر کښې ئې لکل تصریح کړی چه د سهار او ماښام وختونه برابر وی

وفی اعلاء السنن ان الحمرة والبیاض البادیین فی الافق بعد غروب الشمس کلاهما نظیر البیاض والحمرة البادیین قبل طلوع الشمس لکون کلیهما من اٰثار اشعتها فمدة ما بین غروب الشمس الی غیبوبة بیاض الشفق هی المدة ما بین ظهور بیاض الفجر الی طلوع الشمس سواء بسواء کما صرح به اصحاب الریاضی والهیئة. قال فی حاشیة شرح الجغمینی الشفق والفجر هما متشابهان شکلاً ومتقابلان وضعاً اذ الفجر یبدو من بیاض ضعیف

مستطيل ثم بياض عريض ثم حمرة و الشفق يبدو بعد الغروب من حمرة ثم بياض عريض ثم بياض مستطيل الخ. و لعلك تفطنت من هذا الكلام ان الشفق الابيض ايضاً مثل الفجر الثان بياض مستطير عريض وبياض ضعيف مستطيل فكما ان المعتبر في الفجر هو البياض العريض كذلك في الشفق المعتبر هذا الا البياض المستطيل (اعلاء السنن ج۲، ص۹) و نقل العلامة العثماني رحمه الله ايضاً عن اعلاء السنن ما قدمنا من عبارته. (فتح الملهم ج۲، ص۱۹۵)

د حضرت مفتي شفيع صاحب په مشري کښې د علماوو د ډلې مشاهدات

په جون سنــ۱۹۷۰ــه ء کښې د حضرت مفتي محمد شفيع رحمه الله صدر دار العلوم کراچي په مشري د مشهورو علماوو يوې ډلې يو اخې د مشاهداتو لپاره له ټنډو آدم څخه تقريباً د درې ميلو په مسافه باندې په شمال مشرق کښې واقع مدرسهٔ محمديه (طول ۶۸، ۴۰ . عرض ۲۵/ ۴۶) پورې سفر وکړ حضرت مفتي صاحب د مشاهداتو نتائج پخپل قلم سره وليکل کوم چه نورو حضراتو هم دستخطونه پرې وکړل د دې مشاهداتو د نتائجو ضروري اقتباسات په لاندې ډول دي

د سفر د شريکانو نومونه

۱. مولانا مفتي رشيد احمد صاحب دار الافتاء و الارشاد ناظم آباد کراچي

۲. مولانا مفتي محي الدين صاحب مدرسهٔ اشرف العلوم ډهاکه مشرقي پاکستان

۳. مولانا مفتي ولي حسن صاحب مدرسهٔ عربيه نيو ټاؤن کراچي

۴ مولانا عاشق الهي صاحب مدرس دار العلوم کراچي

۵. مولانا محمد رفيع صاحب مدرس دار العلوم کراچي

۶. مولانا محمد تقي صاحب مدرس دار العلو کراچي

۷. مولانا محمد علي صاحب مدرس دار العلوم کراچي

۸ . جناب کليم صاحب ليکچرار شعبهٔ تاريخ اسلام کراچي يونيورسټي

۹. احقر محمد شفيع صدر دار العلوم کراچي

له خايي علماوو څخه لاندېني حضرات په دې مشاهداتو کښې شريک وو

۱۰. مولوي محمد صديق صاحب (فقير منتهار) مهتمم مدرسهٔ محمديه نزد ټنډو آدم

۱۱. مولوي عبد الواحد صاحب مدرس مدرسهٔ محمديه نزد ټنډو آدم

۱۱جون بيا يوه رڼا عرضاً خپريدونکې د اُفق په سر باندې شروع شوه. د رڼا ټوله ښکاريدنه چه ټولو ليدونکو اتفاق پرې وکړ په ۴ ۱۹ باندې وو د دې رڼا تر دې هم د لږ مخکښې پيدا کيدو خينو ته شبهه پاتې شوه

۱۲ جون سهار تقریباً ¼ ۳ بجې مېدان ته تول حضرات را ورسیدل په دې وخت کښې د مشرق په افق باندې هېڅ ډول رڼا موجوده نه وه. پوره څلور بجې په افق باندې مخروطي شکل اوږده رڼا ښکاره شوه کومه چه ټولو ولیدله او صبح کاذب نې وګڼله او تر دې اوولس دقیقې یعنې ۱۷،۴ دقیقو باندې د صبح صادق په واضحه توګه مشاهده وشوه. په دې باندې د ټولو اتفاق راغی لمر په ۵ ۳۲ باندې را وخوت

۱۳ جون نن په کراچۍ کښې د کورنګي سوکواټر ته نژدې د سمندر مشرقي ساحل ته لاړو د مشاهدې کوشش مو وکړ چه په دې کښې مفتي رشید احمد صاحب. مولانا محی الدین صاحب. مولانا عاشق الهی صاحب. مولوي محمد علي صاحب. مولانا محمد رفیع صاحب او احقر محمد شفیع شامل وو

دومره خو ټولو محسوسه کړه چه ۴ ۱۱ کوم وخت د صبح صادق په زړو نقشو کښې د نن تاریخ لیکل شوی دی په دې وخت کښې هېڅ ډول رڼا په افق باندې نه وه له دې وروسته هغه رڼا چه هغې ته صبح کاذب وېل کېږي ښکاره شوه. بیا تر دې وروسته د صبح صادق معترضاً خپریدونکې رڼا مخې ته راغله

محمد شفیع ۷ ٤ ۱۳۹۰ هجري

رشید احمد	ولي حسن ټونکي غفر الله له	محمد عاشق الهی
محمد رفیع عثماني	محمد تقي	عبده محی الدین عفا عنه

نتائج

د کراچۍ د مشاهدې نتیجه دومره عام فهمه ده چه د هغې په اړه د څه پوهولو ضرورت نشته او د ټندو آدم د مشاهدې په نتائجو باندې اهل فن غور کوي نو ثابته به شي چه هلته د بنده د تحقیق عین مطابق صبح کاذب اتلس درجې تر افق لاندې او صبح صادق پنځلس درجې تر افق لاندې وخت باندې وشو او عوام د دې تصدیق داسې کوي چه په تاریخونو کښې کراچۍ وختونه په زړو نقشو کښې داسې ورکړ شوي دي

تاریخ	صبح صادق	طلوع
۱۱ جون	٤ بجې ۱۲دقیقې	۵ بجې ٤١ دقیقې
۱۲ جون	٤ بجې ۱۱ دقیقې	۵ بجې ٤١ دقیقې

په ټندو آدم کښې لمر له کراچۍ څخه ۹ دقیقې مخکښې په ۵ بجې ۳۲ دقیقې را وخوت نو صبح صادق او صبح کاذب هم تقریباً ۹ دقیقې بلکه د حساب له مخې باید ۱۰. ۱۱ دقیقې وي په داسې حال کښې چه هلته صبح صادق د کراچۍ له وخت څخه په ۱۲ جون کښې ٦ دقیقې وروسته ٤

بجي او ۱۷ دقیقو باندې وشو او په ۱۱ جون کښې ۷ دقیقې وروسته ۴ بجې ۱۹ دقیقې باندې وشو البته صبح کاذب ۱۱ دقیقې مخکښې ۴ بجو باندې وشو له دې خخه هر ادنی فهم او بوډ لرونکی سړی هم په ښه توګه پوه کیدلی شي چه د کراچۍ په ژړو نقشو کښې د صبح صادق تر عنوان لاندې ورکړ شوي وختونه په حقیقت کښې صبح صادق نه بلکه دا د صبح کاذب وختونه دي

د نوموړې مشاهداتو پر بناء حضرت مفتي محمد شفیع صاحب رحمه الله د یو سوال په خواب کښې لاندینۍ فتوی لیکلې ده

د حضرت مولانا مفتي محمد شفیع صاحب
صدر دار العلوم کراچۍ فتوی ۳۶۰ ۳۶

حامداً و مصلیا. دومره خبره خو یقیني ده چه په نقشو او جنتریو کښې چه کوم وخت د صبح صادق لیکل شی دی هغه د صبح صادق اصلي وخت نه دی بلکه غالباً دا وخت د صبح کاذب دی کوم چه د سهار د انتهاء لپاره د احتیاط له وجې لیکل شوی دی له دې وروسته څه وخت وي چه اندازه ئې په هر ځای کښې ۱۲ دقیقې نه وي بلکه په هر موسم او هرې علاقې کښې د تفاوت خرنګوالی بیل دی لهذا د نقشو مطابق فوراً د آذان په ورکولو سره د سړي با د ښځې لپاره د لمانځه ادا کول صحیح نه دي د نقشو له وخت څخه شل دقیقې وروسته د سهار د آذان ورکولو او له هغه وروسته د سهار د لمانځه ادا کول په هر موسم کښې له شبهې او شک پرته لمونځ صحیح کړي لهذا په دې باندې باید عمل وشي

مهر دار الافتاء دار العلوم کراچي

بنده محمد شفیع عفي عنه، دار العلوم کراچي ۱۴،

۲۸ ۱۱ ۱۳۹۰ هجري

د تحقیق د مجلس د فیصلې اقتباسات (غورچاڼ)
منعقده دار العلوم کراچي ۱۳ ذي قعده سـ۹۲ـه هجري

په دې مجلس کښې حضرت مولانا مفتي رشید احمد صاحب د صبح صادق د رسالې دلائل باندې غور وشو او د اړوندو کتابونو ته مراجعت وشو همدارنګه د مسئلې د تحقیق و مشاهداتو لپاره د ښو آدم چه کوم سفر شوی وو د هغه نتائج تر غور لاندې راغلل. له بحث و تمحیص وروسته لاندینۍ خبرې د ثبوت تر مرتبې وروسیدلې

د مسئلې د غور لاندې تر راتلو وروسته په مختلفو ورځو کښې چه خومره مشاهدات شوي وو په هغو کښې یو هم د مروجه جنتریو سره مطابق صبح صادق و نه شو بلکه صبح صادق د هغو تر

وخت وروسته پیل سو
له دغو ټولو امورو څخه دا ښکاري چه په مروجه جنتریو کښې د صبح صادق په نامه چه کوم وخت لیکل شوی دی هغه په حقیقت کښې صبح کاذب دی
حضرت مولانا مفتي رشید احمد صاحب چه د صبح صادق کوم وختونه ایستلي دي هغه د ښندو د م له مشاهداتو سره مقابله شول فرق بواځي یوه دقیقه وو
په هر صورت له بورتني نوموړي تحقیق څخه هم دا ظن غالب راځي چه مولانا مفتي رشید احمد صاحب په حسابي طریقې سره کوم وختونه را ایستلي دي هغه صحیح دي

احقر محمد تقي عثماني عفي عنه ١٤ ذي قعده سـ٩٢ـه هجري

محمد شفیع رشید احمد محمد عاشق الهی محمد رفیع عثماني عفا الله عنه

په مشاهده کښې د غلط فهمۍ اسباب

١ د اکسټ له نیمائي څخه د اکتوبر تر نیمائي بورې د مشرق په طرف تر صبح کاذب ډیر مخکښې زودیکل لائټ ښکاریږي کوم چه له سهار سره هیڅ اړه نه لري همدارنګه دا رڼا د مغرب په طرف د فروری له نیمائي څخه د اپریل تر نیمائي بورې ښکاریږي جارج ایبل پخپل کتاب "یکس پلوریشن آف دي یونیورس" مطبوع سـ١٩٦٤ـهٔ کښې د زودیکل لائټ په اړه لیکلي دي چه "دې ته کله کله صبح کاذب هم ویل کیږي" له دې څخه دا غلط فهمي کیدلی شي چه تر دې وروسته ښکاریدونکی ابتیرو نو مبکل یوانشلائټ به صبح صادق وي لهذا په دې باندې ښه پوه شی چه د شریعت په اصطلاح کښې د سهار په ابتداء کښې له افق څخه په پوره لوړوالي سره ښکاریدونکی مستطیل شکله رڼا ته صبح کاذب ویل کیږي. بیا همدغه رڼا چه کله لاندې راشي نو په عرض یعنې پلنوالي وغوړیږي او له طول (اوږدوالي) څخه ئې عرض (پلنوالی) زیاتیږي او څه نه څه د سوروالي اثر هم پرې راځي نو دې ته صبح صادق ویل کیږي

عن سمرة بن جندب رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ لا یغرنکم اذان بلال ولا بیاض الافق المستطیل هکذا حتی یستطیر هکذا (رواه مسلم) عن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه عن النبی ﷺ لیس ان یقول الفجر او الصبح و قال باصابعه و رفعها الی فوق وطأطأ الی اسفل حتی یقول هکذا و قال زهیر بسبابتیه احدهما فوق الاخری ثم مدها عن یمینه وعن شماله. (رواه البخاری) قوله (وطأطأ) ای خفض اصبعیه الی اسفل وهذا هو الاشارة الی کیفیة الصبح الصادق. (عمدة القاری ۵، ص١٣٥) الفجر الصادق یطلع معترضا ثم یعم الافق ذاهبا یمینا و شمالا بخلاف الفجر الکاذب وهو الذی تسمیه العرب ذنب السرطان فانه یظهر فی اعلی السماء ثم ینخفض و

ذلك اشار بقوله رفع وطأطأ رأسه. (فتح الباري ج۲، ص۸۷) وفي حديث طلق بن علي وكلوا واشربوا حتى يعترض لكم الاحمر، اخرجه ابن ابي شيبة و احمد و ابو داؤد و الترمذي وحسنه و اخرج احمد ليس الفجر المستطيل في الافق ولكنه المعترض الاحمر. (در منثور ج۱، ص۲۰۰/ ابن كثير ج۱، ص۲۲۲) قال الخطابي معنى الاحمر ههنا ان يستبطن البياض المعترض اوائل حمرة. (الفتح الملهم ج۳، ص۱۱۹) و ما روى عن الخليل انه قال رأيت البياض بمكة شرفها الله تعالى فما ذهب الا بعد نصف الليل محمول على بياض الجو و ذلك يغيب اخر الليل واما بياض الشفق و هو رقيق الحمرة فلا يتأخر عنها الا قليلا قدر ما يتأخر طلوع الحمرة عن البياض في الفجر. (زيلعي ج۱، ص۸۱) و الصبح ما جمع بياضا و حمرة. (المغني لابن قدامة ج۱، ص۳۸۸) قال الازهري و لون الصبح الصادق يضرب الى الحمرة قليلاً كانها لون الشفق الاول في اول الليل. (لسان العرب) قال في التصريح فيرى الضوء مرتفعاً عن الافق مستطيلاً و يرى ما بينه و بين الافق مظلما و هو الصبح الكاذب لكذبه في الاخبار عن قرب الشمس لان الافق بعد مظلم. وفي الحاشية (قوله لكذبه) و اندفع به ما قيل سمي بذلك لانه يعقبه ظلمة يكذبه فانه اذا طلع الصبح الثاني انعدم ضوء الصبح الاول وجه الاندفاع انه لا يعقبه ظلمة بل يخفى عند البصر لضعفه و غلبة الضوء الشديد الطاري عليه كما يخفى ضياء المشاعل و الكواكب في ضوء الشمس آه. مولانا ابو الفضل محمد حفيظ الله (تصريح ص۲۹) يسمى بالصبح الكاذب كأن كون الافق بعد مظلما يكذب كونه نور الشمس. (شرح چغميني ص۱۰۵) و النوع الثاني منبسط في عرض الافق مستدير كنصف دائرة يضيء به العالم فينتشر له الحيوانات والناس للعادات و تتعلق به شروط العبادات. (القانون المسعودي لابي ريحان البيروني ج۲، ص۹۳۹) فاما بياض الصبح الصادق فهو بياض مستدير في الافق. (تفسير كبير ج۲، ص۲۰۲)

دا خبره د هيئت د علماوو له تصريحاتو برسيره له مشاهداتو څخه هم ثابته شوي ده چه د لمر يه اتلسو درجو كښي تر افق لاندې مستطيله رڼا ظاهريږي كوم چه لږ غوندې سوروالى هم پكښې نه وي په پلنوالي خپريدونكې د صبح صادق رڼا پنځلس درجې تر افق لاندې وي په حقيقت كښې عرفي ورځ د لمر له ختلو څخه شروع كيږي لېكن شريعت په زمكې باندې د لمر د شعاعو ظهور لره هم حكماً ورځ ګڼلې دى او له پنځلسو درجو تر افق لاندې څخه مخكښې د لمر شعاعوى په زمكې باندې قطعاً نه ښكاريږي نو ځكه دا صبح كاذب دى كوم چه د عرف به مطابق شرعاً نه شپه كښې داخل دى د لمر د شعاعو يواځې په فلك باندې ظهور لره هم شريعت د ورځې حكم نه دى وركړى او كه نه نو صبح كاذب نه هم به ورځ كښې شمار واى

لنډه دا چه د زوډيكل لائټ اصطلاح له شريعت سره هيڅ تعلق نه لري ملكه دا د قوس قزح

غونديږ بوه انعكاسي رڼا ده كوم چه په بوله كال كښې يو اخې دوه مبشنې د اكسس له نمخې د اكوبر تر نيمائي پورې په ښينو خايونو كښې ښكاريږي او ايسترونوميكل يو انيلانب څخه ډېر مخكښې پاى ته رسيږي همدارنګه اروړا. ګكن شين لائټ او نورې څو ډوله رڼاوي به مختلفو زمانو كښې به مختلفو خيونو باندې په مختلفو سمتونو كښې د شيې به مختلفو برخو كښې ښكاريدونكې وي كومې چه سهار سره هيڅ ډول تعلق نه وى وګورى ابكس پلوريشن آف دي يونيورس د جارج ابيل تصنيف چاپ سوى ۱۹٦٤ء،ص۳۱۵ اوص۳۳۸، د پان بک آف ايسترو نومي د جيمس ميوريډن ايف. آر. اے. ايس تصنيف چاپ شوى ١٩٦٤ء، ص٦٩ دى ايلمنټس آف ايسترونومي د ايډورډ آرتخر فيتهه تصنيف. چاپ شوى ۱۹۵۵ءص۲۱۲۔

د خليل غوندى ښنى نور حضرات هم د زوډيكل لائټ او كهكشان د صبح كاذب په ګڼلو كښې په مغالطه كښې لويدلي دي چه اهل تحقيقو د هغه ترديد كړى دى چنانچه علامه حطاب مالكي رحمه الله فرمايي

قال فی الذخیرۃ و کثیر من الفقہاء لا یعرف حقیقۃ ھذا الفجر و یعتقد انہ عام الوجود فی سائر الازمنۃ و ھو خاص ببعض الشتاء و سبب ذلک انہ المجرۃ فمتی کان الفجر بالبلدۃ و نحوھا طلعت المجرۃ قبل الفجر و ھو بیضاء فیعتقد انہا الفجر فاذا باینت الافق ظہر من تحتہا الظلام ثم یطلع الفجر بعد ذلک و اما فی غیر الشتاء فتطلع المجرۃ اول اللیل او نصفہ فلا یطلع اخر اللیل الا الفجر الحقیقی انتھی و نازعہ غیرہ فی ذلک و قال انہ مستمر فی جمیع الازمنۃ وھو الظاھر. (مواھب الجلیل شرح مختصر خلیل ج۱،ص۳۹۹)

وقال العلامۃ ابن حجر الہیتمی الشافعی رحمہ اللہ فی تحفۃ المحتاج بشرح المنہاج ونقل الاصبحی ابراھیم ان بعضہم ذکر انہ یذھب بعد طلوعہ ویعود مکانہ لیلا و ان اباجعفر المصری بعد ان عرفہ بانہ عند بقاء ساعتین یطلع مستطیلاً الی نحو ربع السماء کأنہ عمود و ربما لم یر اذا کان الجو کدرا صیفا اعلاہ دقیق و اسفلہ واسع و تحتہ سواد ثم بیاض ثم یظہر ضوء یغشی ذلک کلہ ثم یعترض ردہ بانہ رصدہ نحو خمسین سنۃ فلم یرہ غاب و انما یعظم لیلتقی مع المعترض فی السواد و یصیر ان نجرا واحدا او زعم غیبتہ ثم عودہ و ھم او راہ یختلف باختلاف الفصول فظنہ یذھب و بعض الموقتین یقول ھو المجرۃ اذا کان الفجر بالسعود و یلزمہ انہ لا یوجد الا نحو شہرین فی السنۃ آہ قال الشیخ عبد الحمید الشروانی فی حاشیتہ علی تحفۃ المحتاج (قولہ بالسعود) منزل للقمر کردی عبارۃ القاموس وسعود النجوم عشرۃ سعد بلع و سعد الاخبیۃ و سعد الذابح و سعد السعود و ھذہ الاربعۃ من منازل القمر ثم قال بعد ذکر البقیۃ و ھذہ الستۃ لیست من المنازل کل منہا کوکبان بینہما نحو

ذراع.آه(تحفة المحتاج ج۱،ص۴۲۶)

وعلامہ شیرازی در تحفہ شاہی می آرد وجہ تسمیہ اش صبح صادق آنست کہ روشنیش از اول صادق تر است۔ ازین جہت کہ سیاہی حار بر صبح اول مکذب می شود نہ برثانی زیرانکہ صبح آنست کہ روشنی اول معدوم نہ می شود بلکہ روشنی ثانی معجوب و مخفی میگردد مثل روشنی چراغ پیش پرتو آفتاب. (حاشیۂ مالا بد منہ ص۲۹)

له موزنتیو عبارتونو څخه ثابته شوه چه کوم حضراتو تر صبح کاذب وروسته بیا د پوره تیاره کیدو خبره کړی ده هغوی د زوډیکل لائټ یا کهکشان سره په مغالطه کښې لویدلي دي. یا د هغو مقصد دا دی چه د صبح صادق په رڼا کښې د صبح کاذب د ورکیدو له وجې هلته تیاره په نظر راځي

وذكر الامام الغزالي رحمه الله في اداب المسافر من الاحياء ولفظ الاحياء مع شرحه "الاتحاف" ويملي بين الصبحين قدر ثلثي منزلة بالتقريب يشك فيه من وقت الصبح الصادق والكاذب. (معارف السنن ج۲،ص۲۹)

له دي څخه هم ثابته شوه چه د صبح صادق او صبح کاذب تر منځ کوم بیلتون نشته بلکه دواړه پخپل منځ کښې په یوه او بل پسې دي

۲ د علامه حطاب مالکي او علامه هیثمي شافعي له تحقیق څخه کوم چه پورته نقل شو دا څرګند شوه چه په ژمي کښې تقریباً دوه میاشتي کهکشان د سهار په وخت کښې د مشرق په طرف راخیژي او تر هغه وروسته فوراً د سهار د رڼا د را ښکاریدو له وجې کهکشان ورکیږی او لیدونکي ته دا احساس نه کیږي چه دا رڼا د کهکشان وه بلک د سهار رڼا ئې ګڼي

له حساب او مشاهداتو څخه ثابته شوه چه په عرض شمالي کښې دا کیفیت په جنوري او فروري کښې وي. همدارنګه په جولائي او اګست کښې د مغرب خوا ته د کهکشان د ډوبیدو هم باید همدغه حالت وي او په عرض جنوبي کښې به بیا معامله برعکس (سرچپه) وي

۳ په دسمبر سنه ۱۹۷۱ ء کښې د پاکستان او هندوستان د جنګ په دوران کښې د بندبر له وجې په ښار کښې د اوسیدو له مخې د مشاهداتو بهترینه موقع په لاس راغله زه ډیر حیران شوم چه تر صبح کاذب ډیر مخکښې د مشرق خوا ته او له ماسخوتن څخه ډیر وروسته د مغرب خوا ته مستطیله رڼا په نظر راتله ما د دې عقدې د حلولو خاص اهتمام وکړ د ۱۹ دسمبر په ماښام کښې د لمر د ډوبیدو له ځای نه غرب وروسته فوراً ما د غربي افق مراقبه شروع کړه. و می لیدل چه د لمر د ډوبیدو له ځای څخه لږ غونډی د جنوب خوا ته یوه غیر معمولي غونډي روښانه ستوره (زهره) خاص په همدې ځای باندی دی چیرته چه په لومړي ورځ تر ماسخوتن وروسته هم رڼ به نظر راتله دا ستوره نو کمی نجي ډوبه شوه لیکن نه سر باندي ئې مستطیله رڼا تقریباً تر لس نمو نحو بوری به څرګنده نو که

په نظر رسله سره داسی حال کیږي چه په دي ورځ پنځلس درجې تر افق لاندي (د ماسخوتن وخت د صبح صادق مقابل وخت ۵۵ ۶ او ۱۸ درجې تر افق لاندي (د صبح کاذب مقابل) وخت ۹ ۷ دی تر دی وروسته د سپی محسوس سول چه له دې مقام حخه تر ثریا پوري د کهکشان غوندي لیکن تر دې هم سپوڼي ته ډیر نږدې سرک دی. په دې ټولی مشاهدې کیږي له ما سره یو بل ملګری هم وو. له ۲۰ تر ۲۲ دسمبره پوري مو د وریځ له وجې د سهار مشاهده و نه سوای کړی ۲۳ دسمبر چه که ۴ سمی بجی را پورته سولو و مو کتل نو د مشرق خوا ته مستطیله رڼا موجوده نه. په ۲۴ دسمبر مدي د سی سه دري بجي باندي کار سروع کړ له مشاهدې څخه را ته محسوسه شوه چه له مشرق حخه د کهکشان غوندي لیکن له هغه څخه پوره مدهم سپین والی پورته روانه وه او د برج سره برابر له مشهور کهکشان سره لګیږي تقریباً تر ۴ نیمو بجو وروسته د مشرق په طرف په دی سپین و لي کیږي چه زیاتوالی او له پاسه خه کموالی محسوس شو او د صبح کاذب تر وخته پوري همدا کیفیت پاتی وو. د صبح کاذب د ابتداء خه احساس مې و نه شوای کړی د حساب له مخي په دي ورځ د صبح کذب وخت ۴۹ ۵ او د صبح صادق وخت ۶ ۶ دی تر خلور نیمو بجو وروسته په رڼا کیږي له زیاتوالي څخه اندازه ولګیده چه د مغرب غوندي د شرقي افق لاندي هم کومه غیر معمولي روښانه ستوري د دي باعث جوړیږي لکه څرنګه چه په جنوري کیږي دا ستوري د سهار په وخت کښی سه نظر رالللو کوم چه ذنب عقرب (د لړم لکی) ته نږدي د مشهور کهکشان په دننه کښی واقع دی نسجه دا وو تله چه تر مشهور کهکشان پرته یو بل مدهم کهکشان هم شته چه له هغه سره د څنو نورو معمولي روښانه ستورو رڼا هم شاملیږي کوم چه د مغالطې باعث یا سبب جوړیږي

د صبح صادق په اړه د مغالطې وجوهات

۱ څنو علماوو د سهار د بای او د لمر د ختلو تر منځ څه وخت (مثلاً یو نیم ساعت یا کم او زیات) ټاکلی دی له دی څخه د هغوی هېڅکله دا مقصد نه دی چه په هر موسم کښې په هر ځای باندې د طلوع او صبح صادق تر منځ همدومره وقفه وي ځکه چه دا خبره خو په ښکاره توګه غلطه ده هر سړی پوهیږي چه دا وقفه په هر تاریخ او ځای کښې مختلفه وی او تصدیق ئې په مشاهدې سره هم کېدلی شي او د مختلفو څېړنو د لمانځه له زړو نقشو څخه هم. لهذا د هغو حضراتو له لیکنې څخه د هغو مقصد دا دی چه د هغوی په ملک کښی چه په کوم ځای او کوم تاریخ کښی له زیات څخه زیاته وقفه وی هغه دی د سهار سی وټاکل شي نو د پوره ملک د حدودو په دننه کښی په هر ځای او هر موسم کښی له سهی سره روژه په صحیح وی او له غروب څخه همدومره څخه وروسته د ماسخوتن لمونځ له سهی سره صحیح کیږي مثلاً د مسجد هندوستان په زمانه کښی

که حیرته کوم بود عالم د دی وخت اندازه وی‌کله نو هغه د متحد هندوستان په شمول د خیبر
مردان. مالاکنډ. جمرال او داسې نور له حدودو څخه په کوم ځای او کوم تاریخ کښې چه نه زیات
څخه زیاته وقفه وه هغه ئې د سهار بانګ ټاکلی. چنانچه حضرت حکیم الامت حضرت مولانا تهانوي
قدس الله سره د امداد الفتاوی په دويم جلد ص۷۵ کښې فرمايي چه "د هيئت د قاعدې له مخې د
لمر د طلوع نه وخت څخه نو نیم ساعت مخکښې پوې پيشلمی کولی شي" بیا په حاشیه کښې
لیکي "په څنو موسمونو کښې له دې څخه هم زیات گنجایش شته. دا مې احتیاطاً ولیکله"
لنډه دا چه له دې څخه هڅکله هم دا مقصد نه دی چه په هر ځای باندې او هر تاریخ کښې په
دې وخت باندې صبح صادق کېږي او فوراً په آذان ورکولو سره د سهار د لمانځه ادا کول هم جائز
دی او نه دا مقصد دی چه په هیڅ یوه ځای او موسم کښې هم تر غروب وروسته د دومره وخت له
تیریدو څخه مخکښې د ماسخوتن وخت نه وي له دې څخه ثابته شوه چه کوم حضرات زما تحقیق
د اکابرو د تحقیق په خلاف ګڼي هغو د اکابرو په خبرو کښې د غور د نه کولو له وجې په غلط
فهمۍ کښې لويدلي دي او که نه نو حقیقت دا دی چه زما د تحقیق هیڅ یوه برخه هم د اکابرو د
هیڅ یوې لیکنې په خلاف نه دی

۲ څینو مصنفینو لیکلي دي چه د صبح صدق تول وخت د تولي شپې له وخت سره کوم
ځانګړی نسبت لري د دې حقیقت هم هغه دی چه کوم چه پورته په اول نمبر شماره کښې تیر شو

۳ د فلکیاتو د مخکښنیو علماوو دا معمول دی چه هغوی لومړی مطلقاً د صبح یا د سهار
وخت یادوي او په آخر کښې د دې تصریح کوي چه دا د صبح کاذب وخت دی او صبح صادق له دې
څخه دري درجې وروسته وي چه له دې څخه د هغوی مقصد دا وو چه خلک له مخکښې څخه د
صبح صادق لپاره تیار و اوسي لیکن د لمانځه د وختونو د خپروني شوق لرونکو حضراتو کم
نظریو مطلق سهار لره صبح صادق وباله او تر وروسته راتلونکي تصریح پورې و نه رسیدل

٤ د دین د اهل فن علماوو چه کله د لمانځه د وختونو نقشې جوړې کړې نو په هغو کښې د
مذکوره احتیاط او مصلحت پر بناء د صبح صادق په ځای په قصد سره ئې د صبح کاذب وختونه
ولیکل لکه څرنګه چه د منجم خیر الله نقشه چه د مشکوة شریف د شرح په مظاهر حق کښې د
مطلق صبح تر عنوان لاندې ۱۸ درجې تر افق لاندې وختونه لیکلي دي کوم چه په اجماع سره صبح
کاذب دی لیکن د کراچۍ په یوې جنترۍ کښې ئې دې نقشې لره د شیخ عبد الحق دهلوي رحمه الله
خوا ته منسوب کړې ده او مطلق صبح ئې صبح صادق ګرځولی دی او د دهلي نقشه ئې په کراچۍ
باندې جاري کړې ده بیا ئې د ګړۍ او ثنیې په ساعتونو او دقیقو جوړولو کښې هم غلطي کړې ده
همدا رنګه ئې د معیار الاوقات په نقشه مطبوع حیدر آباد دکن کښې د ۱۸ درجې تر افق لاندې
وختونه ورکړي دي. په داسې حال کښې چه په دې کتاب کښې په ځلورو مختلفو څرګو باندې د

دي وضاحت موجود دی چه ۱۸ درجې تر افق لاندې د صبح کاذب وخت دی او صبح صادق ښخلس درجې تر افق لاندې وي همدارنګه په دې کتاب کښې ئې صبح کاذب څو ځایه له مدللو صبح څخه تعبیر کړی دی. دا هم څرګند دلیل دی چه نورو حضراتو هم چه چیرته مطلق صبح لیکلی دی له هغه څخه صبح کاذب مراد دی او تولو نقشې هم په صبح کاذب باندې مرتبې کړي دي او دا تصریح ئې کړي چه دا د صبح کاذب وخت دی د دې کتاب د حوالې تفصیل د "تحقیقات جدیده" تر عنوان لاندې تیر شول

۵. په مغربي ملکونو له صبح صادق سره هیڅ سر و کار نه درلود لهذا هغو هم په مکمله تیره کښې د ښکاریدونکې رڼا د لومړی څرک (صبح کاذب) نقشې تیارې کړي دي

له دې وروسته د بې خبره شوقیانو دور راغی او د بحري. هوائي یا موسمیاتو کوم ملازم یا نوکر ته ئې د نقشې د جوړولو فرمائش ورکړ. هغه د ګرینویچ له شاهي مقامه خپریدونکي ناټیکل المینک را پورته کړ او نقشه ئې ترې جوړه کړه. نه فرمائش کوونکي دا فکر وکړ چه د نقشې مرتب کوونکي ته د صبح صادق او کاذب فرق ور وښائي او نه پخپله د مرتب دې خوا ته کومه توجه وشوه دا یوه منل شوې خبره ده چه تولې زړې نقشې خاص د ناټیکل المینک له مخې تیاره شوې ده چه په کومو حضراتو کښې د پردې محنت د ځان خوا ته د منسوبولو مرض نشته هغو په ښکاره تکو کښې د دې اعتراف هم کوي چنانچه حضرت تهانوي قدس سرّه د امداد الفتاوی په لومړي جلد صفحه ۱۱۴ـه او د دار العلوم کورنګي په کتب خانه کښې موجودو په ځینو ډیرو زړو جنتریو کښې ـ د دې تصریح شته چه دا وختونه له ناټیکل المینک څخه اخیستل شوي دي

۶- قال ابن عابدين رحمه الله فی نیة الصوم تحت (قوله الضحوة الکبرٰی) "تنبیه" قد علمت ان النهار الشرعی من طلوع الفجر الی الغروب واعلم ان کل قطر نصف نهاره قبل زواله بنصف حصة فجره فمتی کان الباقی للزوال اکثر من هذا النصف صح و الا فلا فتصح النیة فی مصر و الشام قبل الزوال بخمس عشرة درجة لوجود النیة فی اکثر النهار لان نصف حصة الفجر لا تزید علی ثلاث عشرة درجة فی مصر و اربع عشرة و نصف فی الشام فاذا کان الباقی الی الزوال اکثر من نصف هذه الحصة ولو بنصف درجة صح الصوم کذا حرره شیخ مشائخنا السائحانی رحمه الله (ردالمحتار ج۲،ص۹۳)

په ظاهره له دې عبارت څخه څرګندیږي چه په مصر کښې د صبح صادق تر تولو زیات وخت ۲ ساعت ۴۴ دقیقې او په شام کښې تر تولو زیات ۲ ساعت ۵۶ دقیقې دی. حالانکه دا حساب د ښخلس درجې تر افق لاندې په ځای په اتلس درجو تر افق لاندې باندې تطبیق خوري په موجودو نقشو کښې د شام منتهی العرض تقریباً ۳۷ درجې دی. د دې په مطابق نوموړی وخت صحیح دی لیکن د مصر د عرض منتهی په موجوده نقشو کښې تقریباً ۳۱ درجې دی او یاد شوی وخت د ۳۳ درجې د عرض البلد دی امکان لري چه په هغې زمانه کښې د مصر وسعت ایرا خوالې تر ۳۳ درجو

عرض بوري وو با د وخت ابستونکو د مصر منتهی عرض ۳۳ درجي ګڼلی وی. په هر صورت اشکال دا دی چه په دي عبارت کښي ۱۸ درجي تر افق لاندي لره ئي صبح صادق ټاکلی دی

د دي اشکال ځواب هم له پورتني تفصیل څخه حاصلیږي یعني د فلکیاتو د ماهرینو دستور دا پاتي شوی دی چه هغو صبح کاذب لره په مطلق صبح باندي تعبیروي نو په دي سره ځیني حضرات په اشتباه کښي ولویدل چه هغو صبح صادق وګڼل. همدارنګه د سهار د پای یا انتهاء په باب کښي د احتیاط له مخي په قصد سره هم د صبح کاذب د وختونو د لیکلو رواج باقي شوی دی مونږ په نبر شوي مضمون کښي د دي ځو مثالونه هم وړاندي کړل په هر صورت د مصر او شام یاد شوی وختونه د صبح صادق نه بلکه د صبح کاذب دي چه کله علامه شامي رحمه الله پخپله په کتاب الصلوة کښي دوه ځایه د دي تصریح نقل کړی دی چه د صبح کاذب او صادق تر منځ د دریو درجو فرق موجود دی نو دا به څنګه و منل شي چه دلته د هغه په خلاف نقل راوړي او د تطبیق یا ترجیح وجه ئي ذکر نه کړي

۷ - یوه بناغلي دا اشکال لیکلی او را لیږلی دی چه د فقهاوو د تصریح مطابق په بلغاریه کښي ځو ورځي د ماسخوتن وخت نه راځي په داسي حال کښي حه په نقشو کښي د بلغاریه عرض ۴۳ درجي دی چیرته چه په هر موسم کښي ۱۵ درجي تر افق لاندي سپینوالی په یقیني توګه ډوبیږي له دي څخه څرګندیږي چه د صبح صادق او مغرب وخت تر ۱۵ درجي تر افق لاندي څخه زیات دی

دي بناغلي ته په بلغار او بلغاریه کښي اشتباه ور لویدلي ده. حقیقت دا دی چه دا دوه ځان ځانته ځایونه دي د بلغاریه عرض البلد ۴۳ درجي دی او بلغار تقریباً په ۶۳ درجي عرض البلد باندي پروت دی

د ائمه ثلاثه وو رحمهم الله په نزد د ماسخوتن د وخت ابتداء د شفق احمر له غروب څخه کیږي قولاً واحداً. د احنافو رحمهم الله په نزد د شفق احمر او ابیض دواړو قول راغلی دی لیکن راجح او مفتی به قول د شفق احمر دی د شفق ابیض په قول باندي ابیض مستطیر مراد دی ابیض مستطیل به اتفاق سره په ماسخوتن کښي داخل دی په دي اړوند حواله جات پورته لیکل شوي دی او دا هم ثابته شوی ده چه د سپین مستطیل د غروب کیدو په وخت لمر ۱۸ درجي تر افق لاندي وي او د مستطیر شفق ابیض د غروب کیدو په وخت ۱۵ درجي تر افق لاندي وي د سره شفق د غروب په وخت کښي لمر ۱۲ درجي تر افق لاندي وي. د دي تعیین د علامه شامي رحمه الله له دي عبارت څخه کیږي

ذکر العلامة المرحوم الشیخ الکامل فی حاشیته علی رسالة الاسطرلاب لشیخ مشائخنا العلامة المحقق علی آفندی الداغستانی ان التفاوت بین الفجرین و کذا بین الشفقین الاحمر و الابیض انما هو بثلاث درج. (رد

المعارج ج۱ ص۳۲۲) بر سیره پر دې د نوي تحقیقاتو او مشاهداتو څخه هم د دې تائید کیږي

قال فى التنوير ويكره آذان جنب (الى قوله) وقاعد الا اذا اذن لنفسه ويعاد اذان جنب وفى الشرح ندبا وقيل وجوباً وفى الحاشية (قوله ويعاد اذان جنب الخ) زاد القهستانى والفاجر والراكب والقاعد والماشى والمنحرف عن القبلة وعلل الوجوب فى الكل بانه غير معتد به والندب بانه معتد به الا انه ناقص قال وهو الاصح كما فى التمرتاشى. (ردالمحتار ج۱،ص۲٦٥)

فقط والله تعالىٰ اعلم ۱۲ ذى قعدة ۸٤ هجرى

د مؤذن له خوښې پرته د اقامت ويلو حکم

سوال د مؤذن له اجازې پرته که چا اقامت ووايه نو ثواب ئې مؤذن ته ورکول کيږي او که اقامت ويونکي ته او اقامت ويونکي ته له اجازې پرته د اقامت ويل کبيره ګناه ده او که صغيره په داسې حال کښې چه مؤذن ئې په تکبير ويلو ناراض وي؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د اقامت ثواب پخپله اقامت ويونکي ته ورکول کيږي. د مؤذن له اجازې پرته اقامت ويل جائز دي ليکن د اولى خلاف دي

قال فى شرح التنوير (اقام غير من اذن بغيبته اى المؤذن لا يكره مطلقاً) وان بحضوره كره ان لحقه وحشة، و نقل ابن عابدين رحمه الله عن الخلاصة والامام الطحاوى معزيا الى ائمتنا الثلاثة وعن البحر والكافى انه لا بأس به مطلقاً ولكن الافضل ان يكون المؤذن هو المقيم. ردالمحتار ج۱،ص۲٦۷)

فقط والله تعالىٰ اعلم ۲٤ ذى قعدة ۸٦ هجرى

د کوچني په غوږونو کښې د اذان کولو وخت

سوال د نوي پيدا شوي کوچني په غوږونو کښې د آذان ويلو کوم وخت ياکل شوى دى؟ که

چرته به لومړی ورځ آذان و نه سي نو آیا وروسته ئي کولی شي او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د دې آذان لپاره د وخت او ورځي کوم قید نشته. تر خپله وسه سوري بندي مخکښي وشي. که چرته د غفلت له وجې څو ورځي پاتې شي نو بیا به هم تر خبریدلو وروسته آذان کیږي

عن ابی رافع رضی الله عنه قال رأیت رسول الله صلی الله علیه وسلم اذن فی اذن الحسن بن علی حین ولدته فاطمة بالصلوة قال الملا علی القاری رحمه الله (حین ولدته فاطمة) یحتمل السابع وقبله.(مرقاة ج۸،ص۱۵۹)

فقط والله تعالیٰ اعلم ۲۳شوال ۸۶ هجری

د کوچني په غوږ کښې د اقامت ویلو حکم

سوال څه فرمایي د شرع متین مفتیان کرام چه د نوی پیدا شوي بچي په کیڼ غوږ کښې د اقامت ویل سنت دی او که نه؟ بینوا توجروا

جواب د کوچني په ښي غوږ کښې آذان او په کیڼ غوږ کښې د اقامت ویل سنت دی

عن حسین بن علی رضی الله تعالیٰ عنهما قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من ولد له مولود فاذن فی اذنه الیمنی واقام فی اذنه الیسری لم یضره ام الصبیان (عمل الیوم واللیلة لابن السنی والجامع الصغیر للسیوطی) وروی عن عمر بن عبدالعزیز رضی الله عنه انه کان یؤذن فی الیمنی ویقیم فی الیسری اذا ولد الصبی (شرح السنة) وقال الرافعی رحمه الله قال السندی رحمه الله فیرفع المولود عند الولادة علی یدیه مستقبل القبلة و یؤذن فی اذنه الیمنی و یقیم فی الیسری ویلتفت فیهما بالصلوة لجهة الیمین وبالفلاح لجهة الیسار وفائدة الاذان فی اذنه انه یدفع ام الصبیان عنه.(التحریر المختار ج۱،ص۴۵)

فقط والله تعالیٰ اعلم ۸ربیع الاول ۸۷ هجری

د حضرت بلال او ابن ام مکتوم د اذان تر منځ فاصله

سوال د حضرت بلال رضی الله عنه او حضرت ابن ام مکتوم رضی الله عنه د آذان تر منځ به بو اخې د را کښته کیدو او ختو فاصله وه. په ظاهره خو دا وخت ډیر مختصر دی نه دی کیږي چه په سپلمي کښې خوراک څنګه کیده؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب له (ینزل هذا ویصعد هذا) څخه مقصد دا دی چه د دغو حضراتو د اذان تر منځ به وخت ډیر که وو لکه څرنګه چه د دوو آذانونو تر منځ اوږد وخت وی د هغې په شان (فهو من قبیل تزوج زید فولد) د حضرت بلال له اذان څخه د صبح صادق د ... دی د ... ی چرته ...

مقصود وو ترڅو چه کوم حضرات په تهجد کښې مشغول دي هغه لږ آرام وکړي او ویده خلک را ویښ شي او د سهار لپاره تیار شي او څوک لږ نېستلمی یا لږ نفل ادا کول وغواړي هغه ئې ادا کړی شي

قال الحافظ العسقلانی رحمه الله والصبح یأتی غالباً عقب نوم فناسب ان ینصب من یوقظ الناس قبل دخول وقتها لیتأهبوا ویدرکوا الفضیلة اول الوقت (ثم نقل عن ابن التین) ان قوله ان بلالا یؤذن بلیل خبر یتعلق به فائدة للسامعین قطعا وذٰلک اذا کان وقت الآذان مشتبها محتملا لان یکون عند طلوع الفجر فبین ﷺ ان ذٰلک لا یمنع الاکل والشرب بل الذی یمنعه طلوع الفجر الصادق قال وهٰذا یدل علی تقارب وقت آذان بلال رضی الله عنه من الفجر انتهی ویقویه ایضاً ما تقدم من ان الحکمة فی مشروعیته التأهب لادراک الصبح فی اول وقتها. (فتح الباری ج۲، ص۸۷) وقال الحافظ العینی رحمه الله معزیا الی الکرمانی معناه انه انما یؤذن باللیل لیعلمکم ان الصبح قریب فیرد القائم المتهجد الی راحته لینام لحظة لیصبح نشیطا ویوقظ نائمکم لیتأهب للصبح بفعل ما اراده من تهجد قلیل او تسحر او اغتسال. قلت اولا یتار ان کان نام عن الوتر. (عمدة القاری ج۵، ص۱۳۴)

فقط والله تعالیٰ اعلم ۸ رمضان المبارک ۸۷ هجری

د نوي پیدا شوي بچي په غوږونو کښې د اذان په وخت کښې قبلې ته مخامخ والی او ښي او کیڼي خوا ته کتل سنت دي

سوال د بچي نر پیدا کېدو وروسته چه کوم آذان د شریعت له مخې ثابت دی هغه د کمیت او کیفیت له پلوه د لمانځه د آذان غوندي دی او که څه فرق ور سره لري؟ بینوا توجروا

جواب د کمیت له پلوه د لمانځه د آذان غوندي دی لیکن د کیفیت له پلوه په دې کښې د آواز لوړوالی نشته. د دې لپاره په غوږونو کښې د ګوتو نیول هم مسنون نه دي ځکه چه له دې څخه مقصد د آواز لوړوالی وی نور کیفیتونه لکه قبلې ته مخامخ والی. ښي او چپ طرف ته د مخ ګرځول. ترسل او داسې نور ئې د لمانځه د آذان غوندي د کوچنی په آذان کښې هم سُنت دي

عن ابی رافع رضی الله عنه قال رأیت رسول الله ﷺ اذن فی اذن الحسن بن علی حین ولدته فاطمة بالصلوٰة. قال علی القاری رحمه الله والمعنی اذن بمثل آذان الصلوٰة. (مرقاة ج۸ ص۱۵۹) وفی العلائیة ویلتفت فیه وکذا فیها مطلقا وقیل ان المحل مسعاً یمیناً ویساراً فقط لئلا یستدبر القبلة بصلوٰة وفلاح ولو وحده اولمولود لانه سنة الاذان مطلقاً وفی الشامیة (قوله مطلقاً) للمنفرد وغیره والمولود وغیره ط (رد المحتار ج۱ ص ۳۰۰) وقال الرافعی رحمه الله قال السندی رحمه الله فیرفع المولود عند الولادة علی یدیه مستقبل القبلة ویؤذن فی اذنه الیمنی

ويقيم في اليسرى ويلتفت فيهما بالصلوة لجهة اليمين وب الفلاح لجهة اليسار فائدة الأذان في اذنه انه يدفع ام الصبيان عنه. (التحرير المختار ج۱، ص۴۵)

فقط والله تعالیٰ اعلم ۷ محرم ۸۸ هجری

په اذان کښې دې درود شریف د رسالت د شهادت په ځای تر اذان وروسته وويل شي

سوال په آذان او اقامت کښې چه کله لفظ د اشهد انّ محمداً رسول الله واوري نو درود شریف به اوریدونکي باندې واجب ګرځي اوکه مستحب؟ بینوا توجروا

جواب په آذان او اقامت کښې د نبي کريم ﷺ له نوم مبارک سره درود شريف ويل نه منقول دي او نه معمول. بلکه د دې برعکس د نبي کريم ﷺ وينا ده چه تاسو هم هغه کلمات وايې کوم چه مؤذن ئې وائي. بيا تر آذان وروسته لومړی درود شريف ووايي او بيا دُعا

عن عبدالله ان عمرو بن العاص رضي الله عنه انه سمع النبي ﷺ يقول اذا سمعتم المؤذن فقولوا مثل ما يقول ثم صلوا علىّ فانه من صلى علىّ صلوة صلى الله عليه بها عشراً ثم سلوا الله لي الوسيلة فانه منزلة في الجنة لا تنبغي الا لعبد من عباد الله وارجو ان اكون انا هو فمن سأل لي الوسيلة حلت عليه الشفاعة. (مسلم ج۱، ص۱۶۶) واما ما قيل من انه يستحب ان يقول عند سماع الاولى من الشهادتين صلى الله عليك يا رسول الله الخ فلم يصح في المرفوع من كل هذا شئ كذا في الشامية معزيا الى الجراحي. (ردالمحتار ج۱، ص۴۰۰)

فقط والله تعالیٰ اعلم ۱۴ جمادی الآخر ۹۳ هجری

په جومات کښې تر جماعت وروسته د منفرد لپاره د اقامت ويل مکروه دي

سوال يو څوک چه له جماعت څخه پاتې وي او بيا جومات ته راشي او لمونځ ادا کوي آيا اقامت به وايي او که نه؟ د جومات او کور تر منځ فرق شته او که نه؟ په بهشتي زيور کښې نی اقامت ويل مکروه ليکلی دی. ليکن له دليل څخه يواځې د آذان کراهيت څرګنديږي. د بهشتي زيور عبارت دا دی "په کوم جومات کښې چه په آذان او اقامت سره جماعت شوی وی په هغه کښې که څرته يو څوک لمونځ ادا کوي نو آذان او اقامت ويل ورته مکروه دي" اصلي بهشتي ګوهر حصه ۱۱. ص ۲۵.

الجواب باسم ملهم الصواب په علائيه کښې ئې د اقامت په کراهت نه دې هم تصريح کړې ده قال فی شرح التنوير و کره ترکهما معاً لمسافر ولو منفرداً و کذا ترکها لا ترکه لحضور الرفقة بخلاف مصل ولو بجماعة فی بيته بمصر او قرية لها مسجد فلا يکره ترکهما اذا آذان الحی يکفيه او مصل فی مسجد بعد صلاة جماعة فيه بل يکره فعلهما. (ردالمحتار ج۱،ص۲۶۷)

فائده په جومات کښې د قضائي لمونځونو لپاره د آذان او اقامت د مکروه والي علت تشويش، تغلط او د ګناه اظهار دی. د دې لپاره علامه شامي رحمه الله له طحطاوي ځخه په پټه سره د آذان او اقامت نه مکروه والی نقل کړی دی ليکن د مسئوله صورت په اره علامه شامي رحمه الله دا تعليل او تصريح نه دی بيان کړی. له دې ځخه دېتېري چه دلته د کراهت علت تشويش او د ګناه ظهار نه دی دا علت خو له جماعت ځخه مخکښې هم موجود دی په داسې حال کښې چه په کراهيت کښې د بعد الجماعة قيد شته دلته د کراهت علت دا معلوميږي چه تر جماعت وروسته د همدې لمانځه لپاره د يواځې لمونځ کوونکي آذان او اقامت د جماعت د عظمت خلاف دی لهذا په پټه سره به هم مکروه وي البته تر جماعت مخکښې په جومات کښې به يواځې توګه د لمونځ کوونکي لپاره په آذان او اقامت کښې يواځې جهر به مکروه وي او په سراً کښې کراهيت نشته (لان العلة فيها هو التشويش. فقط والله تعالی اعلم).

د لمانځه لپاره د اذان او اقامت د مواقعو تفصيل

سوال د منفرد (يواځې لمونځ کوونکي) لپاره اقامت ويل سنت دي او که مستحب؟ همدارنګه که قضائي لمونځ وي نو اقامت به وايي او که نه؟ په جهر سره به ئې وايي او که په پټه؟ بينوا بالتفصيل واجرکم الجليل

الجواب باسم ملهم الصواب قال فی التنوير و هو سنة مؤکدة للفرائض فی وقتها و لو قضاءً و فی الشامية دخلت الجمعة بحر وشمل حالة السفر والحضر والانفراد والجماعة (الی قوله) لکن لا يکره ترکه لمصل فی بيته فی المصر لان اذان الحی يکفيه کما سيأتی وفی الامداد انه يأتی به ندباً. (ردالمحتار ج۱،ص۲۵۷) وفی التنوير و الاقامة کالاذان. (ردالمحتار ج۱،ص۲۶۰) وفی العلائية ويسن ان يؤذن ويقيم لفائتة رافعاً صوته لو بجماعة او صحراء لا ببيته منفرداً قال فی الشامية (قوله لو بجماع0) ای فی غير المسجد بقرينة ما يذکره قريبا من انه لا يؤذن فيه للفائتة ثم هذا القيد لقوله رافعاً صوته وقد ذکره فی البحر بحثا و قال لم اره فی کلام ائمتنا او استدل لرفع المنفرد فی الصحراء بحديث الصحيح اذا کنت فی غنمك او باديتك فاذنت للصلوة فارفع صوتك بالنداء

فانه لا یسمع مدی صوت المؤذن انس ولا جن ولا مدر الا شهد له یوم القیمة آه واقره فی النهر. اقول یخالفه ما فی القهستانی من انه یجب بحیث یلزم الجهر بالاذان لاعلام الناس فلو اذن لنفسه خافت لانه الاصل فی الشرع کما فی کشف المنار آه. علی ان ما استدل به یفید رفع الصوت للمنفرد فی بیته ایضاً لتکثیر الشهود یوم القیامة الا ان یقال المراد المبالغة فی رفع الصوت و المؤذن فی بیته یرفع دون ذلک فوق ما یسمع نفسه و علیه یحمل ما فی القهستانی فلیتأمل. (رد المحتار ج۱، ص۳۶۲) و فی شرح التنویر و لا فیما یقضی من الفوائت فی مسجد لان فیه تشویشاً و تغلیطاً و یکره قضاءها فیه لان التأخیر معصیة فلا یظهرها بزازیة. و فی الشامیة (قوله لان فیه تشویشاً الخ) انما یظهر ان لو کان الآذان لجماعة و اما اذا کان منفرداً و یؤذن بقدر ما یسمع نفسه فلا. و فی الامداد انه اذا کان التفویت لامر عام فالآذان فی المسجد لا یکره لانتفاء العلة کفعله ﷺ لیلة التعریس آه لکن لیلة التعریس کانت فی الصحراء لا فی المسجد. (رد المحتار ج۱، ص۳۶۳) و فیه و کره ترکهما معاً لمسافر و لو منفرداً و کذا ترکها لا ترکه لحضور الرفقة بخلاف مصل و لو بجماعة فی بیته بمصر او قریة لها مسجد فلا یکره ترکهما اذا اذان الحی یکفیه. قال فی الشامیة (قوله لمسافر) ای سفراً لغویا او شرعیاً کما فی ابی السعود ط (قوله و لو منفرداً) لانه ان اذن و اقام صلی خلفه من جنود الله ما لا یری طرفاه رواه عبد الرزاق الخ. (قوله لا ترکه) الظاهر ان المراد نفی الکراهة الموجبة للاساءة و الا فقد صرح فی الکنز بعد ذلک بندبه للمسافر و للمصلی فی بیته فی المصر الخ. (قوله اذا اذان الحی یکفیه) لان اذان المحلّة و اقامتها کاذانه و اقامته لان المؤذن نائب اهل المصر کلهم (الی قوله) و ظاهره انه اذان الحی و اقامته و ان کانت صلوته فی اخر الوقت تأمل و قد علمت تصریح الکنز بندبه للمسافر و للمصلی فی بیته فی المصر فالمقصود من کفایة اذان الحی نفی الکراهة المؤثمة. (رد المحتار ج۱، ص۳۶۷)

له پورتني عبارتونو څخه لاندیني امور ثابت شول

۱ آذان او اقامت د هر فرض لمانځه لپاره سنت مؤکد دی که هغه د وخت لمونځ وي او که قضائي، مسافر وي که مقیم. له جماعت سره وي او که منفرد

۲ که څوک په کور کښې یو څوک په جماعت سره یا په منفرد توګه لمونځ کوي او د کلي په جومات کښې آذان او اقامت شوی وي نو په کور کښې آذان او اقامت مستحب دی لیکن په منفرد توګه د لمانځه دا دواړه کول په صورت کښې په آذان په زوره آواز سره نه کوي

۳ که څوک د ځنګل په منځ کښې په منفرد توګه لمونځ کوي که په جومات کښې وي نو آذان او اقامت به په سره وایي یو خو د قضائي لمانځه ظهر او په ...

چه د معصیت یعني ګناه اظهار هم ګناه دی

۴ - که چیرته د کومې عامې حادثې له وجې د ټولو لمونځ قضاء شوی وي نو د هغه لپاره دې آذان او اقامت په لوړ آواز سره وویل شي اګرکه په جومات کښې وي

۵ - په سفر کښې که چیرته ټول ملګري حاضر وي نو آذان مستحب دی او اقامت سنتِ مؤکد دی د اقامت پریښودل مکروه دي نه د آذان سفر عام دی که شرعي وي یا لغوي له دې څخه ثابته شوه چه په سفر کښې د منفرد لپاره آذان سنت مؤکد نه دی بلکه مستحب دی

فقط و الله تعالی اعلم ۲۶ محرم ۸۸ هجری

له اذان پرته د جماعت د ادا کولو حکم

سوال که چیرته له آذان پرته په جومات کښې یا له جومات څخه د باندې د جماعت لمونځ وشي نو آیا لمونځ کیږي او که کوم فساد پکښې راځي؟ او که چیرته له وخت څخه مخکښې آذان وکړي نو د دې څه حکم دی؟ په عمومي توګه د سهار آذان په نقشه کښې د صبح صادق د لیکل شوي وخت څخه فوراً وروسته ورکول کیږي حالانکه له مشاهدې څخه دا ثابته ده چه دا وخت صبح صادق نه وي را بر شوی آیا دا خبره صحیح ده؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب لمونځ خو کیږي لیکن د سنت مؤکده د پریښودلو په سخته ګناه وي البته که چیرته د همدې ښار په یوه جومات کښې آذان شوی وي او دې خلکو اوریدلی وي نو د آذان په پریښودو سره نه ګنهګاریږي.

قال فی شرح التنویر و هو سنّة للرجال فی مکان عال مؤکدة هی کا لواجب فی لحوق الاثم و قال ابن عابدین رحمه الله قال فی النهر و لم ار حکم البلدة الواحدة اذا اتسعت اطرافها کمصر و الظاهر ان اهل کلّ محلّة سمعوا الأذان ولو من محلّة اخری یسقط عنهم لا ان لم یسمعوا آه. (ردالمحتار ج۱، ص۲۵۶)

تر څو پورې چه د سهار د کیدو یقین نه وي تر هغو پورې آذان صحیح نه دی که چیرته د آذان یوه کلمه هم تر وخت مخکښې وویل شي نو د ټول آذان بیرته را ګرځول لازم دي

قال فی العلائیة فیعاد اذان وقع بعضه قبله کالاقامة خلافاً للثانی فی الفجر. وفی الشامیة هذا راجع الی الآذان فقط فان ابایوسف یجوز الآذان قبل الفجر بعد نصف اللیل ح. (ردالمحتار ج۱، ص۲۵۸) فقط والله تعالی اعلم

۲۹ ذی القعدة ۸۸ هجری

د اذان او اقامت لپاره هیڅ ځای متعین نه دی

سوال نوښنه دا ده چه نن د ساج کمنی په جومات کښې د مؤسسین د لمانځه په وخت کښې طرف نه اقامت وویل شو چه خو کسانو اعتراض پرې وکړ او څو کسانو خو داسې هم وویل چه

لمونځ به وشو او د مسائل د خلکو له خانه جوړې کړي مسائل دی مهربانی وکړی له صحیح مسئلي څخه مو خبر کړی د آذان به اړه هم که چیرته په کیڼ طرف کښې ادا شي نو صحیح به وی او که نه؟ چیرته مهربانی به مو وی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د اقامت لپاره کوم خاص ځای نه دی ټاکل شوی لهذا کښی خوا ته د اقامت به ویلو باندي اعتراض او په ښي طرف باندې ئې د کولو اصرار ټول بدعت او په دین کښې زیاتوالی دی په خصوصی توګه چه کومو خلکو دا فتوی ورکړي ده چه لمونځ و نه شو به هغو باندی توبه لازمه ده همدارنګه د آذان لپاره هم کوم خاص ځای نه دی ټاکل شوی له جومات څخه د باندی که ښی خوا ته وي او که کیڼي خوا ته فقط والله تعالیٰ اعلم ۱۱ جمادی الثانی ۸۸ هجری

ښځه دې بې له اقامته لمونځ وکړي

سوال ښځه که چیرته تو څي لمونځ کوی با که د ښځو جماعت وي نو به هغي کښي د دوی لپاره اقامت شته او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب ښځه دی له قامت پرته لمونځ کوي د ښځو جماعت مکروه تحریمی دی سره له دې که چیرته دوی جماعت وکړي نو اقامت پکښي نشته

قال فی العلائیة ولا یسن ذلك فیما تصلیه النساء اداء وقضاء ولو جماعة كجماعة صبیان وعبید وقال ابن عابدین رحمه الله وكان الاولی للشارح ان یقول ولو منفردة لان جماعتهن الآن غیر مشروعة فتفطن. (ردالمحتار ج۱،ص۲۶۳)

فقط والله تعالیٰ اعلم ۱۱ رجب ۸۹ هجری

په اُجرت باندې د اذان او امامت ثواب ورکول کیږي او که نه؟

سوال د آذان او امامت د اجرت اخیستلو خو متاخرینو اجازه ورکړې ده لیکن آیا د آذان ورکولو او امامت کولو ثواب ورکول کیږي او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د ثواب حاصلیدل د کار کوونکي تر نیت پورې اړه لري که چیرته ئې نیت بواخی د پیسو لاس ته راوړل وي نو ثواب نه ورکول کیږی او که نیت ئې د عبادت وی لیکن د ضرورت له وجی اجرت قبلوی نو ثواب هم ورکول کیږی

فقط والله تعالیٰ اعلم ۲۴ صفر ۸۹ هجری

د اذان په وخت کښې چپ اوغلی اوسیدل مستحب دي

سوال د آذان په وخت کښی د دنیوی خبرو څنګه دی؟ آیا مکروه دی او که نه؟ بینوا توجروا

جواب د آذان په وخت کښی غلی اوسیدل مستحب دی له دی وجی له ضرورت پرته خبری نه

خوک و نه کړي

قال ابن عابدين رحمه الله تحت (قوله لا يرد السلام) قال في المعراج وفي التحفة وينبغي للسامع ان لا يتكلم و لا يشتغل بشئ في حالة الأذان والاقامة ولا يرد السلام ايضاً لان الكل يخل بالنظم آه اقول يظهر من هذا ان قوله لا يرد السلام ليس للوجوب وانه يتفرع على القولين (وجوب اجابة الاذان وندبها) والالزم وجوب ذلك في الاقامة مع ان اصل اجابة الاقامة مستحبة الخ. (ردالمحتار ج۱ ص۲۶۱)

فقط والله تعالى اعلم غره جمادى الاولى ۸۹ هجرى

د اذان په وخت په غوږونو کښې د ګوتو د نه نیولو حکم

سوال ۱ آیا د آذان ورکوونکي لپاره ضروري دي چه د آذان ورکولو په وخت غوږونو ته ګوتې واچوي؟ آیا داسې کول سُنت دي؟

۲ که چېرته مؤذن د آذان کولو په وخت کښې ګوتې غوږونو ته ور نه وړي بلکه بواخې لاس پرې کیږدي نو صحیح به وي او که نه؟

۳- که چیرته مؤذن د آذان ورکولو په وخت لاسونه خلاص و نیسي نو صحیح به وي او که نه؟ نن صبا اکثره لاسپیکر استعمالیږي که چېرته غوږونو ته ګوتې ور نه وړي نو څه پروا لري؟

٤- غوږونو نه د مؤذن ګوتو په نه وروړلو باندې به هغه باندې حمله کول. بنکنځ کول او سخت مخالفت کول شرعاً جائز دي او که نه؟ او د داسې خلکو په اړه څه حکم دی؟ بینوا توجروا

جواب ۱- د آذان په وخت کښې غوږونو ته د ګوتو وروړل مستحب دي. ضروري نه دي

۲ په دواړو غوږونو ب بوه غوږ باندې د لاس کیښودلو باندې هم دا استحباب ادا کیږي

۳- که چېرته لاس همداسې خلاص ونیسي او آذان وکړي نو بیا هم هیڅ پروا نه لري. په غوږونو باندې د لاس نیولو حکمت دا دی چه آواز لرې لوړیږي د لاسپیکر په صورت کښې د دې حاجت نشته سره له دې د تشبّه په غرض سره په غوږونو کښې ګوتې ورکول بهتر دي

قال في شرح التنوير ويجعل ندباً اصبعيه في صماخ اذنيه فأذانه بدونه حسن وبه احسن وفي الشامية (قوله و يجعل اصبعيه الخ) لقوله ﷺ لبلال رضي الله عنه اجعل اصبعيك في اذنيك فانه ارفع لصوتك وان جعل يديه على اذنيه و كذا احدى يديه على ماروى عن الامام امداد وقهستاني عن التحفة. (قوله فأذانه) تفريع على قوله ندباً قال في البحر والامر اى في الحديث المذكر للندب بقرينة التعليل فلذا لو لم يفعل كان حسناً فان قيل ترك السنة كيف يكون حسناً قلنا ان الآذان معه احسن فاذا تركه بقي الآذان حسناً كذا في الكافي آه فافهم. (ردالمحتار ج۱ ص۲۶۰)

۶ په دې فعل باندې مؤذن مجبورول او د هغه بې عزتي کول کبیره ګناه ده. په حاکم باندې لازم دي چه داسې جاهلانو ته سخته سزا ورکړي تر څو چه په رانلونکي کښې دا ډول ظلم او لویه ګناه و نه کړي

فقط والله تعالی اعلم ۱۷ جمادی الآخر ۸۹ هجری

د اذان په کلماتو کښې وړاندې والی او وروسته والی

سوال که چېرته مؤذن آذان یا اقامت غلط ووائي مثلاً حیّ علی الفلاح تر حیّ علی الصلوٰة مخکښې ووائي نو د آذان بېرته را ګرځول سنت دي او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د حیّ علی الفلاح د مخکښې ویلو په صورت کښې دې تر حیّ علی الصلوة وروسته بیا حیّ علی الفلاح ووائي د ټول آذان بېرته را ګرځول پرې نشته

قال فی شرح التنویر ولو قدم فیهما مؤخراً اعادما قدم فقط. وفی الشامیة کما لو قدم الفلاح علی الصلوة یعیده فقط ای ولا یستأنف الآذان من اوله. (ردالمحتار ج۱، ص۳۶۱)

فقط والله تعالی اعلم ۲۳ رجب ۸۹ هجری

که چېرته د اذان کومه کلمه پاتې شي نو څه به کوي؟

سوال په آذان او اقامت کښې که چېرته کوم لفظ نه هېره پاتې شي او تر آذان او اقامت وروسته ور په یاد شي نو آذان او اقامت هم هغه کافي دی او که به ئې بېرته را ګرځوي؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب که چېرته تر آذان او اقامت فوراً وروسته ور په یاد شي نو چه کومه کلمه پاتې شوې وي له هم هغه ځایه دې بېرته له سره ووائي او که چېرته څه وخت وروسته ور په یاد شي نو بیا دې ټول له سره سرته را ګرځوي

قال فی العلائیة ویترسل فیه بسکتة بین کل کلمتین ویکره ترکه وتندب اعادته. (ردالمحتار ج۱، ص۳۵۹)
ثم قال ولو قدم فیهما مؤخراً اعادما قدم فقط ولا یتکلم فیهما اصلا ولو رد سلام فان تکلم استأنفه وفی الشامیة (قوله اعادما قدم فقط) کما لو قدم الفلاح علی الصلوة یعیده فقط ای ولا یستأنف الآذان من اوله (قوله استأنفه) الا اذا کان الکلام یسیراً خانیة. (ردالمحتار ج۱ ص۳۶۱)

په دغو عبارتونو کښې د صفت له نقص څخه د سرته راګرځولو حکم مذکور دی نو د ذات د نقص په صورت کښې به په طریقهٔ اولی سره سرته راګرځول کېږي

فقط والله تعالی اعلم ۱۰ صفر ۹۱ هجری

که چيرته الصّلوٰةُ خَيرٌمِّنَ النّوم پاتې شي نو څه به کوي؟

سوال د سهار په آذان کښې که چيرته الصلوٰة خير من النوم ويل د چا هير شي نو آيا آذان وشو او که دوباره به ئې کوي؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د سهار په آذان کښې د الصلوٰةُ خير مّنَ النّوم ويل سنت مؤکد نه بلکه مندوب دي. له دې ځنه څرګنديږي چه که چيرته تر آذان فوراً وروسته ور په زړه شي نو بهتره دا ده چه د دې کلمانو په ويلو سره تر دوی وروسته نور کلمات هم له سره ووائي او که چيرته ئې وروسته ور په زړه شي نو بيا دې نه را ګرځوي

قال فی شرح التنوير و يقول ندباً بعد فلاح اذان الفجر اَلصَّلوٰةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ مرّتين و قال ابن عابدين رحمه الله فيه رد على من يقول ان محلّه بعد الآذان بتمامه و هو اختيار الفضل بحر عن المستصفى. (رد المحتار ج۱،ص۳۶۰)　　　　فقط والله تعالى اعلم　　　　۱۵ رجب ۹۶ هجری

که چيرته د اذان په کلماتو کښې توقف و نه شي نو اعاده مستحبه ده

سوال په آذان کښې ترسل او په اقامت کښې حدر مسنون دی د دې سنت په ترک سره د آذان او اقامت بيرته را ګرځول شته او که نه؟ بينوا توجروا

جواب د آذان تر هر کلمې وروسته دومره توقف (دربدل با ختم کول) چه په هغه کښې ځواب ورکوونکی ځواب ورکړی شي مسنون دی، د دې سنت پرېښودل مکروه دی او په دې صورت کښې د آذان بيرته را ګرځول مستحب دي د اقامت په کلماتو کښې سنت دا دی چه توقف و نه کړي بلکه زر زر دې وائي لېکن په اقامت کښې د دې سنت په پرېښودو سره اعاده مستحبه نه ده

قال فى العلائية ويترسل فيه بسكتة بين كل كلمتين ويكره تركه وتندب اعادته ثم قال ويحدر فيها فلو ترسل لم يعدها فى الاصح وفى الشامية بخلاف ما لو حدر فى الآذان حيث تندب اعادته كما مرّ لان تكرار الاذان مشروع اى كما فى يوم الجمعة بخلاف الاقامة وعليه لما فى الخانية من انه يعيد الاقامة مبنى على خلاف الاصح و تمامه فى النهر. (ردالمحتار ج۱،ص۳۶۱)　　　　فقط والله تعالى اعلم　　　　۸ ربيع الآخر ۹۹ هجری

تر اذان مخکښې د اعوذ با لله او بسم الله ويلو حکم

سوال تر اذان مخکښې د اعوذ بالله او بسم الله الخ په ښه ب ه زوره ويل جائز او مسنون دی او که نه؟ بينوا توجروا

جواب د دې هيځ ثبوت نشته د دې له پاره دې اعوذ بالله او بسم الله الخ نه په ښه وئي و نه په

زوره فقط و الله تعالی اعلم ٤ ذی الحجة ۸۹ هجری

د فاسق اذان او اقامت دواړه مکروه تحریمي دي

سوال د فسق د آذان او اقامت ورکولو حکم څه دی؟ آیا بیرته را ګرځول ئې ضروري دي او که نه؟ بینوا توجروا

جواب د فاسق آذان او اقامت مکروه تحریمي دي د آذان بیرته را ګرځول مستحب دي لیکن د اقامت نه

قال فی شرح التنویر ویکره آذان جنب واقامته واقامة محدث لا اذانه علی المذهب وامرأة وفاسق (الی قوله) ویعاد اذان جنب ندباً وقیل وجوباً لا اقامته لمشروعیة تکراره فی الجمعة دون تکرارها وقال فی الشامیة تحت (قوله ویکره آذان جنب) وظاهره ان الکراهة تحریمیة بحر. (قوله ویعاد اذان الجنب الخ) زاد القهستانی والفاجر والراکب والقاعد والماشی والمنحرف عن القبلة وعلل الوجوب فی الکل بأنه غیر معتد به والندب بأنه معتد به الا انه ناقص قال وهو الاصح کما فی التمرتاشی. (ردالمحتار ج۱ ص۲٦۵)

فقط والله تعالی اعلم ۲ محرم ۹۰ هجری

د ږیرې د خریونکي اذان او اقامت دواړه مکروه تحریمی دي

سوال د ږیرې د خریونکي او انګریزي ویښتو د بربنډونکي سړي آذان او اقامت صحیح دی او که نه؟ بینوا توجروا

جواب د ږیرې د خریونکی یا لنډوونکی او انګریزي ویښتو بربنډونکی فاسق دی د دې لپاره د داسې سړي آذان او اقامت مکروه تحریمي دی د آذان بیرته را ګرځول مستحب دي لیکن د اقامت مستحب نه دی

قال فی التنویر ویکره آذان جنب واقامته واقامة محدث لا آذانه وامرأة وفاسق (الی قوله) ویعاد آذان جنب لا اقامته وفی الشرح ندباً وفی الحاشیة زاد القهستانی والفاجر الخ. (ردالمحتار ج۱ ص۲٦۵)

فقط والله تعالی اعلم ۱٤ جمادی الثانی ۹۱ هجری

سود خور او ږیرې خریونکی او لنډونکي اذان نه شي ورکولی

سوال څه فرمائي د دین علماء کرام او د شرح متین مفتیان کرام د دې مسئلې په باره کښې چه زید او عمر دواړه لمونځ ګذاره دی. عمر حاجی دی او زید حاجی نه دی زید ږیره خریي او عمر ئې نه خریي لیکن سود خور دی په ډاک خانه کښې روپۍ جمع کوی او بیا ئې سود اخلي او پس په

دغو دواړو کښې د آذان لپاره کوم يو بهتر دى؟ يو مولوي صاحب وائي چه زبد بهتر دى هغه اګر که فاسق دى ليکن سود قطعي حرام دى په داسې حال کښې چه څو څو خلى ورته وېل شوي هم دي خو بيا هم سود خوري نو خکه د ده آذان بهتر نه دى اوس پوښتنه دا ده چه د کوم يوه آذان بهتر دى؟ د کتابونو په حوالې سره څواب وليکى؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دواړه فاسقان دي. د دې لپاره په دواړو کښې يوه ته هم د آذان ورکولو اجازه نشته د دواړو ګناهونه ډېر لوى دي د سود لعنت خو ښکاره دى همدارنګه د ږيرې خريل او لنډول هم ډېره لويه ګناه ده بلکه دا په علانيه سره د مطهره شريعت توهين دى. د نبي کريم ﷺ وينا ده چه په ښکاره يا علانيةً سره ګناه کونکى د عفو لائق نه دى (کل امتي معافى الا المجاهرين) حضرات فقهاء کرام رحمهم الله فرمايي په رمضان شريف کښې په ښکاره خوړونکى واجب القتل دى. د ږيرې خريونکى او لنډوونکى خو په رمضان شريف کښې د ښکاره خوړونکي نه هم زيات مجرم دي د خوراک کوونکي لره خو يو څو کسان وينې او هغه هم په يوه وخت کښې. ليکن د ږيرې خريونکى يا لنډوونکى دومره بې حياء دى چه هميشه شپه او ورځ د ټولو له مخې له شريعت څخه دبغاوت اوسرکشى اظهارکوي الله تعالى دى مونږ ته د آخرت وېره را په برخه کړي آمين

فقط و الله تعالى اعلم ۲۵ محرم ۹۸ هجرى

د اذان په وخت کښې د تلاوت پرېښودل مستحب دي

سوال د تلاوت په دوران کښې که چېرته آذان شروع شي نو په تلاوت باندې مشغوله پاتې کېدل صحيح دي او که تلاوت پرېښودل او آذان ته غوږ نيول. او له آذان نه وروسته بيا تلاوت شروع کول؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب مستحبه دا ده چه تلاوت پرېښودل شي او د آذان خوا ته سړى متوجه شي او د هغه ځواب ورکړي

نقل العلاء رحمه الله عن النهر معزيا الى المحيط و غيره انه لا يرد السلام و لا يسلم و لا يقرأ بل يقطعها و يجيب ولا يشتغل بغير الاجابة وقال ابن عابدين رحمه الله فى المعراج و فى الحفة وينبغى للسامع ان لا يتكلم و لا يشتغل بغير الاجابة وقال ابن عابدين رحمه الله فى المعراج وفى التحفة وينبغى للسامع ان لا يتكلم ولا يشتغل بشئ فى حالة الأذان و الاقامة و لا يرد السلام ليس للوجوب و انه يتفرع على القولين (وجوب اجابة الأذان و ندبها) والالزم وجوب ذلك فى الاقامة مع ان اصل اجابة الاقامة مستحبة الخ. (رد المحتار ج۱، ص۳۶۱)

فقط والله تعالى اعلم ۲۰ شوال ۹۲ هجرى

د نابالغ هلک اذان د اولی خلاف دی

سوال د نابالغ هلک کوم چه د آذان کلمات صحیح ادا کوي آذان ئې د فقهې له مخې خو جائز دی لیکن پوښتنه دا ده چه د هغه له اجازې پرته چه بالغ سړی اقامت ووائي نو جائز به وي او که نه؟ ځکه چه که چیرته دی پخپله اقامت ووائي نو د صف په منځ کښې د ده په دریدو سره د صف انقطاع (پریکړون) راځي نو آیا د دې نابالغ مؤذن اقامت ویل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په سوال کښې څو خبرې اصلاح غوښتونکي دي

۱- د بالکل ناپوهه هلک آذان صحیح نه دی، او د پوه هلک آذا د اولی خلاف دی

۲- د اقامت لپاره د لومړي صف ځانګړتیا وجود نه لري له دې امله هلک چه شا ته ولاړ هم وي بیا هم اقامت ویلی شي

۳- د اقامت د ویلو لپاره له مؤذن څخه د اجازې اخیستل کومه ضروري خبره نه ده بلکه یواځې بهتري لري

۴- پوه هلک چه کله د لویانو په صف کښې ودریږي نو د صف انقطاع نه راځي یواځې د بهتري یا اولی خلاف دی هغه په هغه صورت کښې چه څو هلکان وي. که چیرته هلک یو وي نو هغه ته د لویانو په صف کښې دریدل لازم دي

لنډه دا چه د نابالغ په آذان باندې په سوال کښې یاد شوي اشکالات نه واردیږي البته پوښتنه پیدا کیږي چه په دې صورت کښې بهتره طریقه کومه یوه ده؟ اقامت هم که چیرته همدغه نابالغ ووائي یا کوم بالغ اقامت ووائي؟ د بنده په خیال کښې د بالغ اقامت ترجیح لري فقط و الله تعالی اعلم

۲۵ جمادی الاولی ۹۱ هجری

د یوه سړي په دوو جوماتونو کښې د اذان ورکولو حکم

سوال یو مؤذن په دوو جوماتونو کښې په یوه وخت آذان ورکولی شي او که نه؟ بینوا توجروا

جواب د یوه سړی لپاره په یوه وخت کښې په دوو جوماتونو کښې آذان ورکول مکروه تحریمي دي که دا سړی د کوم جومات مؤذن وی او که نه؟

قال فی العلائیة یکره له ان یؤذن فی مسجدین و فی الشامیة لانه اذا صلی فی المسجد الاول یکون متنفلاً بالاذان فی المسجد الثانی یصلی النافلة فلا ینبغی ان یدعو الناس الی المکتوبة و هو لا یساعدهم فیها آه. بدائع الصنائع (رد المحتار ج۱ ص ۲۶۲)

فقط والله تعالی اعلم ۲۹ جمادی الاولی ۹۲ هجری

په اذان کښې د "الله" د لفظ زبات اوږدول غلط دی

سوال نن صبا آذانونه په عمومي توګه په داسې ډول وي چه د الله او اله لفظ ښه زبات اوږدوي او نور کلمات هم په همدې ډول اوږدوي نو آیا داسې کول جائز دي؟ بینوا توجروا

جواب د الله او اله د لفظ لام د یوه الف له اندازې ځخه زبات اوږدول غلط دي

قال ابن عابدين رحمه الله ان المد ان كان في الله فاما في اوله او وسطه او آخره. (الى قوله) وان كان في وسطه فان بالغ حتى حدث الف ثانية بين اللام والهاء كره قيل والمختار انها لا تفسد وليس ببعيد. (ردالمحتار ج١ ص٣٦٨) همدا ډول په الصَّلٰوة خَيْرٌمِّنَ النَّوم کښې د الصلوة لام له یوه الف ځخه زبات اوږدول غلط دی

فقط و الله تعالى اعلم ٢٠ شوال ٩٢ هجری

نور تحقيق په تتمه کښې دی.

د تر وخت مخکښې اذان بیرته راګرځول ضروري دي

سوال یوه سړي د سهار آذان د وخت له شروع کولو ځخه مخکښې ورکړ او څه الفاظ ئې په وخت کښې د ننه ادا کړ نو آیا داسې آذان به بیرته راګرځوي او که څنګه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب که چیرته د آذان یوه کلمه هم له وخت ځخه مخکښې ادا سوې نو ټول آذان راګرځو ضروري دي

قال في العلائية فيعاد آذان وقع بعضه قبله كالاقامة خلافا للثاني في الفجر وفي الشامية (قوله خلافا للثاني) هنا راجع الى الآذان فقط فان ابا يوسف رحمه الله يجوز الآذان قبل الفجر بعد نصف الليل. (رد المحتار ج١ ص٢٥٨) فقط والله تعالى اعلم ١٥ رجب ٩١ هجری

د تهجدو لپاره اذان منسوخ دی

سوال د تهجد لپاره آذان مسنون دی او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب حضرت بلال رضی الله عنه له صبح صادق ځخه مخکښې آذان کولو تر څو چه په تهجد کښې مشغول خلک خپل ځان ته آرام ورکړي او ویده خلک ... سحري وکړي. لیکن وروسته دا آذان منسوخ سو. د دې لپاره صحابه کرامو رضی الله عنهم په دې سنتې عمل نه دی کړی

قال ابن نجيم رحمه الله وعند ابي حنيفة ومحمد رحمهما الله تعالى لا يؤذن في الفجر قبله لما روى انه عليه الصلوة والسلام قال يا بلال لا تؤذن حتى يطلع الفجر قال في الامام رجاله ثقات. (البحر الرائق ج١ ص٢٦٣) واخرج الامام ابو جعفر الطحاوي رحمه الله عن ابراهيم قال شيعنا علقمة الى مكة فخرج بليل

فسمع مؤذنا يؤذن بليل فقال اما هذا فقد خالف سنة اصحاب رسول الله ﷺ لو كان نائماً كان خيراً له فاذا طلع الفجر اذن قال الطحاوي رحمه الله فاخبر علقمة ان التأذين قبل طلوع الفجر خلاف لسنة اصحاب رسول الله ﷺ . (شرح معاني الآثار ج۱ ص۹۶)

فقط والله تعالی اعلم ۲۱ رمضان ۹۶ هجری

تر اذان وروسته له جومات څخه د تللو حکم

سوال تر آذان وروسته پرته له کوم شرعي عذر څخه له جومات څخه وتل څنګه دي؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب کوم سړی چه د جومات په حدودو کښې د ننه وی د هغه لپاره تر آذان وروسته پرته له کوم سخت ضرورت څخه وتل مکروه دي البته که چيرته بيرته د راتللو او به جومات کښې د لمانځه د ادا کولو اراده ولري نو بيا ئې وتل پرته له کراهيت جائز دی که چيرته د جومات له شرعي حدودو څخه د ننه دی وي يا به جومات کښې د ننه يواځې وی نو بيا هم تلل پرته له کراهت څخه جائز دی

فقط و الله تعالی اعلم ۱۱ ذی قعده ۹۶ هجری

په ګڼو اذانونو کښې به سړی د کوم يوه ځواب ورکوي؟

سوال که چيرته له څو جوماتونو څخه د آذان آوازونه اوريدل کيده نو د کوم جومات د آذان ځواب به ورکوی؟ آيا يواځې د خپل کلي د جومات ځواب ورکول کافي دي؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب بهتره دا ده چه د ټولو آذانونو ځواب ورکړي. که چيرته به دي کښې تکلف وی نو د لومړی آذان زيات حق دی د هغه ځواب دی ورکړي که د خپله کلي د جومات آذان وی او که د بل ځای

قال في العلائية ولو تكرر اجاب الاول وفي الشامية سواء كان مؤذن مسجده او غيره بحر عن الفتح بحثا (الى قوله) و يظهر ان اجابة الكل بالقول لتعدد السبب وهو السماع كما اعتمده بعض الشافعية. (ردالمحتار ج۱ ص۲۰۹)

فقط والله تعالی اعلم ۱۲ ربيع الآخر ۹۹ هجری

نور تحقيق به تتمه کښې دی

که چيرته له اذان سره يو ځای جواب و نه ويل شي نو بيا دې وروسته ورکړي

سوال [illegible]

جواب که چيرته [illegible]

قال في العلائية ولو سمعه [illegible] وينبغي تداركه ان قصر الفصل وفي الشامية (قوله [illegible]

البحث لصاحب البحر وصرح بہ ابن حجر فی شرح المنهاج حیث قال فلو سکت حتی فرغ کل الاذان ثم اجاب قبل فاصل طویل کفی فی اصل سنۃ الاجابۃ کما هو ظاهر آہ. (ردالمحتار ج۱،ص۳۶۹)

فقط واللہ تعالیٰ اعلم ۱۳ ربیع الآخر ۹۹ ھجری

د نفل کوونکي اقامت مکروه دی

سوال یوه سړي که چیرته فرض ادا کړی وي او بیا له جماعت سره نو ځای ښي نو آیا اقامت ویلی شي او که نه؟ بینوا توجروا

جواب له لاندیني عبارت څخه څرگندیږي چه د نفل کوونکي اقامت مکروه دی

قال فی العلائیۃ یکره لہ ان یؤذن فی مسجدین و فی الشامیۃ لانہ اذا صلی فی المسجد الاول یکون متنفلاً بالاذان فی المسجد الثانی والتنفل بالاذان غیر مشروع ولان الاذان للمکتوبۃ وهو فی المسجد الثانی یصلی النافلۃ فلا ینبغی ان یدعوا الناس الی المکتوبۃ وهو لا یساعدهم فیها آہ. بدائع (ردالمحتار ج۱،ص۳۶۲)

فقط واللہ تعالیٰ اعلم ۱۳ ربیع الاول ۹۵ ھجری

په لاسپیکر باندې په اذان ورکولو کښې هم ښی او کیڼې خوا ته کتل سنت دي

سوال په لاسپیکر باندې د آذان ورکولو په وخت ښی او کیڼې خوا ته مخ گرځول ضروري دي او که نه؟ بینوا توجروا

جواب د حی علی الصلوة او حی علی الفلاح ویلو په وخت کښې ښی او کیڼې خوا ته کتل په آذان او قامت کښې په هر حال سنت دي، تر دې پورې چه د کوچني په غوږ کښې د آذان ورکولو په وخت هم ښی او کیڼې خوا ته کتل سنت دي. په لاسپیکر باندې د آذان کولو هم همدغه حکم دی

فقط و اللہ تعالیٰ اعلم ۲۹ ربیع الآخر ۹۷ ھجری

په اقامت کښې هم ښی او کیڼې خوا ته کتل سنت دي

سوال د آذان غوندی به اقامت کښې د حی علی الصلوة او حی علی الفلاح ویلو په وخت کښې ښی او کیڼې خوا مخ گرځول سنت دي او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب هو، په اقامت کښې هم سنت دی

فقط واللہ تعالیٰ اعلم ۱۳ ربیع الآخر ۹۹ ھجری

په ریل ګاډي کښې د اذان د ورکولو حکم

سوال په ریل ګاډي کښي که جیرته په جماعت سره لمونځ ادا شي نو آیا آذان ورته سنت دی او که نه؟ که چیرته سنت وي نو په هرې خانې با ډبې کښې ئې خان خان ته آذان مستحب دی او که د بوې خانې یا ډبې آذان د ټول ریل ګاډي د خلکو لپاره به کافي وي؟ که ئې د نورو ډبو خلک واوري او که ئې وا نه وري؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب سفر که شرعي وی یا لغوي چه ټول ملګري یو ځای وي نو آذان کول مستحب دي. او اقامت سنت مؤکد دی په سفر کښې د یواځې لمونځ کولو هم همدغه حکم دی د ریل په خانه یا ډبه کښې لکه څرنګه چه خلک یو ځای وي د دې لپاره که یواځې لمونځونه کوي او که په جماعت سره په دواړو صورتونو کښې آذان مستحب دی او اقامت سنت مؤکد دی په روان ریل ګاډي کښې د یوې خانې مسافرین د بلې خانې له مسافرینو سره هیڅ ډول تعلق نه لري نو ځکه په هرې ډبې کښې به مستقل آذان او اقامت کیږي اګر که دویمې ډبې ته د آذان آواز رسیدلی وي

فقط و الله تعالی اعلم ۲۸ صفر ۹۸ هجری

د جومات په داخل کښې د اذان ورکولو حکم

سوال په بهشتي ګوهر کښې لیکلي دي چه د جومات په دننه کښې آذان ورکول مکروه تنزیهي دي او نوره تشریح ئې نه ده لیکلې. د مهربانۍ له مخې د دې له تشریح او تفصیل څخه مو خبر کړی چه د مکروه والي سبب څه دی؟ بینوا توجروا

جواب په بهشتي ګوهر کښې مسئله صحیح لیکل شوې ده. په جومات کښې آذان ورکو د اولی خلاف دی ځکه چه له آذان څخه مقصد دا دی چه تر ټولو زیات خلک په دې خبر شي چه د جماعت لمونځ کیدونکی دی او ښکاره خبره ده چه د جومات په دننه کښې د آذان په ورکولو سره آواز دومره لرې نه ځي څومره چه د جومات له باهر څخه په یوه لوړ ځای باندې د آذان په ورکولو سره ځي

قال فی الهندیة وینبغی ان یؤذن علی المأذنة او خارج المسجد ولا یؤذن فی المسجد کذا فی قاضی خان والسنة ان یؤذن فی موضع عال یکون اسمع لجیرانه و یرفع صوته ولا یجهد نفسه کذا فی البحر الرائق. (عالمگیریة ج۱، ص۵۵) وفی الشامیة تحت (قوله فی مکان عال) فی القنیة ویسن الأذان فی موضع عال و الاقامة علی الارض (الی قوله) وفی السراج وینبغی للمؤذن ان یؤذن فی موضع یکون اسمع للجیران ویرفع صوته ولا یجهد نفسه لانه یتضرر آه. (ردالمحتار ج۱، ص۲۶۰)

له دغو عبارتونو څخه څرګندیږي چه د جومات په خارج کښې د آذان له ورکولو څخه مقصد

بواخي د آواز رسول دي. لکه څرنګه چه د جُمعې د ورځې دويم آذان په جومات کښې دننه کيږي حکه چه دې آذان کښې بواخې تر حاضرينو پورې د آواز رسيدل مقصود دي نن صبا په عامه توګه په لاسپيکرونو کښې آذانونه کيږي چه له دې وجې په جومات با کوم بل ټيټ ځاى کښې آذان ورکول کيږي. په دې کښې په هر حال د آواز د لوړوالي مقصد پوره کيږي نو ځکه په لاسپيکر باندې په جومات کښې د ننه د آذان په ورکولو کښې هيڅ ډول کراهيت نه څرګنديږي همدارنګه د قاضي په مذکوره عبارت کښې (على المأذنة او خارج المسجد) على سبيل الترديد څرګنده شوه چه آذان على المأذنة په صورت کښې د جومات نه د باندې د آذان کولو ضرورت پاتې نه شو بلکه عام عادت هم همدغه دى چه مأذنه د جومات پر سر باندې وي او د جومات نه د باندې نه وي

و يؤيده العبارات الآتية قال ابن عابدين رحمه الله قلت و الظاهر ان هذا فى مؤذن الحي اما من اذن لنفسه او لجماعة حاضرين فالظاهر انه لا يسن له المكان العالى لعدم الحاجة تأمل (رد المحتار ج۱، ص۳۵۷) وفى الهندية و يكره الآذان قاعداً و ان اذان لنفسه قاعداً فلا بأس به. (عالمگيرية ج۱، ص۵۳) و فى الشامية و قال ابن سعد با لسند الى أم زيد بن ثابت رضي الله عنه كان بيتي اطول بيت حول المسجد فكان بلال يؤذن فوقه م اول ما اذن الى ان بنى رسول الله ﷺ مسجده فكان بعد يؤذن على ظهر المسجد و قد رفع له شئ فوق ظهره. (رد المحتار ج۱، ص۳۶۰)

د شامي له دې آخرى عبارت څخه په ښه توګه څرګنده شوه چه په جومات کښې د ننه د آذان د مکروه والي علت بواخې د آواز نه رسيدل دى او که نه نو که چيرته له نفس جومات سره د کراهيت کوم تعلق واى نو د جومات په سر باندې به هم آذان مکروه واى. حالانکه د نبي کريم ﷺ په زمانه کښې په همدې باندې عمل کيده همدارنګه د جُمعې د ورځې دوېم آذان په اتفاق سره په جومات کښې دننه جائز دى حه له دې څخه هم ثابتيږي چه د نورو آذانونو لپاره د خارج المسجد حکم بواخې د آواز د رسيدنې لپاره دى

وفى اعلاء السنن واعلم ان الاذان لا يكره فى المسجد مطلقاً كما فهم بعضهم من بعض العبارات الفقهية و عموه هذا الاذان (الآذان بين يدى الخطيب) بل مقيدا بما اذا كان المقصود اعلام ناس غير حاضرين (الى قوله) فى الحلابى انه يؤذن فى المسجد او ما فى حكمه لا فى البعيد عنه قال الشيخ قوله فى المسجد صريح فى عدم كراهة الاذان فى داخل المسجد و انما هو خلاف الاولى اذا مست الحاجة الى الاعلان البالغ و هو المراد بالكراهة المنقولة فى بعض الكتب فافهم. (اعلاء السنن ج۲، ص۴۹)

النته په جومات کښې دننه حهر مفرط يعنې ډير لوړ اواز په ځنګرې توګه مسقف حى په نردي نحه کښې د ادب خلاف څرګنديږي د دې سره بهره دا ده حه لاسپيکر نه جومات څخه :

باندې کېښودل شي که چیرته د باندې د کېښودلو کوم انتظام نه وي نو بیا په جوماتونو کې د ښځو لپاره ځای نه وي نو کېښودل څه پروا نه لري

فقط و الله تعالی اعلم ۳ربیع الاول ۹۶ هجری

د اذان او اقامت صحیح طریقه

سوال په عامه توګه قاریان صاحبان اقامت داسې وايي اَللّٰهُ اَكْبَرُ اللّٰهُ اَكْبَرْ یعني د لومړي تکبیر راء مرفوع ادا کوي او په دویم تکبیر کښې د الله د نامه الف ساقطوي او له راء سره نې لګوي او ادا کوي نې همدارنګه په هرې لومړۍ کلمې باندې اعراب لګوي اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّداً رَّسُوْلُ اللّٰهِ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّداً رَّسُوْلُ اللّٰهِ همدارنګه حي علی الصلوٰةِ، حيّ علی الفلاح، قد قامتِ الصلوٰةُ وایي دا طریقه خو د اصولو مطابق ده لیکن څرګندیږي چه تاسو دې ته خلاف سنت وایی لهذا د دې وضاحت مطلوب دی بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د آذان او اقامت مسنونه طریقه دا ده چه هره کلمه ساکنه وویل شي. په آذان کښې په هرې کلمې باندې وقف وشي او په اقامت کښې له هرو دوو کلمو وروسته باید وقف وشي لیکن لومړۍ کلمه به هم د وقف په نیت سره ساکنه ادا کوي قد قامت الصلوة به هم دوه وارې همداسې وایي په آذان او اقامت کښې دوه تکبیرونه یوه کلمه ګڼل کېږي. په آذان کښې په هرو دوو تکبیرونو کښې لومړی تکبیر او په اقامت کښې د مخکښینیو دریو تکبیرونو په راء باندې رفع (پیښ) لګول د سنتو خلاف دی دا باید ساکن وویل شي یا د فتحې په لګولو سره له دویم تکبیر سره لګولی ادا شي

قال فی شرح التنویر ویفتح راء اکبر والعوام یضمونها وقال ابن عابدین رحمه الله بعد ذکر النقول المختلفة والحاصل ان التکبیرة الثانیة فی الأذان ساکنة الراء للوقف حقیقة ورفعها خطأ واما التکبیرة الاولی من کل تکبیرتین منه وجمیع تکبیرات الاقامة فقیل محرکة الراء بالفتحة علی نیة الوقف وقیل بالضمة اعراباً وقیل ساکنة بلا حرکة علی ما هو ظاهر کلام الامداد والزیلعی والبدائع وجماعة من الشافعیة (وبعد اسطر) ثم رأیت لسیدی عبد الغنی رسالة فی هذه المسئلة سماها تصدیق من اخبر بفتح راء الله اکبر اکثر فیها النقل وحاصلها ان السنة ان یسکن الراء من الله اکبر الاول او یصلها بالله اکبر الثانیة فان سکنها کفی وان وصلها نوی السکون فحرک الراء بالفتحة فان ضمها خالف السنة لان طلب الوقف علی اکبر الاول صیرة کالساکن اصالة فحرک بالفتح. (رد المحتار ج۱ ص۳۵۸)

فقط والله تعالی اعلم ۱۳ ذی قعده ۹۸ هجری

د اذان او اقامت په تکبیر کښې په راء باندې پېښ لوستل غلط دي

سوال څه فرمايي د دين علماء كرام او د شرع متين مفتيان كرام د دې مسئلې په باره كښې چه د اكبر د لفظ راء د جلاله د اسم سره وصل كول صحيح دي او كه نه؟ كه چېرته صحيح وي نو راء به مفتوح ادا كېږي او كه مضموم؟ كه چېرته مفتوح ادا كيږي نو وجه ئې بيان كړئ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د دې دوه صورتونه دي. يو دا چه راء دې ساكنه ادا شي. په دې صورت كښې د الله د لفظ همزه نه ساقطيږي. دويم صورت دا دی چه راء ته فتحه وركړ شي او د الله له اسم سره دې وصل شي او همزه ساقطه شي راء لره مرفوع ادا كول غلط دي ځكه چه د الأذان جزم حديث له وجې راء د اصلي ساكن په حكم كښې ده لهذا د وصل په حالت كښې د سكنو د التقاء څخه د حفاظت لپاره په راء باندې فتحه ادا كيږي. و التفصيل فى الشامية

فقط والله تعالى اعلم　　　۲۱ جمادی الاولی ۹۹ هجری

د اقامت په وخت كښې د لاسونو تر نامه لاندې نيول د سنتو خلاف دي

سوال چه كله مؤذن اقامت وايي نو په دې وخت كښې عام مقتديان لاسونه تر نامه لاندې تړي او دريږي ليكن سنت ئې نه ګڼي. بيا تر تكبير تحريمه وروسته د سنتو مطابق لاسونه تړي خرګنديږي چه تاسو له دې څخه خلک منع كوی. آيا دا خبره صحيح ده؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب تر تكبير تحريمه مخكښې د لاسونو تړل ثابت نه دي كه چېرته سنت هم و نه ګڼل شي نو بيا هم چونكه د شريعت په حدودو باندې زياتوالى دى ځكه مكروه دى برسره پر دې زوړند لاسونه د تكبير تحريمه په وخت كښې غوږونو ته په پورته كولو كښې چه خومره د احكم الحاكمين ذات د شان د عظمت اظهار كيږي د تړلو لاسونو په پورته كولو كښې دومره نه كيږي لهذا د دې رسم پرېښودل او نور خلک له دې څخه منع كول لازم دي فقط و الله تعالى اعلم　　　۵ ذی القعدۃ ۹۸ هجری

تر اذان وروسته په دعاء كښې د لاسونو پورته كول ثابت نه دي

سوال ډاكټرو علماوو له معمول څخه څرګنديږي چه تر آذان وروسته دعاء كښې لاسونه پورته كوی نه د ښې حال كښې چه په ګڼو حديثونو كښې د لاسونو پورته كول د دعاء له آدابو څخه دی

عن الفضل بن عباس رضی الله تعالی عنهما قال قال رسول الله ﷺ مثنی مثنی تشهد فی کل رکعتین و تخشع و تضرع و تمسکن ثم تقنع یدیك یقول ترفعهما الی ربك مستقبلاً ببطونهما وجهك و تقول یارب یارب من لم یفعل ذلك فهو کذا و کذا رواه الترمذی والنسائی وابن خزیمة فی صحیحه ورجاله ثقات. (اعلاء السنن ج ص ۲۰۹)

نور هم ډېر حديثونه سته د حافظ سيوطي رحمه الله مستقله رساله "فض الوعاء في احاديث رفع اليدين في الدعاء" هغه ده چه د مفصل څوښت په ليكلو سره موږ په سمي ز كړی حركه ..

تعالی احسن الجزاء

الجواب باسم ملهم الصواب د دعاء دوه ډولونه دي يو دا چه پرته له وظيفي د مخصوصو لفاظو مطلقاً د کوم حاجت غوښتنه. دويمه دا چه د وظيفي الفاظ که چيرته له کوم خاص وخت سره متعين وي او که مطلق وي. په احاديثو کښي د دعاوو د مواقعو له پلټنې څخه ثابتيږي چه د لاسونو پورته کول د احاديثو له مخي په اول ډول پورې اړه لري. په دويم ډول پورې هيڅ تعلق نه لري الا ما ورد فيه النص

لکه څرنګه چه تر اوداسه وروسته. جومات ته د ننوتلو او وتلو. کور ته د وتلو او ننوتلو. بيت الخلاء د ننوتلو او وتلو. د سفر ابتداء او انتهاء. موټر ته د سپريدو په وخت. بازارته د ننوتلو په وخت. د کوم شي د اخيستلو په وخت. دکوم مصيبت وهلي د ليدو په وخت. د مريض پوښتنه او داسي نورو امورو په اړه په ماثوره دعاګانو کښي هېڅوک د فع اليدينو قائل نه دي د جماع او انزال په وخت پورې تړلي دعاګاني هم منقول دي. په هغو کښي د لاسونو د پورته کولو حکم همداسي هم مستبعد دي له بي بي سره په لومړي خلوت کښي او د غلام. وينځي يا څناور د اخيستلو په وخت باندې راغلي دي چه د هغه د تندي ويښتان به په لاس کښي نيول کيږي او د دعاء به ويل کيږي چه (**اللهم انى اسئلك من خيرها وخير ما جبلتها عليه واعوذبك من شرها وشر ما جبلتها عليه**) په دې وخت کښي د لاسونو د پورته کولو په ځای د تندي د ويښتانو د نيولو حکم دي بلکه په دې صورت کښي لاسونه پورته کيدلی هم نه شي

همدارنګه د کوم فوري حاجت لپاره لنډه دُعا او د حا په غوښتني باندې د هغه لپاره په دُعائيه کلماتو کښي د لاسونو پورته کول ثابت نه دي بلکه د نبي کريم ﷺ دا عمل وو چه پرته د لاسونو د پورته کولو د دُعا غوښتونکي د اورولو په مقصد په لوړ آواز سره به ئې دا کلمات ويل چه

روى البخاري رحمه الله عن جرير رضي الله عنه قال كنت لا اثبت على الخيل فضرب النبي ﷺ فى صدرى حتى رأيت اثر اصابعه فى صدرى وقال اللهم اجعله هاديا مهديا.

په دې موقعه باندې نبي کريم ﷺ د حضرت جرير رضي الله عنه لپاره په دعا کښي د رفع يدين پر ځای د هغه په سينې باندې د لاس په وهلو سره دعائيه کلمات لوستل

د مثال په توګه باندې دا يوه واقعه را نقل شوی ده و که نه نو په احاديثو کښي د دې مسئلي په بنځي زيات دي چه نبي کريم ﷺ د چا له خوا څخه د دُعا په غوښتني باندې هغه ته په ور وړاندې سره لنډې دعائيه کلمې لوستلي. په دې مواقعو کښي د لاسونو نه پورته کول ثابت دي او د حضرت جرير رضي الله عنه په قصه کښي د لاسونو نه پورته کول مصرح دي للمنافاة الظاهرة بين الرفع و الضرب فى الصدر.

فقط والله تعالى اعلم ۳ ذيقعده ۹۹ هـ

قال رسول الله ﷺ

اذا سمعتم النداء فقوموا فانها عزمة من الله (رواه السيوطی عن الحلية)

ارشاد الانام

بجواب ازالة الاوهام

حديث. فقه. تعامل صحابه رضی الله تعالی عنهم او له څلورګوني مذاهبو څخه د دې ثبوت چه مقتديان به د اقامت د لومړي تکبير په اوريدو سره لمانځه ته بايد را ولاړ شي

- تاريخ تاليف ———— ۳ صفر. سنه ۱۳۷۲ هـ
- اول اشاعت ———— سنه ۱۳۷۹
- موضوع ———— مقتدی بايد د اقامت په کوم لفظ ويلو سره ودريږی

- په عقلي طريقې سره بحث
- د احاديثو په طريقې سره بحث
- د فقهي په طريقې سره بحث
- د صحابه کرامو رضی الله عنهم تعامل
- د فقهاء کرامو رحمهم الله نصوص
- د څلور واړه مذاهبو تعامل

د دې رسالې وروسته له تاليف نه يو څو کاپياني د ازالة الاوهام مؤلف ونورو حضرانو ته لېږل سوې وې په دې اراده چه دا فتنه په همدې ځای ختمه شی. له همدې وجهی نه يې هغه وقت کښې د هغې عمومي اشاعت او خپرونه ودريدلي وه ليکن متأسفانه چه دا سلسله ختمه نسود. لهذا سه کال ۱۳۷۹ کښې دا سنع او خپره شوه

بسم الله الرحمن الرحيم
حامداً و مصلياً و مسلماً

اما بعد بنده رشيد احمد لدهيانوي عفا الله عنه د پوهې او فراست د خاوندانو په خدمت کښې د دې خبرې څرګندونه کوي چه د فتنې په دې ډک دور کښې د دجل او الحاد وريځ په ټلور کنجه دُنيا باندې را خپره شوې ده. د ارتداد باد او طوفان عالمګير دی د صداقت بېړۍ د باطل د صرصر باد له موجونو څخه په لړزان دی د مسلمه امت بېړۍ د کفر او ارتداد خطرناکې کندې ته لويدلې دی د انګريزانو د وقار د ساتنې لپاره د انګريزانو د نبي غلامان د سيد الکونين. ختم المرسلين. آقائ نامدار (فداه ابي و امي) ﷺ مبارک نوم او د ناموسِ رسالت له دُنيا څخه د ختمولو منصوبې جوړوي. په داسې حالت کښې په مسلمانانو فرض دی چه ټول جزئي اختلافات پرېږدي او سره يو شي او د ناموسِ رسالت د ساتنې لپاره د خدای او د هغه د رسول ﷺ نوم په دنيا کښې د لوړ ساتلو لپاره. د خدای په زمکه کښې د خدای په مخلوق باندې د خدائي قانون د نافذولو لپاره. همدارنګه د خپل محبوب ملک پاکستان د استحکام او د خپل خان، مال، عزت او خويندو لونړو د عصمت او پردې د محفوظ ساتنې لپاره هر ډول عيش او آرام، سکون او راحت پرېږدي او سر تر پايه مستعد يعني تيار او سر په ورغوي کښې کښېږدي زمانې مونږ لره له دواړو اوږو نيولي يو او کشوي مو ليکن مونږ يو چه تر اوس پورې د غفلت له خوب څخه نه را ويښيږو ليکن په ياد ولرئ چه ((زمانه بهترين استاذ دی)) که چرېه خدای مکړه د مرزائي امت د منحوسو او سپيرو خوبونو تعبيرونه پوره شول نو په ياد ولرئ چه له مسلمانانو سره به تر دې زيات کومه معامله کيږي کومه چه به مشرقي پنجاب کښې تر سره شوه

نہ سمجھو گے تو مٹ جاؤ گے اے اربابِ پاکستان

تمہاری داستاں تک بھی نہ ہوگی داستانوں میں

افسوس او سل افسوسه چه مونږ تر اوسه پورې د زمانې په رفتار باندې پوه نه شولو او خپل منځي جزئي اختلافاتو باندې (هغه هم بالکل معمولي يعنې مستحب او مندوب مسائلو باندې) جګړې کوو او فتنې فسادونه برپا کوو نن زمونږ بعينه هغه حالت دی په کوم وخت کښې چه له عيسائيانو څخه بادشاهي لاندې کيدلې او د هغوی پادريان په دې وخت کښې د مسيح عليه السلام د بول و براز (غټې او وړې متيازې) په باره کښې پخپل منځ کښې مناظرې کولې. او همدغه حالات د مسلمانانو په لاس د دوی د اقتدار د واګو د سلب کېدو باعث وګرځېدل ــه

جب چلی بغداد میں تاتار کی تیغ نیام مفتیانِ شرع میں جاری تھی اک جنگِ کلام

ایک کہتا تھا کہ کوا ثلاث و سالم حلال دوسرا کہتا کہ کالی چونچ سے تا دم حرام

اس زمانے کے مؤرخ نے جو دیکھا تو کہا مفتیاں را مژدہ کارِ ملّت بیضا تمام

لیکن څه وکړو مجبوره یو، تر څو پورې چه د مسلمه امت د تعامل په خلاف بوه نه یوه مسئله را پورته نه شي تر هغه وخته پورې شهرت نه راځي عنایت الله مشرقي د ټولو مسلمانانو د قبلې سمت غلط او لمونځونو لره ئې د فاسد بللو له مخې د علامه لقب پیدا کړ چه غائبن ماتوونکی خواب ئې مونږ پخپلې رسالې «المشرفي علی المشرقی» کښې ورکړی دی او بیا د تعجب خبره دا ده چه د دې ډول د شهرت غوښتونکي حضرات د دې په ښکارولو سره چه دا مسئله تر ټولو مخکښې یواځې مونږ دا مسئله را پورته او حل کړې ده له عوامو څخه د مجدد د خطاب لاس ته راوړلو غواړي په داسې حال کښې چه د قبلې سمت. د کارغه حلال والی او حراموالی. د جُمعې دویم آذان په جومات کښې کیدل. په اقامت کښې د حی علی الفلاح د ویلو په وخت لمانځه ته را پورته کیدل او داسې نورې پوښتنې څو څو ځلې را پورته شوي دي او حقاني علماوو هغه فتنې په هم هغه وخت له منځه وړې دي اوس دا د تجدید یا نوي والي مدعیان یا خو د خپل جهالت له وجې د دغو فتنو په ماضي کښې له شویو فیصلو څخه ناخبره دي او یا د معلوم والي تر څنګ ځان په ناپوهي کښې د اچولو په ذریعې سره ځان مشهورول غواړي د دې سلسلې یوه سخته رساله «ازالۂ اوهام» ده چه په هغې کښې د دې د ثابتولو ناکام کوشش شوی دی چه کله مؤذن د اقامت ویلو په وخت کښې حی علی الفلاح ووائي نو د مقتدیانو لپاره به دې وخت دریدل په اتفاق سره سنت دي او له دې څخه مخکښې دریدل ګناه ده مونږ تر یوه وخته پورې خو دا بحث د بې فائدې ګڼلو له وجې دې خوا ته هیڅ توجه و نه کړه او په دې باره کښې چه کومې پوښتنې راتلې هغه مو هم ځنډولې البته په دی مضمون بانذې حیران خو خامخا وم

سر خدا کہ عابد و زاہد کسے نہ گفت در حیرتم کہ بادہ فروش از کجا شنید

اوس په داسې حال کښې چه دا فتنه له حد څخه زیاته شوه او د دې په باره کښې د پوښتنو یوه کوره زما به مخکښې پرته ده نو د مجبورۍ له مخې په نه زړه مې په دې باره کښې قلم را پورته کړ څرګنده دی وی چه په دې مسئله کښې په دریو طریقو سره بحث او استدلال کیدلی شي عقل. حدیث. فقه لهذا په دریواړو طریقو سره لنډ او په قدر د ضرورت لیکنې کړې

بحث په طریقه د عقل

شرعاً. عرفاً. وضعاً لنډه دا چه د هر حسب له مخې امام امیر دی. د لمانځه فتمول د هغه په اختیار کښې دی. له دی امله اقامت او د خلکو دریدل دواړه د امام تبع دي د خلکو دریدل د

اقامت له یوه لفظ سره هم تړاو نه لري. البته په اقامت کښې د امام امر د اقامه الصلوة اعلام یا خبرداري ده. د دې لپاره د مقیم د الله اکبر په ویلو سره مقتدي پوهیږي چه امام د اقامت صلوة امر کړی دی لهذا د امام د امر د په ځای کولو لپاره باید فوراً خلک ودریږي

بحث په طریقه د حدیثو

د حدیثو دذخیرې له پلټنې څخه هم دا څرګندیږي چه د اقامت له هیڅ یوه لفظ سره د خلکو د دریدو هیڅ تعلق نشته بلکه دا دواړه د امام تابع دي لکه څرنګه چه د صحیح مسلم له دې روایت څخه ښکاره ده چه اقامت د امام تابع دی

عن جابر بن سمرة ﷛ قال كان بلال ﷛ يؤذن اذا دحضت الشمس فلا يقيم حتى يخرج النبي ﷺ فاذا خرج الامام اقام الصلوة حين يراه. (مسلم)

او په دې حدیث کښې مذکور دي چه د خلکو دریدل هم د امام تابع دي **عن عبدالله بن ابي قتادة عن ابيه ﷛ قال قال رسول الله ﷺ اذا اقيمت الصلوة فلا تقوموا حتى تروني. (بخاري)**

څرګنده شوه د خلکو دریدل د اقامت په له یوه لفظ سره تعلق نه لري چنانچه حافظ ابن حجر عسقلاني ﷫ په فتح الباري کښې فرمايي

وقوله حتى تروني تسويغ للقيام عند الرؤية وهو مطلق غير مقيد بشيء من الفاظ الاقامة ومن ثم اختلف المشائخ فيه كما سيأتي.

د مقیم (اقامت ویونکي) الله اکبر ویل د اعلان دی چه د لمانځه د اقامت امر شوی دی. په دې باندې دا حدیث دلیل دی

عن عبد الرزاق عن ابن جريج عن ابن شهاب ان الناس كانوا ساعة يقول المؤذن الله اكبر يقومون الى الصلوة فلا يأتي النبي ﷺ مقامه حتى تعتدل الصفوف. (فتح الباري)

او امام سیوطي ﷫ له حلیه ابي نعیم څخه روایت کړی دی **اذا سمعتم النداء فقوموا فانها عزمة من الله.** د دې حدیث په شرح کښې علامه مناوي ﷫ فرمايي **اى اسعوا الى الصلوة او المراد بالنداء الاقامة والعزمة بالفتح الامر.**

اوس دا سوال پاتې شو چه کله حضرت بلال ﷛ به د نبي کریم ﷺ د وتلو وروسته اقامت وایه او صحابهٔ کرام رضی الله عنهم د اقامت تکبیر لره د نبي کریم ﷺ د وتلو خبرداری ګڼله او دریدل نو د **(اذا اقيمت الصلوة فلا تقوموا حتى تروني)** څه مطلب شو؟ ځکه چې له دی حدیث څخه څرګندیږي چه اقامت د نبي کریم ﷺ تر وتلو مخکښې ویل کیده نو د اقامت تکبیر د نبي کریم ﷺ د خروج اعلام

نه نو د دې لپاره د خلکو دریدل ئې د نبي کریم ﷺ له خروج (وتلو) سره متعلق کړ؟ د دې خواب دا دی چه په ابتداء کښې حضرت بلال رضی الله عنه کله کله د نبي کریم ﷺ تر وتلو مخکښې اقامت وایه نو د دې به اوره دا "اذا اقیمت الصلوة" وویل شول چنانچه په فتح الباري کښې دی

و بان صنیعهم فی حدیث ابی هریرة رضی الله عنه کان سبب النهی عن ذلك فی حدیث ابی قتادة رضی الله عنه و انهم کانوا یقومون ساعة تقام الصلوة ولو لم یخرج النبی ﷺ فنهاهم عن ذلك.

وروسته د حضرت بلال همدغه معمول شو چه د نبي کریم ﷺ تر وتلو وروسته به ئې اقامت وایه لکه ځرنګه چه د مسلم شریف په تیر شوي حدیث کښې ښکاره دی لهذا تر دې وروسته به خلک له دې وجې دریدل چه د اقامت له تکبیر ځخه به دا خبرداري وه چه نبي کریم ﷺ را وتلی دی لکه ځرنګه چه د عبد الرزاق په حدیث کښې تیر شول

لنډه دا چه امام که له جومات ځخه د باندې وي یا له محراب سره نژدې وي په هر صورت کښې ئې د خلکو دریدل د امام له دریدلو سره تړلی دی

د همدې لپاره په فیض الباري شرح د بخاري کښې فرمایي **(ان الامام ان کان خارج المسجد ینبغی للمقتدین ان یقوموا التسویة الصفوف اذا دخل المسجد وان کان فی المسجد فالمعتبر قیامهٔ من موضعه).**

او امام مالک په موطاء کښې فرمایي **(لم اسمع فی قیام الناس بحد محدود الا انی اری ذلك علی طاقة الناس فان منهم الثقیل والخفیف).**

له دې ځخه ځرګنده شوه چه د خلکو دریدل د اقامت له هیخ یوه لفظ سره نه دی تړلی لیکن صحابهٔ کرامو رضوان الله علیهم چونکه د اقامت تکبیر د امام د دریدلو علامه ګڼله نو ځکه د هغوی تعامل په دې ډول باندې وو چه د الله اکبر د لفظ په اوریدو سره به و دریدل

د امام له وتلو ځخه مخکښې د دریدلو ممانعت کوم چه په حدیث کښې راغلی دی هغه هم تنزیهي دی د لاندینې دلائلو له مخې دا خبره ځرګندیږي

۱ - په فیض الباري شرح د بخاري کښې دي **(اما القیام قبل رؤیته فعده عبثاً کما قال مرةً اربعوا علی انفسکم انکم لا تدعون اصم ولا غائبا حین راهم یبالغون فی الجهر فلیس فیه ان الجهر ممنوع کما فهمه بعضهم بل فیه ایذان یکون الجهر عبثاً فهکذا القیام من قبل)**

۲ - حافظ ابن حجر عسقلاني رحمه الله په فتح الباري کښې فرمایي **واما حدیث ابی هریرة رضی الله عنه الآتی قریباً بلفظ اقیمت الصلوة فسوی الناس صفوفهم فخرج النبی ﷺ ولفظهٔ فی مستخرج ابی نعیم فصف الناس صفوفهم ثم خرج علینا ولفظهٔ عند مسلم اقیمت الصلوة فقمنا فعدلنا الصفوف قبل ان یخرج الینا النبی ﷺ**

فانی لقائم مقامه الحدیث وعنه فی روایة ابی داؤد ان الصلوٰة کانت تقام لرسول الله ﷺ فیأخذ الناس مقامهم قبل ان یجیء النبی ﷺ فیجمع بینه وبین حدیث ابی قتادة رضی الله عنه بان ذٰلک ربما وقع لبیان الجواز.
همدا ډول مضمون په عمدة القاري او داسې نورو کښې هم شته له دي څخه ثابته شوه چه د امام له وتلو څخه مخکښې هم دریدل جائز دي له دې امله لا محاله نهي په تنزیه باندې محمولیږي

۳- علامه بدر الدین عینی رحمه الله په عمدة القاري کښې فرمایي قال العلماء والنهی عن القیام قبل ان یروه لئلا یطول علیهم القیام. او په فتح الباري شرح د بخاري کښې دي فنهاهم عن ذٰلک لاحتمال ان یقع له شغل یبطئ فیه عن الخروج فیشق علیهم انتظاره.
له دی څخه حرګنده شوه چه دا نهی محض د شفقت پر بناء ده
د ټولو حدیثونو خلاصه دا شوه چه د امام له دریدو څخه مخکښې د خلکو دریدل مکروه تنزیهي دی نتیجه دا ده چه خلک د امام تر دریدو وروسته ودریږي او د امام د دریدلو اعلام خبرداري، د اقامت له شروع (د الله اکبر له لفظ) څخه کیږي د دي لپاره مقتدي دي باید د الله اکبر د لفظ په اوریدو سره ودریږي په همدې باندې د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم اجمعین تعامل وو
عن کهمس قال قمنا الی الصلوٰة بمنی و الامام لم یخرج فقعد بعضنا فقال لی شیخ من اهل الکوفة ما یقعدک قلت ابن بریدة قال هٰذا السمود فقال لی الشیخ حدثنی عبد الرحمٰن بن عوسجة عن البراء بن عازب رضی الله عنه قال کنا نقوم فی الصفوف علی عهد رسول الله ﷺ طویلا قبل ان یکبر الخ قال ابو الحسن السندی هٰذا لا یدل علی ان قیامهم کان لانتظار النبی ﷺ بل یجوز ان یکون بعد حضوره ﷺ (فتح الودود) وقال فی البذل فثبت بهٰذا ان القیام فی انتظار الامام غیر منهی عنه وثبت ان ما قال ابن بریدة رضی الله عنه ان هٰذا السمود المنهی عنه غیر صحیح. (بذل المجهود)

بحث د فقهې په طریقې سره

لکه څرنګه چه په حدیثو کښې ئې د خلکو دریدل د امام د دریدلو تابع وګرځوه د دی لپاره په فقهی کښې ئې هم همدا معمول نه بللی دی چنانچه په عالمګیری کښې دی
فاما اذا کان الامام خارج المسجد فان دخل المسجد من قبل الصفوف فکلما جاوز صفا قام ذٰلک الصف و الیه مال شمس الائمة الحلوانی و السرخسی و شیخ الاسلام خواهر زاده و ان کان الامام دخل المسجد من قدامهم یقومون کما رأوا الامام. همدا مضمون په رد المحتار، بدائع الصنائع او شمس الحقائق کښې هم شته. په بدائع کښې دا عبارت هم شته ولان القیام لاجل الصلوٰة و لا یمکن اداءها بدون

الامام فلم يكن القيام مفيداً.

له دغو عبارتونو څخه څرګنده شوه چه د خلکو دريدل له اقامت سره هيڅ تړاو نه لري بلکه د امام د دريدلو تابع دي چنانچه پخه د ازالة اوهام مؤلف هم دا تسليم کړی دی او د ازالة اوهام په اولسم (۱۷) مخ کښې فرمايي "دا د دې لپاره چه د جماعت لمونځ پرته له امام څخه ناممکن وي او خلک د لمانځه لپاره دريږي نو د امام له دريدلو پرته دريدل لا حاصل او دا د مسلمان شان نه دی چه په لا حاصل (بې فائدې کار) پسې شي" نو څرګنده شوه چه د امام د ريدو په حالت کښې د مقتدي په دريدلو کښې هيڅ کراهيت نشته اګر که له اقامت څخه مخکښې وي

بله دا پوښتنه پاتې شوه چه که چيرته امام په جومات کښې موجود وي نو هغه به د اقامت په کوم لفظ باندې دريږي چه د هغه په متابعت کښې مقتدي هم د هغه لفظ په اوريدو سره ودريږي په دې باره کښې چونکه په حديث کښې کوم حد نه دی ټاکل شوی د دې لپاره امام مالک رحمه الله او جمهورو علماوو کوم حد نه دی ټاکلی البته د قامت لومړي تکبير لره د اعلام په ګڼلو سره هغو د اقامت له ابتداء څخه دريدل مستحب ګڼلی دی علامه بدر الدين عينی رحمه الله په عمدة القاري کښې فرمايي **فلهب مالك وجمهور العلماء الى انه ليس لقيامهم حد ولكن استحب عامتهم القيام اذا اخذ المؤذن في الاقامة.**

سعيد بن المسيب او عمر بن عبد العزيز رحمهما الله دا خيال وکړ د اعلام تکبير د امام په قيام پورې اړه لري، همدارنګه د صحابهٔ کرامو رضوان الله عليهم تعامل هم په همدې باندې دی چه د الله اکبر د لفظ په اوريدو سره به دريدل له دې امله د مؤذن د الله اکبر په ويلو سره د دريدلو د وجوب قول کړی دی۔

وعن سعيد بن المسيب وعمر بن عبد العزيز رحمهما الله تعالى اذا قال المؤذن الله اكبر وجب القيام واذا قال حي على الصلوة اعتدلت الصفوف واذا قال لا إله الا الله كبر الامام. (عمدة القاري)

له امام اعظم رحمه الله څخه د حی علی الفلاح په وخت د دريدلو مندوب والی راغلی دی ليکن له دې څخه دا مقصد نه دی چه له دې څخه مخکښې دريدل د مندوب خلاف دی بلکه له دې څخه ناوخته دريدل ئې د ندب خلاف ګڼل منظور دي

قال الطحاوى رحمه الله (تحت قوله والقيام لامام ومؤتم الخ) والظاهر انه احتراز عن التأخير لا التقديم حتى لو قام اول الاقامة لا بأس وحرر. (طحاوى على الدر المختار)

له حی علی الفلاح څخه مخکښې د دريدلو د کراهيت قول نه له امام څخه چيرته منقول دی او نه له حنفي مشائخو څخه د در المختار د باب الاذان جزئيه **(دخل المسجد والمؤذن يقيم قعد الى قيام**

الامام في مصلاه) او په دې باندې چه په شامیه کښې له مضمراتو څخه د هندیه په واسطه را نقل کړې دی **(ویکره له الانتظار قائما ـ الخ)** همدارنګه طحطاوي علی مراقی الفلاح کې هم د مضمراتو جزئیه راغلې ده دا جزئیات له هغه صورت سره مخصوص دي چه امام دریدلی نه وي یا له جومات څخه د باندې وي په دې باندې څو دلائل وجود لري

۱- د دې عباراتو له سیاق څخه دا تخصیص ښکاره دی

۲- په در مختار کښې **(الی قیام الامام)** لفظ د دې وضاحت کوي

۳- په شامیه او طحطاوي کښې چه د مضمراتو کومه جزئیه ده په هغې کښې د انتظار لفظ قرینهٔ بیّنه ده

۴- همدا صورت د مذکوره حدیثونو مطابق دی چه د خلکو د دریدلو تعلق د امام له دریدلو سره دی نه د اقامت د الفاظو سره

۵- علامه طحطاوي رحمه الله **(و القیام لامام و مؤتم)** لاندې فرمایلي دي **(و الظاهر انه احتراز عن التأخیر ـ الخ)** په داسې حال کښې چه د مراقی الفلاح په حاشیه کښې پخپله هم له مضمراتو څخه د کراهیت د جزئیې تر نقل کولو وروسته کراهیت لره په ډېر اهتمام سره بیانوي او وئي فرمایل **(و الناس عنه غافلون)** نو لا محاله د علامه طحطاوي دواړه قولونه له تدافع او تعارض څخه د ساتلو لپاره ضروري شوه چه د دواړو محمل جلا جلا شي

۶- که چیرته له حی علی الفلاح څخه مخکښې دریدل مطلقاً مکروه وای نو د امام له جومات څخه د باندې د راتللو په صورت کښې د امام په لیدلو سره دریدل (اګر که مؤذن حی علی الفلاح ته نه وي رسیدلی) به مندوب نه وای له دې څخه څرګنده شوه چه دکراهیت جزئیه د امام له عدم قیام سره مخصوصه ده او بیا دا کراهیت هم تنزیهي ده. د در مختار د حاشیې د باب الاذان په آخر کښې طحطاوي رحمه الله فرمایي **(قوله قعد) لم یبین حکمهٔ و الظاهر انه مندوب**. بیا په کراهیت تنزیهي کښې هم طحطاوي صاحب اعتراض کړی دی **و فیه ان قیامه تهیؤ للعبادة فلا مانع منه (طحطاوی علی الدر المختار ج۱ ص۱۸۹)**

لنډه دا چه د امام اعظم رحمه الله مذهب دا دی چه تر حی علی الفلاح پورې دریدل مندوب دي او له دې وروسته دریدل د ادبو خلاف دی. مخکښې دریدل خلاف نه دي او که چیرته امام و نه درید یا له جومات څخه د باندې وو نو د دریدلو کراهیت له حنفي ائمه وو څخه منقول نه دي البته حنفي مشائخو په دې صورت کښې دریدلو ته مکروه تنزیهي ویلي دي لیکن علامه طحطاوي رحمه الله په دې باندې اعتراض کړی دی پس حنفي مشائخ د دې په تنزیهي کراهیت کښې مختلف دي

که چیرته علی سبیل التنزل د امام طحطاوي رحمه الله د تصریح خلاف د امام اعظم رحمه الله د قول هم هغه مطلب را واخلو کوم چه مؤلف په ازالهٔ اوهام کښې را اخیستی دی نو بیا په دې صورت کښې لاندینی خبرې د غور قابلې دي

۱ به مندوب باندې اصرار او په پرېښودونکي باندې ئې انکار گناه او بدعت دی

كما صرح به الطيبي في شرح المشكوة تحت حديث ابن مسعود رضي الله عنه في التزام الانصراف عن اليمين بعد الصلوة ما نصهٔ فيه ان من اصر على مندوب وجعله عزماً ولم يعمل بالرخصة فقد اصاب منه الشيطان.

په تنویر الابصار کښې دې مسئلې لره په آدابو کښې ذکر کړې ده او په در مختار کښې د ادب تعریف په دې الفاظو سره کوي

تركه لا يوجب اساءة ولا عتابا كترك سنة الزوائد لكن فعله افضل او په فیض الباري شرح د بخاري کښې دي **و كيف ما كان ليست المسألة من مسائل نفس الصلوة بل من الآداب فان قام احد قبله لا يكون عاصياً.**

۲- د لمانځه له آدابو څخه دا هم دی چه د قد اقامت الصلوة د ویلو په وخت امام تکبیر تحریمه ووائي لیکن د یوه عارض له وجې تأخر افضل دی هغه عارض دا دی چه مؤذن به تکبیر تحریمه کښې له امام سره شاملیدلی شي په در مختار کښې دي

و شرع الامام في الصلوة مذ قيل قد قامت الصلوة ولو اخر حتى اتمها لا بأس به اجماعاً و هو قول الثاني و الثلاثة وهو اعدل المذاهب كما في شرح المجمع لمصنفه و في القهستاني معزيا للخلاصة انه الاصح او په رد المحتار کښې دي **(قوله انه الاصح) لان فيه محافظة على فضيلة متابعة المؤذن واعانة له على الشروع مع الامام.**

همدارنګه د دریدو په مسئله کښې هم د یوه عارض له وجې کوم چه د عوامو د لحاظ له مخې لکه واجب داسې دی له اقامت څخه مخکښې دریدلو ته افضل ویل کیږي او دا عارض د صفونو د برابرولو اهتمام او تاکید او په عوامو کښې سستو لی او تکاسل (لټي) ده

که چیرته وویل شي چه په موطاء امام مالک رحمه الله کښې روایت دی چه حضرت عمر او حضرت عثمان رضی الله تعالی عنهما تر اقامت وروسته صفونه برابرول نو خواب ئې دا دی چه د هغو تر اقامت وروسته د صفونو برابرول د عذر له وجې وو دا هیچرته هم ثابت نه دی چه خلک به اول منبسر ثبت پرک ناست وو او د حی علی الفلاح په وخت به ودریدل او بیا به ئې صفونه برابر کړل بلکه پوره ثابت شول چه په صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم اجمعین کښې تعامل دا وو چه د الله اکبر د لفظ په اوریدو سره به دریدل او د صفونو برابرول به ئې شروع کړل بیا که چیرته د اقامت تر پوري صفونه برابر نه شول نو د [illegible] تکبیر تحریمه تر منځ چه [illegible] به د همدی عمر له

وجي وو. په دې کښې هيڅ کراهت نشته. په خلاف د دې صورت چه لوړی دی نه امام سره حلال سي وي او تر اقامت وبلو وروسته دې د صفونو برابرول شروع کړي نو دا جلا والی د اقامت او تکبير تحريمه تر منځ پرته له عذر څخه دی نو ځکه مکروه دی

۳ لاندني شيان له آدابو څخه دي

۱. د حی علی الفلاح په وخت کښې دريدل

۲. د اقامت څواب ورکول

۳ د قد قامت الصلوة په وخت د امام لپاره تکبير تحريمه ويل

٤ د مقتدی تکبير تحريمه د امام له تکبير تحريمه سره متصل کيدل

٥ تر تکبير تحريمه مخکښې إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَ الْأَرْضَ حَنِيفًا وَ مَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِينَ ويل

٦ د مسدد قرائت له شروع کولو څخه مخکښې د مقتدي له ثناء څخه فارغيدل او داسې نور

نه دغو سره د صفونو برابرول هم ډير مؤکد يا ضروري دی. ښکاره خبره ده چه دا ټول آداب په يوه وخت سره څنګه ادا کيدلی شي له دې وجې خامخا د څينو آدابو پريښودل لازم راځی

٤- د صفونو د برابرولو په غرض سره په دوه ادبونو .د حی علی الفلاح په وخت دريدل. او د قد قامت الصلوة په وخت د امام لپاره تکبير تحريمه ويلو کښې بو ئی خامخا پريښودل کيږی پس لوړی په ادا کولو او د دويم په پريښودلو کښې د ترجيح وجه څه ده؟

٥ بورتني دواړو ادبونو په ځای کول لکه څرنګه چه متکل وو د دې لپاره د حی علی الفلاح په وخت د دريدلو ادب امت پريښود او په دويم بندی ئی عمل جاري وساته اوس په ټولو اسلامي ملاو کښې په تنفی سره معمول به ادب لره متروک او متروک لره معمول به په جوړولو او په دې باندی زور اچول او د فتنې د پيدا کولو څه ضرورت دی؟

دا ټولی خبری مې بواخی علی سبيل الفرض ولیکلی او که نه نو د ندب د معنی حقيقت پوره د علامه طحطاوی رحمه الله په الفاظو کښې تير شول شه له حی علی الفلاح څخه تر نه کول د دادو نه جملی څخه دی. نه دا چه له دې څخه مخکښې دريدل د ادبو خلاف دی

تر دې وروسته د ازالة الاوهام د رسالې د حقيقت را ... سره کول ... نو خرګند دی وی چه د رسالې زياتره برخه ... تر کومه څه ... د ... مضمون دی ... د مصنف له دعوی سره نړی تعلق هم نه لري. د ... مطلب د دی ... وو او نه د ... د ... د رسالې ... د تعلق کولو تکلف پوره کړی وی ... [illegible]

چه د ده د دعوې ثابتوونکي وي.

تر دې وروسته د فقهې د کتابونو عبارتونه دي چه په هغو کښې تصريح دی چه په حی علی الفلاح باندې خلک بايد ودريږي ليکن په هغو کښې چيرته هم دا نه دي راغلي چه په دې وخت کښې دريدل مسنون دي او تر دې مخکښې گناه دی بلکه فقهاوو رحمهم الله تعالى دا په دې معنى سره په ادابو کښې شمار کړی دی چه له دې څخه تاخير و نه شي چه بيان ئې پورته ليکل شوی دی

له دې وروسته د فقهې هغه عبارتونه دي چه په هغو کښې د امام په نه موجودوالي کښې دريدلو لره مکروه ليکلی دی دا عبارات هم د ده له دعوې سره هيڅ سر او کار نه لري

مخکښې حضرت مصنف صاحب فرمايي:

((سره له دې چه په امامانو کښې سل گونه اختلافات دي ليکن د اقامت په ناستې سره د اوريدلو په سنت والي کښې د هيڅا اختلاف نشته. امام مالک، امام شافعي او امام احمد بن حنبل رحمهم الله او د دوی متبعين ټول د دې د سنت والي قائل دي او د احنافو د امامانو تصريحات د کفايت له اندازې څخه زيات پورته نقل شوي دي))

معاذ الله څومره لوی بهتان عظيم دی د ملت په بزرگانو باندې مونږ له عمدة القاري، فتح الباری او داسې نورو د حديثو له شروح څخه په تفصيل سره بيان کړل چه ځينې حضرات په اقامت کښې د الله اکبر د لفظ په ويلو سره دريدلو ته واجب وائي او د امام مالک رحمه الله په نزد د دريدو هيڅ حد نشته له موطاء څخه د ده قول هم پورته راوړل شو او مونږ د حديثو له مخې ثابته کړه چه د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم عمل په همدې باندې وو چه په اقامت کښې د الله اکبر د لفظ په اوريدو سره به دريدل بيا نادره خو دا ده چه د احنافو فقهاوو رحمهم الله خو دا په آدابو کښې شماروي هغه هم د ترک تاخير په معنی سره. ليکن د ازالهٔ اوهام مؤلف په فقهاوو باندې د سنيت د قول الزام لگوي او له نورو ائمهٔ کرامو څخه د کومې تصريح يا اشارې له نقل کولو پورته په هغو باندې خپلې نظريه ور اړوي له دې څخه لوی ظلم به څه وي؟ او په حقيقت کښې خو دا ظلم پخپل نفس باندې دی

مخکښې فرمايي

((اوس پاتې شو د ځينو ناپوهانو دا جاهلانه اعتراض چه که چيرته د اقامت په وخت کښې خلک ناست وي او په حی علی الفلاح يا تر دې وروسته ودريږي نو صفونه به کله جوړږي؟ د دې ازاله هم له احاديثو او د ائمه وو له تصريحاتو څخه واخلئ))

له دې وروسته ئې د موطاء دوه حديثونه نقل کړي دی چه په هغو کښې راغلي چه حضرت عمر او حضرت عثمان رضی الله عنهما تر اقامت وروسته د صفونو د برابرولو انتظار کوه د دې خو مونږ مخکښې ورکړی دی چه له دغو حديثونو څخه د هيچرته هم نه دی ثابته چه خلک به مخکښې

خخه په آرام سره به تیت پرک ناست وو او له اقامت څخه وروسته به ئې د صفونو برابرول شروع کړل بلکه صحابهٔ کرام رضوان الله علیهم اجمعین د عمل له طرز څخه ثابته شوې ده چه د اقامت له پیل څخه به ئې د صفونو برابرول شروع کړل اګرکه د صفونو برابرول به کله کله د اقامت تر ختمیدو پورې هم اوږد شو

حضرت علامه با لکل په آخر کښې په حاشیه باندې داسې خبره لیکلې ده چه کومه چه د ده د لیاقت د پردې پاتې برخه هم څیرلې ده او مرکب جهالت ئې ور پاشلې ده مطالعه ئې کړی **قال محمد ینبغی للقوم اذا قال المؤذن حیّ علی الفلاح ان یقوموا الی الصلوٰة الخ.**

په حاشیه کښې لیکي.

«څینو حضراتو ته د امام د (ینبغی) لفظ په شبهه کښې وا نه چوي له دې امله د دې معنی د علامه شامي رحمه الله له ژبې څخه واورئ چه فرمایي **ینبغی فی عرف المتأخرین غلب استعماله فی المندوبات واما فی عرف القدماء فاستعماله فی عام حتی یشمل الوجوب ایضاً.**

له حضرت علامه څخه مونږ دا پوښتنه کوو چه د امام محمد رحمه الله قول «ینبغی» لره تاسو په «یندب» باندې محمول کوئ او که په «یجب» باندې که چیرته په «یندب» باندې محمول وي نو د دغې دوه لیکي حاشیې بلکه د دوو صفحو د کتاب چاپولو څه ضرورت وو؟ او که چیرته ئې په «یجب» باندې محمول کوئ لکه څرنګه چه د بیان له طرز څخه مو څرګندیږي نو بیا مو دعوی خاص ده او دلیل مو عام

مونږ اګر که د «ینبغی» د لفظ په اړه د څه لیکلو ضرورت نه لرو څکه چه دا د مدعي فریضه ده البته مونږ دا خبرداري ورکوو چه ټولو فقهاء کرامو رحمهم الله دې مسئلې لره په آدابو کښې شمار کړې ده د دې لپاره دلته «ینبغی» په معنی د «یجب» سره هیڅکله نه شي کیدلی

د دویم سوال په څواب کښې لیکي

«داسې شرعي مسئلې ته چه په هغې کښې د هیڅ یوه فرد اختلاف نه وي بدعت او حادث ویل سخت حرام دي»

مونږ پورته دا ثابته کړې ده چه په دې کښې اختلاف شته او دا د جمهورو په خلاف ده همدارنګه تر حی علی الفلاح پورې یا له حی علی الفلاح څخه وروسته دریدل او دا د ادب خلاف بلل او دې ته بدعت ویل اګر که ګناه ده لیکن له دې څخه محکښې دریدلو ته د ادب خلاف ویل لنډ نظرې او سنت یا واجب ورته ویل او په دې باندې اصرار او په تارک باندې ئې انکار کول بدعت او ضلالت دی

مخکښې فرمایي

،، د نبي كريمﷺ وينا ته يا په هغه باندې عمل كوونكي ته د عمل كولو له وجې معاذ الله د ذلت په سترګه کتل کفر دی،،

په دې عبارت کښې مؤلف دا دعوه کړې ده چه په حی علی الفلاح باندې دريدل د نبي كريمﷺ مبارکه ويت ده په داسې حال کښې چه دا په سيد الكونينﷺ باندې دروغ او بهتان دی له کوم ضعف څخه ضعيف حديث څخه هم دا نه ده ثابته نبي كريمﷺ فرمايلي دي **من كذب علي متعمداً فليتبوأ مقعده من النار.** پس د تاليف په شوق کښې له ځانه حديث جوړوونکی او په نبي کريمﷺ باندې دروغ لګوونکی دي بايد خپل موعود ځای د ورتلو ته انتظار وباسي (اعاذنا الله منه)

مونږ په آخر کښې له مؤلف څخه يواځې د لاندينيو دريو پوښتنو ځوابونه غواړو

۱. کوم له ضعيف څخه ضعيف حديث وړاندې کړی چه په هغه کښې دا راغلی وي چه د امام په موجودوالي کښې دې مقتديان بايد په حی علی الفلاح باندې ودريږي مونږ له يوه قولي حديث څخه دا ثابته کړې ده چه په اقامت کښې دې بايد د الله اکبر د لفظ په ويلو سره خلک ودريږي او له يوه فعلي حديث څخه مو واضحه کړې ده چه صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم به په اقامت کښې د الله اکبر د لفظ په اوريدو سره دريدل

۲. له امام اعظم څخه کوم له ضعيف څخه ضعيف روايت را وښايي چه ده مبارک له حی علی الفلاح څخه مخکښې دريدلو څخه منع کړې وي يا ئې دا مکروه بللی وي

۳. د فقهي د يوه کتاب څه عبارت وړاندې کړی چه په هغه کښې په حی علی الفلاح باندې د دريدلو سنت والی راغلی وي ټول فقهاء کرام ئې مندوب لیکي او به آدابو کښې ئې ذکر کوي سنت هيڅوک هم نه ورته وايي او مندوب هم په دې معنی چه له دې څخه تاخير مه کوی

په آخر کښې له مؤلف څخه دوسم ځل هيله ده چه د اوږدو او ګنو تقريرونو په ځای په لنډه توګه د دغو دريو پوښتنو ځوابونه راکړی او دا غوښتنه هم ده چه که چيرتې د جُمعې د آذان به باره کښې مو هم د څه ليکلو اراده وي نو هغه هم ژر چاپ کړی تر څو چه ستاسو د حضور له قطعي دلائلو په مطالعې باندې مونږ هم مشرف شو فقط والله الهادي الى سبيل الرشاد والعاصم من ظلمات الفتن والفساد.

۳صفر ۷۲ هـ

باب استقبال القبلة

حدّ الانحراف عن القبلة (له قبلې څخه د انحراف اندازه)

سوال يو جومات د قبلې له سمت څخه ډېر منحرف (ګرځېدلی) دی د داسې جومات شرعي حکم څه دی؟ بينوا بيان شافياً توجروا اجراً وافياً

الجواب باسم ملهم الصواب له بيت الله څخه تر پنځه څلويښتو درجو پورې انحراف د لمانځه مفسد نه دی له دې څخه زيات انحراف مفسد دی لهذا د رياضياتو له کوم عالم څخه معلومات وکړئ چه دا جومات له قبلې څخه څومره درجې منحرف دی که چيرته کوم رياضي پوه په لاس در نه شي نو د قبلې خوا ته د ديوال اوږدوالی او قطب نما پرې کښېږدی او د ديوال د دواړو خواوو تفاوت فرق، په ډېر احتياط سره اندازه کړئ او احقر ته ئې را وليږئ د ديوال د اوږدوالي او شمالي او جنوبي تفاوت د اندازه کولو لپاره د کوم پوه او معتبر شخص ضرورت دی فقط والله تعالی اعلم

دربيع الآخر اوله ۱۴ ـ۷ هجری

د شکاګو د قبلې سمت

سوال په شکاګو کښې لمونځ بايد کومې خوا ته ادا شي؟ دلته په دې کښې اختلاف دی. او ستاسو فيصلې ته خلک انتظار دي

الجواب باسم ملهم الصواب مکه مکرمه طول شرقي = ۳۹/۹ عرض شمالي = ۲۱/۴

شکاګو (امريکه) طول غربي = ۸۷/۸ عرض شمالي = ۴۲/۸ سمت قبله = ۴۸/۴ له **شمال** څخه د مشرق خوا ته

مم عرض موقع - مم عرض مکه جم فرق طول .

مس سمط قبله - جم عرض موقع مس فرق طول قم (عرض موقع - عرض البلد)

۴۰۶۸ ، + ۷۸۶۴ (-) = ۱۹۳۲ ، (-) = ۳۲ / ۷ (-) = عرض موقع - ۸ / ۴۲ =

۵ ۷۵ (-) ۹۲۵۱ ،۱ + ۱۱۱۹ /. + ۱۴۱ / .(-) = ۵۱۱ /. / . = ۴ / ۴۸ .

خبرداری څرګنده شوه چه هلته خلک د مشرق خوا ته مخ اړوی او لمونځ کوي کوم چه بالکل غلط دی خلکو ته د قبلې د صحيح سمت د ورښودلو بندوبست وکړی

فقط والله تعالی اعلم

درمضان المبارک شروع ۱ ـ هجری

د هوستن د قبلې سمت

سوال د تیکساس (U.S.A) د ښار هوستن (Houston) کښې زما زوی زده کړه کوي لهذا د مهربانۍ له مخې د هغه ځای د قبلې صحیح سمت معلوم کړی او را وئې لیږی چه څومره کیدلی شي خواب زر راکړی الله تعالی دې تاسو ته جزائے خیر درکړي

الجواب باسم ملهم الصواب د هوستن د ښار د قبلې سمت له شمال څخه مشرق خوا ته په ۴۵ درجې او ۳۲ دقیقو باندې پروت دی، یعنې د شمال او مشرق تقریباً په منځ کښې واقع دی

مکه مکرمه ، طول شرقی = ۹ / ۳۹ عرض شمالی = ۴ /۲۱.

هوستن طول غربی = ۲ / ۹۵ ، عرض شمالی = ۸ / ۲۹ؤ سمت قبله = ۵/ ۴۵ .

مم عرض موقع = مم عرض مکه جم فرق طول .

مس، سمت قبله جم عرض موقع مس فرق طول، قم (عرض موقع – عرض البلد)

۴۰۶۸ / + ۸۵۰۲/ آ (- ۷ = ۲۵۷۰ / . (-/ = ۲۹ (-) عرض موقع - ۸ / ۲۹ = ۱۸ / ۵۸ (-)

۱/ ۹۴۱۸ + ۱/ ۹۹۸۵ / ۱ (-) + ۰۶۷۸ (-) = ۸۱ .. / = ۴۵۶۵ ، له شمال نه د مشرق طرفته

فقط و الله تعالی اعلم ۴ رجب المرجب ۹۳ هجری

د نیویار د قبلې سمت

سوال د نیویارک د قبلې سمت وښائی، دلته خلک له مشرق څخه لس درجې د جنوب خوا ته مخونه اړوي؟

الجواب باسم ملهم الصواب دا سمت غلط دی، د لاندیني صحیح سمت خلکو ته تبلیغ او خپرونه وکړئ

مکه مکرمه ، طول شرقی = ۹ / ۳۹ عرض شمالی = ۴ /۲۱.

نیویارك طول غربی = ۷۴/۱۰، عرض شمالی = ۴۰/ ۴۸ سمت قبله = ۵۸/ ۲۲ له شمال څخه مشرق خوا ته

مم عرض موقع = مم عرض مکه جم فرق طول

مس، سمت قبله = جم عرض موقع مس فرق طول قم (عرض موقع – عرض البلد)

۶۴۰۷۹ + ۶۶۱۰۴ آ (-) - ۶۰۱۸۳ ۰ (-) - ۴۸/ ۴۳ (-) - عرض موقع - ۴۰/ ۴۸ - ۸۳ ۳۴

(-) ۱۰۸۵۸۴ + آ ۰۰۳۵۰۱ (-) + ۰۰۰۰۱۹ (-) - ۰۰۲۱۰۴ = ۵۸ ۲۲ فقط و الله تعالی اعلم

۲۹ ذی الحجة ۹۳ هجری

د جهلم د قبلې سمت

سوال په جهلم کښې يو ځای د نوي جومات د جوړولو ضرورت دی مونږ ئې د قبلې د سمت د صحيح کولو کوشش کوو، د اکثرو قديمي جوماتونو د قبلې خوا په ۹۰ درجو باندې کيښودل شوی ده که چيرته مونږ د دې نوي جومات د قبلې سمت ۹۰ درجې ولګوو نو د مدرسې ډيره زمکه له ضائع کيدو څخه ساتل کيږي له تاسو څخه هيله ده چه د مهربانۍ او کرم له مخې د جومات د قبلې د صحيح سمت د څرګندولو لپاره صحيح طريقه را وښائی؟

الجواب باسم ملهم الصواب د جهم د قبلې صحيح سمت ل شمال څخه په ۱۰۲ – ۳۲ درجو باندې دی د تخريج لپاره د بنده د "ارشاد العابد" رساله مطالعه کړی، په جهلم کښې مقناطيسي قطب ۱ـ ۱۰ له حقيقي قطب څخه د مشرق خوا ته دی لهذا د قطب نما په ذريعې سره چه سمت قائم کړی شي نو صحيح سمت له شمال څخه ۱۰۳ ـ ۴۲ درجې کيږي ليکن شرعاً د دې پابندي ضروري نه ده له صحيح سمت څخه تر دواړو خواوو ته تر ۴۵ درجو پورې له انحراف څخه هم لمونځ صحيح کيږي لهذا له شمال څخه په ۹۰ درجو باندې د جومات د جوړيدو ګنجائش شته. البته بهتره دا ده چه صحيح سمت ته خومره نژدې کيدلی شي هغه غوره کړی له ضرورت پرته انحراف مه کوی فقط و الله تعالی اعلم ـ

۲۴ جمادی الاولی ۹۳ هجری

د تورنتو د جزيرې د قبلې سمت

سوال د تورنتو د جزيرې د قبلې سمت ولیکئ؟

الجواب باسم ملهم الصواب د تورنتو جزيرې طول غربی - ۷۰/ ۲۲ . عرض شمالی- ۴۳ ۳۸ . سمت قبله - ۵۴ ۳۵ له شمال څخه د مشرق خوا ته

مم عرض موقع - مم عرض مکه جم فرق طول ، مس. سمت قبله- جم عرض موقع مس فرق طول قم (عرض موقع – عرض البل)

۴۰۷۹ ۰ + ۶۸۹۲ ۱ (-) = ۰۶۰۹۷۱ (-) = ۳۹/۳۸ (-) = عرض موقع

۳۹/۳۸ (-) - ۳۸/۴۳ = ۱۷/۸۲ (-) .

۸۹۲۶ ۱ + ۲۵۱۵ ۰ (-) + ۳۹ ۰۰ ۶ ۰ (-) = ۴۸۰ ۶ ۰ (+) - ۳۵/۵۴

فقط و الله تعالی اعلم

۳۰ جمادی الاولی ۹۶ هجری

د نیو جرسي د قبلي سمت

سوال د نیو جرسي د قبلي سمت را وښئ او را وي لیرئ مهربانی به مو وی؟

الجواب باسم ملهم الصواب طول غربی ۷۴° ۳۰ . عرض شمالی - ۴۰° ۱۵ . سمت قبله - ۵۸ ۸ له شمال خخه د مشرق خوا ته

مم عرض موقع - مم عرض مکه. جم فرق طول

مس. سمت قبله - جم عرض موقع مس فرق طول قم (عرض موقع - عرض البلد)

۴۰۷۹ء۰ + ۶۱۶۱ء۱ (-) = ۲۳۰ء۰۰ (-) = ۴۳° / ۲۹ (-) = عرض موقع

۴۳° ،۲۹ (-) _ ۴۰° ۱۵ - ۴۴،۸۳ (-)

۸۶۰۵ء۱ + ۳۴۳۳ء۰ (-) + ۲۶ ۰۰ ء۰ (-) = ۰۶۴ء۲۰ (+) = ۸/۵۸

فقط و الله تعالی اعلم۔ **۳۰جمادی الاولی ۹۶ھجری**

د لندن د قبلي سمت

سوال د لندن (مغرب° ۰ - ۵. شمال° ۵۱-۳۱) د قبلي سمت ولیکئ؟

الجواب باسم ملهم الصواب مکه مکرمه طول شرقی -° ۳۹ ۹. عرض شمالی° ۳۵، ۲۱

لندن .طول غربی - ۸ ۰، ۰) عرض شمالی° ۵۲، ۵۱، سمت قبله° ۱۱۹ له شمال خخه د مشرق خوا ته

فقط و الله تعالی اعلم

۲۹شوال ۹۹ھجری

د ونیپګ (کاناډا) د قبلې سمت

سمت قبلہ ونّیپگ (کینیڈا)

LN 58 ASQ883

LT 332P CB WINNIPGE MAN 7 38

LT

MUFTI RASHID AHMED LUDHAEVI DAR UL-IFTA WAL-IRSHAD

NAZIM ABAD NO.4

KARACHI

DETERMINE THE DIRCTION OF QIBLA FOR WINNIPEG 97 DEGREE 15 MINUTES WEST 49 DEGREE 54 MINUTES NORTH INFORM BY CABLE URGENT PLEASE

AYUB HAMID 529 STYLES STREET WINNIPEG

الجواب باسم ملهم الصواب

LT

800P-9

AYUB HAMID

529 STYLESSTREET

WINNIPEG

WINNIPEG WEST 97.25° NORTH 49.9° QIBLA DIRECTION 39.93° NORTH TO EAST

REFER MY BOOK IRSHADULABID FORMULA NO: 1/2

MUFTI RASHID AHMAD.

۸ رذی الحجہ ۹۸ھ

حطيم ته په مخ اړولو سره لمونځ نه کيږي

سوال حطيم ته د مخ په اړولو سره لمونځ کيږي او که نه؟ که چيرته نه کيږي نو وجه ئې څه ده؟ په داسې حال کښې چه حطيم هم په حقيقت کښې خاص د بيت الله شريف يوه برخه ده؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب ټول حطيم د بيت الله شريف برخه نه ده بلکه په دې کښې شپږ ذراع (ګزه) د بيت الله حصه ده لومړۍ د بيت الله شريف حصه توب او دويم اندازه کول ئې په شپږو ګزونو دا دواړه ظني خبرې دي او د استقبال حکم (قبلې ته د مخ اړولو حکم) قطعي دي د دې لپاره حطيم ته لمونځ نه صحيح کيږي

قال في الشامية فانه اذا استقبله المصلي لم تصح صلاته لان فرضية استقبال القبلة ثبتت بالنص القطعي و كون الحطيم من الكعبة ثبتت بالأحاد فصار كأنه من الكعبة من وجه دون وجه الخ. (ردالمحتار ج۱، ص۱۸۲، مبحث الطواف) فقط والله تعالیٰ اعلم

۱۱ محرم الحرام ۸۸ هجری

که چيرته قبله معلومه نه وي نو څه به کوي؟

سوال زيد د بې خبرۍ له مخې د قبلې خوا ته د مخ په اړولو سره لمونځ ادا نه کړ بلکه څه فرق پاتې شو وروسته څرګنده شوه چه غلطې خوا ته ئې مخ ګرځولی دی نو آيا د لمانځه را ګرځول پرې واجب دي او که نه؟ په داسې حال کښې چه زيد ته قبله معلومه نه وي. که له دې واقعې سره په سفر کښې مخامخ شوی وي او که په کور کښې نو حکم ئې څه دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب که چيرته د قبلې د معلومولو هيڅ يوه ذريعه نه وي لکه نه د جومات له محراب څخه. نه له ستورو څخه نه د قطب نما او داسې نورو څخه او نه هلته يو داسې څوک موجود وي چه د قبلې لارښوونه وکړی شي نو په دې صورت کښې تحرّی فرض دی يعنې د وس مطابق د غور. فکر او پلټنې باندې چه کومې خوا ته زړه ګواهي ورکړي هغې خوا ته دې لمونځ وکړی له لمانځه څخه تر فارغېدو وروسته که چيرته د قبلې خوا غلطه ثابته شي نو د لمانځه را ګرځول واجب نه دي او که چيرته د قبلې د معلومولو يوه نه يوه ذريعه موجوده وي او سره له دې نې له هغې څخه کار وا نه خيست بلکه تحرّی ئې وکړه او لمونځ ئې ادا کړ نو په دې صورت کښې که چيرته ئې قبلې ته مخ کړی وي يعنې د بيت الله شريف دواړو خواوو ته د ۴۵ درجو په دننه کښې ئې لمونځ کړی وي نو لمونځ ئې شوی دی او که نه نو د لمانځه بيرته را ګرځول پرې واجب دي که چيرته د قبلې د معلومولو د هيڅ يوې ذريعې د نه موجودوالي په حالت کښې له تحرّی پرته لمونځ وکړي نو د لمونځ به ئې صحيح نه وي اګر که ئې د قبلې صحيح سمت خوا ته ئې ادا کړی هم وي

ملکه که جبرنه د لمانځه په حالت کښې ني دا یقین هم جوړ شي چه مخ ني د صحیح سمت خوا ته زولی دی نو بیا ني هم لمونځ نه کیږي البته که جبرنه له لمانځه څخه تر فارغیدو وروسته ني د سمت د صحیح والي یقین وشو نو بیا د دې لمانځه را ګرځول واجب نه دي

قال فی العلائیة ویتحرّی هو بذل المجهود لنیل المقصود عاجز عن معرفة القبلة بما مرّ فان ظهر خطؤه لم یعده وفی الشامیة (قوله بما مرّ) متعلق بمعرفة والذی مرّ هو الاستدلال بالمحاریب والنجوم والسؤال من العالم بها فافاد انه لایتحرّی مع القدرة علی احد هذه حتی لو کان بحضرته من یسئله ولم یسأله ان اصاب القبلة جاز لحصول المقصود والا فلا الخ. (رد المحتار ج۱ ص۲۰۲) وفی العلائیة وان شرع بلا تحرّ لم یجز وان اصاب لترکه فرض التحرّی الا اذا علم اصابته بعد فراغه فلا یعید اتفاقاً وقال ابن عابدین رحمه الله (قوله وان شرع) الضمیر راجع الی العاجز ای اذا اشتبهت علیه القبلة وعجز عن معرفتها بالادلّة المارة فقبلته جهة تحریه فلو شرع بلا تحرّ لم تجز صلوته ما لم یتیقن بعد فراغه انه اصاب القبلة لان الاصل عدم الاستقبال استصحاباً للحال فاذا تبیّن یقیناً انه اصاب ثبت الجواز من الابتداء وبطل الاستصحاب حتی لو کان اکبر رأیه انه اصاب فالصحیح انه لا یجوز کما فی الحلیة عن الخانیة ولو تیقن فی اثناء صلوته لا یجوز خلافاً لابی یوسف رحمه الله لان حاله بعد العلم اقوی وبناء القوی علی الضعیف لا یجوز (ردالمحتار ج۱ ص۳۰۱)

فقط والله تعالی اعلم ۱۶ رجب ۸۸ هجری

په مکه مکرمه کښې کعبې مبارکې ته د مخ ګرځولو حکم

سوال د مکې مکرمې په ښار کښې له مسجد حرام څخه د باندې د قبلې د سمت تعین او استقبال باید څرنګه وشي په داسې حال کښې چه مخې ته لوړ لوړ عمارتونه د دې لپاره خنډ یا حائل دي؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب کوم سړی چه لوړ ځای ته په ختو سره کعبه مبارکه لیدلی شي نو د هغه لپاره عین کعبې ته مخ اړول ضروري دي او که نه نو په تحرّی سره د کعبې مبارکې د جهت تعین کافي دی

قال فی شرح التنویر فللمکی اصابة عینها یعم المعاین وغیره لکن فی البحر انه ضعیف والاصح ان ما بینه وبینها حائل کالغائب. وفی الحاشیة عن الفتح وعندی فی جواز التحری مع امکان صعوده اشکال لان المصیر الی الدلیل الظنی وترک القاطع مع امکانه لا یجوز وقد قال فی الهدایة والاستخبار فوق التحرّی فاذا امتنع المصیر الی ظنی لامکان ظنی اقوی منه فکیف یترک الیقین مع الظن آه. (ردالمحتار ج۱ ص۲۹۰)

فقط والله تعالی اعلم ۱۷ رجب ۹۰ هجری

په لمانځه کښې له قبلې څخه د سينې د ګرځيدلو حکم

سوال د دې مسئلې په باره کښې د شريعت څه حکم دی چه په لمانځه کښې د نه د عذر له مخې يا پرته له عذر څخه د چا سينه له قبلې څخه واوړي نو آيا لمونځ ئې فاسديږي او که نه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب له بيت الله شريف څخه که چيرته د ٤٥ درجو په منځ کښې انحراف شوی وي نو په هر صورت سره لمونځ ادا کېږي لې دې څخه زيات انحراف که چيرته قصداً وي نو په هر صورت سره ئې لمونځ فاسديږي. او که چيرته پرته لې اختيار څخه سينه له قبلې څخه واوړي نو او بيا د درې ځله سبحان الله ويلو په اندازه همداسې پاتې شي نو لمونځ ئې فاسديږي او که نه وي نو نه فاسديږي

فی مفسدات الصلوٰة من التنویر و تحویل صدرہ فسدت و ان کان فی المسجد اذا کان من غیر علو کما علیه عامة الکتب آه. و اطلقه فشمل مالو قل او کثر و ھذا لو باختیارہ و الا فان لبث مقدار رکن فسدت و الا فلا. کما فی شرح المنیة من فصل المکروھات (ردالمحتار ج۱،ص۵۸٦)

فقط والله تعالیٰ اعلم
۱۸ ذی لعدہ ۹۵ ھجری

بسم الله الرحمن الرحیم

بنما بصاحب نظرے گوہر خود را　　　عیسیٰ نتوان گشت بتصدیق خرے چند

المشرفی علی المشرقی

عنایت الله مشرقی او د قبلې طرف

«عجیبه جهل مرکب»

المشرفی

د تالیف تاریخ ـــــــــ ۲۹ کل ۱۳۶۳ھ

اول ځل چېږدنه ـــــــــ ۱۳۶۳ھ

د بحث عنوانات

- په لمونځ کښې د استقبال قبلې ضروری حد
- په لرې پرتو هیوادونو کښې د قبلې د معلومولو شرعی طریقه
- د سمت قبلې په تخریج کښې د ریاضی د قواعدو استعمال
- بې مثاله جهل مرکب
- مسټر مشرقی او علم ریاضی
- د غرور له وجې نه سمونه سرچپه سول
- سرسری د مشرقی د ځمکې کُره سرسری جوړه کړه
- خفی نعمه واسع فی السعه
- په مشرق او مغرب به د جهت بدل شد
- په عرض بلد به بلد
- لکی تروکی سوری به ډکې نه دی
- مسټر مشرقی او جغرافیه
- مسټر مشرقی او تاریخ
- بحیثه مشرقی لکه یه زړه کښې مغربی
- مسئله معنی
- معد . مسئله . مسئلې بله

عنایت الله مشرقي او د قبلې طرف (سمت)

بسم الله الرحمن الرحيم

ورسته له الحمد او صلوة نه د اخبار مدینه بجنور په ۲۵مارچ سنه۱۹٤٤ء کښې یو مضمون په عنوان د (قبله چیرې ده) په نامه مې له نظره تیر شو چه په هغه کښې د مستر عنایت الله مشرقي د قبلې په سمت باندې اعتراض را نقل شوی وو

بیا نې چه ځینو خلکو ته د پریشانی سبب جوړ شوی وي د دې لپاره د شرعي حیثیت له مخې په دې مسئلې باندې په لنډه توګه رڼا اچول ضروري بولم تر مقصده مخکښې لومړی به دې باندې پوهدل ضروري دي چه دا اعتراض کوم نوې اعتراض نه دی چه مشرقي صاحب پرې ویاړي بلکه له پیړیو څخه په دې مسئلې باندې بحث را روان دی د شرعي او فلکیاتي حیثیت له مخې د اُمت د علماء کرامو په دې باندې ګڼ تصنیفونه په مختلفو ژبو سره پیدا کیږي حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي صاحب او د حضرت مولانا محمد لدهیانوي صاحب تر منځ د پنجاب د یوه جومات په اړه مکالمه هم شوې وه

دویم دا چه غلطي خو له انسانه کیږي لیکن په غلطۍ باندې الوتل او فخر کول د دې مثال مې له مشرقي څخه مخکښې په چا کښې نه لیدلی او نه اوریدلی دی البته څرګنده دې وی چه په دې مسئلې کښې د نظر وړ شیان درې دي

۱- استقبال قبله کوم چه په لمانځه کښې فرض دی د دې ضروري حد څه دی؟

۲- په لرې پرتو ښارونو کښې د قبلې د ضروري سمت د معلومولو شرعي طریقه څه ده؟

۳- د ریاضي قواعدو استعمال د دې کار لپاره جائز او معتبر دي او که نه؟ که چیرته وي نو تر کومې درجې پورې؟ دا درې واړه مسئلې جلا جلا په ذهن کښې کښینوئ نو د بحث لاندې مسئله په ښه توګه حل کیږي

لومړی مسئله : دې په اړه قرآني حکم دی چه (**فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ**) او (**فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ**) یعنی د لمانځه په وخت کښې خپل مخونه د مسجد حرام خوا ته واړوئ په دې آیت کښې د بیت الله په ځای د مسجد حرام (کوم چه تر بیت الله ډیر وسیع دی) خوا ته د مخ د ګرځولو له حکم ورکولو څخه څرګندیږي چه د قبلې د استقبال په مسئله کښې سهله سریعت نصنی ننګونی نه دی ... بلکه څه نا څه وسعت پراخي سته چه تاسو او محمد ... مو ... څه کړي

د مدني منورې او همدارنګه له مکې معظمې څخه په نورو شمالي علاقو په اړه د نبي کريم ﷺ ارشاد دی چه ((ما بين المشرق والمغرب قبلة)) يعنې ستاسو لپاره د مشرق او مغرب منځ قبله ده. له دې حديث څخه د مشرق او مغرب منځنۍ قوس يعنې نيمه دائره (۱۸۰ درجه) د اندازې متعلق د قبلې د جهت د موجودوالي دعوی کيدله ليکن د اُمت محققينو د دومره وسعت مراد ترې وا نه خيست بلکه حديث ئې په عام عرف باندې محمول کړ له مشرق او مغرب څخه ئې د مشرق او مغرب د نقطې په ځای د مشرق او مغرب د جهت مراد واخيست د دې منځنۍ جهت د جنوب څلورمه برخه دائره (۹۰ درجې) مراد ئې ترې واخيست يعنې د بيت الله دواړو خواوو ته ۴۵ـ ۴۵ درجو پورې. او د همدې تفصيل مطابق د مشرق د خلکو لپاره د شمال او جنوب په منځ کښې د مغرب جهت قبله ده. داسې فقهاء کرامو رحمهم الله تعالى داسې بيان کړی دی چه د لمونځ کوونکي د تندي له منځنۍ برخې څخه د مستقيم خط په را ايستلو سره چه خط په عين کعبه باندې برابر شي نو دا قبله مستقبله ده او که چيرته د تندي له منځنۍ برخې څخه را ايستونکی خط خو په عين کعبه باندې و نه رسيږي ليکن د مصلي د تندي له اطرافو څخه له هر يوه طرف څخه را وتونکی خط په عين کعبه باندې ورسيږي نو دا لږ انحراف دی او که نه نو ډير انحراف دی کوم چه د لمانځه فاسدوونکی دی او د هيئت او رياضي علماوو د لږ او ډير انحراف تعين داسې کړی دی چه تر ۴۵ درجو پورې انحراف وی نو لږ دی او که تر دې زيات وي نو بيا ډير دی او د لمانځه مفسد دی (کما في الخيرية) د قبلې د استقبال په مسئله کښې د شريعت له پورتني وسعت څخه دا هم څرګنده شوه چه لږ انحراف کوم چه په عامه توګه باندې کله کله شمالاً او کله کله جنوباً واقع کيږي نو دا د التفات وړ نه دی له دې وجې څخه نه د کوم جوماتونو د قبلې د جهت د بدلولو ضرورت دی او نه په همدې حالت کښې ئې کوم طرف ته د مائل کولو حاجت دی ليکن د چا طبيعت چه له تنګي څخه ډک وي او د شريعت له سماحت او وسعت څخه بې خبره وي نو هغه د ټول اُمت د لمونځونو د فسادوالي او د جوماتونو د ورانولو حکم ورکوي

سرّ خدا که عابد و زاهد کسے نه گفت | در حیرتم که باده فروش از کجا شنید

دويمه مسئله په نورو سرونو کښې د قبلې د سمت د معلومولو شرعي طريقه څه ده او صحابه کرامو تابعينو او د اُمت جمهورو په دې باندې څه ډول تعمل وو؟ په دې باره کښې تر ټولو محکمې د مقدمې په توګه د دې ويل مناسب دی چه د شريعت د ټولو حکمونو بنياد په يسر سهولت باندې ... سادګی و بی تکلفی باندې دی په فلسفيانه تدقيقاتو مشکلو پلټنو باندې نه دی څکه چه د دی شريعت د حکومت د تره ټول عالم په وجه ولمده نورو ... و ... ته اړتيا نه درلودله او د هغو په ... باندې جاريدل دی اسلامي ... لمونځونه و

روژې لکه څرنګه چه په ښاربانو باندې عائد دي همدا رنګه په بانډه څانو . کلیوالو . عروبو . د ...
او جزائرو په اوسیدونکو باندې چه هیڅ ئې زده نه وي او با لکل ناخبره وي هم عائد دي او کوم
احکام چه دومره عام وي په هغو کښې د عقل او حکمت او رحمت تقاضا همدغه ده چه هغه به
فلسفي تدقیقاتو . ریاضي قواعدو یا په رصدي آلاتو اسبابو باندې موقوف نه شي بر څو چه هر
خاص او عام که ئې په زده وي او که نه په آسانۍ سره خپل فرائض سر ته و رسولی شي د رمضان د
روژې مدار د میاشتې په لیدو باندې موقوف دی او ریاضي حسابونو ته پکښې اعتبار نه دی
ورکړ شوی میاشتې ئې قمري وټاکلې چه مدار ئې په رؤیت هلال (د میاشتې په لیدو) باندې دی
شمسي میاشتې ئې و نه ټاکلې د دې لپاره چه د هغو مدار په ریاضي حسابونو باندې دی
همدارنګه د اسلامي احکامو له پلټنې څخه د دې مثالونه ډېر څرګند بدلی شي د دې لنډې مقدمې
نه وروسته د بحث لاندې مسئلې کښې هم دا فیصله آسانه شوه چه د قبلې د سمت کوم چه هر
مسلمان په ورځ کښې پنځه ځلې په دې باندې مامور دی چه مخ ور واړوی د دې لپاره نه خمخ
شریعت مبارکه کومه آسانه او ساده طریقه غوره کړې وی چه هر ښاري او بانډه چي سړی ئې په
آسانۍ سره په عمل کښې راوستلی شي لکه څرنګه چه د دې په اړه د نبي کریم ﷺ او صحابه
کرامو رضی الله تعالی عنهم د عمل طرز ته لږ څیر شئ

۱ . په دې باندې اتفاق دی چه تر مسجد حرام وروسته تر ټولو لومړی جومات کوم چه په اسلام
کښې جوړ شوی دی هغه مسجد قبا دی د دې جومات بنیاد په هغه وخت کښې کېښود شوی وو
چه د مسلمانانو قبله لا بیت المقدس وه بیا چه کله د قبلې د بدلولو آیات نازل شو نو دا خبره یو
صحابي په داسې وخت را ورسوله چه د قبا په جومات کښې خلک په لمانځه ولاړ وو د دې خبرې
په اوریدو سره امام او ټول جماعت د بیت الله خوا ته مخونه واړول دا واقعه د حدیثو او تفسیر
په عامو کتابونو کښې راغلی ده د دې واقعې اطلاع نبي کریم ﷺ ته وشوه نو هغه د دغو خلکو د
فعل او عمل تصویب کړ بیکاره خبره ده چه د لمانځه په حالت کښې چه د قبا خلکو د قبلې کوم
سمت غوره کړ په هغه کښې د رصدي آلاتو و اسبابو او اصطرلاب دخل نه شي کېدلی بلکې
تخمین و تحرّي له مخې د قبلې سمت تعین شو و پر لمانځه وروسته هم خبره دا نه ده ... شی
چه د دې تحرّي او تخمین نه برته کوم بل انتظام نبول شوی وی

۲ . حضرت عمر ﷺ د خپل خلافت په دوره کښې په ټول اسلامي قلمرو کښې د هر ولایت د
عمل نه نامه فرمان ولېږه چه په هر ولایت کښې دی جوماتونه جوړ شي د حکومت عمالو حکم نه
دی راوړ لیکن د قبلې د سمت د معلومولو لپاره نه حضرت عمر ﷺ کوم ... وکړ و نه د حکومت
عمالو د ریاضي حسابات استعمال کړل بلکه د تحرّي و تخمین له مخې جوماتونه جوړ شول

۳ علامه مقریزي په کتاب الخطط ص۲۴٦ جلد ۲ کښې له بوره وضاحت سره لیکلي دي چه حضراتو صحابه کرامو رضی الله عنهم په مصر او نورو ښارونو کښې په همدا ډول لوی لوی ښارونو کښې د لمر او ستورو په ذریعې سره د اندازې او تحری له مخې کړ واحد و جوماتونه ئې آباد کړل او عامو مسلمانانو د هغو اتباع وکړه البته احمد بن طولون چه کله په مصر کښې د جامع جومات بنیاد کیښود نو مدینې طیبې ته ئې سړی ولیږه او د نبوي جومات د قبلې سمت ئې په ښانګړي توګه معلوم کړ او د هغه موافق ئې جومات جوړ کړ کوم چه د عمر و بن العاص د مصر له جامع جومات څخه لږ غوندې منحرف دی لیکن علماوو د عمرو بن العاص د جامع جومات اتباع بهتره وګڼله او د مصر او شاوخوا عام جوماتونه د همدې مطابق دي په داسې حال کښې د مصر غوندې ښار د ریاضي قواعدو له پوهانو څخه خالي نه شي کیدلی

۴ د اُمت د علماوو اتفاق دی چه د دُنیا ټول جوماتونه صرف د تخمین او تحری له مخې جوړ شوی دي لیکن د نبوي جومات سمت د وحی او مکاشفې له مخې قائم شوی دی حق تعالیٰﷻ د نبي کریمﷺ په مخ کښې بیت الله شریف د معجزې په توګه حاضره کړه د هغې په لیدو سره ده مبارکﷺ د نبوي جومات بنیاد کیښود (کذا فی البحر الرائق و رد المحتار) د دې لپاره د اُمت د اجماع له مخې د نبوي جومات سمت بالکل یقیني دی لیکن د ریاضي حسابانو له مخې چه کله وکتل شو نو هغه هم صحیح ثابت نه شو چنانچه د مصر امیر ابن طولون چه کله په مصر کښې د خپل جامع جومات د جوړولو اراده وکړه نو د هندسې څو ماهرین یا پوهان ئې مدینې منورې ته ولیږل لومړی ئې د نبوي جومات د قبلې سمت په ریاضي آلاتو باندې وکاچه نو څرګنده شوه چه د آلاتو په ذریعې سره راایستل شوی خط د قبلې له سمت څخه د نبوي جومات سمت لس درجې جنوب خوا ته مائل دی لکه څرګه چه مقریزي په کتاب الخطط ج۲. ص٢٥٦ کښې په لاندینو ټکو کښې د دې بدونه کړی ده

((ان احمد بن طولون لما عزم علی بناء هذا المسجد بعث الی محراب رسول الله ﷺ من اخذ سمته فاذا هو مائل عن خط سمت القبلة المستخرج بالصناعة نحو عشر درج الی جهة الجنوب)) [1] انتهی

وس هغه خلک چه په رصدی آلاتو باندې د قبلې مدار کسوډل غواړي و په هغو سمی لحو کوی هغه دی وګوري چه د هغو په تجویز سره خو د نبوي جومات سمت هم غوره [illegible] معلومه نه دہ چه مشرقي صحابه چه په کومو هیوادونو کښې جوماتونه کښې د همدی حسابونو [illegible]

---

۱ [illegible]

لمونځ ناجائز بولي د نبوي جوماتونو په اړه به کومه فتوی ورکوي چه مشرقي صاحب هر څه وائي لیکن پورتني یاد شوی تعامل د مسلمانانو لپاره انشاء الله کافي او وافي ده

تر دې ځایه پورې د تقریر خلاصه دا ده چه د قبلې د سمت په معلومولو کښې د سلفو طریقه دا ده چه په کومو ښارونو کښې چه قدیمي جوماتونه موجود وي د هغو پیروي دې وشي او په کومو ځنګلاتو یا نوي آبادیو کښې چه پخواني جوماتونه موجود نه وي هلته دې د لمر، سپوږمۍ، قطب او داسې نورو مشهورو او معروفو ذرائعو له مخې د اندازې په قانونلو سره سمت متعین شي که په دې کښې لږ غوندې میلان او انحراف پاتې هم شي نو هغه به له نظره غورځول کیږي ځکه چه د تصریح مطابق د بدائع الصنائع مصنف به دغو لرې پرتو ښارونو کښې د تحرّی او اندازې څخه قائم شوی جهت د کعبې قائم مقام دی او په همدې باندې احکام دائر دي لکه څرنګه چه شریعت خوب لره د ریح د را وتلو قائم مقام ګرځولی او د اوداسه د ماتوالي حکم ئې پرې کړی دی یا ئې سفر لره د منتقب قائم مقام ګرځولی او مطلقاً رخصت ئې پرې مرتب کړی که په حقیقت کښې مشقت وي او که نه همدارنګه په لرې پرتو ښارونو کښې د مشهورو او معروفو نښانو په ذریعې سره چه د قبلې کوم سمت د تحرّی او اندازې له مخې ټاکل کیږي هغه به د کعبې قائم مقام وي

دریمه مسئله د قبلې د معلومولو لپاره د ریاضي آلاتو استعمال جائز دی او که نه؟ د دې په اړه نتیجې ته رسیدو مخکښې څو مقدمې د یادونې وړ دي :

(۱) پورته ذکر شول چه د شریعت هر فعل په آسانۍ او سهولت باندې مبني دی چه څومره یو کار عام کیږي هم هغومره به هغه کښې سهولت زیاتیږي او ریاضي آلات او حسابات دومره عام نه دي چه هر سړی ته به هر ځای کښې په لاس ورشي

۲ د ریاضي حسابونو او آلات رصدیه په ذریعې سره هم عین کعبې ته مخ کول یا مسجد حرام ته بلکه مکې مکرمې ته هم استقبال ممکن نه دی د لاندې وجوهو په بنا باندې

۱ د فلکیاتو په عامو کتابونو کښې چه د قبلې د سمت کومې طریقې لیکل کیږي او بیا د سمت قبلې کومې نقشې مرتب کیږي هغه ټولې تقریبي وي

۲. د قبلې د سمت د معلومولو لپاره که څومره هغه طریقې استعمال هم شي کومو ته چه تحقیقي وئیل کیږي نو بیا هم یو ټکل صحیح سمت نه شي را ایستل کیدلی ځکه چه د هر ځای یو ټکل صحیح طول البلد او عرض البلد معلومول مشکل دی له لږ غوندې تفاوت څخه هم نتیجه مختلفه کیږي او په نتیجه کښې لږ غوندې فرق هم چه کله لرې لاړ شي نو په میلونو فرق لویږي

۳. په یو ښار کښې د یوه مخصوص ځای طول او عرض چه را وویستل شي او د قبلې سمت ترې را وایستل شي نو د همدې ښار د نورو ځایونو طول او عرض له همدې ځای سره د مختلف والي له وجې د هغو د قبلې سمت هم د دې ځای د قبلې له سمت سره به مختلف وي او د دې سره

نوخوا د قبلې په سمت کښې خو به نور زيات فرق وي او د هر هر ځای جلا جلا د قبلې سمت ايستل ناممکن دي

۲. که چېرته بالکل صحيح سمت هم فرض کړی شي نو په عملي توګه د کعبې يا مسجد حرام بلکه مکې مکرمې ته د استقبال هم يقين نه شي کېدلی ځکه چه کومې خوا ته د وينسه په اندازه هم انحراف وشي نو د لمونځ کوونکي مخ له مکې مکرمې ځخه په مېلونو مېلونو لرې اوړي

۳. په دې فن کښې د ماهرينو په نسبت د مشرقي مستر غوندي د مدعينو تعداد ډېر زيات دی کوم چه د قبلې د سمت د ايستلو شوق لري ځکه چه دوی په دې کار کښې تر بولو مخکښې مخکښې وي لېکن په فن کښې د مهارت د نه درلودو له وجې غلط سمت را باسي يا د فلکياتو د عامو کتابونو په مطابق تقريبي طريقې او اندازې استعمالوي او يا د تقريبي نقشو په ذريعې سره د قبلې سمت معلوموي د دې لپاره په هغو کښې اختلاف پيدا کېږي بلکه د طول البلد او عرض البلد د لږ غوندې مختلف را اخيستلو له وجې د فن د ماهرينو را ايستل شوی د قبلې سمت هم له يو او بل سره مختلف وي چه له دې وجې په عوامو کښې اختلاف او انتشار پيدا کېږي

۴. پرته له کومې وجې په فلسفي او رياضي شبهاتو کښې لوېدل د شريعت له مخې بد او د تشويش موجب دي ډېر ځله په دغو تدقيقاتو کښې د لوېدلو نتيجه دا را ووځي چه په نبي کريم ﷺ. صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم اجمعين. تابعينو رحمهم الله تعالی او عامو مسلمانانو باندې بدګماني هم را منځ ته کېږي چه د دوی لمونځونه او قبله صحيح نه دي په داسې حال کښې چه دا محض باطل او د دين په کارونو کښې سخت جسارت يعنې زړورتيا ده

له دغو مقدمتو ځخه د رڼا ورځې غوندې ځرګنده شوه چه د قبلې په سمت کښې د رياضي آلاتو په اسبابو التزام مذموم يعنې بد دی د اتمې هجري پېړی مشهور او معروف عالم علامه ابن رجب حنبلي رحمه الله په همدې بناء باندې د قبلې په سمت کښې په رصدي آلاتو او رياضي تدقيقاتو پسې لوېدل منع کړي دي له امام احمد ځخه هم د قبلې په سمت کښې د رصدی آلاتو د استعمالونو منع راغلې ده

مذکور الصدر مضمون د سوه سالم طبعيت لرونکی او حق غوښتونکی مسلمان لپاره کافي او وافي ده البته د حا به طبعت کښې حه ضد. عند و اعتساف ځای سونی وی نو د هغه هيڅ علاج نشته ((ومن يضلل الله فلا هادي له))

مشرقي صاحب علماء له علم رياضي ځخه بې خبره ګڼي او خپل ځان په دې فن کښې تر ټولو ښود و عالم بولي او ځيني ساده ګان خلک ئې د علامه په لقب سره يادوي هغه په دې حرکت وي چه د رياضي قواعدو له مدد ځخه د کومې ځای د سمت صحيح خو هم رياضي ښود کوی ... د سمت د شرعي حسب نه مخې ... و د هغه له مخې د ... ځخه د صحت ... حکم نکو ...

بواخې د شريعت د علماوو كار دى مشرقي صاحب اګر كه په شرعي علومو كښې هم پخپل ګومان سره خپل مثال نه ويني ليكن حقيقت دا دى چه هغه په شرعي علومو كښې د مدرسې د يوه كوچنى طالب با چرې حيثيت هم نه لرې البته كه چيرته رسول الله ﷺ (فداه ابي و امي) او د ده صحابهٔ كرام او تابعين او ټول امت د ګمراهۍ خوا ته منسوبولو ته علم ويل كيږي نو داسې علم دې ده ته مبارك وي "و نعوذ با لله من ذالک". د مشرقي صاحب علمي مرتبه هغه خلک په ښه توګه پيژندلى شي چه په عربي علومو كښې څه ناڅه خبرتيا ولري ليكن ځينې داسې شيان دي چه معمولي غوندې پوه سړى ئې هم چه وويني د مشرقي صاحب قابليت ترې څرګندولى شي د نمونې په توګه يواځې يو مثال ستاسو په مخكښې وړاندې كوم

د دې قرآني آيت چه (وَكَفَى اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ الْقِتَالَ) ترجمه داسې بيانوي

«د مؤمن لپاره يواځې يو عمل كفايت كوي او هغه دا شه عسكر جوړ شي او وجنګيږي»

دا قطع نظر له دې چه د ماثور تفسير او الهي مراد په خلاف دى بلكه يو ادنى غوندې د صرف او نحو طالب علم هم پوهيدلى شي چه د دې عبارت هيڅكله دا ترجمه نه شي كيدلى

بې شانه جهل مركب

د مستر مشرقي په اړه خو له مخكښې څخه دا څرګنده وه چه له ديني علم څخه با لكل خالي دى. له ديني علم سره لرې واسطه هم نه لري د اكبر مرحوم دا شعر په هغه باندې با لكل صحيح تطبيقيږي چه

انهوں نے دین کب سیکھا ہے رہ کر شیخ کے گھر میں
پلے کالج کے چکر میں مرے صاحب کے دفتر میں

ليكن د هغه د ډول په آواز سره دعوى. د مختلفو علومو او فنونو له ولايت څخه په درجنو ډګرى د حاصلولو تشهير مسهورنيا او د بى بصيرته ناپوهو عوامو له خوا څخه ورلاسه سوى خطاب "علامه" له مخې دا خيال ورته وسو چه دى په دنيوى فنونو كښې خو په بشپړ سره مهارت لري ليكن د ده په رساله "د مولوى غلط مذهب" ته نهم مخ كښې د فلكي د سمت په باره د ده د مضمون ته لندو سره زمونږ دا خوش فهمي هم په حيرانتيا او تعجب بدله سوه او دا حقيقت روښانه شو چه په دنيوى فنونو كښې هم د ده د علم سمت يواځې د څو اصطلاحي لفظو پورې محدود دى البته كه چيرته په واقعيت كښې هم دى د څو ولايتي ډګريو مالک دى نو د دى سره نه دى چه د اروپا خلكو ته داسې احمق څخه د اسلام د تخريب و په اسلام كښې د ... د ... حرونو ...

حاصل مقصود وو بله وجه نه وه

اوس په مختلفو فنونو کښې د ده د قابليت څو نمونې وګورئ

مسټر مشرقي او د رياضي علم

ده سوانحي به يود مضمون ((د قبلې سمت)) کښې د رياضي په علم کښې څو ښکاره غلطۍ کړې دي

۱. **د غرور له وبال څخه سمتونه سرچپه شول** وايي ((د لاهور د جوماتونو محرابونه له صحيح سمت څخه تقريبا ۲۵ درجې جنوب خواته اوښتي دي))

د ده مقصد دا دی چه د لاهور د جوماتونو سمت د مغرب د نقطې خوا ته دې کوم چه د قبلې له صحيح سمت څخه ۲۵ درجې د جنوب خوا ته دي. يعني د لاهور د قبلې صحيح سمت له مغرب څخه ۲۵ درجې د شمال خوا ته دی

تر ننه پورې هيڅ يو ملکه دکمې بوهي درلودونکی هم د لاهور د قبلې د سمت انحراف شمالي نه دی منلی. په مُلانو بندي مسخره کوونکی له غروره ډک دماغ څخه الله تعالی د جنوب او شمال فرق له منځه يوړ او کوږ دماغ د کړې پوهې د ښکارولو لپاره مسټر مشرقي په خيال کښې له شمال څخه جنوب او له جنوب څخه شمال جوړ کړ

۲. **د لاهور د قبلې سمت**

دی فرمائي چه د لاهور جوماتونه د مغرب د نقطې خوا ته دي او له صحيح سمت څخه ۲۵ درجې منحرف دي يعني د ده په خيال کښې د لاهور د قبلې صحيح سمت د مغرب له نقطې څخه ۲۵ درجې منحرف دی. په داسې حال کښې چه د لاهور د قبلې سمت د مغرب له نقطې څخه ۲۵ درجې نه بلکه ۹ ۹ درجې جنوب ته مائل دی د تخريج صورت ئې ملاحظه کړئ

مکه مکرمه. طول - ۹َ ۳۹. عرض - ۴َ ۲۱

لاهور. طول - ۳َ ۷۴. عرض - ۶َ ۳۱. سمت قبله - ۹َ ۹ د جنوب طرفته

مه عرض موقع - مم عرض مکه جم فرق طول

مس > سمت قبله - جه عرض موقع مس فرق طول قه عرض موقع - عرض البلد.

۴.۶۸ . . ۹۱۶۵ - ۳۲۳۳ . - ۴َ ۲۵ عرض موقع . ۶ ۳۱ - ۲َ ۶ ..

۹۵۵۸ - آ ۸۳۵۵ - آ ۹۶۶۶ . . . - ۷۵۷۹ . . . - ۱َ ۸۰ . . - ۹َ ۹۹ ۹۰َ - ۹َ ۹

جنوبی طرفته

۳. **له لاهور څخه د مکې مکرمې فاصله**

د لاهور څخه د مکې مکرمې پورې بوله فاصله ۲۳۰۰ میله بیان کړې ده په داسې حال کښې
چه صحیح فاصله ۲۲۳۰.۵ میله ده د تخریج صورت نې دا دی مابین البلدین - جم عرض مکه ۰
طول فم > د قبلې سمت

۹۶۹۰ ۷۵۲۰ ۰۰۶۵ ۷۷۷۵ آ ۲۸ ۳۲ × ۱ ۶۹ میله - ۵ ۲۲۳۰ میله

دوئمه قاعده جم عرض موقع جم عرض مکه جم فرق طول. جم مابین البلدین - جب عرض
مکه جم عرض موقع جم عرض موقع - عرض البلد،

۴۰۶۸ ۹۱۶۵ آ ۳۲۳۳ ۴۲ ۲۵ عرض موقع عرض البلد،

۵۶۲۱ آ ۳۶۷۳ ۹۹۷۵ آ ۹۲۶۹ آ ۲۸ ۳۲

مستر مسرفي که جبرنه د فاصلې د معلومولو طریقه نه پېژندلې نو د زمکې په کُرې گلوب،
سندي دي تار اېښې او کچلې دې وای

٤ **سطحي دماغو د زمکې کُره هم سطحي وگرخوله**

دي واسي

د اصلاح نقشه با تر دی ښه نقشه یعني د سکولونو را وباسئ او دکوم ښار چه د قبلې د سمت
معلومول غواړی د هغه ښار او مکې معظمې تر منځ لکه وباسئ چه کوم سمت معلوم شو کره یا
سیخه څه ډول لیکه وی.

همدا ډول سیخ با کوږ د قبلې
سمت دی،

مستر مشرفي ته تر اوسه
پورې دا هم معلوم نه دی چه
زمکه گول گردده څکه
هغه د قبلې د سمت د تخریج
لپاره د سطح نقشی د
معلومولو سوړه ورکوی
نه د سې حال کښې چه د کرې
و سطحی دوایره
دي ...
سطحی نقشی
کرې د قبلې ... ۲۵ ...

... لکه چه مکه چه په دی شکل کښې ښکاره ده

او په کروي حساب سره د کراچي د قبلې سمت سواخې ۲۰۴ درجې د جنوب خو سه دی ۰ هغه صحیح دی په دوارو طریقو کښې ۱ ۰ ۵ درجې معمولي تفاوت نه بلکه ډېر تفاوت دی

د مثلث کروي له حسابه د تخریج صورت دا دی

مم عرض موقع - مم عرض مکه جم فرق طول

مس > سمت قبله - جم عرض موقع مس فرق طول قم (عرض موقع - عرض البلد)

۴.۶۸ ۰۰ ۹۴۹۵ / آ - ۰/۳۵۶۳ - ۷۷ - ۲۳ - عرض موقع ۹ ۲۴ - ۱۳ - ۱

۹۶۱۳ + ۷۰۹۰ / آ ۱/۷۰۳۸ (-) - ۶' / ۸۷ (-) ۳۷۴۱ ۱ - ۱۸۰ - ۶' ۸۷ - ۴' ۹۲ -

زاویه سمت قبله ۹۰ - ۴' ۲ مائل جنوب طرفته

مستر مشرقي د زمکې د کرویت (گول والي) علم نه لري خو کاش چه د هغه یوه عقلمند ملگري هغه ته د زمکې په کرې (گلوب) باندې تار یا فیته اینبې وای او په هغه باندې ئې د قبلې د صحیح سمت مشاهده کړې وای لیکن د هغه که چیرته کوم عقلمند ملگری وای نو د هغه به ولې دوست جوړ شوی وای

۵ - **انف فی الماء و است فی السماء** (پزه په اوبو کښې او کونه په آسمان کښې) فرمایي

«په ټول هندوستان کښې له سورت. ناگپور. کټک او داسې نورو ښخه پرته کوم چه په هغه عرض البلد باندې واقع دي په کوم باندې چه مکه معظمه واقع ده د هندوستان د نورو ټولو جوماتونو قبله غلطه ده. یو جومات هم داسې نه دی چه په هغه کښې لمونځ کوونکي تر اوسه پورې یو لمونځ هم قبلې ته مخامخ ادا کړی وي د لاهورېانو او امرتسر د خلکو قبله بیت المقدس ده. د راولپنډۍ د خلکو قبله بغداد او دمشق. د پېښور د خلکو بیروت. د دهلي د خلکو بوشهر. د ملتان کوفه. د کراچي مدینه. د مدراس عدن او د بمبئي د خلکو د سواکن بندرگاه»

مقصد دا دی چه د هندوستان د ټولو جوماتونو مخ د مغرب خوا ته دی چونکه سورت. ناگپور او کټک د مکې معظمې په عرض البلد باندې پراته دي د دې لېاره د هغه ځایونو جوماتونه صحیح دي له هغو پرته د هندوستان جوماتونه کوم چه د مغرب په سمت باندې دی د هغو مخونه د مکې مکرمې په ځای د هغو ښارونو خوا ته دي چه د هغو په عرض البلد باندې واقع دی نه دی ده له دې څخه پورته به د انف فی الماء مثال څه وي چه د اروپ د د رخونو دگرو د لاس نه راوړلو تر څنگ د مشرق او مغرب له حقیقت سره بلد دی

د است فی السماء هم د نمونې په توگه سواخې یو مثال ملاحظه کړئ د ... مشرق او مغرب له ... ښخه نابلده مستر ملا ته وايي

،،ستاسو بلا پوهيږي چه د مکې د سمت معلومول څه ته وائي. تاسو ته معلومه ده چه جغرافيه د کوم غوائي نوم دی، علم نجوم څه ته وائي. دوربين چه شی دی. د سرطان خط کوم مرض ته ويل کيږي. تاسو يواځې د شبې پاتې شوې سرې مرې ګټل او خرخول ته سزني او که چيرته مړی زياتی شي او ،،

له نخوت او غرور څخه ډک مدعي چه په هر څه پوهيږي او وايي چه زما غوندې ښل حوک ستـه په دماغو باندې ئې د قدرت له خوا څخه دا ښکاره عذاب نه دی نور څه دی چه د مشرق او مغرب غونډې د بدیهي (ښکاره) شيانو د پيژندلو شعور هم نه لري. کاش چه دومره لوبه خبره ئې د شپې د پاتې شوی سرې مرې خرخوونکي مُلا څخه معلومه کړې وای راشی اوس لا هم وخت شته له مُلا څخه د مشرق او مغرب يو سبق ووايي او که نه چه کوم مشرقي ته چه د مشرق معلومات نه وی نو هغه د ،،زنګي کو نارنګي،، او ،،نام کافور برای زنګي،، مصداق دی

د اُفق دائرې او د معدل النهار د تقاطع (برې کيدو) نقطې ته مشرق او مغرب ويل کيږي او کوم ځايونه چه د کوم مقام د اول السمت تر دائرې لاندې واقع شي هغه به د هغه ځای د مشرق او مغرب په سمت کښې وي. علامه بهاؤ الدين عاملي په تشريح الافلاک کښې فرمايي

((السادسة الافق و هى واسطة بين النصف الفوقانى و التحتانى و تنصف الاولى (اى المعدل) على نقطتى المشرق و المغرب و الخط الواصل بينهما خط الاعتدال، و قال العلامة امام الدين المهندس اللاهورى فى شرحه المسمى بالتصريح فى شرح التشريح و يلاحظ فى مفهومها الارض و قطبها سمتا الرأس و القدم)) .(التصريح ص۲۸)

که چرته په يوه عرض البلد باندې د وقوع نوم مشرق او مغرب وي نو مُلا به هم د مشر غونډې آسانه خبره کړې وای چه کوم ښار د مکې مکرمې په عرض البلد باندې واقع دي د هغو قبله مغرب ده. په دې حالت کښې د قبلې د سمت د تخريج ليره د هيڅ تکلف ضرورت نه وو حالانکه په دی صورت کښې د قبلې د سمت تخريج نسبتًا زيات مشکل دی چنانچه په تشريح الافلاک کښې د قبلې د سمت د تخريج د يوې ساده او عام فهمې طريقې تر سرلو وروسته له مکې مکرمې سره د مساوي عرض البلد مقاماتو ليارہ د اصطرلاب په ذريعې سره لږ غونډې پيچلې طريقه ښوی

((و ان ساوى عرضه عرضها فضع ثامنة الجوزاء او الثالثة و العشرين من السرطان حال كون الشمس فى احدهما على خط وسط السماء فى صفيحة الاصطرلاب المعمولة لعرض البلد و اعلم موضع الدائرة من جزء الحجرة ثم ادر العنكبوت بقدر ما بين الطولين الى المغرب ان كان طوله اكثر و ادر بالخلاف ان كان اقل حد الجزئين من مقنطرات الارتفاع فظل المقياس وقت بلوغ الشمس اليه على صوب القبلة)) .(تصريح ص۵۰)

سوال محترمه ستاسو لیکلي فتوی صادره شوه ډېره شکریه په دی فتوی کښې د خبره مبهمه پاتې شوه چه تاسو وویل چه په نیت کښې زړه ته اعتبار دی ژبه اعتبار نه لري د دې لپاره که چیرته په زړه کښې د سنتو د ادا کولو نیت وو لیکن له ژبې څخه فرض ووخي نو سنت وشول و فرض نه وشول. د سوال د نورو صورتونو هم همدغه حکم دی لیکن په فتوی دار العلوم ج ۴ ص۲۰۸ کښې مفتي عزیز الرحمن لیکلي دی چه که یو خوک د ... په خیال د فرضو نیت وکړی او د ور په یادیدو سره په زړه کښې د سنتو نیت وکړی نو لمونځ ئې صحیح دی او که نه؟ خو ب نیت به ماتوي بیا به د سنتو نیت نړی او دوباره تکبیر نه د سنتو نه سب وائي **رجل افتتح المکتوبة فظن انها تطوع فصلی علی نیة التطوع حتی فرغ فالصلوة هی المکتوبة ولو کان الامر بالعکس فالجواب بالعکس الخ والنیة بدون التکبیر لیس بمخرج (عالمگیری کشوری الفصل السابع فی النیة ج۱ ص۶۲/ ج۱ ص۶۵)**

الجواب باسم ملهم الصواب که چیرته تر لمانځه مخکښې په زړه او ژبه کښې اختلاف شي نو د زړه نیت ته اعتبار دی. د ژبې غلطي معتبره نه ده او که چیرته د لمانځه تر شروع کولو وروسته د زړه نیت بدل شي نو دا معتبر نه دی د عزیز الفتاوی د لیکنې مطلب همدا دی **فقط والله تعالیٰ اعلم.**

۲۵ ذی قعده ۹۹ ھجری

د سنتو په نیت کښې د سنت رسول الله ویلو حکم

سوال څه فرمائي د دین علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه یو خوک که چیرته د لمانځه دا سې نیت وکړي نو صحیح دی او که نه؟ که چیرته صحیح نه وی نو په عربی کښې به

سړی باید څنګه نیت وکړي؟ زید وائي چه که چرته داسې نیت وکړي نو شرک لازمیږي او زید عالم هم دی

د سهار د دوه رکعتو سنت لمانځه عربي نیت دا دی نَوَيْتُ اَنْ اُصَلِّيَ لِلّٰهِ تَعَالٰى رَكْعَتَيْنِ صَلٰوةِ الْفَجْرِ سُنَّةَ رَسُوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى مُتَوَجِّهًا اِلٰى جِهَةِ الْكَعْبَةِ الشَّرِيْفَةِ اَللّٰهُ اَكْبَرُ

الجواب باسم ملهم الصواب د نیت لپاره د دومره اوږدو الفاظو ضرورت نشته. د زړه نیت کافي دی که څوک غواړي چه په ژبې سره هم نیت وکړي نو د فرض لمانځه لپاره یواځې دومره کافي ده چه د ماسپښین یا مازدیګر فرض ادا کوم نه د رکعتونو تعین ضروري دی او نه د ورځې او نه د وقتي فرض ویلو ضرورت. او په واجبو کښې یواځې د وترو ب نذر نیت کافي دی د سنتو او نفلو په نیت کښې د سنت یانفل ویلو هم ضرورت نشته. د مطلق لمانځه نیت کافي دی سره له دې که چیرته څوک په نیت کښې د سنت رسول الله الفاظ ووایي نو څه پروا نه کوي. دې ته شرک ویل ناپوهي ده ځکه چه له دې نه د رسول الله ﷺ عبادت مقصود نه دی بلکه مقصد دا دی چه دا لمونځو له سنتو څخه ثابت دی فقط والله تعالیٰ اعلم ۱۵ محرم ۹۳ هجری

د تکبیر تحریمه په وخت د ګوتو کیفیت

سوال د تکبیر تحریمه په وخت د لاسونو په پورته کولو کښې به د لاسونو ګوتې باید په کوم حالت کښې پرېښودلې شي. خلاصې او که سره لګیدلې؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د تکبیر تحریمه په وخت به نه د ګوتو د خلاصولو کوشش کوي او نه د سره لګولو بلکه پخپل اصلي حالت به ئې پرېږدي د بتې ګوتو سرونه دې د غوږونو په نرمیو پورې ولګوي او ورغوي به قبلې ته مخامخ کوي

قال في التنوير وسننها رفع اليدين للتحريمة ونشر الاصابع وفي الشرح اى تركها بحاله او في الشامية (قوله اى تركها بحالها) قال في الحلية ظن بعضهم انه اراد بالنشر تفريج الاصابع وهو غلط بل اراد به النشر عن الطى يعنى يرفعهما منصوبتين لا مضمومتين حتى تكون الاصابع مع الكف مستقبلة للقبلة ثم لا يخفى انه لا لتوقف السنّة على ضم الاصابع اولا بل لو كانت منشورة غير متفرجة كل التفريج ولا مضمومة كل الضم ثم رفعهما كذلك مستقبلاً بهما القبلة فقد اتى بالسنّة آه (رد المحتار ج۱ ص۴۴۴) وفي التنوير ورفع يديه ماساً بابهاميه شحمتى اذنيه وقال الشارح هو المراد بالمحاذاة لانها لا تتيقن الا بذلك ويستقبل بكفيه القبلة وقيل خديه. (رد المحتار ج۱ ص۴۵۰) فقط والله تعالیٰ اعلم ۱۲ جمادی الاولی ۸۶ هجری

تکبر تحریمه د لاسونو تر پورته کولو وروسته ویل بنه دي

سوال د تکبیر تحریمه د ویلو سره سره به لاس پورته کوي او که لومړی به لاسونه پورته کوي وبیا به تکبیر وایي؟ بینوا توجروا

جواب په دې کښې درې قولونه دي

۱ د لاسونو تر پورته کولو مخکښې تکبیر ویل

۲ د لاسونو له پورته کولو سره تکبیر ویل. د رفع یدین له ابتداء سره دې تکبیر هم شروع کوي او د هغه په ختمولو سره دې تکبیر هم ختم کړي

۳ دلاسونو تر پورته کولووروسته دې تکبیروائي بیا دې لاسونه وتړي همدغه راجح قول دی

قال فی العلائیة ورفع یدیه قبل التکبیر وقیل معه وفی الشامیة الاول نسبه فی المجمع الی ابی حنیفة ومحمد رحمهما الله تعالی وفی غایة البیان الی عامة علمائنا وفی المبسوط الی اکثر مشائخنا وصححه فی الهدایة والثانی اختاره فی الخانیة والخلاصة والتحفة والبدائع والمحیط بان یبدأ بالرفع عند بدائته التکبیر ویختم به عند ختمه وعزاه البقالی الی اصحابنا جمیعاً ورجحه فی الحلیة وثمة قول ثالث وهو انه بعد التکبیر والکل مروی عنه علیه الصلوة والسلام وما فی الهدایة اولی کما فی البحر والنهر ولذا اعتمده الشارح فافهم. (رد المحتار ج۱، ص۴۵۰)

فقط والله تعالی اعلم ۸ صفر ۸۹ هجری

په خولی کښې د لمانځه د ادا کولو حکم

سوال زید وائي چه په خولی کښې لمونځ مکروه تحریمي دې ځکه چې خولی په ثیاب بذله کښې راځي آیا د زید دا خبره صحیح ده؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د زید خبره صحیح نه ده ځکه چه لومړی خو خولی په ثیاب بذله کښې راتلل مسلم نه دی ثیاب بذله هغه لباس ته ویل کیږي چه له هغه سره انسان مجلس ته له راتلو څخه عار او شرم محسوسوي. که چیرته د یوچا خولی په سروي او مجلس ته ځي او راځي نو هغه لپاره خولی له ثیاب بذله څخه نه ده. دویم دا چه په ثیاب بذله کښې لمونځ مکروه تحریمي نه بلکه مکروه تنزیهي دی

کما فی الشامیة (قوله وصلوته فی ثیاب بذلة) قال فی البحر وفسرها فی شرح الوقایة بما یلبسه فی بیته ولا یذهب الی الاکابر والظاهر ان الکراهة تنزیهیة آه (رد المحتار ج۱)

فقط والله تعالی اعلم

۹ ربیع الآخر ۷۳ هجری

د پورتني سوال غوندې بل سوال

سوال په خولۍ کښې لمونځ کول له کراهت نه بغیر جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب قال في شرح التنوير في مكروهات الصلوة و صلوته حاسراً اي كاشفاً رأسه للتكاسل ولا بأس به للتذلل واما للاهانة بها فكفر ولو سقطت قلنسوته فاعادتها افضل وقال في الشامية وفي الدر عن التاتارخانية والظاهر ان افضلية اعادتها حيث لم يقصد بتركها التذلل على ما مر. (شامية ج۱)

له دې عبارت نه څرګنده شوه چه پرته له تکاسل، تذلل یا سستۍ نه لوڅ لغړ سر لمونځ کولو کښې هم کراهت شته نو په خولۍ کښې خو به په طریقهٔ اولی سره مکروه نه وي همدارنګه په (لوسقطت قلنسوته ـ الخ) باندې شرح په خولۍ کښې د لمانځه د ادا کولو په سر د کراهت حکم نه لګول په نه کراهت باندې ښکاره دلیل دی لان السكوت في معرض البيان بيان.

له کومو عبارتونو نه چه کراهت معلومیږي دغه به هغه سړي باندې محمول دي چه مجلس ته په خولۍ کښې تګ او راتګ نه کوي او ثیاب بذله ئې ګڼي

له مختلفو روایتونو نه هم د صحابه کرامو رضي الله تعالى عنهم او د امت د اسلافو په خولۍ کښې لمونځ کول ثابت دي څنګه چه په صحیح البخاري کښې دي وضع ابو اسحق قلنسوته في الصلوة ورفعها (بخاري ج۱ ص۱۵۹) كان القوم يسجدون على العمامة والقلنسوة. (بخاري ج۱ ص۵۶)

فقط والله تعالى اعلم ۱۰/ربیع الآخر ۷۳ هجری

په سجدې کښې د تندي اکثره برخه او پوزه په زمکې باندې کیښودل واجب دي

سوال یو سړی د لمانځه په وخت په سجده کښې د تندي اکثره برخه او پوزه په زمکې باندې نه ږدي په دې غرض سره چه په تندي مې داغ و نه لګیږي آیا په داسې کولو سره ئې لمونځ کیږي او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د سجدې کښې د تندي اکثره برخه او پوزه په زمکې باندې کیښودل واجب دي لهذا د داسې لمانځه تکرارول به واجب وي

قال في الشامية في فصل في بيان تأليف الصلوة الى انتهائها تحت (قوله و وضع اكثرها واجب الخ) اختلف هل المفترض وضع اكثر الجبهة ام بعضها وان قل قولان وارجحهما الثاني نعم وضع اكثر الجبهة واجب للمواظبة

وایضا تحت (قوله کما حررناه فی شرح الملتقی) فلا اشبه وجوب وضعهما معاً (ای الجبهة و الانف) و کراهة ترك وضع کل تحریماً الخ. (ردالمحتار ج۱) فقط واللہ تعالیٰ اعلم ۱۱ جمادی الاولیٰ ۷۴ ـــــ هجری

قومه او جلسه او په هغو کښې تعدیل واجب دی

سوال قومه او جلسه او تعدیل د ارکانو سنت دي او که واجب؟ او په سهو سره پرېښودل ئې سجدهٔ سهو واجبوي او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب راجح قول د وجوب دی لهذا په سهو سره پرېښودلو باندې ئې سجدهٔ سهو لازمیږي

قال فی الشامیة ومقتضی الدلیل وجوب الطمانینة فی الاربعة ای فی الرکوع والسجود فی القومة والجلسة و وجوب نفس الرفع من الرکوع و الجلوس بین السجدتین للمواظبة علی ذلك کله و للامر فی حدیث المسیئ صلوته ولما ذکره قاضی خان من لزوم السجود والسهو بترك الرفع من الرکوع ساهیاً الخ (ردالمحتار ج۱، ص۴۳۳) فقط واللہ تعالیٰ اعلم ۱۸ محرم ۷۵ ـــــ هجری

د فسد د توهم پر بناء باندې د مانبام او وترو د لمانځه به را ګرځولو کښې دې خلور رکعته کوي

سوال د فسد د توهم پر بناء باندې د احتیاط له مخې د لمانځه د قضائي ګرځولو په اړه د در مختار په باب النوافل کښې د صلوه علی الدابه څخه څو لیکې مخکښې دا عبارت راغلی دی چه وما نقل ان الامام قضی صلوة عمره فان صح فنقول کان یصلی الوتر والمغرب اربعاً بثلاث قعدات۔ الخ له دې څخه دا شبهه پیدا کېږي چه د مانبام اولنی لمونځ صحیح دی نو یه را ګرځولو کښې د خلورو رکعتو نفلو له جملې څخه په دریم رکعت باندې د قعدې له وجې باید سجدهٔ سهو لازمه شي او که چېرته اولنی لمونځ صحیح نه وي بلکه اعاده صحیح وي نو بیا هم تر دریم رکعت وروسته د سلام د ځنډ یا تاخیر له وجې باید سجدهٔ سهو ادا شي. بله دا چه دا څلورم رکعت خو د نفلو دی او د نفلو تر شروع کولو وروسته شفع د دوېم رکعت بو ځای کول واجبېږي نو د دې مسئلې حل به څرنګه وي؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب سجدهٔ سهو به عمد قصداً کښې نه وي. د دې له پاره په نوموړې صورتونو کښې د سجدهٔ سهو د وجوب هیڅ کومه وجه نشته او په نوافلو کښې له شروع کولو

وروسته شفع هلته واجبيږي چه نوافل ئې قصداً[۱] شروع کړی وي او نوموړې صورت نه دې کښې داخل نه دی

قال في شرح التنوير ولو سها عن القعود الاخير عاد ما لم يقيدها بسجدة وان قيدها تحول فرضه نفلا برفعه وضم سادسة ولو في العصر والفجر ان شاء لاختصاص الكراهة والاتمام بالقصد وفي الشامية. (قوله لاختصاص الكراهة الخ) جواب عما قد يقال ان النفل بعد العصر والفجر مكروه وفي غيرهما وان لم يكره لكن يجب اتمامه بعد الشروع فيه فكيف قلت ولو بعد العصر والفجر وقلت انه مخير ان شاء ضم والا فلا والجواب انه لم يشرع في هذا النفل قصداً وما ذكرته من الكراهة ووجوب الاتمام خاص بالنفل قصداً وايضاً في الشرح ولا عهدة لو قطع وفي الحاشية اي لا يلزمه القضاء لو لم يضم وسلم لانه لم يشرع به مقصوداً كما مر.

(رد المحتار، باب سجود السهو) په نوافلو کښې هم لزم نفل شرع فيه قصداً مقيد په قصد سره دی مطلقاً په هرې شروع سره ئې د لزوم حکم نه دی ورکړی فقط والله تعالى اعلم

۲۲ رجب ۷۵ هجری

په مابنام یا وترو کښې چه سجدهٔ سهو و نه شي نو د راګرځولو په وخت کښې به سرې څو رکعته ادا کوي؟

سوال به مابنام یا وترو کښې سجدهٔ سهو واجبه شوه لیکن سجدهٔ ئې و نه کړه نو د راګرځولو په وخت کښې به درې رکعته راګرځوي او که څلور؟ بینوا با لبرهان اجرکم الرحمن

الجواب باسم ملهم الصواب که چیرته په وخت کښې د تنه ئې را وګرځوي نو درې رکعته دې را وګرځوي څکه چه اعاده واجبه ده. او که چیرته ئې تر وخت وروسته را وګرځوله نو دا اعاده د بحر د مصنف په نزد مستحبه ده او واجبه نه ده او د دې مقتضٰی دا ده چه څلور رکعته په دریو قعدو سره ادا کړي لکه څرنګه چه د فـد د توهم په وخت کښې د اعادې حکم دی لیکن د شمي باب قضاء الفوائت ج۱، ص۶۷۸ کښې ئې د وخت تر وتلو مخکښې یا وروسته. په هر حال ئې د راګرځولو وجوب ثابت کړی دی همدا بحث د لمانځه د واجباتو او د سجدهٔ سهو په باب کښې هم شته پس د مختار قول په بنا، په هر حال دې په اعاده (راګرځولو) کښې درې رکعته کوي ایې لنو

۱- فيه انه ان داوم على النفل المشروع بغير قصد يجب اتمامه ايضا اما عدم الوجوب ففي صورة النقض في الحال كذا في الشامية ج، ص۱۰۶ والجواب ان الدوام يوجب الاتمام لانه يدل على الالتزام وههنا ليس كذلك لكنه لا يريد الالتزام الجديد بل اراد جبر النقصان والخروج عن العهدة ۱۲ منه

د حه د دې مدار د اعادې په وجوب او په نه وجوب پورې دی، ځينو د دې مدار دا ټاکلی دی چه په واجب الاعاده لمانځه کښې لومړنی لمونځ (کوم چه اول ادا شوی دی) فرض دی او که دويم، نو دا صحيح نه ده ځکه چه که چېرته لومړنی لمونځ فرض و منل شي نو بيا هم را ګرځول شوی لمونځ د جبر نقصان لپاره خو خامخا واجب دی او وجوب د تثليث (درې رکعتيز لمانځه لپاره ختم نه دی .کما فی الوتر) لهذا د څلورو رکعتونو حاجت نشته د لومړني لمانځه د فرضيت د دلیلونو دا مطلب نه دی چه دويم لمونځ محض نفل دی په شرح تنوير کښې دي چه **والمختار انّه جبر للاول لان الفرض لايتکرر وفی الشامية ای الفعل الثانی جابر للاول بمنزلة الجبر بسجود السهو الخ**

څرګنده شوه چه دويم لمونځ د سجدهٔ سهو غوندې جابر (د مخکښيني لمانځه لپاره پتی) او واجب دی بلکه شامي په باب د قضاء الفوائت ج۱،ص۶۸۰ کښې تصريح کړې ده چه کوم خلک د لومړني لمانځه د فرض د ساقطوالي قائل دي هغه دويم لمانځه نه هم فرض وايي پوره تفصيل په شاميه کښې وګورئ

د رکوع په هيئت کښې د سړي او ښځې تر منځ فرق

سوال ماقولکم رحمکم الله هل تفارق المرأة الرجل فی هيئة رکوع الصلوة ام لا، بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب بينهما[1] فرق ذکره الفقهاء رحمهم الله تعالیٰ کما قال فی الشامية تحت (قوله ويسن ان يلصق کعبيه) هذا کلّه فی حق الرجل امّا المرأة فتنحنی فی الرکوع يسيراً ولا تفرج ولکن تضم وتضع يديها علی رکبتيها وضعاً وتحنی رکبتيها ولا تجافی عضديها لان ذلک استر لها وفی شرح الوجيز الحنفی کا لمرأة اه (ردالمحتار ج۱،ص۴۶۱)　　فقط والله تعالیٰ اعلم　　۱۴ ربيع الاول ۷۶ هجری

ويده سړی د لمانځه لپاره د جګولو حکم

سوال ويده سړی د لمانځه په وخت کښې را ويښول او پورته کول واجب دي او که نه؟ همدا رنګه چه کله د لمانځه وخت داخل شي نو په داسې وخت کښې ويده کيدل جائز د او که نه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب که د لمانځه وخت لږ پاتی وي نو د ويده سړي را پورته کول واجب

---

[1] ښځه دې لکه سړي غوندې په رکوع کښې ملا نه برابروي بلکه څه نا څه انحناء به کوي. د سړه دې په سيمې و د لاسونو ګوتې به سره نو خای کوي به زنګنونو به ئې ږدي د ټارنه وو غوندې به نې خلاصې به مټې او ړکنونو به لږ غوندې ښوي او مټې به له اړخونو سره لګوي ۱۲ منه

دي البته که چېرته مريض وو او په را ويښولو سره د تکليف خطره وه نو بيا ني جګول واجب نه دي د لمانځه د وخت نه شروع کېدو وروسته ويده کېدل په دې شرط سره جائز دي چه د لمانځه د قضا کيده ويره نه وي بخيله د راويښيدو يقين ني وي يا څوک د را پورته کولو موجود وي. د لمانځه له وخت څخه مخکښې ويده کېدل په هر صورت کښې جائز دي

قال في الرد لا يجب انتباه النائم في اول الوقت و يجب اذا ضاق الوقت نقله البيري في شرح الاشباه عن البدائع من كتب الاصول و قال لم نره في كتب الفروع فاغتنمه آه قلت لكن فيه نظر لتصريحهم انه لا يجب الاداء على النائم اتفاقاً فكيف يجب عليه الانتباه روى مسلم في قصة التعريس عن ابي قتادة ﷺ انه قال ليس في النوم تفريط (الى قوله) انه بنومه قبل الوقت لا يكون مؤخراً و عليه فلا يأثم و اذا لم يأثم لا يجب انتباهه اذلو وجب لكان مؤخراً لها و اثماً بخلاف اذا نام بعد دخول الوقت و يمكن حمل ما في البيري عليه. (رد المحتار ج۱،ص۳۳۲،باب المواقيت) و في صوم الشامية و مثل اكل الناسي النوم عن صلوة لان كلا منهما معصية في نفسه كما صرحوا انه يكره السهر اذا خاف فوت الصبح لكن الناسي او النائم غير قادر فسقط الاثم عنهما لكن وجب على من يعلم حالهما تذكير الناسي و ايقاظ النائم الا في حق الضعيف عن الصوم مرحمة له. (رد المحتار ج۲،ص۱۰۶) روى انه عليه السلام دخل المسجد فرأى نائماً فقال يا علي نبهه ليتوضأ فايقظه علي ثم قال علي يارسول الله انك سباق الى الخيرات فلم لم تنبهه قال لان رده عليّ كفر و رده عليك ليس بكفر ففعلت ذلك لتخف جنايته لوابى. (تفسير كبير ج۸،ص۶۲۹،سورة القدر) فقط والله تعالى اعلم.

۲۸ شوال ۸۴ هجرى

د (السّلام) د لفظ په ويلو سره له لمانځه څخه ووځي

سوال څه فرمائي د دين بزرګان د لاندينۍ مسئلې په باره کښې چه له لمانځه څخه د وتلو لپاره د السلام عليکم ويل واجب دي نو د پوښتنې خای دا دی چه آيا د پوره سلام په ويلو سره له لمانځه څخه ووځي او که په نيم سلام سره يا تر دې هم په کمو الفاظو سره له لمانځه څخه سرې ووځي؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب له عليکم څخه مخکښې بواځې د السلام د لفظ په ويلو سره له لمانځه څخه ووځي

لما في واجبات الصلوة من شرح التنوير و لفظ -السلام- مرتين و الثاني واجب على الاصح برهان، دون -عليكم- و تنقضي قدوة بالاول قبل عليكم على المشهور عندنا و عليه الشافعية و في رد المحتار (قوله و

تنقطع القدوة بالاول) ای بالسلام الاول قال فی التجنیس الامام اذا فرغ من صلوته فلما قال السلام جاء رجل واقتدی به قبل ان یقول علیکم لا یصیر داخلاً فی صلوته لان هذا سلام. (ردالمحتار ج۱، ص۴۳۶)

فقط والله تعالی اعلم ۱۷ محرم ۸۶ھـ هجری

له لمانځه پرته یواځې د سجدې د کولو حکم

سوال د مطهره شریعت په دې باره کښې څه حکم دی چه له لمانځه څخه د باندې د سجدهٔ تلاوت څخه پرته نور کوم ډول سجده جائزه ده او که نه؟ همدا رنګه تر لمانځه وروسته د سجدې کراهت فقهاوو لیکلی دی آیا په دې کښې د فاطمي تسبیحاتو څخه وروسته سجده کول هم شامل دي؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب قال شارح التنویر رحمه الله وسجدة الشکر مستحبة وبه یفتی لکنها تکره بعد الصلوة لان الجهلة یعتقدونها سنة او واجبة وکل مباح یؤدی الیه فمکروه وفی الشامیة وهی لمن تجددت عنده نعمة ظاهرة او رزقه الله تعالی مالاً او ولداً او اندفعت عنه نقمة ونحو ذلك یستحب له ان یسجد لله تعالی شکراً (قوله لکنها تکره بعد الصلوة) الضمیر للسجدة مطلقاً قال فی شرح المنیة آخر الکتاب عن شرح القدوری للزاهدی اما بغیر سبب فلیس بقربة ولا مکروه (الی قوله) وحاصله ان ما لیس لها سبب لا تکره ما لم یؤد فعلها الی اعتقاد الجهلة سنیتها کالتی یفعلها بعض الناس بعد الصلوة الخ (قوله فمکروه) الظاهر انها تحریمیة لانه یدخل فی الدین ما لیس منه. (ردالمحتار ج۱، ص۷۳۱)

له پورتنیو عبارتونو څخه لاندینی خبرې ثابتې شوي

(۱) د شکر سجده اګر که څنو مکروه لیکلې ده لیکن د مفتی به قول له مخې دا یواځې هغه وخت مستحبه ده چه کله یو نوی نعمت چا ته حاصل شي. پرته له دې څخه مستحبه نه ده. اګر که مکروه هم نه ده

(۲) د دعا سجده او داسې نور په دې شرط سره جائزه ده چه عادت یې نه جوړوي او سنت مستحب یې و نه ګڼي او د عوامو لپاره د عقیدې د فساد ذریعه و نه ګرځي

(۳) تر لمانځه وروسته هر ډول سجده تر دې حده چه د تلاوت سجده هم مکروه تحریمي ده تر لمانځه وروسته د تسبیحاتو د ویلو څخه په فارغیدو سره هم په همدې ځای باندې سجده جوړه نه ده ځکه چه

۱ په حدیث شریف کښې دي چه له لمانځه څخه تر فارغیدو وروسته لمونځ کوونکی چه تر څو پورې په همدې ځای ناست پاتې وي او تل کوم داسې کار د لمانځه په خلاف نه کوي تر هغه وخته پورې ګویا که هغه په لمانځه کښې دننه دی

۲ - كه چيرته په سهو سره ځوک د لمانځه كوم ركن پريږدي او په دې حالت كښې ورپه ياد شي نو د لمانځه د را گرځولو ضرورت نشته بلكه دا ركن دې ادا كړي او د سجدهٔ سهو په كولو سره ئې لمونځ ادا كيږي

۳ په عرف كښې هم بعد التسبيحات .تر تسبيحاتو وروسته وخت، بعد الصلوة گڼل كيږي

٤ - د دعاء د قبول والي په ځايونو كښې تر لمانځه وروسته دعاء هم ده او تر تسبيحات فاطمي وروسته دعاء په اتفاق سره دعاء بعد الصلوة گڼل كيږي

۵ د نهى علت يعني د عقيدې د فساد وېره تر تسبيحاتو وروسته په سجدې كښې هم موجوده ده

٦ - د عوامو معمول كوم ته چه فقهاء كرامو مكروه وېلي دي هغه دا دی چه دوی تر تسبيحاتو وروسته سجده كوي. تر لمانځه وروسته فوراً ځوک سجده كوونكي نه دی ليدل شوي

لنډه دا چه تر لمانځه وروسته چه تر څو پورې په همدې ځای او هيئت باندې پاتې وي تر هغه وخته پورې هر ډول سجده هيڅكله جائزه نه ده البته كه چيرته يو ځوک كله كله په تنهائي كښې تر لمانځه وروسته سجده وكړي او عادت ئې جوړ نه كړي. او سنت يا مستحب ئې و نه بولي نو بيا جائزه ده. پس تر لمانځه وروسته د سجدې د جوازلپاره درې شرطونه دي

۱ - تنهائي وي چه ځوک عام سړی ئې و نه ويني

۲ - خپل عادت ئې جوړ نه كړي

۳ - سنت يا مستحب ئې و نه بولي يعنې تر لمانځه وروسته د سجدې په كولو كښې د نورو وختونو په نسبت زيات ثواب و نه گڼي فقط والله تعالیٰ اعلم ۲۹ جمادی الثانی ۸٦ھجری

تر لمانځه وروسته متصل هر ډول سجده مكروه تحريمي ده

سوال تر لمانځه وروسته متصل يا له څه وقفې وروسته يا علاوه له لمانځه څخه په سجدې كښې د دُعا غوښتلو څه حكم دی؟ او په داسې صورت كښې به لاسونه داسې نيسي لكه څرنگه چه د دُعا غوښتلو په وخت كښې ئې عموماً خلک نيسي څه ورغوي ئې پورته خوا ته وي. او كه هر ډول په سجدې كښې كينبودل كيږي (چه ورغوي د زمكې په خوا وي)؟

الجواب باسم ملهم الصواب تر لمانځه وروسته متصل هر ډول سجده تر دې پورې چه د تلاوت سجده هم مكروه تحريمي ده په نورو حالاتو كښې د دُعاء لپاره سجده جائزه ده لكن التزام ئې بدعت دی (تفصيل په پورتنې مسئلې كښې وگورئ. مرتب)

په سجده كښې د دُعاء په وخت ورغوي بايد د زمكې خوا ته كينبودل شي

فقط والله تعالیٰ اعلم ۲۹ جمادی الاولی ۹۸ھجری

په درود کښې د ((سیّدنا)) لفظ زیاتول افضل دي

سوال څه فرمايي د دین علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه په لمانځه کښې داسې درود شریف چه اللهم صل علی محمد ویل افضل دي او که داسې اللهم صل علی سیدنا محمد ویل افضل دي" بینوا توجروا

جواب د حضور اکرم ﷺ او حضرت ابراهیم علیه السلام د دواړو سره د ((سیّدنا)) لفظ زیاتول بهتر دی قال فی الدر وندب السیادة لان زیادة الاخبار بالواقع عین سلوك الادب فهو افضل من ترکه ذکره الرملی والشافعی وغیره وقال المحشی (قوله ذکره الرملی الشافعی) ای فی شرحه علی منهاج النووی ونضه والافضل الاتیان بلفظ السیادة کما قاله ابن ظهیرة وصرح به جمع وبه افتی الشارح لان فیه الاتیان بما امرنا به وزیادة الاخبار بالواقع الذی هو ادب فهو افضل من ترکه آه (الی قوله) وانه یأتی بها مع ابراهیم علیه السلام. (ردالمحتار ج۱ ص۴۷۹) فقط والله تعالیٰ اعلم ۲ رجب ۸۶ھ ہجری

له لمانځه څخه پخپل اختیار وتل فرض دي او سلام واجب دی

سوال د خروج بفعل المصلی څه حکم دی" همدارنګه د سلام به ویلو سره له لمانځه څخه وتل واجب دی او که سنت" بینوا توجروا

جواب وتل به فعل د مصلي (لمونځ کوونکی) فرض دی د وجوب قول هم راغلی دی لیکن اولنی قول راجح دی او د سلام به لفظ سره وتل واجب دی

قال فی ردالمحتار وقد انتصر العلّامة الشرنبلالی للبردعی فی رسالته المسائل البهیة الزکیة علی الاثنی عشریة بأنه قد مشی علی افتراض الخروج بصنعه صاحب الهدایة و تبعه الشراح و عامة المشائخ و اکثر المحققین والامام النسفی فی الوافی والکافی والکنز وشروحه وامام اهل السنة الشیخ ابو منصور الماتریدی. (ردالمحتار ج۱ ص۱۸) وفی واجبات الصلوة من الدر المختار ولفظ السلام مرتین. (ردالمحتار ج۱ ص۳۳۶)
څرګنده دې وی چه به لومړني سلام کښی بواځې د السلام به لفظ سره له لمانځه څخه سړی ووځي لیکن دوهم سلام هم واجب دی فقط والله تعالیٰ اعلم ۲۹ ربیع الاول ۸۶ھ ہجری

په قومه او جلسه کښې ماثوره دُعاء

سوال د قومې او جلسې به منځ کښې دُعاء ویل څنګه دي" همدارنګه به دې کښی د فرضو نفلو فرق شته او که نه" بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب به قومه او جلسه کښې ماثوره دُعاء ویل مستحب دی به دې کښی

د فرضو او نفلو کوم فرق نشته په جماعت کښې د ضعیفانو د رعایت له وجې بايد و نه وبل شي

قال في الشامية قال ابو يوسف سألت الامام ا يقول الرجل اذا رفع رأسه من الركوع والسجود اللهم اغفر لي قال يقول ربنا لك الحمد وسكت ولقد احسن في الجواب اذلم ينه عن الاستغفار نهر وغيره اقول بل فيه اشارة الى انه غير مكروه اذلو كان مكروها لنهى عنه كما ينهى عن القراءة في الركوع والسجود وعدم كونه مسنونا لا ينافي الجواز كالتسمية بين الفاتحة والسورة بل ينبغي ان يندب الدعاء بالمغفرة بين السجدتين خروجاً من خلاف الامام احمد لابطاله الصلوة بتركه عامداً ولم ار من صرح بذلك عندنا لكن صرحوا باستحباب مراعاة الخلاف. (وبعد اسطر) عن الحلية على انه ان ثبت في المكتوبة فليكن في حالة الانفراد والجماعة والمأمومون محصورون لا يتثقلون بذلك كما نص عليه الشافعية ولا ضرر في التزامه وان لم يصرح به مشائخنا الخ. (ردالمحتار ج۱ص۴۷۲) فقط والله تعالىٰ اعلم ۲۹ ربيع الاول ۸۶ هجری

ګونګ سړې به څنګه لمونځ کوي؟

سوال ګونګ او کوڼ سړی چه له موره ګونګ وی نه خبرې کولی شي او نه څه اوري داسې سړی به لمونځ څرنګه ادا کوي؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب ګونګ سړی د تکبير تحريمه 'و قرائت لپاره خپله ژبه ښوروي ځينو علماوو د ژبې ښورول فرض بللی دی لیکن راجحه دا ده چه د ژبې ښورول فرض نه دي بلکه مستحب دي

قال في الدر ولا يلزم العاجز عن النطق كاخرس وامي تحريك لسانه وكذا في حق القراءة هو الصحيح لتعذر الواجب فلا يلزم غيره الا بدليل فتكفي النية (الى قوله) ثم في الاشباه في قاعدة التابع تابع فالمفتى به لزومه في تكبيرة وتلبية لا قراءة وفي الشامية اقول عبارة الاشباه على ما رأيته في عدة نسخ ومما خرج اي عن القاعدة الاخرس يلزمه تحريك اللسان في تكبيرة الافتتاح والتلبية على القول به واما بالقراءة فلا على المختار اه وفي بعض النسخ على المفتى به بدل قوله على القول به والاولى احسن كموافقتها لما ذكره صاحب الاشباه في بحره عند قوله فرضها التحريمة حيث نقل تصحيح عدم الوجوب في التحريمة وجزم به في المحيط ولكن يحتاج الى الفرق بين التحريمة والتلبية فانه نص محمد على انه شرط في التلبية وقال في المحيط يستحب كما في الصلوة كذا في شرح لباب المناسك ثم قال قلت فينبغي ان لا يلزمه في الحج بالاولى لان القراءة فرض قطعي والتلبية امر ظني. (ردالمحتار ج۱ص۴۵۰) فقط والله تعالىٰ اعلم ۸ شوال ۹۶ هجری

د درود شریف په نه ویلو سره لمونځ کیږي

سوال زید په لمانځه کښې په قصد سره درود و نه وایه بکر وایي چه لمونځ نې و نه شو او زید وائی چه وشو نو دکوم سوه خبره صحیح ده؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب لمونځ ني کیږي خکه چه درود شریف په لمانځه کښې ویل سنت دي او د سنتو په پریښودو سره لمونځ کیږي لیکن د لمانځه بیرته را گرځول بهتر دي په خنگړي توگه د درود شریف په پریښودو سره د لمانځه د اعادې اهمیّت له دې خخه نوره هم څرگندیږي چه د امام شافعي رحمه الله په نزد په آخري قعده کښې درود شریف فرض دی لهذا که چیرته د چا بیړه وي نو بیا دي هم د اللهم صل علی محمد بوري بابد ووائي

قال فی الدر وسنة فی الصلوة ومستحبة فی کل اوقات الامکان وفی الشامیة (قوله سنة فی الصلوة) ای فی قعود اخیر مطلقا وکذا فی قعود اول فی النوافل غیر الرواتب تأمل وفی صلوة الجنازة.(ردالمحتار ج۱،ص۴۸۳) و فی سنن الصلوة من الدر ترک السنة لا یوجب فساداً ولا سهواً بل اساءة لو عامداً غیر مستخف وفی الشامیة فلو غیر عامد فلا اساءة ایضاً بل تندب اعادة الصلوة کما قدمناه فی اول بحث الواجبات.(رد المحتار ج۱،ص۴۴۲) ونصه هناک اقول وقد ذکر فی الامداد بحثاً ان کون الاعادة بترک الواجب واجبةً لا یمنع ان تکون الاعادة مندوبة بترک السنة آه ونحوه فی القهستانی بل قال فی فتح القدیر والحق التفصیل بین کون تلک الکراهیة کراهة تحریم فتجب الاعادة او تنزیه فتستحب آه.(ردالمحتار ج۱،ص۴۲۵)

فقط والله تعالیٰ اعلم ۱۷ صفر ۸۷ هجری

په تشهد (التحیات) کښې د گوتې اشاره مستحبه ده

سوال څه فرمایي د دین علماء کرام چه د تشهد په گوتې سره په لمانځه کښې اشاره څه حکم لري. سنت ده او که مستحبه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب اشاره د تشهد مستحبه ده. په محیط کښې نې سنت لیکلي ده، مراد ترې سنت غیر مؤکد دی

کما فی شرح التنویر وفی العینی عن التحفة الاصح انها مستحبة وفی المحیط سنة وفی رد المحتار و یمن التوفیق بانها سنة غیر مؤکدة.(ردالمحتار ج۱،ص۵۰۶) فقط والله تعالیٰ اعلم ۲۳ محرم ۹۰ هجری

په تشهد کښې د اشارې د عقد کیفیت

سوال په تشهد کښې د گوتې د اشارې په وخت کښې د گوتې حلقه څرنگه جوړیږي،

همد زنګنو اشاري ورو سته به ګوتې په همدې حالت باندې پريږدي او که به ئې بيرته غوړوي؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د منځنۍ ګوتې او بې ګوتې سرونه به سره لګوي او حلقه به ترې جوړوي قال ابن عابدين رحمه الله وفي القهستاني وعن اصحابنا جميعا انه سنة فيحلق ابهامه اليمنى ووسطاها ملصقا رأسه برأسها ويشير بالسبابة اهـ (ردالمحتار ج۱ص۴۷۵) تر اشاري وروسته د كيفيت به اړه د فقهاء کرامو په عبارتونو کښې د "ضعها" الفاظ راغلي دي له دې څخه د ګوتو بوره غوړول مراد نه دي بلکه څه اندازه پورته نيول ئې ترې مراد دي

صرح به الملا علی القاری رحمه الله لرواية ابي داؤد والنسائي رافعا اصبعه السبابة وقد حناها شيئا اى امالها. (تزئين العبارة بتحسين الاشارة لعلى القارى ص۸) په امداد الفتاوى کښې د دې په اړه مفصل بحث شوی دی فقط والله تعالی اعلم ۲۳ محرم ۹۰ هجری

په ناستې سره د لمانځه کولو په صورت کښې د رکوع اندازه

سوال في كتاب نفع المفتي والسائل صلى النفل قاعدا فكيف يركع فيه؛ المستحب ان يركع بحيث يحاذي جبهته قدام ركبتيه نقله الشامي عن حاشية القتال عن البرجندي. د دې صورت څنګه دی او له دې څخه څه مراد دي؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د نوموړي عبارت ښکاره مفهوم دا دی چه تندی د زنګنونو خوا ته د قبلې په طرف دومره ټيټ شي چه د زنګنونو سره برابر شي يعني د زنګنونو او تندي فاصله له زمکي څخه سره برابره وی لیکن علامه طحاوي رحمه الله د دُر په حاشيه کښې له ابو السعود څخه او د مراقي الفلاح په حاشيه کښې له حموی څخه **يحاذي جبهته ركبتيه** را نقل کړی دی. د قدام لفظ نشته چه متبادر مفهوم ئې دا دی چه تندی دې د زنګنونو له سرونو سره برابر پورته راشي برسیره پر دې علامه طحطاوي رحمه الله فرمايي چه په رکوع کښې دی دومره نه ټيټيږي چه سجدې ته نژدې شي ونصه وفي الحموي فان ركع جالسا ينبغي ان يحاذي جبهته ركبتيه ليحصل الركوع اهـ ولعل مراده انحناء الظهر عملا بالحقيقة لا انه يبالغ فيه حتى يكون قريبا من السجود. (طحطاوى على المراقى ص۱۲۵)

فقط والله تعالى اعلم ۲۴ ذی قعده ۸۹ هجری

په لمانځه کښې قيام په ښځې باندې هم فرض دی

سوال ښځې په عمومي توګه په ناستې سره لمونځ کوي. ... ئې په ولاړې شروع کوي لیکن به

دوسم رکعت کښې ــ کښېني که جبرته د فرضو یا واجبو یو رکعت به ناستې سره ادا کړي نو آیا لمونځ ئې کېږي او که نه؟ او آیا به سجدهٔ سهو سره ئې تلافي کيږي او که څنګه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب لمونځ ئې نه کېږي او سجدهٔ سهوه ئې هم ځای نه نیسي ځکه چي فرض او واجب بلکه په سنت مؤکدو کښې هم قیام په سړي او ښځې دواړو باندې فرض دی

قال فی رد المحتار تحت قوله وسنة الفجر فی الاصح عن الحلیة فلو صلی التراویح قاعداً بلا عذر قیل لا تجوز قیاساً علی سنة الفجر فان کلا منهما سنة مؤکدة وسنة الفجر لا تجوز قاعداً من غیر عذر باجماعهم کما هو روایة الحسن عن ابی حنیفة رحمه الله کما صرح به فی الخلاصة فکذا التراویح وقیل یجوز والقیاس علی سنة الفجر غیر تام فان التراویح دونها فی التاکید فلا تجوز التسویة بینهما فی ذلک قال قاضیخان وهو الصحیح اهـ (رد المحتار ج۱ص۴۴۴) د ښځو د دې جهلت علاج او به هغو کښې د صحیح مسئلې خیرونه په نارینه وو باندې فرض دی او که نه نو د لمانځه د نه صحیح کېدو په عذاب کښې به نارینه هم ورسره شریک وي فقط والله تعالی اعلم ۲ ربیع الاول ۹۳ هجری

لومړی د ښي زنګانه کېښودل مسنون نه دی

سوال یو ښغلی وایي چه سجدې ته د تلو په وخت کښې لومړی ښی زنګون په زمکې باندې لګول او بیا ښی لاس لګول بیا کیڼ لاس. همدارنګه له سجدې ځخه د پورته کېدو په وخت د دې برعکس. آیا دا طریقه سنت ده؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د سنت طریقه دا ده چه لومړی دواړه زنګنونه یو ځای په زمکې باندې کښېږدي. همدارنګه دواړه لاسونه یو ځای په زمکې باندې کښېږدي او د را پورته کېدو په وخت کښې برعکس همداسې وکړي یعني لومړی دواړه لاسونه په یوه ځای او بیا دواړه زنګنونه په یوه ځای له زمکې را پورته کړي البته د عذر له وجې که چېرته لومړی د زنګنونو کېښودل متکل وي او لومړی لاسونه په زمکې لګول نو بیا دې په دې حالت کښې لومړی ښی لاس په زمکې باندې ولګوي او بیا دې دواړه زنګنونه په یوه ځای ولګوی لنډه دا چه د عذر په وخت کښې چه کله لاس لومړی کېښودل شي نو ښو اخې به لاسونو کښې تیامن (چه لومړی به ښی لاس ږدي) شته به زنګنونو کښې نشته

قال ابن عابدین رحمه الله تحت (قوله واضعاً رکبتیه ثم یدیه) ویضع الیمنی منهما اولاً ثم الیسری کما فی القهستانی لکن الذی فی الخزائن واضعاً رکبتیه ثم یدیه الا ان یعسر علیه لاجل خف او غیره فیبدأ بالیدین و یقدم الیمنی اهـ ومثله فی البدائع والتاتارخانیة والمعراج والدر وغیرها ومقتضاه ان تقدیم الیمنی انما هو

عند العذر الداعي الى وضع اليدين اولاً و انه لا تيامن في وضع الركبتين و هو الذي يظهر لعسر ذلك. (رد المحتار ج۱، ص۴۶۵) فقط والله تعالیٰ اعلم ۲۵ محرم ۹۱ هجری

د لمانځه فدیه

سوال د مرض سره ورځو کښې تقریباً یو کال لمونځونه مې په ذمې باندې پاتې شول تر بیمارې محکښې مې هم لمونځونه نوره نه وو په دې کښې به غنم او که نقدې روپۍ د فدیې په توګه ورکړم او که څنګه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دواړه ورکولی شې په ورځ کښې له وترو سره شپږ لمونځونه دي. د یوه لمانځه فدیه ۲ ۳۲ کیلو ګرامه غنم دي. د وریشو د قیمت په برابر که کوم بل شی مو زره وغواړې هغه هم ورکولی شې لیکن نقدې روپۍ ورکول بهتر دي

قال في العلائية و ما لم ينص عليه كذرة و خبز يعتبر فيه القيمة (الى قوله) و دفع القيمة اى الدراهم افضل من دفع العين على المذهب المفتى به. جوهرة و بحر عن الظهيرية. و قال ابن عابدين رحمه الله تحت (قوله اى الدراهم) و لعله اقتصر على الدراهم تبعاً للزيلعي لبيان انها افضل عند ارادة دفع القيمة لان العلة فى افضلية القيمة كونها اعون على دفع حاجة الفقير. (رد المحتار ج۲، ص۸۳) فقط والله تعالیٰ اعلم

۱۹ صفر ۹۱ هجری

سجدې ته د تلو مسنونه طریقه

سوال څه فرمایي علماء د سجدې خوا ته د تلو په وخت باید سرې سجده کښېنه لاړ شي د دې تر غوندې تفصیل وښکئ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د سجدې خوا ته د تلو په وخت ملا باید بالکل سیده وي. زنګونه په زمکې باندې تر کښېږدلو محکښې په ملا کښې کوږوالی را نه شي که لږ غوندې هم ملا کړه شي نو په رکوع کښې تکرار لازمیږي

قال في الشامية و يخر للسجود قائماً مستوياً لا منحنياً لئلا يزيد ركوعاً اخرى يدل عليه ما في التاتارخانية لو صلى فما تكلم فذكر انه ترك ركوعاً فان كان صلى صلوة العلماء الاتقياء اعاد و ان صلى صلوة العوام فلا لان العالم التقي ينحط للسجود قائماً مستوياً و العامي ينحط منحنيا و ذلك ركوع لان قليل الانحناء محسوب من الركوع اه. تأمل (رد المحتار ج۱، ص۴۶۵) فقط والله تعالیٰ اعلم ۱۴ شعبان ۹۲ هجری

د ... سره ... کښې دي

د ثواب زیاتوالی په ټول حرم کښې په هر عبادت باندې دې

سوال په مسجد حرام کښې د فرض لمانځه د ادا کولو ثواب آیا یواځې په مسجد حرم کښې دی او که د حرم د حدودو په ټولې علاقې کښې په کوم بل ځای کښې هم د لمانځه په ادا کولو سره همدومره ثواب حاصلیږي؟ همدارنګه آیا دا ثواب یواځې د لمانځه لپاره دی او که د ټولو عباداتو لپاره؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د ثواب زیاتوالی په ټول حرم کښې دی او د هر عبادت لپاره دی لیکن د دې مطلب دا نه دی چه په حرم شریف کښې په جومات او غیر جومات دواړو ځایونو کښې د لمانځه ثواب برابر دی بلکه د مسجد حرم لمونځ د غیر حرم له جومات ځخه یو لک چنده بهتر دی او په حرم کښې بې له جوماته لمونځ په غیر حرم کښې بې له جوماته لمانځه ځخه یو لک چنده بهتر دی

قال فی ردّ المحتار وقال شیخ ولی الدین العراقی ولا یختص التضعیف بالمسجد الذی کان فی زمنه ﷺ بل یشمل جمیع ما زید فیه بل المشهور عند اصحابنا انه یعم جمیع مکة بل جمیع حرمها الذی یحرم صیده کما صححه النووی (ردالمحتار ج۲، ص۶۲۶) و نقل ابن عابدین رحمه الله عن شفاء الغرام للسید الفاسی و جاءت احادیث تدل علی تفضیل ثواب الصوم و غیره من القربات بمکة الا انها فی الثبوت لیست کاحادیث الصلوٰة فیها آه (ردالمحتار ج۲، ص۲۰۳) و قال الرافعی ان حسنات الحرم کل حسنة بمائة الف حسنة کما قال ابن عباس رضی الله عنهما کما نقله السندی عن الحموی عن ابن العماد (التحریر المختار ج۱، ص۸۶)

فقط والله تعالیٰ اعلم ۲۶ رجب ۹۲ هجری

په مسجد نبوي کښې په څلویښتو لمونځونو باندې بشارت (زیری) یواځې د نارینه وو لپاره دی

سوال په حدیث شریف کښې په مسجد نبوي کښې چه کوم د څلویښتو لمونځونو فضیلت راغلی دی آیا دا فضیلت یواځې د نارینه وو لپاره دی او که د ښځو لپاره هم دی لکه څرنګه چه دښځو لپاره د مسجد حرام په ځای په کور کښې لمونځ کول بهتر دی آیا همدارنګه په مدینه منوره کښې هم د نبوي جومات په ځای په کور کښې د لمانځه ادا کول بهتر دي؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په نبوي جومات کښې د څلویښتو لمونځونو په ادا کولو باندې له جهنم او نفاق ځخه د برائت بشارت د خلاصون زیری یواځې د نارینه وو د فرض لمانځه له جماعت سره مخصوص دی د ښځو لپاره د نبوي جومات په ځای په کور کښې د لمانځه ادا کول بهتر دی

فقط والله تعالیٰ اعلم ۲۵ ربیع الآخر ۹۳ هجری

آیا ښځو ته په کور کښې د لمانځه هم هغه ثواب ورکول کیږي کوم چه نارینه وو ته په مسجد حرام او مسجد نبوي کښې ورکول کیږي؟

سوال آیا ښځو ته د مسجد حرام او مسجد نبوي په ځای په کور کښې د لمانځه په ادا کولو سره هم هغه ثواب ورکول کیږي کوم چه نارینه وو ته په همدغو دوو جوماتونو کښې په ادا کولو سره ورکول کیږي؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب تضعیف اجر (د اجر څو چنده کیدل) د مکې د ټول حرم لپاره دی له دې امله په مکې مکرمې کښې ښځو ته په کور کښې په لمانځه سره هم هغه اجر ورکول کیږي چه نارینه وو ته ئې په مسجد حرام کښې ورکوي د رسول الله ﷺ د مدینې په باره کښې مې داسې کوم روایت تر نظر نه دی تیر شوی له دې څخه څرګندیږي چه په مسجد نبوي کښې د اجر د تضعیف فضیلت له نارینه وو سره خاص دی د ښځو لپاره په کورونو کښې د لمانځه په ادا کولو سره دا اجر نشته خو سره له دې د جومات په نسبت ښځو ته په کور کښې لمونځ کول زیات ثواب لري

فقط والله تعالیٰ اعلم ۲۵ ربیع الآخر ۹۳ ھجری

په مسجد نبوي کښې په څلویښتو لمونځونو باندې بشارت په تسلسل پورې تړلې دی

سوال آیا د نارینه وو لپاره د فضیلت د حاصلولو لپاره دا ضروري ده چه څلویښت ورځې لمونځونه په مسجد نبوي کښې پرله پسې او له جماعت سره ادا کړي او که څنګه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب عن انس رضی الله عنه رفعه من صلّی فی مسجدی اربعین صلوٰة لا تفوته صلوٰة کتب له براءة من النار و براءة من العذاب و براءة من النفاق، لاحمد والاوسط. (جمع الفوائد ج۱، ص۵۳۴)

له دې حدیث څخه ثابتیږي چه څلویښت لمونځونه پر له پسې او له جماعت سره په ادا کولو باندې د جهنم، عذاب او نفاق څخه د برائت بشارت دی نه مطلقه نو که په سوو لمانځه باندې تر زر چنده پورې د اجر د زیاتوالي لپاره څلویښت لمونځونه او په هغو کښې د تسلسل قید نشته

فقط والله تعالیٰ اعلم ۲۵ ربیع الآخر ۹۳ ھجری

د ولادت په حالت کښې د لمانځه په ادا کولو باندې اشکال او د هغه جواب

سوال که چیرته کومه ښځه [illegible] وي او څه برخه ئې [illegible] وتلې [illegible] [illegible] کښې لمونځ [illegible] حنفي [illegible] کښې څو لمونځ ورته [illegible] بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب [illegible]

راخي د بچي چه بر څو پوري اکثره برخه د باندي نه وي را وتلی تر هغه وخته پوري ښځه نه د حيض په حالت کښي وي او نه د نفاس په حالت کښې له دې امله لمونځ نه معاف کيږي او دس ب تمم دي وکړي او په اشارې سره دې لمونځ ادا کړي. که چيرته په دې هم قدرت و نه لري نو بيا دي قضا کړي

قال في التنوير والنفاس دم يخرج عقب ولد وفي الشرح او اكثره ولو متقطعاً عضواً عضواً لا اقله فتتوضأ ان قدرت او تتيمم وتؤمي بصلوة (ردالمحتار ج۱،ص۲۷۶) فقط والله تعالى اعلم ۱۴ ربيع الآخر ۹۴ هجری

د جماعت تر کيدو وروسته د فرض لمانځه په جومات کښې د ادا کولو حکم

سوال که چيرته د جماعت لمونځ تير شوی وي او يو څوک تر جماعت وروسته جومات ته لاړ نه شي او په کور لمونځ وکړي. نو آيا له جومات څخه کم ثواب ورکول کيږي او که برابر؟ زيد وائي چه په کور کښې د يوه لمانځه او جومات ته په تلو سره چه يواځې لمونځ وشي نو د ۲۵ لمونځونو ثواب ورکول کيږي آيا د زيد دا خبره صحيح ده او که نه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د جماعت پريښودل ګناه ده. او فرض لمونځ په جومات کښې د يواځې ادا کولو په صورت کښې د ګناه اظهار (ښکارول) دی کوم چه ناجائز دی د دې لپاره چه کله جماعت تير شوی وي نو د فرض لمانځه لپاره بايد څوک جومات ته لاړ نه شي د ثواب د زيتوالي چه کومه وعده ده هغه له جماعت سره په ادا کولو کښې ده فقط والله تعالى اعلم

۲۰ جمادی الاولی ۹۴ هجری

په لمانځه کښې د نه ئې دا هير وو چه د کوم لمانځه نيت مې کړی دی؟

سوال يوه سړی ته د لمانځه په حالت کښې دا په ياد کښې پاتې نه شو چه ما د کوم وخت د لمانځه نيت کړی دی او د څور رکعتونو نيت مې کړی دی؟ نه ئې په ژبې سره وبل ياد دي او نه ئې په زړه سره نيت کول ياد دی همداسې ئې د غفلت په حالت کښې لمونځ شروع کړی وو نو په داسې صورت کښې به دی څه کوي؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب که چيرته ئې د کوم لمانځه نيت کړی وي لېکن دا ور په ياد نه وو چه د کوم لمانځه نيت مې کړی دی نو دوه رکعته دې پوره کړي او سلام دې واړوي نو دا لمونځ به نفل ګرځي او که چيرته ئې نيت بالکل کړی نه وي نو همداسې په لمانځه کښې شروع کول هم صحيح نه دي نه دی امله دې له سره نيت وکړي او لمونځ دې شروع کړي فقط والله تعالى اعلم

۲۶ ذی القعده ۹۴ هجری

په رکوع کښې د ښنګرو سره له يوه او بل سره لګول

سوال په در مختار کښې دي چه په رکوع کښې د نارينه وو لپاره د ښنګرو له يوه او بل سره لګول مسنون دي له شامي څخه هم د دې تائيد کړي ليکن زيد ئې نه مني په دې باره کښې خپل تحقيق وليکئ او موږ ته ډاډ حاصل کړئ! بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب چه کله د در مختار دا جزئيه مې له نظره تيره شوه نو له هغه وخت څخه مې نه ده قبوله کړې ځکه چه د لاندينو کلياتو خلاف ده

۱. د نارينه وو لپاره په رکوع او سجده کښې تجافي

۲. د پښو د ګوتو قبلې ته مخامخ والى د ښنګرو په لګولو سره ګوتې قبلې ته مخامخ نه شي پاتې کيدلى

۳. په لمانځه کښې له ضرورت پرته حرکت کول

پورتني کليات له صحيحو احاديثو څخه ثابت دي او په اتفاق سره منل شوي دي امام طحاوي رحمه الله په رکوع کښې د تطبيق په قول باندې داسې رد کوي

فرأينا السنة جاءت عن النبي ﷺ بالتجافي في الركوع والسجود واجمع المسلمون على ذلك فكان ذلك من تفريق الاعضاء.(شرح معاني الآثار ج۱ ص۱۱۳)

د مذکوره کلياتو په خلاف کيدلو برسيره د کعبينو د الصاق نه له کوم حديث څخه تائيد کيږي او نه د مذهب له ائمه وو څخه د دې څه ثبوت شته. او نه جمهورو فقهاوو د دې يادونه کړې ده. د دې ليره مې له ابتداء څخه قولاً او عملاً د دې په خلاف عمل کړى دى ليکن د خپلې نظريې په تائيد کښې له اکبرو څخه د يوه څه د ليکنو په لټه کښې وم چنانچه بحمد الله تعالى په امداد الفتوى کښې د سعايه نه حوالې سره ئې تائيد لاس ته راغى د سعايه له مراجعت څخه ثابته شوه چه علامه لکهنوي د خپل شان مطابق په دې مسئلې باندې هم کافي مدلل او مفصل بحث کړى دى کوم چه په لنډه توګه لاندې ذکر کيږي

ومنها الصاق الكعبين ذكره جمع من المتأخرين وجمهور الفقهاء لم يذكروه ولا اثر له في الكتب المعتبرة كالهداية وشروحها النهاية والعناية والبناية والكفاية وفتح القدير وغيرها والكنز وشرحه للعيني وشرح النقاية لالياس زاده والبرجندي والشمني وفتاوى قاضيخان والبزازية وغيرها وامام الذين اوردوه في ذكره الزاهدي حيث قال في المجتبى برمز يط يسن في الركوع الصاق الكعبين واستقبال الاصابع القبلة ونقله عنه القهستاني في جامع الرموز وفي شرح الخلاصة الكيدانية والحلبي في الغنية وابن نجيم في البحر وتلميذه التمرتاشي في منح الغفار والدر وذكره صاحب النهر وصاحب الدر المختار على سبيل الجزم نكر له

بين واحد منهم المراد من الصاق الكعبين و قال غير المتأخرين شيخ مشائخنا محمد عابد السندی المدنی فی طوالع الانوار شرح الدر المختار قوله والصاق كعبيه ای حالة الركوع قال الشيخ الرحمتی مع بقاء تفريج ما بين القدمين قلت لعلّه اراد من الالصاق المحاذاة و ذلك بان يحاذی كل من كعبيه لأخر فلا يتقدم احدهما علی الاخر و ظاهر لفظ الشارح يقتضی اللصوق و نفی التفريج ولذا قال السيد احمد هذا ای الصاق كعبيه ان تيسر له و رأيت كلاماً للشيخ محمد حيات السندی يقتضی اثبات سنية التفريج و نفی سنية الالصاق انتهی كلماه و قال ايضاً فی موضع اخر من الطوالع يسن فی حال الركوع كما فی المجتبی و زاد ابو السعود فی السجود ايضاً ان يلصق كعبيه قال الشيخ ابو الحسن السندی فی تعليقه علی الدر المختار هذه السنّة انما ذكرها من ذكرها من المتأخرين تبعاً للمجتبی و ليس لها ذكر فی الكتب المتقدمة و لم يرد فی السنّة علی ما وقفنا عليه و كان بعض مشائخنا يری انه من اوهام صاحب المجتبی و كأنهم توهموا مما وردان الصحابة كانوا يتمون بسدّ الخلل فی الصفوف حتّٰی يضمون الكعاب و المناكب ولا يخفی ان المراد ههنا الصاق كل كعب كعب صاحبه لا كعبه مع الكعب الأخر. انتهی كلام الشيخ.

قلت لقد دارت هذه المسئلة فی سنة اربع و ثمانين بعد الالف و المائتين بين علماء عصرنا فاجاب اكثرهم بانّ الصاق الكعبين فی الركوع و السجود ليس بمسنون ولا اثر له فی الكتب المعتبرة و القول الفيصل ان يقال ان كان المراد بالصاق الكعبين ان يلزق المصلّی احدی كعبيه بالاخری ولا يفرج بينهما كما هو ظاهر عبارة الدر المختار و النهر و غيرهما و سبق اليه فهم المفتی ابی السعود ايضاً فليس هو من السنن علی الاصح كيف و قد ذكر المحققون من الفقهاء ان الاولی للمصلّی ان يجعل بين قدميه نحو اربعة اصابع ولم يذكروا انه يلزقهما فی حالة الركوع او السجود و قال العينی فی البناية نقلاً عن الواقعات ينبغی ان يكون بين قدمی المصلّی قدر اربع اصابع اليد لانّه اقرب الی الخشوع و المراد من قوله عَلَيْهِ الصَّلَاةَ وَالسَّلَام الصقوا الكعاب بالكعاب اجتماعهما انتهی. فهذا صريح فی ان المسنون هو التفريج مطلقاً و الا لقيده بحالة القيام و ان المراد بالصاق الكعب بالكعب الوارد فی الخبر غير الزاقهما و يؤيده ما اخرجه ابو داؤد و صححه ابن خزيمة و ذكره البخاری تعليقاً عن النعمان بن بشير قال رأيت الرجل منا يلزق كعبه بكعب صاحبه و فی رد المحتار نقلاً عن فتاوی سمر قند ينبغی ان يكون بين القدمين مقدار اربع اصابع و ما روی انهم الصقوا الكعاب بالكعاب اريد به الجماعة انتهی. و ان كان المراد به محاذاة احدی الكعبين بالاخری كما ابدع العلّامة السندی فهو امر

حق ولا بعد فی حمل الالصاق علی المحاذاة فانه جاء استعماله فی القرب و یؤید عدم سلیة الزاق الکعبین با لمعنی الاول ای ترک التفریج بینهما انه یلزم فیه تحریک احدی الکعبین الی الاخری و تحریک عضو فی الصلوة من غیر ضرورة لیس بجائز عندهم حتی ان منهم من لم یجوز رفع السبابة فی التشهد لهذه العلة و منهم من لم یجوز رفع الیدین عند الرکوع لهذه العلة و الظاهر ان حمل کلامهم علی المعنی الثانی اولی من حمله علی المعنی الاول علی انه من اوهام صاحب المجتبی فاحفظ هذا التحقیق فانه من النفائس المختصة بهذا الکتاب و قل من تنبه علیه من العلماء الا من شاء الله ان یتنبه. (سعایة ج۲،ص۱۸۲)

د امداد الفتاوی په مذکور سوال کښې دا هم لیکلي دي چه ونسبت زاهدی در نافع کبیر و فوائد بهیه نوشته اند و ان کان اماماً جلیلاً فی الفقه لکنه متساهل فی نقل الروایات و ایضاً هو معتزلی الاعتقاد و حنفی الفروع قال صاحب رد المحتار فی تنقیح الفتاوی الحامدیة فی کتاب الاجارة الحاوی الزاهدی مشهور بنقل الروایات الضعیفة و لهذا قال ابن وهبان و غیره انه لا عبرة بما یقوله الزاهدی مخالفا لغیره. (امداد الفتاوی ج۱،ص۱۴۹)

لیکن د سعایه د تحقیق مطابق د زاهدي د تخطئه په نسبت د هغه د قول تاویل بهتر دی په مجتبی کښې د کعبینو د الصاق سره د ګوتو قبلي ته د مخامخ والي ذکر د دې ښکاره دلیل دی چه له الصاق څخه د هغه مراد هغه دی کوم چه په سعایه کښې له علامه سندهي رحمه الله څخه را نقل شوی دی یعنې په ښنګرو کښې محاذاة. د دې لپاره چه که چیرته الصاق په معنی د ضم (لګول) وشي نو په دې صورت کښې د پښو ګوتې قبلې ته نشي مخامخ کېدلی

په دې باندې دا اشکال وي چه په کعبینو کښې خو محاذاة د قیام په حالت کښې هم مسنون دی بیا ئې په رکوع کښې په ځانګړې توګه ولې بیان کړې ده؟

د دې دوه وجې کېدلی شي یوه دا چه په اصل کښې په دې باندې مقصود تنبیه دی چه د پښو په قیام کښې کوم کیفیت مسنون دی په رکوع کښې هم هغه کیفیت مسنون دی. په رکوع او قیام کښې کوم فرق نشته دویمه وجه دا کېدلی شي چه د رکوع په حالت کښې په پښو باندې نظر نه پرېږي د دې لپاره د دې سنت په تعمیل کښې که چیرته کوم نقص وي نو په رکوع کښې د هغه د اصلاح موقع شته

د دغو توجیهاتو څخه هم ضرورت دی چه په رکوع کښې د ګوتو قبلې ته د مخامخ کولو په بیانولو باندې بعضې همدغه اشکال واردیږي چه کومه توجه د دې وشي په کعبینو کښې د دې محاذاتو سره برخه کښې هم وشي

فقط والله تعالی اعلم ۶ رمضان ۹۸ هجری

سجده د يوې تسبيح په اندازه واجبه ده

سوال په سجده کښې تر څورمره څنډه پورې پاتې کيدل فرض دي؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب مطلقه سجده فرض ده او د يوې تسبيح په اندازه پاتې کيدل واجب دي او د دريو تسبيحانو په اندازه سنت مؤکد دی

فی واجبات الصلوة من العلائية و تعديل الارکان ای تسکين الجوارح قدر تسبيحة فی الرکوع و السجود و کذا فی الرفع منهما الخ. (ردالمحتار ج۱، ص۳۲۲) فقط والله تعالیٰ اعلم ۲۸ رمضان ۹۸ هجری

په لمانځه کښې د لاس د تړلو طريقه

سوال په لمانځه کښې د قيام (ولاړې) په حالت کښې د لاس د نيولو طريقه و ليکئ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په قيام کښې تر نامه لاندې لاسونه بايد په داسې ډول وتړل شي چه د ښي لاس ورغوی د کيڼ لاس د ورغوي په شا باندې کيښودل شي او د ښي لاس له وړې او غټې ګوتې څخه حلقه جوړه شي او د کيڼ لاس په بند ئې را وګرځوي. او د ښي لاس منځنۍ درې ګوتې د کيڼ لاس په ساعد تر بند لږ پورته ځای باندې خورې پاتې شي د يوه قول مطابق د وړې ګوتې سره لګيدلې ګوته دې هم په حلقه کښې شامل کړې او بواځې دوه ګوتې دې په بند د باسه وغوړوې دا حکم د نارينه وو لپاره دی ښځې دې ښی ورغوی په کيڼ ورغوي باندې کښيږدي او نيسي دې نه او په سينې باندې به لاسونه نږې

قال العلائی رحمه الله و وضع الرجل يمينه علی يساره تحت سرته آخذا رسغها بخنصره و ابهامه هو المختار و تضع المرأة و الخنثی الکف علی الکف تحت ثديها و قال ابن عابدين رحمه الله ای يحلق الخنصر و الابهام علی الرسغ و يبسط الاصابع الثلاث کما فی شرح المنية و نحوه فی البحر و النهر و المعراج و الکفاية و الفتح و السراج و غيرها و قال فی البدائع و يحلق ابهامه و خنصره و بنصره و يبسط الوسطی و المسبحة علی معصمه و تبعه فی الحلية و مثله فی شرح الشيخ اسمٰعيل عن المجتبی (قوله تحت ثديها) کذا فی بعض نسخ المنية و فی بعضها علی ثديها قال فی الحلية و کان الاولی ان يقول علی صدرها کما قاله الجم الغفير لا علی ثديها و ان کان الوضع علی الصدر قد يستلزم ذلک بان يقع بعض ساعد کل يد علی الثدی لکن هذا ليس هو المقصود بالافادة (ردالمحتار ج۱، ص۴۵۰) فقط والله تعالیٰ اعلم

۱۴ صفر ۹۸ هجری

په قیام کښې د پښو تر منځ فاصله

سوال د لمانځه په قیام کښې د دواړو پښو تر منځ فاصله باید څومره وي؟ او آیا دا فصله سنت ده، که واجب او که مستحب؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب تقریباً د څلورو ګوتو په اندازه فاصله پریښودل مستحب دي او د دواړه پښو بالکل سیده کښېودل چه د ګوتو څوکې قبلې ته مخامخ شي. سنت دي

قال ابن عابدین رحمه الله وینبغی ان یکون بینهما مقدار اربع اصابع الید لانه اقرب الی الخشوع فکذا روی عن ابی نصر الدبوسی انه کان یفعله کذا فی الکبری. (رد المحتار ج۱، ص۴۱۴) وفی التنویر ویستقبل باطراف اصابع رجلیه القبلة ویکره ان لم یفعل وقال ابن عابدین رحمه الله کذا فی التجنیس لصاحب الهدایة وقال الرملی فی حاشیة البحر ظاهره انه سنة وبه صرح فی زاد الفقیر اه. (رد المحتار ج۱، ص۴۷۰)

فقط والله تعالیٰ اعلم ۴ ذیقعده ۹۹ هجری

(د څلورو ګوتو فاصله پریښودل شرعي مستحب نه دي. تفصیل ئې په تتمه کښې دی)

سهواً کښیناستل او د بیرته پورته کیدلو په صورت کښې د دوباره تکبیر ویلو حکم

سوال امام په دریم رکعت کښې په سهوسره کښیناست لیکن د فتح حاصلولو باندې ودرید. د دې دریدو په وخت دوباره تکبیر ویل مسنون دي او که له سجدې څخه ئې د پورته کیدو په وخت کوم تکبیر ویلی وي هغه کافي دی، دلته د علماء کرامو په دې کښې اختلاف دی. ځینی لومړنی تکبیر کافي بولي او فرمايي چه په یوه انتقال کښې د تکبیر تعدد چیرې نه دی راغلی څکه به دویم ځل تکبیر نه وائي؟ د نورو دلیل دا دی چه لومړی تکبیر خو د سنت په مطابق ادا نه شو. او سنت دا دی چه د انتقال د ختمیدو سره تکبیر هم ختم شي. له دې وجې دې دویم ځل تکبیر ووائي هیله ده چه ستاسو د فیصلې به لیکلو سره زمونږ تشفي وشي؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د بنده په نزد په دې کښې تفصیل دا دی چه اورد قعود د سجدهٔ سهو د وجوب په صورت کښې چونکه دا هم قعود (ناسته) ګڼل کیږي د دې لپاره په لومړني د دویم ځل انتقال کښې جدا والی راځي. او دواړه انتقاله مستقل وګرځیدل نو د هر انتقال لپاره به تکبیر هم مستقل وي و که چرته کمه ناسته وکړي کوم چه د سجدهٔ سهو موجب و نه ګرځي نو دا جلسه د غیر معتبر کیدو له وجې له سجدې څخه تر قیامه پورې په یوه انتقال کښې شمار کیږي لهذا تکبیر به هم یو وي. د نوي تکبیر لپاره دا دلیل معقول نه دی چه لومړی تکبیر د سنت خلاف دی. د دې لپاره چه نوی تکبیر به هم د سنتو خلاف وي ځکه چه د دې تکبیر ابتداء به

سجدې څخه د نهوض (پورته کیدا) له ابتداء څخه نه دی شوی **فقط والله تعالیٰ اعلم**

۲۹ جمادی الآخر ۹۸ ھجری

د (رَبَّنَالَكَ الْحَمْدُ) د جملې تحقیق

سوال له رکوع څخه مې د پورته کیدو په وخت (رَبَّنَالَكَ الْحَمْدُ) وایه یوه معتبر عالم یو ځل بیان وکړ چه له رکوع څخه په پورته کیدو کښې د (رَبَّنَاوَلَكَ الْحَمْدُ) په ویلو سره دا دا فضیلت دی او د دې د لپاره ملائکې ډیر خه کوي له هغې ورځې مې د واو تکی ورسره زیات کړ لیکن په زړه کښې مې نه دېنینه وه. د دې لپاره د پوښتنې ځای دا دی چه کوم صورت باید غوره کړم (رَبَّنَالَكَ الْحَمْدُ) بهتر دی او که (رَبَّنَاوَلَكَ الْحَمْدُ) د کرم او مهربانۍ له مخې په دې اړوند مې امداد وکړئ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د دې څلور طریقې دي:

۱. اللّٰهم رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ ۲. اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ ۳. رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ ۴. رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ

په فضیلت کښې لومړنی تر ټولو زیات دی. بیا دویم بیا دریم او بیا څلورم **قال فی العلائیة و افضله اللّٰهُمَّ رَبَّنا وَلَكَ الْحَمْدُ ثم حذف الواو ثم حذف اللهم فقط. و قال ابن عابدین و بقی رابعة و هی حذفهما والاربعة فی الافضلیة علی هذا الترتیب کما افاده بالعطف بثم. (رد المحتار ج۱، ص۳۶۲)**

په حدیث کښې چه د دیرشو څخه زیاتې ملائکې د کومو کلماتو په ورلو کښې له یوې او بلې څخه د مخکښې کېدلو ذکر دی هغه کلمات دا دي (رَبَّنَاوَلَكَ الْحَمْدُ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ) (رواه البخاري) لیکن د احنافو د قاعدې مطابق دومره اوږده دعا په فرائضو کښې باید و نه ویل شي. بلکې په سنتو او نفلو کښې باید وویل شي **فقط والله تعالیٰ اعلم ۱۰ ربیع الاول ۹۷ ھجری**

په تنګ وخت کښې د حاجت د پوره کولو له وجې د لمانځه پرېښودل جائز نه دي

سوال یو سړی د قضاء حاجت سخته تقاضا لري لیکن د ډېروا نه د لمانځه بالکل آخري وخت دی اوس که چېرته دا سړی د خپل حاجت د پوره کیدو لپاره ځي نو لمونځ ئې قضا کېږي او که چېرته لمونځ کوي نو په کښېنه کښې ئې سخت تکلف دی اوس دا سړی باید څه وکړي. یعنی له همدې تکلف سره دې لمونځ ادا کړي او که د تکلف تر رفع کولو وروسته دې لمونځ وکړي؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په دي حالت کښې د جماعت برېښودل جائز دی لېکن د لمانځه برېښودل جائز نه دي لهذا که جرته د لمانځه د قضا کېدو وېره وي نو په همدې حالت کښې دی لمونځ وکړی. او په فرائضو او واجبانو دې اکتفاء وکړي. سنتونه دي پرېږدی د لمانځه په دننه کښې هم سنتونه پرېښودلی شي فقط والله تعالىٰ اعلم ۱۰ شوال ۹۸ هجری

د لمانځه په سجده کښې دُعاء

سوال په مشکوة شريف کښې له حضرت ابن عباس رضی الله تعالى عنهما څخه روايت دی چه قال رسول الله ﷺ الا انی نهيت ان اقرأ القران راكعاً او ساجداً فاما الركوع فعظموا فيه الربّ و اما السجود فاجتهدوا في الدعاء فقمن ان يستجاب لكم. په دي حديث کښې د لمانځه په سجده کښې د دُعا فضيلت ثابت شوی دی آيا د احنافو همدغه مذهب دی چه د لمانځه په سجده کښې دعا بهتره ده که چېرته نه وي نو د حديث مطلب څه دی؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب قال الملّا على القارى رحمه الله في شرح الحديث المذكور و اما السجود فاجتهدوا اى بالغوا في الدّعاء اى حقيقةً وهو ظاهر او حكماً كما في سبحان ربّي الاعلى. (مرقاة ج۲، ص۲۱۲) وقال ابن عابدين رحمه الله وقد ورد خير الدعاء دعاء يوم عرفة وخير ما قلت انا والنبيون من قبلى لا اله الّا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كلّ شيء قدير. رواه مالك و الترمذى و احمد و غيرهم شرح النقاية للقارى، وقيل لابن عيينة هذا ثناء فلم سماه رسول الله ﷺ دعاء فقال الثناء على الكريم دعاء لانه يعرف حاجته فتح، قلت يشير بهذا الى خبر من شغله ذكرى عن مسألتي اعطيته افضل ما اعطى السائلين ومنه قول امية بن ابي الصلت في مدح بعض الملوك :

أأذكر حاجتي ام قد كفاني ثناؤك ان شيمتك الحياء
اذا اثنى عليك المرأ يوماً كفاه من تعرضه الثناء

(ردالمحتار ج۲، ص۱۹۰)

له مذکوره تحقيق څخه ثابته شوه چه په حديث کښې تسبيحاتو ته دُعا ويل شوي دي يا د مطلب دی چه تر تسبيحاتو دی وروسته دُعا کړي. د احنافو رحمهم الله په نزد تر تسبيحاتو وروسته دي دُعا په نوافلو کښې وکړی او په فرائضو کښې دی نه کوی البته که چېرته فرائض ځواځې اد کوي يا په جماعت کښې په مقتديانو درونډ تمام نه شي نو په فرائضو کښې هم صحيح ده

قال فی العلائیة و کذا لا یأتی فی رکوعه و سجوده بغیر التسبیح علی المذهب و ما ورد محمول علی النفل قال ابن عابدین رحمه الله (قوله محمول علی النفل) ای تهجداً او غیره. خزائن. و کتب فی هامشه فیه ردّ علی الزیلعی حیث خصّه بالتهجد اه. ثم الحمل المذکور صرّح به المشائخ فی الوارد فی الرکوع و السجود و صرّح به فی الحلیة فی الوارد فی القومة و الجلسة و قال علی انه ان ثبت فی المکتوبة فلیکن فی حالة الانفراد او الجماعة و المأمومون محصورون لا یتثقلون بذلك كما نص علی الشافعية ولا ضرر فی التزامه و ان لم یصرّح به مشائخنا فان القواعد الشرعية لا تنبو عنه كيف و الصلوة و التسبيح و التكبير و القراءة كما ثبت فی السنّة اه. (رد المحتار ج۱، ص۴۶۲)

فقط والله تعالیٰ اعلم ۲۲ محرم ۹۹ سنه هجری

د مړي له خوا څخه د هغه زوی د لمانځه فديه ادا کولی شي

سوال زما والد صاحب په سنه ۱۹۶۳ کښې په کراچۍ کښې وفات شو. زما په زړه دي چې د بيمارۍ په دوران کښې يې څه لمونځونه قضا شوي دي هغه د قضائي لمونځونو د فديې د ادا کولو هيڅ وصيت نه وو ليکلی نو آيا مونږ په دې حيثيت سره چې د هغه زامن يو د هغه د قضائي لمونځونو فديې ادا کولی شو؟ او که يې ادا کولی شو نو په کوم حساب سره؟ يعنې د سنه ۱۹۶۳ د صدقۂ فطر په قيمت او که د سنه ۱۹۷۸ د صدقۂ فطر په قيمت؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب تاسو د خپل والد له خوا څخه فديه ادا کولی شئ د ورځې د شپږو لمونځونو حساب ولګوئ. څکه چې د وترو مستقله فديه واجبه ده چې کله فديه ادا کوئ د هم هغه وخت نرخ او قيمت ولګوئ فقط والله تعالیٰ اعلم ۲۲ محرم ۹۹ سنه هجری

په لمانځه کښې د را پورته کېدو په وخت په زنګنونو باندې د لاسونو تکيه کول مستحب دي

سوال څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چې له رکوع څخه د سجدې خوا ته او له سجدې څخه د قيام خوا ته د تللو په وخت کښې لاسونه چرته ونيول شي مستحبه طريقه يې څه ده؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب له قيام څخه د سجدې خوا ته د تللو په وخت کښې د لاسونو په زنګنونو باندې کېښودل مستحب نه دي ليکن عوام يې مستحب ګڼي لهذا بايد له دې څخه پرهېز وشي البته له سجدې څخه د قيام خوا ته د تللو په وخت په زنګنونو باندې د لاسونو تکيه کول مستحب دي

قال فی العلائیة ویکبر للنهوض علی صدور قدمیه بلا اعتماد وقعود استراحة ولو فعل لا بأس وفی الشامیة (قوله بلا اعتماد الخ) ای علی الارض قال فی الکفایة اشار به الی خلاف الشافعی فی موضعین احدهما یعتمد بیدیه علی رکبتیه عندنا و عنده علی الارض و الثانی الجلسة الخفیفة قال شمس الائمة الحلوانی الخلاف فی الافضل حتّی لو فعل کما مذهبنا لا بأس به عند الشافعی و لو فعل کما هو مذهبه لا بأس به عندنا کذا فی المحیط.(ردالمحتار ج۱،ص۴۶۳) فقط والله تعالیٰ اعلم ۲۹ محرم ۹۹ هجری

چه کله د ۳/٤٠٢ گرامو سپينو زرو په برابر د نقصان ويره وي نو د لمانځه ماتول جائز دي

سوال څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه د بهشتي زيور په دويمه حصه يوولسم باب مسئله نمبر پنځمه کښې ليکلي دی چه ,,که چيرته څوک په لمانځه کښې وي او ديګ وه ايشي چه قيمت ئې درې يا څلور آنې وي نو د لمانځه ماتول جائز دي. لنډه دا چه کله د داسې شي د ضائع کيدو يا خرابيدو ويره وي چه قيمت ئې درې يا څلور آنې وي نو د هغه د حفاظت په خاطر د لمانځه ماتول صحيح دي،، د دې تشريح وکړئ چه په دې زمانې کښې دا قيمت څومره وي؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د درهم په اندازه چه د نقصان ويره وي نو د لمانځه ماتول صحيح دي درهم = ۳ ماشه- ۳/٤٠٢ گرامه سپين زر جوړيږي د سپينو زرو قيمت کښته او پورته کيږي په هرې زمانې کښې د هغه ځان څنته قيمت لګول کيږي

قال شارح التنویر ویباح قطعها لنحو قتل حیة وندّ دابة و فور قدر و ضیاع ما قیمته درهم له اولغیره و قال ابن عابدین رحمه الله (قوله و فور قدر) الظاهر انه مقیّد بما یخ من فوات ما قیمته درهم سواء کان ما فی القدر له او لغیره رحمتی. (قوله و ضیاع ما قیمته درهم) قال فی مجمع الروایات لان ما دونه حقیر فلا یقطع الصلوة لاجله لکن ذکر فی المحیط فی الکفالة ان الحبس بالدانق یجوز فقطع الصلوة اولی و هذا فی مال الغیر و اما فی ماله لا یقطع و الاصح جوازه فیهما آه و تمامه فی الامداد و الذی مشی علیه فی الفتح التقیید بالدرهم.(رد المحتار ج۱،ص۶۱۲) فقط والله تعالیٰ اعلم ۱۸ ربیع الثانی ۹۸ هجری

په لمانځه کښې قرائت حکايةً دي

سوال په لمانځه کښې قرائت حکايةً وي که انشاءً؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په لمانځه کښې د لاندینې دلائلو له مخې قرآنکریم حکایة تلاوت کړي

۱. د قرآنکریم هغه برخه چه په هغې کښې قصې او اخبار دي که چرته په لمانځه کښې وویل شي نو لمونځ کړي په داسې حال کښې چه په دې کښې انشاء امکان نه لري

۲. د قرآنکریم داسې انشائیه جملې دي چه مخاطب ئې په دې وخت کښې موجود نه وي مثلاً یا مریم. یا یحیی. یا یوسف. یا ایها النبي. یاایها المدثر او داسې نورو په ویلو سره لمونځ کېږي. په داسې حال کښې چه دا انشاءات محض د حکایت له مخې ویل کېږي د رسول الله ﷺ په ژوند کښې هم که چیرته چا په لمانځه کښې د حکایت په ځای د خطاب صیغې د تخاطب په نیت سره ووایه نو لمونځ ئې فاسدیده کما سیأتي

۳. د قرآنکریم دعائیه جملې یا تسبیح و تهلیل یا تسمیه یا سورة فاتحه که چیرته حکایةً و نه ویل شي بلکه انشاءً د دعا یا تسبیح او تهلیل په نیت سره وویل شي نو دا جملې له قرآنیت څخه ووځي د دې لپاره د جنوب او حائضې لپاره په دې قصد سره د تلاوت اجازه شته په داسې حالت کښې د تلاوت په نیت سره یواځې د تسمیه د ویلو اجازه هم نشته کما في الشامیة له دې څخه ثابته شوه چه قرآنکریم که په لمانځه کښې وي بغیر له لمانځه نه وي په هر صورت کښې به حکایةً ویل کېږي

۴ ــ قال فی التنویر بیان ما یحرم بالحدث الاکبر و تلاوة قران بقصده. و فی الشرح حتی لو قصد بالفاتحة الثناء فی الجنازة لم یکره الا اذا قرأ المصلی قاصدا الثناء فانها تجزیه لانها فی محلها فلا یتغیر حکمها بالقصد و فی الحاشیة. (قوله حتی لو قصد) تفریع علی مضمون ما قبله من ان القرآن یخرج عن القرآنیة بالقصد غیره (قوله فلا یتغیر حکمها) وهو سقوط واجب القراءة بها. (ردالمحتار ج۱)

له دې څخه څرګنده شوه چه په لمانځه کښې که چرته سورة فاتحه انشاءً ووائي نو نیت ئې هم معتبر نه دی لندې دا چه د قرآنکریم خبري جملې او اکثره ندائیه جملو کښې خو د انشاء احتمال شته او په کومو ندائیه جملو کښې چه د نداء او خطاب د انشاء احتمال شته هغو ته د انشاء په قصد په ویلو سره لمونځ فاسدیږي کما سیأتي ذکره. دعاء، تسبیح او داسې نورو جملو کښې ګرکه انشاء احتمال شته لیکن د انشاء په قصد سره دا جملې له قرآنیت څخه ووځي کما مر

۵ ــ قال فی شرح التنویر و کذا یفسدها کل ما قصد بها الجواب کأن قیل امع الله اله فقال لا اله الا الله او ما مالك فقال الخیل و البغال و الحمیر او من این جئت فقال و بئر معطلة و قصر مشید او الخطاب کقوله لمن

اسمه يحيى او موسى يا يحيى خذ الكتاب بقوة او وما تلك بيمينك يا موسى مخاطبا لمن اسمه ذلك او لمن بالباب و من دخله كان ادخلوها بسلام آمنين امراً و فى الشامية (قوله او الخطاب الخ) هذا مفسد بالاتفاق و هو مما اورد نقضًا على اصل ابى يوسف رحمه الله فانه قرآن لم يوضع خطابا لمن خاطبه المصلى و قد اخرجه بقصد الخطاب عن كونه قرآنا و جعله من كلام الناس. (ردالمحتار ج۱)

البته له (اذا قال العبد الحمد لله رب العلمين قال الله تعالى حمدنى عبدى - الخ) څخه څرګندېږي چه د سورهٔ فاتحه د ويلو په وخت کښې انشاء هم په لحاظ کښې نيول شوي ده. بالکل متروک نه ده

د لمانځه په حقيقت باندې د غور له کولو څخه هم دا ثابتيږي څکه چه لمونځ د جلالي شان مظهر دی. د خدای په دربار کښې انسان د حمد او ثناء تر وړاندې کولو وروسته په صراط مستقيم باندې د ثابت پاتې کېدلو د غوښتنې لپاره عريضه وړاندې کوي د همدې لپاره د امام قرائت د مقتديانو لپاره کافي دی څکه چه عريضه وړاندې کوونکی يو سړی د ټول جماعت لپاره نمائنده وي او د دربار آداب او سلام په هر سړي باندې لازم وي غرض دا چه په لمانځه کښې قرآنکريم حکايةً ويل کيږي لکن په سورهٔ فاتحه کښې انشاء هم ملحوظه ده اصل مقصد په دې کښې هم د قرآن تلاوت دی لقوله تعالى (فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ).

البته قرائت نه په دې لحاظ سره انشاء ويل کيدلی شي چه قاري د خپل ځان له خوا څخه د قرائت انشاء کوي د بل د قرائت حکايت نه کوي

په تشهد کښې سلام انشاءً ويل کيږي

سوال په لمانځه کښې (السلام عليك ايها النبى) انشاءً ويل کيږي او که حکايةً؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب (السلام عليك ايها النبى) بلکه ټول تشهد انشاءً ويل کيږي

قال فى شرح التنوير ويقصد بالفاظ التشهد معانيها مرادة له على وجه الانشاء كانه يحيى الله تعالى ويسلم على نبيه وعلى نفسه واوليائه لا الاخبار عن ذلك. ذكره فى المجتبى وظاهره ان ضمير علينا للحاضرين لا حكاية سلام الله تعالى و فى الشامية (قوله لا الاخبار عن ذلك) اى لا يقصد الاخبار و الحكاية عما وقع فى المعراج منه ﷺ ومن ربه سبحانه ومن الملائكة عليهم السلام و تمام بيان القصة مع شرح الفاظ التشهد فى الامداد فراجعه. (قوله لا حكاية سلام الله تعالى) الصواب لا حكاية سلام رسول الله ﷺ. (ردالمحتار ج۱)

له قرائت نه بغير د لمانځه ټول وظائف انشاءً ويل کيږي لکه څرنګه چه د لمانځه په حقيقت باندې د غور له کولو څخه ښکاريږي د لمانځه د حقيقت د تفصيل د شکلو نه دی وخت کښې

سروړت نشته او نه فرصت شته لهذا سواخي د «السلام علیك ایها النبی» حکمت لکل کیږی له سلطنی دربار څخه د سرته رانلو په وخت کښی د څه نذرانه د وړاندې کولو دستور شته د دي له پاره لمونځ کوونکی د التحیات لله و الصلوات و الطیبات نذرانه وړاندې کوي بیا یو په یو دا خیال ذهن ته راځي چه دا قرب الهي او خدای ته مناجات یواځې د سید الکونین ﷺ د مسعود وجود له برکته دی د نبي کریم ﷺ وجود یواځې او یواځې د هدایت ذریعه ده. نو لمونځ کوونکی ی اختیاره خپل محسن اعظم او منعم اکرم ﷺ ته سلامونه لیږي

باقي دا اعتراض بالکل لغو دی چه په داسې حال کښې نبي کریم ﷺ حاضر نه دی نو خطاب ی فندې دی ځکه چه صلوة او سلام د ملائکه وو په ذریعه د نبي کریم ﷺ خدمت ته رسیږي لکه څرنګه چه په خط کښې یو څوک د خطاب صیغې د دې لپاره لیکي چه هغه خط مخاطب ته ورسیږي او مخاطب مخامخ موجود نه وي

په سجدې کښې د ښنګرو لګول

سوال نارینه به د سجدې په حالت کښې دواړه پښې سره نښلوي او که نه؟ په عرف شذي کښې د ښنګرو د سره لګولو روایت شته **و فی صحیح ابن حبان عن عائشة رضی الله عنها الرص بین العقبین فی السجدة ای ضمهما و اکثر الناس عن هذا غافلون. (العرف الشذی ص۱۳۵)** په دې باره کښې خپل تحقیق وښکی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په اعلاء السنن کښې تر نوموړي حدیث وروسته د دواړو پښو ترمنځ د فاصلې حدیث هم منقول دی

عن عائشة رضی الله عنها فی حدیث اوله فقدت رسول الله ﷺ و کان معی علی فراشی فوجدته ساجدا راصا عقبیه مستقبلا باطراف اصابعه القبلة رواه ابن حبان فی صحیحه باسناد حسن. (التلخیص الحبیر ج۱، ص۹۸) و للنسائی و قد سکت عنه و هو ساجد و قدماه منصوبتان الحدیث. (نسائی ج۱، ص۱۶۶)

عن البراء رضی الله عنه کان صلی الله علیه وسلم اذا رکع بسط ظهره و اذا سجد وجه اصابعه قبل القبلة فتفاج. (یعنی وسع بین رجلیه ۱۲ منه) رواه البیهقی. (التلخیص الحبیر ج۱، ص۹۹) قلت احتج به الحافظ ابن حجر بعد ما ضعف روایة الدار قطنی عن عائشة رضی الله عنها و سکت عنه فهو حسن و صحیح عنده. (اعلاء السنن ج۳، ص۱۳۸)

د تعارض په صورت کښې لومړی د تطبیق وروسته د ترجیح خوا ته رجوع کېدلی شي

تطبیق په لومړي حدیث کښې رص بین العقبین په تقریب باندی محمولیږي کما حمل علیه الطحاوی رحمه الله حدیث ضم الکفین فی الدعاء.

بحیله په دې حدیث کښې په صراحت سره د حمل کولو دوه قرائنه هم شته. یو قبلي چه د ګوډو د سرونو مخامخ والی. دوېم د ښځو ذرول. دا دواړه سنتونه د رص بين العقبين په صورت کښې نه پوره توګه نه شي ادا کيدلی برسره پر دې په دې کښې له ضرورت پرته ښپو نه د حرکت ورکولو قباحت هم شته

ترجيح دوېم حديث د نارينه وو لپاره په رکوع او سجدې کښې د تجافي مطابق دی وکلي په مرجحاً. **و بهذا رجح الامام الطحاوی رحمه الله حديث وضع اليدين على الركبتين في الركوع على حديث التطبيق.** همدارنګه په لمانځه کښې د خشوع د امر له وجې هم د همدې قول ترجيح ثابتيږي ځکه چه له ضرورت پرته حرکت د خشوع منافي ده **قال ﷺ مصل يعبث بلحيته لو خشع قلبه لسكن جوارحهٔ** . دا بحث مې تبرعاً وليکه او که نه نو حديث ته رجوع کول د مقلد وظيفه نه ده. په فقهه کښې د دې هيڅ ثبوت نشته. په شاميه کښې يو ځې له ابو السعود څخه د نقل په کولو سره د نقل په صحت کښې خبره کړې ده او په سعايه کښې په رکوع او سجدې کښې الصاق الكعبين د ښنګرو په لګول په مفصله او مدلله توګه رد کړی دی په احسن الفتاوی کښې په رکوع کښې د ښنګرو د لګولو په بحث کښې د سعايه تحقيق منقول دی **فقط والله تعالى اعلم**

۲۷ شعبان ۱۴۰۰ هجری

د نارينه لپاره تر نامه لاندې د لاسونو تړل مسنون دي

سوال يوه ښاغلي د تقرير په دوران کښې وويل چه نارينه دې لاسونه په نامه باندې وتړي نه تر نامه لاندې او نه تر نامه پورته بلکه خاص ته ئې د نامه په سر باندې تړي د لاسونو د تړلو صحيح ترکيب څه دی؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د نارينه وو لپره د لاسونو تر نامه لاندې تړل سنت دي **قال في العلائية ووضع الرجل يمينه على يسارهٖ تحت سرته آخذا رسغها بخنصره وابهامه هو المختار.** (ردالمحتار ج۱ ص۵۰۰) **فقط والله تعالى اعلم** **۲۹ رجب ۹۹ هجری**

سجدې ته د تلو په وخت کښې لاسونه بايد په زنګنونو کې نه ښودل شي

سوال د رکوع وروسته سجدې ته د تلو په وخت کښې لاسونه په زنګنونو ښودل کيدل سنت دي او که مستحب؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب له سجدې څخه د پورته کيدو په وخت په زنګنونو ښودل ...

... سجدې ... په ... د تلو په وخت کښې په زنګنونو ښودل ...

لاسونو کښېودل ثابت نه دي. د عدم ثبوت څخه علاوه په دې کښې نور دوه قباحتونه هم شته
۱. عوام دا مسنون یا مستحب ګڼلی دی
۲ له قومې څخه سجدې ته د تلو مسنونه طریقه دا ده چه ګونډې په زمکې باندې تر لګولو مخکښی ملا او سینه باید ټیټه نه شي. په دې وخت کښې په زنګنونو باندې د لاسونو د کېښودلو دا اثر لیدل کیږي چه د زنګنونو په زمکې باندې تر لګولو مخکې د بدن پورتنۍ برخه ټیټیږي لهذا دا عادت د سنتو د ترک کیدو له وجې د پرېښودو وړ دی فقط والله تعالیٰ اعلم

۱۲ رجب ۱۴۰۰ هجری

(زیاتی تحقیق په تتمه کښې دی)

په ناستې سره لمونځ کوونکی دې نظر په غیږ کښې ساتي

سوال کوم سړی چه په ناستې سره لمونځ کوي هغه به د قرائت په حالت کښې خپل نظر د سجدې په ځای باندې ساتي او که د قعدې غونډې په غیږ باندې به خپل نظر ساتي؟ د ځینو خیال دا دی چه نظر باید د سجدې په ځای باندې وساتل شي. آیا دا خبره صحیح ده؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په دې اړه مې کومه صریحه جزئیه تر نظر نه ده تیره شوې. د کلیې دا مقتضی ده چه په غیږ باندې دې نظر ساتي ځکه چه په یوه ځای باندې د نظر له ساتلو څخه په خشوع او خضوع کښې اعانت (امداد) مقصود دی. د ناستې په حالت کښې په غیږ باندې نظر ساتل آسانه دی. د همدې لپاره په قعده کښې دا حکم ورکړ شوی دی. له دې امله په ناستې سره د قرائت په حالت کښې هم باید په غیږ باندې نظر وساتل شي. با لفرض له سهولت څخه پرته که کوم بل حکمت هم وي نو بیا به هم دا وبل کیږي چه د قعدې په حالت کښې په غیږ باندې د نظر په ساتلو سره چه کوم حکمت دی هغه په ناستې سره د قرائت په حالت کښې هم شته

فقط والله تعالیٰ اعلم ۱۲ رجب ۱۴۰۰ هجری

په قنوت نازله کښې باید لاسونه وتړل شي

سوال د قنوت نازله د ویلو په وخت کښې لاسونه باید تړلي و نولي شي او که خلاص؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په دې باره کښې کومه صریحه جزئیه لاس ته نه ده راغلې. د کلیې مطابق لاسونه باید وتړل شي لانه قیام له قرار وفیه ذکر مسنون ولذا قالوا بوضع الیدین فی قنوت الوتر و لومة صلوٰة التسبیح.

فقط والله تعالیٰ اعلم ۱۹ رجب ۱۴۰۰ هجری

په دعاء کښې د لاسونو تر منځ څه نا څه فاصله مستحبه ده

سوال په دُعاء کښې لاسونه بايد تر کومه ځايه پورته شي. او دواړه لاسونه به له يوه او بل سره لګېدلي نېسي او که څه فاصله به په منځ کښې پرېږدي يو مولوي صاحب وايي چه په امداد الفتاوی کښې ئې ليکلي دي چه لاسونه بايد سره لګېدلې وي آيا دا صحيح ده او که څنګه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په دُعاء کښې لاسونه بايد تر سينې پورې پورته شي او د دواړو لاسونو تر منځ څه نا څه فاصله پرېښودل افضل دي

فی الباب الرابع من كراهية الهندية والافضل فی الدعاء ان يبسط كفيه ويكون بينهما فرجة وان قلت ولا يضع احدى يديه علی الاخرى فان كان فی وقت عذر او برد شديد فاشار بالمسبحة قام مقام بسط كفيه و المستحب ان يرفع يديه عند الدعاء بحذاء صدره كذا فی القنية. (عالمگيريه ج۵، ص۳۱۸، المطبعة الكبرٰى الاميرية مصر)

په امداد الفتاوی کښې ئې ضم الکفين د حنبلي فقهې له کتاب شرح المقنع څخه را نقل کړی دی **ونصه وتكون يداه مضمومتين لما روى الطبرانی فی الكبير عن ابن عباس رضی الله عنهما كان النبی ﷺ اذا دعا ضم كفيه وجعل بطونهما يلی وجهه وضعفه فی المواهب.**

د دې روايت په بناء سره که څوک د لاسونو د لګولو د افضليت قول وکړي نو د دې هم ګنجائش شته او داسې تطبيق هم ورکول کېدلی شي چه له ضم څخه مراد نژدې والی دی کوم چه د لرې والي منافي (مانع) نه دی **فقط والله تعالی اعلم ۲۴ جمادی الاولى ۹۶ هجری**

د پورتني سوال غوندې يو بل سوال

سوال آيا د دعاء په وخت کښې دواړه لاسونه بايد سره ولګول شي او که خلاص ونيول شي؟ د دې په اړه مولانا محمد اجمل صاحب د آداب الدعاء په رساله کښې فرمايي علامه طحطاوي د نهر الفائق په حوالې سره ليکي چه **(وفی النهر من فعل كيفية المستحبة ان يكون بين الكفين فرجة وان قلت)** او د دې مخه نوسوړی علامه د حصنِ حصين په حوالې سره ليکي چه د دُعاء له آدابو څخه يو دا هم دی چه دواړه لاسونه به سره لګولي نـــــي او د ګوتو مخونه بايد د قبلې خوا ته وی **(وفی شرح الحصن والظاهر ان من الادب يضامة اليدين وتوجيه اصابعهما نحو القبلة).**

و مخکښې فرمايي چه له يوه و بل سره لګول ئې افضل او بهتر دی او که حرمه ئې عومه

جلا ني ونيسي نو بيا جائز دی او امام شعراني د لوافح الانوار په ۷۲۹ مخ باندې ليکي د آسمان په طرف د دُعاء په وخت د لاسونو د پورته کولو حکمت دا دی چه له خدائي دربار څخه د معنوی عطاتو د حاصلولو لپاره لاس بوه ذريعه ده. پس دواړه بايد له بوه او بل سره دومره سره ونګيږي لکه څرنګه چه د اوبو چښونکی خپل دواړه لاسونه سره لګوي (رسالة آداب دعاء ص۴۰).

تر دې وروسته بنده د حديثو ځيني کتابونه وکتل. په مرقات کښې ملا علي قاري رحمه الله د کتاب الدعوات په دريم فصل کښې د **عن ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما انه يقول ان رفعكم ايديكم ـ الخ** حديث په ذيل کښې دا حديث را نقلوي **وقد ورد انه ﷺ فی الدعاء يوم عرفة جمع بين كفيه و جعلهما مقابل صدره كاستطعام المسكين (مرقاة المصابيح ج۵ ص۴۷)** ليکن د دې ني هيڅ سند نه دی ليکلی احقر په مجمع الزوائد کښې وليدل نو په دې کښې د نوموړي حديث تر نقل کولو وروسته حافظ نور الدين رحمه الله ليکي **رواه الطبرانی فی الاوسط و فيه الحسين بن عبد الله بن عبيد الله وهو ضعيف.** او ملا علي قاري رحمه الله په مرقات ج۵. ص۴۲ باندی فرمايي **ان الضعيف حجة فی الفضائل اتفاقاً اهـ**

همدارنګه له لاندينيو حديثونو څخه هم د دعا په وخت کښې د لاسونو د لګولو تائيد کيږي

عن انس بن مالك رضی الله عنه قال رفع رسول الله ﷺ يديه بعرفة يدعو فقال اصحاب النبی ﷺ هذا الابتهال ثم حاصت الناقة ففتح احدی يديه فاخذها وهو رافع الاخری. رواه البزار والطبرانی فی الاوسط بنحوه الا انه قال لرفع يديه فسقط زمام الناقة فتناوله ورفع يديه وزاد هذا الابتهال والتضرع ورجال البزار رجال الصحيح غير احمد بن يحيی الصوفی وهو ثقة ولكن الاعمش لم يسمع من انس رضی الله عنه. (مجمع الزوائد ج۱۰ ص۱۶۹)

وعن سلمان رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ما رفع قوم اكفهم الی الله عز وجل يسئلونه شيئا الا كان حقا علی الله ان يضع فی ايديهم ما سألوا. قلت له حديث فی السنن غير هذا رواه الطبرانی ورجاله الصحيح (پورتنی حواله)

او هغه بول حديثونه هم د لاسونو د لګولو سند ګرځېدلي دي چه په هغو کښي تر دعا وروسته د لاسونو په مخ باندې مسح کول او د سماوي برکتونو د نزول او الهي انوارو ذکر دی همدارنګه د عقل له مخې هم ځکه چه په صحيح ډول کښې تواضع او انکساري محسوسېږي نه دی برخلاف د لاسونو پر مسح نه حلاوت نه کښې تکلف معلومېږي. همدارنګه د لاسونو پر مسح حلاوت نه په سند کښې ځکه نه راوسته نوري نو حديث هم په لاس نه دی وراغلی

هيله ده چه له خپلې محاكمې او انيق تحقيق څخه احقر خبر كړي. لوی احسان او كرم به وي جزاكم الله احسن الجزاء

الجواب باسم ملهم الصواب د آداب الدعاء په رساله كښې د دې وضاحت نه دې شوې چه دعلامه طحطاوي رحمه الله مذكوره عبارت د دُر مختار په حاشيه كښې دی او كه مرافي الفلاح كښې. د دې لپاره مې دواړه كتابونه پسې وكتل. په طحطاوي علي الدر المختار كښې خو داسې كوم عبارت مې لاس ته را نه غی البته په طحطاوي على مرافي الفلاح كښې شته ليكن د هغه لې يوه جزء څخه هم د دعاء په وخت كښې د ضم اليدين فضيلت نه دی ثابت شوی بلكه د دې برعكس د دواړو لاسونو تر منځ د جلاوالي مستحب والی ترې ثابتيږي پوره عبارت ملاحظه كړی

وفي النهر من فعل كيفية المستحبة ان يكون بين الكفين فرجة وان قلت وان لا يضع احدى يديه على الارض فان كان لا يقدر على رفع يديه لعذر او برد فاشار بالمسبحة اجزأه اه. لكن في شرح الحصن الحصين و الظاهر ان من الادب ايضاً ضم اليدين و توجيه اصابعهما نحو القبلة وفي شرح المشكوة ورد انه ﷺ يوم عرفة جمع بين كفيه في الدعاء وان اريد بالضم في الكلام القرب التام لا ينافي وجود الفرجة القليلة واما قوله جمع بين كفيه لا ينافيه ايضاً لان المعنى جمع بينهما في الرفع ولا يفرد احدهما به. (طحطاوي على المراقي ص۱۶۳)

د آداب الدعاء د رسالې په عبارت كښې دويم تسامح (غلطي) دا شوی دی چه د ضم اليدين استحباب ئې د حصنِ حصين كتاب خوا ته منسوب كړی دی په داسې حال كښې چه دا عبارت د حصن حصين نه بلكه د شرح الحصن دی ممكنه ده چه دا د ناسخ سهو او يا د كاتب غلطي وي

علامه طحطاوي رحمه الله د شرح الحصن عبارت د نهر له جزئيې سره د تطبيق وركولو چه كوم صورت بيان كړی دی ما هم بعينه د تطبيق همدا وجه په تاريخ ۲۴ جمادي الاولی سنه ۹۶ هجري ليكل شوي فتوی د فنيه د جزئيې او شرح المقنع په عبارت كښې ليكلی وو فلله الحمد علي توفيقه لموافقة الاكابر

لوافح الانوار مې وريسې وكتلو د لطائف المنن په حاشيه باندې لاس ته راغی. مستقل مې تر لاسه نه شو. نه دې حوالې كښې ليكل شوی د صفحې نمبر كار ور نه كړ. له سرسري پلټنې څخه مذكوره عبارت مې لاس ته را نه غی. كه څه هم د اعتماد له مخې د دې عبارت وجود به لوافح الانوار كښې ومنل شي نو د مؤلف له خوا څخه د طحطاوي د جزئيې غوندې به دی كښې هم د عبارت په پوهه يا نقل كښې د تسامح غلطی احتمال شته برته له دې څخه امام شعراني شافعي دی او د هغه قول د احنافو لپاره حجت نه دی ممكنه ده چه د شوافعو په نزد ضم اليدين

افضل وی لکه څرنګه چه په شرح المقنع کښې د حنابله وو په نزد هم د ضم الیدین فضیلت معلومیږي د احنافو په لاندیني کتابونو کښې د (فرجه بین الیدین) لاسونو تر منځ د جلاوالي د استحباب تصریح موجود ده

۱ درمختار فصل في بیان تالیف الصلوٰة

۲. د قنیه جزئیه چه د شامیه په فصل تالیف الصلوٰة او د عالمګیري په کتاب الکراهیة کښې مذکور ده

۳. په شامیه کښې علامه ابن عابدین رحمه الله په همدې باندې اعتماد کړی دی

٤. په عالمګیر کښې په همدې باندې اعتماد شوی دی

٥. د النهر الفائق عبارت پورته د طحطاوي په حوالې سره تیر شو

٦ علامه طحطاوي رحمه الله د نهر د جزئیې په خلاف د شرح المشکوة روایت او د شرح الحصن عبارت د ذکر کولو تر څنګ د نهر جزئیې ته ترجیح ورکړی دی

۷. حضرت مولانا عبد الحی لکهنوي صاحب رحمه الله د حصن حصین په حاشیه کښې د حصن حصین شرح الحرز الثمین لعليّ القاري رحمه الله تحقیقات دومره ډیر راوړي دي چه په ظاهره دا څرګندیږي چه الحرز الثمین ئې له پلوه ټول را نقل کړی دی سره له دې په دې موقع باندې د الحرز الثمین د عبارت په ځای ئې د قنیه جزئیه ذکر کړې ده چه په هغې کښې د فرجه بین الیدین مستحب والی مذکور دی

د لته د فقهې ټول کتابونه پسې نه دي کتل شوي امکان لري چه په نورو ډیرو کتابونو کښې هم همدا حکم موجود وي

طحطاوي چه له شرح المشکوة څخه کوم روایت نقل کړی دی دا بعینه په شرح د مشکوة لعليّ القاري رحمه الله کښې مذکور دی له دې څخه څرګندیږي چه د طحطاوي رحمه الله په عبارت کښې له شرح المشکوة څخه مرقات او ل شرح الحصن الحصین څخه الحرز الثمین مراد دی الحرز الثمین مې پیدا نه شوای کړی که چیرته په رښتیا هم په هغه کښې ضم الیدین راغلی وي. نوعلامه طحطاوي د دې هم تاویل په "العرب التام" سره کړی او د عبارت اختلاف ئې رفع کړی دی بالفرض که چیرته د شرح الحصن عبارت د هغه په ظاهر باندې ونیول شي نو له دې څخه په احنافو کښې تواخي د نوه فرد نفرد ثابتیږي په هر حال د شرح الحصن عبارت یا مؤوّل عن الظاهر په ظاهر کښې ئې تاویل شوی دی یا په دې کښې نفرد تواخي والی دی د دې لپاره حضرت مولانا عبد الحی صاحب رحمه الله د حصن حصین په حاشیه کښې د دې په ځای د قنیې جزئیه ذکر کړې ده

حدیث ته رجوع

حدیثو ته رجوع د مقلد وظیفه نه ده. سره له دې د خام زړه د تسکین (تسلي) لپاره د ضرورت په اندازه څه لیکل کیږي

۱- د شرح المشکوٰة روایت د دې خواب له علامه طحطاوي رحمه الله څخه پورته نقل شو. حقیقت دا دی چه دا خواب محض تاویل نه دی بلکه متبادر مطلب همدغه دی. څکه چه د سوال لپاره د یوه لاس د غزولو او په یوه لاس د نیولو معمول دی. له دې وجې په دعاء کښې هم د دې گومان وو. دې گومان لره د رفع کولو په غرض سره د (جمع بین کفیه) (د دواړو ورغوو د یو ځای کولو) الفاظ راوړل شول. چنانچه د همدغو الفظو په بناء باندې حضراتو فقهاء کرامو رحمهم الله د افراد ید (په دعاء کښې د یوه لاس د پورته کولو) په کراهت باندې فتویٰ ورکړې ده کما قدمنا عن العلامة الطحطاوی رحمه الله تعالى في النهر. دمرقات د الفاظو ((کاستطعام المسکین)) شرح نژدې راتلونکې ده.

۲- روایة البزار و الطبراني عن انس بن مالک رضی الله عنه

ده په دې روایت کښې ((فلفتح احدى يديه)) څخه استدلال کړی دی حالانکه دا الفاظ د شرح المشکوٰة په روایت کښې د نوموړې تاویل تائید کوي د مذکوره الفاظو معنیٰ دا ده چه نبي کریم ﷺ د اوښ د مهار د نیولو لپاره یو لاس وغزاوه او دویم لام نې د دُعاء لپاره پورته نیولی وو. له دې څخه ثابته شوه چه په دُعاء کښې اصل دا دی چه دواړه لاسونه باید پورته شي په یوه لاس باندې اکتفاء کول د عذر په حالت باندې دی لهذا په "جمع بین کفیه" کښې جمع فی الرفع (د دواړو یو ځای پورته کول) مراد کیدل ښکاره دی

۳. فی روایة الطبرانی عن انس رضی الله عنه کان حقاً علی الله ان یضع فی ایدیهم ما سألوا. او نور اړونده احادیث د مسح الیدین علي الوجه بعد الدعاء او نزول برکات السماویة و الانوار الالهیة

په دغو حدیثونو کښې د ضم الیدین هیڅ اشاره نشته. وضع في الید کنایه له اعطاء څخه ده.

همدارنګه له (رفع الیدین کاستطعام الطعام و مسح علی الوجه) څخه صرف تمثیل مقصود دی په لاندینی امورو باندې د غور له کولو څخه د دې حقیقت په پوهیدلو کښې به نوره آسانتیا هم وي

(۱) له رفع یدینو څخه پرته په دُعاء کښې هم په یقیني توګه برکات او انوار ورکول کیږي لیکن الله تعالیٰ نې په لاسونو کښې ورکوي. د لاسونو د نه پورته کولو په صورت کښې خو ظرف موجود نه وی

(۲) د لاسونو ظرف د هغه د عضاء ورکړې په نسبت ډیر کوچنی دی. په ښکاره توګه چه د

د لاسونه هم کوچني وي نو هغه ته به ډير تاوان او خساره وي
(۳) د دُعاء به وخت بايد د لاسونو گوتې د قبلې خوا ته وي. په دې حالت کښې ورغوي تقريباً سيده پاتي کيږي د دې لپاره په ظرف (لوښي) کښې د خواک د نيولو صلاحيت ډير کم پاتې کيږي. بالخصوص په داسې حال کښې چه مظروف سيّال (ډير نرم او توئيدونکي) وي. کما زعم الشعراني رحمه الله. گوا که د ظرف يواځې تل موجود دی او ديوالونه ئې نشته
(۴) د دُعاء تر شروع کولو وروسته د لاسونو ظرف خو فوراً ډکيږي. د دې لپاره بايد فوراً په مخ باندې مسح شي. او که نه نو د لاسونو تر ډکيدلو وروسته مظروف توئيږي بلکه مظروف سيّال دی نو لږ څنډ وروسته هغه همداسې هم له لاسونو څخه توئيږي
خيله يوه کيسه مې را ياده شوه، يو ځل ما ته ورپل شول چه د جنازې لمونځ راکړه. ما وليدل چه د مړي له کټ څخه څادر تر زمکې پورې را زړيږي او د کټ او د زمکې منځنی خلاء ئې بنده کړې ده. ما پوښتنه وکړه چه دا مو ولې داسې کړي دی. دوی ئې دا حکمت بيان کړ چه د دې لپاره تر څو دُعاء د کټ له لاندې څخه و نه ووځي
په دغو امورو باندې د توجّه له کولو څخه دا خبره بنه واضحه شوه چي د رب کريم عطاء ورکړه يواځې له لاسونو سره خاص نه ده او نه د هغه **يد سخاء الليل والنهار** او **يداه مبسوطتان ينفق كيف يشاء** له شان سره بنئي. چه هغ يواځې د سوال کوونکي د لاسونو د ظرفيت په برابر عطاء وکړي. لهذا له رفع اليدين څخه مقصد يواځې له سنل سره مشابهت دی نه د عطاء حفاظت
بالفرض که چيرته دا هم و منل شي چه په لاسونو سره د ورکړې حفاظت مقصود دی نو د ډيرې ورکړې د را نيولو او پورته کولو په حالت کښې د دواړو لاسونو تر منځ خامخا فرجه پاتې کيږي څکه چه ډېره ورکړه که چيرته سيّال يا جامد فتيت وي نو هغه کوم لوی لوښي ته اچول کيږي. او که چيرته جامد غير فتيت وي لکه پوره ووزه يا داسې نور نو د هغه حجم خو ډير لوی وي. په دواړو صورتونو کښې لاسونه فراخ او سره لرې نيول کيږي، د لاسونو گوتې د قبلې خوا ته په نيولو کښې چه کوم اشکال وو هغه هم په دې صورت کښې له منځه ځي څکه چه د لوی حجم درلودونکي شي د را پورته کولو په وخت کښې د لاسونو نه پ له نه شي جوړيدلی بلکه لاسونه سيده د تختې غوندې نيول کيږي دا ټول مې ست د گومان مطابق وليکل که نه نو حقيقت خو هغه دی چه له لاسونو څخه د عطاء يا د ورکړې حفاظت مقصود نه دی
د دواړو لاسونو تر منځ د فرجې جلاو ئې په اړه ممکنه ده چه حضراتو فقهاء کرامو رحمهم الله په نظر کښې کوم صريح حديث و راغلی وي او که نه نو که تر کمه له کوم حديث څخه خو به ئې مستنبط کړی وي د دغو حضراتو فضلي هوائي عشقي نه وي

حاصل دا چه د دُعاء په وخت کښې د دوارو لاسونو تر منځ فاصله مستحب ده او د مسـ
الـدسنو اجازه هم شته فقط والله تعالیٰ اعلم غرة ربیع الآخر ۱۳۹۸ هجری

په دُعاء کښې د لاسونو مخونه د اسمان خوا ته نیول مستحب دي

سوال د دُعا د غوښتلو په وخت کښې باید ورغوي د مخ خوا ته نیول کیږي او که پورته د آسمان په طرف صحیح طریقه ئې کومه یوه ده؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په دُعاء کښې د د ورغوي مخونه د آسمان په طرف نیول مستحب دي قال العلاء رحمه الله فيبسط يديه حذاء صدره نحو السماء لانها قبلة الدعاء ويكون بينهما فرجة. (رد المحتار ج۱، ص۴۷۳) فقط والله تعالیٰ اعلم ۱۷ جمادی الآخر ۱۳۹۹ هجری

په دُعاء کښې لاسونه تر کومه ځایه پورته کیږي؟

سوال د دُعاء د غوښتلو په وخت کښې باید لاسونه تر کوم ځایه پوري پورته شي؟ ځیني وائي چه تر اوږو پوري باید پورته شي او ځیني بیا وائي تر سینې پوري. صحیح طریقه کومه یوه ده؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دواړه صحیح دي قال شارح التنوير رحمه الله فيبسط يديه حذاء صدره نحو السماء لانها قبلة الدعاء وقال ابن عابدين رحمه الله كذا روى عن ابن عباس رضي الله تعالى عنهما من فعل النبي ﷺ قنية عن تفسير السمان. (ردالمحتار ج۱، ص۴۷۳) وفي المراقي رافعي ايديهم حذاء الصدور بطونها مما يلي الوجه. قال الطحطاوي رحمه الله الذي في الحصن الحصين وشرحه ان يرفعهما حذاء منكبيه باسطاً كفيه نحو السماء لانها قبلة الدعاء آه قال بعض الافاضل ولا منافاة بينهما لان المراد ان لا يجعل بطونهما جهة الارض والتفاوت في مقدار الرفع قليل كما يشير اليه ما في ابي داؤد عن ابن عباس رضي الله تعالى عنهما قال المسئلة ان ترفع يديك حذو منكبيك اودونهما. (الطحطاوي على المراقي ص۱۷۳) فقط والله تعالیٰ اعلم

۱۱ ربیع الآخر ۱۴۰۱ هجری

په دُعاء کښې د گوتو مخونه د قبلې خوا ته نیول مستحب دي

سوال آیا په دُعاء کښې د گوتو قبلې ته مخامخ نیول سنت دي؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب مستحب دی کما نقل الطحطاوي رحمه الله عن شرح الحصن الحصين (الطحطاوي على المراقي ص۱۷۳) فقط والله تعالیٰ اعلم ۱۱ ربیع الآخر ۱۴۰۱ هجری

د دُعاء مسنونه طریقه

سوال د سنت مطابق د دُعاء غوښتلو صحیح طریقه څه ده چه د هغه مطابق دُعاء قبوله شي، په وضاحت سره ئې بیان کړی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په اوداسه سره قبلې ته مخامخ د التحیات په شکل کښیناستل په خشوع او خضوع سره دُعاء کول. لومړی دې د الله تعالی حمد او ثناء ووائي یعنې الحمدلله رب العٰلمین الرحمٰن الرحیم مٰلك یوم الدین .بیا درود شریف، بیا دُعاء، لومړی دې د خپلو والدینو مور او پلار لپاره. بیا دې دې ټولو مؤمنانو لپاره دُعا وغواړي د ټول اُمت پخپلې دُعاء کښې له ځملولو پرته دُعاء ناقصه پاتې کیږي. د دعا هر مضمون دې بار بار تکراروي یا دې کم تر کمه ترې وارې خو تکرار کړي. د دُعاء په منځ کښې دې درود شریف ډیر ډیر وائي. د یاارحم الراحمین یا ذاالجلال والاکرام په الفاظو دې الله تعالیٰ ته نارې وهي. په آخر کښې دې بیا درود شریف ووائي او له درود شریف وروسته دې سبحان ربك رب العزة عما یصفون وسلام علی المرسلین والحمدلله رب العٰلمین ووائي په آمین سره دې دُعاء پای ته ورسوي فقط والله تعالیٰ اعلم

۱۱ ربیع الآخر ۱۴۰۱ هجری

بسم الله الرحمن الرحيم

عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ تَمَسَّكُوْا بِهَا وَعَضُّوْا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ (الحديث)

زُبدة الكلمات فی حکم الدعاء بعد الصلوات

تر فرائضو وروسته د دُعاء حکم

سوال تر فرض لمونځونو وروسته د دُعا په اړه د خلکو تر منځ مختلفې نظريې پېدا کېږي. ځينې علماء کرام يو مخ د دې دُعاء منکرين دي او وائي چه تر فرائضو وروسته بايد فوراً د نوافلو لپاره خلک ودرېږي. ځينې په دې دُعا کښې د لاسونو له پورته کولو څخه انکار کوي. بيا چه څوک د رفع اليدين قائل دي په هغو کښې ځينې به پټه سره دعاء کوي او د جوماتونو اکثره امامان په لوړ آواز سره اوږدې دُعا ګانې کوي او مقتديان آمين وائي په دغو ټولو کښې د شرعي نقطهٔ نظر له مخې د سنتو مطابق صحيح طريقه څه ده؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب تر فرائضو وروسته د دُعاء په اړه لومړى حديثونه او د فقهي عبارتونه ذکر کېږي، تر دې وروسته له هغو څخه ثابت شوي حکمونه ذکر کېږي

احاديث

۱- عن انس رضی الله عنه ان النبی ﷺ قال مامن عبد يبسط کفيه فی دبر کل صلوة يقول اللّٰهم الهی و اله ابراهيم و اسحق و يعقوب و اله جبرئيل و ميکائيل و اسرافيل اسألك ان تستجيب دعوتی فانی مضطر و تعصمنی فی دينی فانی مبتلی و تنالنی برحمتك فانی مذنب و تنفی عنی الفقر فانی متمسكن الا كان حقاً علی الله ان لا يرد يديه خائبتين وفی اسناده عبد العزيز بن عبد الرحمٰن فيه مقال. (علم اليوم و الليلة لابن السنی)

۲- عن الاسود العامری عن ابيه رضی الله عنه قال صليت مع رسول الله ﷺ الفجر فلما سلم انحرف ورفع يديه و دعا الحديث. رواه ابن ابی شيبة. (مجموعة الفتاوی بهامش الخلاصة ج۱ ص۱۰۰/ امداد الفتاوی ج۱ ص۵۶۱/ نفائس مرغوبة ص۲۹) د دې حوالې تحقيق په ضميمه کښې دی

۳- وقال الحافظ السيوطی فی فض الوعاء فی احاديث رفع اليدين فی الدعاء اخرج ابن ابی شيبة قال حدثنا محمد بن يحيی الاسلمی قال رأيت عبد الله بن الزبير رضی الله تعالی عنهما و رای رجلا رافعاً يديه يدعو قبل ان

یفرغ من صلوته فلما فرغ منها قال له ان رسول اللہ ﷺ لم یکن یرفع یدیه حتی یفرغ من صلاته رجاله ثقات آہ۔(فض الوعاء للسیوطی)

۴۔ عن الفضل بن عباس رضی اللہ تعالیٰ عنہما قال قال رسول اللہ ﷺ مثنی مثنی تشهد فی کل رکعتین و تخشع و تضرع و تمسکن ثم تقنع یدیک یقول ترفعهما الی ربک مستقبلاً ببطونهما وجهک و تقول یارب یارب من لم یفعل ذلک فهی کذا و کذا۔ رواہ الترمذی و النسائی ابن خزیمة فی صحیحه و رجاله ثقات۔ (اعلاء السنن ج۳،ص۲۰۸)

۵۔ اخرج عبدالرزاق عن النبی ﷺ ای الدعاء اسمع ای اقرب الی الاجابة قال شطر اللیل الاخیر و ادبار المکتوبة وصححه عبدالحق و ابن القطان۔ (مصنف عبدالرزاق)

۶۔ ذکر الامام المحدث ابو الربیع فی کتاب مصباح الظلام عن النبی عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام انه قال من کانت له الی اللہ حاجة فلیسألها دبر صلوة مکتوبة آہ۔ (مصباح الظلام)

۷۔ عن ابی امامة ﷺ قال قیل یا رسول اللہ! ای الدعاء اسمع قال جوف اللیل الآخر و دبر الصلوات المکتوبات۔ اخرجه الترمذی وقال حسن۔ (فتح الباری ج۱۱،ص۱۱۲)

۸۔ اخرج الطبرانی من روایة جعفر بن محمد الصادق قال الدعاء بعد المکتوبة افضل من الدعاء بعد النافلة کفضل المکتوبة علی النافلة۔ (المواهب للقسطلانی نقلا عن الحافظ ابن حجر)

۹۔ عن ابی امامة ﷺ قال ما دنوت من رسول اللہ ﷺ فی دبر صلاة مکتوبة و لا تطوع الا سمعته یقول "اللّٰهم اغفر لی ذنوبی و خطایای کلها اللّٰهم انعشنی و اجبرنی و اهدنی لصالح الاعمال و الاخلاق انه لا یهدی لصالح الاعمال و لا یصرف سیئها الا انت و روی النسائی و غیرہ اللّٰهم اصلح لی دینی الذی جعلته لی عصمة و اصلح لی دنیای التی جعلت فیها معاشی اعوذ برضاک من سخطک و اعوذ بعفوک من نقمتک و اعوذ بک منک لا مانع لما اعطیت ولا معطی لما منعت و لا ینفع ذا الجد منک الجد و روی ابو داؤد اذا انصرفت من المغرب فقل اللّٰهم اجرنی من النار سبع مرات اذا قلت ذلک ثم مت من لیلتک کتب لک جوار منها و اذا صلیت الصبح فقل کذلک ان مت من یومک کتب لک جوار منها۔ (ابن السنی)

۱۰۔ عن عطاء بن مروان عن ابیه ان کعبا ﷺ حلف له بالله الذی فلق البحر لموسیٰ انا لنجد فی التوراة ان داؤد نبی الله علیه الصلوة و السلام کان اذا انصرف من صلوته قال اللّٰهم اصلح لی دینی الذی جعلته لی عصمة و

اصلح لی دنیای التی جعلت فیہا معاشی اللّٰہم انی اعوذ برضاک من سخطک واعوذ بعفوک من نقمتک واعوذ بک منک لا مانع لما اعطیت ولا معطی لما منعت ولا ینفع ذا الجد منک الجد قال وحدثنی کعب ان صھیبا حدثہ ان محمدا ﷺ کان یقولھا عند انصرافہ من صلوتہ. (نسائی)

۱۱ - عن معاذ بن جبل رضی اللہ عنہ قال ان رسول اللہ ﷺ اخذ بیدی یوماً ثم قال یا معاذ واللہ انی لاحبک فقال معاذ بابی انت وامی یا رسول اللہ (ﷺ) وانا واللہ احبک فقال اوصیک یا معاذ لا تدعن فی دبر کل صلوۃ ان تقول اللہم اعنی علی ذکرک وشکرک وحسن عبادتک قال واوصی بذلک معاذ الصنابحی واوصی الصنابحی ابا عبد الرحمن الحبلی واوصی ابو عبد الرحمن عقبۃ بن مسلم ھذا حدیث صحیح علی شرط الشیخین ولم یخرجاہ وقال الذھبی فی التلخیص علی شرطھما. (مستدرک ج۱، ص۲۷۳) واخرجہ ابوداؤد والنسائی وصححہ ابن حبان.

۱۲ - عن المغیرۃ بن شعبۃ رضی اللہ عنہ قال ان رسول اللہ ﷺ کان اذا فرغ من الصلوۃ وسلم قال لا الہ الا اللہ وحدہ لا شریک لہ لہ الملک ولہ الحمد وھو علی کل شیء قدیر اللّٰہم لا مانع لما اعطیت ولا معطی لما منعت ولا ینفع ذا الجد منک الجد ولفظ البخاری فی کتاب الاعتصام انہ ﷺ کان یقول ھذہ الکلمات دبر کل صلوۃ وفی کتاب الصلوۃ فی دبر کل صلوۃ مکتوبۃ. (رواہ البخاری ومسلم وابوداؤد والنسائی)

۱۳ - عن انس رضی اللہ عنہ ان النبی ﷺ کان اذا صلی وفرغ مسح بیمینہ علی رأسہ وقال بسم اللہ الذی لا الہ الا ھو الرحمن الرحیم اللّٰہم اذھب عنی الھم والحزن. (رواہ الطبرانی والبزار)

۱۴ - عن انس رضی اللہ عنہ قال ما صلی رسول اللہ ﷺ بنا الا قال حین اقبل علینا بوجھہ اللّٰہم انی اعوذ بک من کل عمل یخزینی واعوذ بک من کل صاحب یؤذینی واعوذ بک من کل عمل یلھینی واعوذ بک من کل فقر ینسینی واعوذ بک من کل غنی یطغینی. (رواہ البزار وابویعلی)

۱۵ - عن علی رضی اللہ عنہ قال کان النبی ﷺ اذا سلم من الصلوۃ قال اللّٰہم اغفر لی ما قدمت وما اخرت وما اسررت وما اعلنت وما اسرفت وما انت اعلم بہ منی انت المقدم والمؤخر لا الہ الا انت. (رواہ ابوداؤد)

۱۶ - عن ثوبان رضی اللہ عنہ ان النبی ﷺ کان اذا اراد ان ینصرف من صلوتہ استغفر ثلاث مرات ثم قال اللّٰہم انت السلام - الخ. (رواہ ابوداؤد)

۱۷ عن زید بن ارقم رضی اللہ عنہ قال کان رسول اللہ ﷺ یقول فی دبر کل صلوۃ اللّٰہم ربنا ورب کل شیء شھید انک الرب لا شریک لک اللّٰہم ربنا ورب کل شیء انا شھید ان محمداً عبدک ورسولک اللّٰہم ربنا ورب

کل شیء اناشهید ان العباد کلهم اخوة اللّٰهم ربنا ورب کل شیء اجعلنی مخلصالك واهلی فی کل ساعة من الدنیا والآخرة یاذا الجلال والاکرام اسمع واستجب الله الاکبر الله الاکبر الله نور السمٰوٰت والارض الله الاکبر حسبی الله ونعم الوکیل الله الاکبر الله الاکبر. (رواہ ابو داؤد والنسائی واحمد)

۱۸ عن عقبة بن عامر رضی الله عنه قال امرنی رسول الله ﷺ ان اقرأ بالمعوذات دبر کل صلوٰة. (رواہ ابو داؤد)

۱۹ . فی مسند الامام احمد وسنن ابن ماجة وکتاب ابن السنی عن ام سلمة رضی الله عنها قالت کان رسول الله ﷺ اذا صلی الصبح قال اللّٰهم انی اسألك علما نافعاً وعملا متقبلاً ورزقا طیباً. (کتاب الاذکار للنووی)

۲۰ . وبعد صلوٰتی الصبح والمغرب ایضا قبل ان یتکلم اللهم اجرنی من النار سبع مرات. رواہ ابو داؤد والنسائی وابن حبان. (الحصن الحصین للجزری)

۲۱ . عن ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما فاذا فرغت فانصب یقول فاذا فرغت مما فرض علیك من الصلوٰة فسأل الله وارغب الیه وانصب له. (تفسیر ابن جریر طبری)

۲۲ . عن انس رضی الله عنه قال دخل النبی ﷺ علی ام سلیم (الی قوله) ثم قام الی ناحیة من البیت فصلی غیر المکتوبة فدعا لام سلیم واهلها الحدیث. (رواہ البخاری)

۲۳ عن عبدالله بن الزبیر رضی الله تعالیٰ عنهما ان النبی ﷺ کان یقول فی دبر الصلوات لا اله الا الله وحدهٗ لا شریك له له الملك وله الحمد وهو علی کل شیء قدیر لا حول ولا قوة الا بالله لا اله الا الله ولا نعبد الا ایاه له النعمة وله الفضل وله الثناء الحسن الجمیل لا اله الا الله مخلصین له الدین ولو کرہ الکافرون. (رواہ مسلم)

۲۴ عن عبدالرحمٰن بن غنم رضی الله عنه عن النبی ﷺ قال من قال قبل ان ینصرف ویثنی رجلیه من صلوٰة المغرب والصبح لا اله الا الله وحدہ لا شریك له الخ عشر مرات الخ. (رواہ احمد)

۲۵ کان رسول الله ﷺ اذا صلی الصبح وهو ثان رجلیه یقول سبحان الله وبحمدہ واستغفر الله انه کان تواباً سبعین مرة ثم یقول سبعین بسبعمائة الحدیث. (رواہ الطبرانی فی الکبیر)

[illegible]

قال ﷺ خیر الدعاء دعاء یوم عرفة وخیر ما قلت انا والنبیون من قبلی لا اله الا الله وحدہ لا شریك له له الملك وله الحمد وهو علی کل شیء قدیر رواہ مالك والترمذی واحمد وغیرهم شرح النقایة للقاری وقیل لابن عیینة هذا ثناء فلم سماہ رسول الله ﷺ دعاء فقال الثناء علی الکریم دعاء لانه یعرف حاجته فتح القدیر

يشير بهذا الى خبر من شغله ذكرى عن مسألتي اعطيته افضل ما اعطى السائلين ومنه قول امية بن ابى الصلت فى مدح بعض الملوك.

اأذكر حاجتى ام قد كفانى	ثناؤك ان شيمتك الحياء
اذا اثنى عليك المرء يوما	كفاه من تعرضك الثناء

(ردالمحتار ج۲،ص۱۹۰)

۲۲ ان الله تعالى كره لم ثلاثا اللغو عند القرآن و رفع الصوت فى الدعاء و التخصر فى الصلوة (عب) عن يحيى بن كثير مرسلا (ح) (الجامع الصغير ج ۱، ص ۷۰)

د فقهي عباراتونه

حنفيه:

۱ - اذا دعا بالدعاء المأثور جهرا و جهر معه القوم ايضا ليتعلّموا الدعاء لا بأس به و اذا تعلموا حينئذٍ يكون الجهر بدعة. (هندية ج۵،ص۳۱۸/بزازية بهامش الهندية ج۴،ص۱۰۰)

۲ واعظ يدعوا كل اسبوع بدعاء مسنون جهراً لتعليم القوم و يخافته القوم اذا تعلم القوم خافت هو ايضاً وان جهر فهو بدعة. (بزازية على هامش العالمگيرية ج۴،ص۴۲)

۳ و يستحب للامام (الى) و ان يستقبل بعده الناس (الى) ثم يدعون لانفسهم و للمسلمين رافعى ايديهم ثم يمسحون بها وجوههم فى آخره. (نور الايضاح)

۴ قال العلامة الشاه محمد انور قدس سرّهٗ نعم اصل سنة الدعاء يحصل بغير رفع اليدين ولذا قل النقل فى الرفع بعد الصلوة و انما الرفع كمال فى السنة تحصل سنتهٗ به و بغيره فلا سبيل الى تبديع من رفع و لا الى تجهيل من ترك واما الامور المحدثة من عقد صورة الجماعة للدعاء كجماعة الصلوة والانكار على تاركها و نصب امام ثم ائتمام به فيه وغير ذٰلك من قلة العلم و كثرة الجهل والجاهل اما مفرط او مفرّط والله الموفق للصواب. (النفائس المرغوبة للمفتى كفاية الله رحمۃ اللہ علیہ ص۲۷)

مالكيه:

۵ كره مالك رحمۃ اللہ علیہ وجماعة من العلماء لائمة المساجد والجماعات الدعاء بعد الصلوات المكتوبة جهر للحاضرين اخ. (امداد الفتاوى ج۱، ص۵۰۰)

٦ وقد اكثر الناس فى هٰذه المسئلة اعنى دعاء الامام عقب الصلوٰة وتأمين الحاضرين على دعائه وحاصل ما الفصل عنه الامام ابن عرفة والغبريني ان ذٰلك ان كان على نية انه من سنن الصلوٰة وفضائلها فهو غير جائز و ان كان مع السلامة من ذلك فهو باق على حكم اصل الدعاء والدعاء عبادة شرعية فضلها من الشريعة معلوم عظمه. (امداد الفتاوٰی ج۱، ص۵٦٧)

٧- فى فتح المعين مع المتن ويسن ذكر ودعاء سرًا عقبها اى الصلوٰة اى يسن الاسرار بهما المنفرد ومأموم وامام لم يرد تعليم الحاضرين ولا تأمينهم لدعائه بسماعه. (امداد الفتاوٰی ج۱، ص۵٦٨)

٨- فى شرح العباب لابن حجر وفتاواه الكبرٰى ويسن للمصلى اذا كان منفردًا او [1] مأمومًا كما فى المجموع عن النص بعد السلام عن الصلوٰة اكثار ذكر الله تعالىٰ ع الدعاء سرًا للاخبار الصحيحة لكن قال الاسنوى الحق انه يسن للامام ان يختصر فى الذكر والدعاء بحضرة المأمومين فاذا انصرفوا طول. (امداد الفتاوٰی ج۱، ص۵٦٨)

حنابلة:

٩- قال الشيخ المنصور بن ادريس الحنبلى فى شرح الاقناع مع المتن يسن ذكر الله والدعاء والاستغفار عقب الصلوٰة المكتوبة (الى ان قال) ويدعوا الامام بعد فجر وعصر لحضور الملٰئكة فيهما فيؤمنون على الدعاء فيكون اقرب للاجابة وكذا يدعو بعد غيرهما من الصلوات لان من اوقات الاجابة ادبار المكتوبات (الى قوله) ويكره للامام استقبال القبلة بل يستقبل المأمومين لما تقدم انه ينحرف اليهم اذا سلم ويلح الداعى فى الدعاء ويكرره ثلاثًا لانه نوع من الالحاح والدعاء سرًا افضل منه جهرًا لقوله تعالىٰ اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً لانه اقرب الى الاخلاص قال يكره رفع الصوت به فى الصلوٰة وغيرها الا الحاج فان رفع الصوت له افضل لحديث افضل الحج العج والثج. (امداد الفتاوٰی ج۱، ص۵٧٠)

له پورتني روايتونو او عباراتو څخه لاندينۍ خبرې ثابتې شوې

[1] تر فرائضو وروسته دعاګانې او ذكرونه له ډېرو صريحو او صحيحو روايتونو څخه ثابت دي حضرات فقهاء كرام رحمهم الله فرمايي چه په ماسپښين، ماښام او ماسخوتن كښې دې امام تر سلام ګرځولو وروسته ډېر د سنتو لپاره ودرېږي. ځنډ پكښې مكروه دى. د دوى په نزد د نوموړي روايت دوه توجيهه دي

---

[1] د عبارت له سياق څخه ښكاري چه دلته د «او» لفظ پاتې شوى دى ۱۲ منه.

۱- دا روایتونه د سهار او مازدیگر په اړه دي

۲- تر فرائضو وروسته د سننو او نوافلو حکم د فرائضو د جبرِ نقصان لپاره دی ځکه دا په فرائضو پورې ملحق دي لهذا له دبر المکتوبات څخه سره له ملحقاتو مراد دی. یعنې ت سنتونو او نوافلو وروسته وخت کښې

په هر صورت تر فرائضو وروسته د ذکر او دُعاء په اړه دومره روایتونه دي چه د عفو د انکار هیڅ گنجائش نشته

۲- په دُعاء وروسته تر فرضو کښې د لاسونو پورته کول هم ثابت دي اگر که په دې اړه ځینو روایتونو کښې ضعف شته لیکن لومړی خو په فضائلو کښې عمل په ضعیف سره هم جائز دی دویم دې ته له نورو روایتونو څخه اعتضاد حاصل دی. دریم په مطلق دعاء کښې د لاسونو پورته کول له صحیحو احادیثو څخه ثابت دي او په کلیه کښې له فرائضو وروسته دعاء هم داخله ده «له دې څخه د رجوع تفصیل په ضمیمه کښې دی»

۳ تر فرائضو وروسته په دعاء کښې د لاسونو په پورته کوونکي او نه پورته کوونکي باندې په یوه هم اعتراض او همدارنگه ملامتول ئې جائز نه دي «العبارة الرابعة»

٤- په ماسپښین. مانبام او ماسخوتن کښې دي امام له فرائضو څخه تر سلام وروسته د سنتو لپاره ودریږي له اللّٰهم انت السلام الخ څخه زیات تاخیر مکروه دی

۵- په دعاء کښې اخفاء په اتفاق سره زیات بهتر دی او په دې صورت کښې د قبلیده هیله زیاته موجوده ده

۶- مسنونه طریقه دا ده چه امام د مقتدیانو په موجودوالي کښې «انفراداً» لنډه دعا وکړي چه کله مقتدیان لاړ شي نو اوږده دُعاء کولی شي. «العبارة الثامنة»

لکن نن صبا معامله برعکس ده د مقتدیانو په مخکښې خو ډیرې اوږدې اوږدې دعاګانې کوي لیکن چون بخلوت میروند؟

۷ په دعاء کښې د امام او مقتدیانو پخپل منځ کښې د تعلق درلودلو اگر که په پټه سره هم وی د هیڅ یوه حدیث له مخې ثبوت نشته

۸- له امام سره نو ځای د دعاء کولو رواج که په پټه سره وی او که په جهر سره بدعت دی کوم چه د علم د قلت او د جهل د کثرت له مخې پیدا شوی دی او دا د جهلو افراط دی «العبارة الرابعه و الخامسة»

۹ - که چیرته امام په دې نیت سره جهراً دعاء کوي چه خلک د هغه کلمات واوري او یاد ئې کړي نو په دې کښې څه حرج نشته. چه کله خلک دُعاء یاده کړي نو بیا جهر بدعت دی (العبارة الاولی و الثانیة)

۱۰- ځینو مالکي علماوو تر فرضو وروسته له امام سره یو ځای اجتماعي دُعاء ته په دې شرط جائز ویلي دي چه د لمانځه له سنتو او فضائلو ئې ځخه و نه ګني. که چیرته ئې د لمانځه له سنتو و فضائلو ځخه وګڼل شي نو په اتفاق سره ناجائز دي (العبارة السادسة)

دا روایت پخپله د مذهب د خاوند امام مالک او د ده د اصحابو رحمهم الله تعالی د دې نص په خلاف دی چه امام کله له لمانځه نه فارغ شي نو فوراً دې له خپل ځایه لرې شي (المدونة ج۱. ص۱۴۴. الاعتصام للشاطبي ج۱. ص۳۵۳ ۳۵۴)

۱۱- د شافعیه وو په نزد د امام په جهر سره دعاء کول د سنتو خلاف دی. البته که چیرته مقتدیانو ته د تعلیم او تامین مقصد وي نو جائز دی په دې شرط چه د سنت ګڼلو ویره پکښې نه وي (العبارة السادسة و السابعة)

له دریم او نهم عبارت ځخه په دعاء کښې د امام او مقتدیانو پخپل منځ کښې رابطه ساتل نه ثابتیږي

د مروجې دُعاء تجزیه

۱- عوام ئې د لمانځه له سنتونو ځخه ګڼي

۲- د دې دعاء دومره التزام شروع شوی دی چه څوک ئې و نه کړي نو هغه د ملامت هدف جوړیږي که چیرته امام په دې طریقې سره دُعا و نه کړي نو له امامت ځخه ئې باسي

۳- د اخفاء په فضیلت باندې د اجماع تر څنګ په جهر باندې اصرار کیږي

د دغو وجوهاتو پر بناء تر لمونځونو وروسته په جوماتونو کښې باید د دُعاء مروجې طریقې له منځه یوړل شي او علماء دې باید دې ته زیاته توجه ورکړي شافعیه او مالکیه وو چه د کومو ځینو شرائطو اجازه ورکړې ده ښکاره ده چه هغه هم په **بالسلامة من القبائح المذکورة** پورې مقید دی د التزام له وجې خو مندوب او مستحب کار هم واجب الترک ګرځي دا خو پربږده چه د هغه هیڅ ثبوت هم نه وي او بیا د لمانځه له اړوندو کارونو ځخه وشمېرل شي د دې لپاره د جوماتونو په امامانو بندې لازمه ده چه د جهر رواج خو به کلي توګه له منځه یوسي او په اجتماعي توګه د پټې دُعاء په اړه هم مقتدیانو ته دا تبلیغ وکړي چه دا طریقه له سنتو ځخه ثابته نه ده ځکه د دې ډېر باید ډېر اهتمام و نه کړی بلکه ائمه حضرات کله کله په عملي توګه هم اجتماعي دعاء کله کله پریږدي تر څو چه د عوامو له ذهن ځخه د دې طریقې سنت والی ووځي لیکن تر عملي اقدام

مخکښې باید په ښې طریقې سره د ملاطفت او نرمۍ له مخې خلک د دې مسئلې په حقیقت باندې پوه کړی او ښه ئې په ذهن کښې کښینوی تر څو چه د انتشار او فتنې صورت پیدا نه شي

فقط والله تعالیٰ اعلم ۱۹ جمادی الاولی ۱۳۹۶ هجری

الحاق

له لاندینې روایاتو څخه د اجتماعي دُعاء د ثبوت اشتباه کیدلی شي

۱- من آداب الدعاء تأمين الداعي والمستمع. خ،م،د،س (حصن حصین ص۵)

۲- قوله تعالیٰ (قَدْ أُجِيبَتْ دَعْوَتُكُمَا) لاندې د تفسیر په کتابونو کښې دي چه حضرت موسیٰ علیه السلام دعاء کوله او حضرت هارون علیه السلام آمین وایه

۳- حضرت سعد بن ابي وقاص او حضرت عبد الله بن حجش ﷺ د احد په غزا کښې داسې دُعاء وغوښتله چه اول یوه صحابي دعاء وکړه او بل آمین ووایه . بیا دویم صحابي دُعاء وکړه او اول صحابي آمین ووایه.

٤- لا يجتمع ملأ فيدعو بعضهم ويؤمن بعض الا اجابهم الله (تلخیص الذهبی مع المستدرك ج۳،ص۳۴۷)

دا روایتونه د لمانځه نه وروسته دُعاء پورې کوم تړاو نه لري. دا ټول په هغه صورت پورې اړه لري چه کوم سړی په اتفاقي توګه دُعاء کوي او بل سړی ئې واوري نو هغه آمین پرې ووائي تر لمانځه وروسته د هر سړي لپاره خو د دعاء موقع شته. بیا د هر یوه مقصد جلا وي. هر سړی د خپل مقصد لپاره په دُعاء کښې مشغول وي نو د بل په دعاء باندې به آمین څنګه وائي؟

نبي کریم ﷺ هره ورځ پنځه ځلې په ښکاره توګه د جماعت لمونځ ادا کاوه. که چیرته ده مبارک ﷺ تر لمانځه وروسته کله هم اجتماعي دُعاء کړې نو کوم متنفس خو به را نقل کړې وای لیکن د حدیثو په ذخیره کښې د دې هیڅ نښه نه لیدل کیږي که چیرته د دې مستحب والی هم ومنل شي نو التزام خو به هر صورت بدعت دی وفقنا الله الجميع لما يحب ويرضى.

فقط والله تعالیٰ اعلم ۱۰ ربیع الاول ۱۴۰۴ هجری

ضمیمه په تتمه کښې ده

باب القرائت و التجوید

په قرائت کښې چه د اداء د صحیح والي کوشش و نه کړي نو لمونځ نه کیږي

سوال څه فرمائي د دین علماء په دې باره کښې چه یو سړی په لمانځه کښې قرآنکریم غلط وائي. په اعراب (زور، زیر، پیښ) کښې ډیرې غلطۍ کوي. د پوهولو تر څنګ خپل قرائت نه اصلاح کوي بلکه دا وائي چه دا ډول معمولي غلطۍ د لمانځه مفسد نه دي د داسې سړي په اقتداء کښې لمونځ جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د اعرابو غلطي اګر که د متاخرینو په نزد د لمانځه مفسد نه دی لیکن د بې احتیاطي او بې پرواهي له مخې د قرآنکریم غلط لوستل سخته ګناه ده **قال الله تعالیٰ:** ((وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا)). وقال العلامة الجزري والاخذ بالتجويد حتم لازم من لم يجود القران اثم. چه کوم سړی د قرآنکریم د حرکاتو او حروفو امتیازاو فق ضروري نه بلي د هغه په خیال کښې د قرآنکریم اعراب او متشابهه الصوت الفاظو تعدّد بې فائدې او بطل دی **وقال الله تعالیٰ:** ((لَا يَأْتِيْهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهٖ تَنْزِيْلٌ مِّنْ حَكِيْمٍ حَمِيْدٍ)).

الثغ (هغه څوک چه ژبه ئې بندیږي) که چیرته د اداء د صحت کوشش و نه کړي نو لمونځ ئې صحیح نه دی

قال في شرح التنوير وحرر الحلبي وابن الشحنة انه بعد بذل جهده دائما حتما كالامي فلا يؤم الا مثله ولا تصح صلوته اذا امكنه الاقتداء بمن يحسنه او ترك جهده الخ. وفي الشامية (قوله دائما) اي في اناء الليل واطراف النهار فما دام في التصحيح والتعلم ولم يقدر عليه فصلوته جائزة وان ترك جهده فصلوته فاسدة كما في المحيط و غيره الخ (ردالمحتار ج۱،ص۵۴۴)

چه کله د کوشش د نه کولو په صورت کښې د الثغ لمونځ فاسد دی په داسې حل کښې چه دی معذور هم دی، نو یو داسې څوک چه معذور نه وي او د اداء د صحیح والي کوشش نه کوي بلکه بې پرواهي پکښې کوي نو د هغه لمونځ خو په طریقهٔ اولی سره نه صحیح کیږي غرض دا چه که چیرته کله په اتفاقي توګه په اعرابو کښې غلطي وشي نو لمونځ نه فاسدیږي او که چیرته د بې احتیاطۍ او بې پرواهۍ له وجې قرآنکریم غلط وائي او د صحیح اداء کولو کوشش نه کوي نو لمونځ ئې نه صحیح کیږي

د فرض قرائت اندازه

سوال د فرض قرائت نر ټولو کمه درجه چه په هغې سره لمونځ صحیح کېږي څومره ده[۱] بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب ځینو د اتلسو حروفو قول را نقل کړی دی. لیکن احتیاط په دې کښې دی چه دیرش حروفه وي

قال العلائی و فرض القراءة اٰية على المذهب هي لغة العلامة و عرفا طائفة من القراٰن مترجمة اقلّها ستة احرف ولو تقديراً كَلَمْ يَلِدْ الا اذا كانت كلمة فالاصح عدم الصحة وان كرّرها مراراً (الى قوله) قرأ اٰية طويلة في الركعتين فالاصح الصحة اتفاقاً لانه يزيد على ثلاث اٰيات قصار. قال في الشامية (قوله فالاصح عدم الصحة) كذا في المنية و هو شامل لمثل مُدْهَآمَّتَانِ و مثل صٓ و قٓ و نٓ لكن ذكر في الحلية و البحر ان الذي مشى عليه الاسبيجابي في الجامع الصغير و شرح الطحاوي و صاحب البدائع الجواز في مُدْهَآمَّتَانِ عنده من غير حكاية خلاف. (قوله لانه يزيد على ثلاث اٰيات) تعليل للمذهبين لان نصف الاٰية الطويلة اذا كان يزيد على ثلاث اٰيات قصار يصح على قولهما فعلى قول ابي حنيفة المكتفي بالاٰية اولى ح قال في البحر و علم من تعليلهم ان كون المقروء في كلّ ركعة النصف ليس بشرط بل ان يكون البعض يبلغ ما يعد بقراءته قارئاً عرفاً. و ايضا فيها لكن التعليل الاخير ربما يفيد اعتبار العدد في الكلمات او الحروف (الى قوله) كقوله تعالى: ثُمَّ نَظَرَ ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ثُمَّ اَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ وقدرها من حيث الكلمات عشر [۱] ومن حيث الحروف ثلاثون. (ردالمحتار ج۱ ص۵۰۲)

وفي واجبات الصّلوٰة من الشرح و ضم اقصر سورة كالكوثر او ما قام مقامها و هو ثلاث اٰيات قصار نحو ثُمَّ نَظَرَ ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ثُمَّ اَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ و كذا لو كانت الاٰية او الاٰيتان تعدل ثلاثاً قِصاراً. و في الشامية اي مثل ثُمَّ نَظَرَ الخ و هي ثلاثون حرفاً فلو قرأ اٰية طويلة قدر ثلاثين حرفاً كون قد اتى بقدر ثلاث اٰيات لكن سيأتي في فصل يجهر الامام ان فرض القراءة اٰية و ان الاٰية عرفاً طائفة من القراٰن مترجمة اقلّها ستة احرف ولو تقديراً كَلَمْ يَلِدْ الا اذا كانت كلمة فالاصح عدم الصحة ومقتضاه انه لو قرأ اٰية طويلة قدر ثمانية عشر حرفاً يكون قد اتى بقدر ثلاث اٰيات متوالية على النظم القراٰني مثل ثُمَّ نَظَرَ الخ و لا يوجد ثلاث متوالية اقصر منها الخ (رد المحتار ج۱ ص۴۰۰)

---

۱ ـ لس کلمات ضروري نه دي بلکې دېرش حروف کافي دي کما في الشامية في بيان كراهة تطويل الركعة الثانية على الاولى فالمعتبر عدد الحروف لا الكلمات ...

وقال الرافعی المتبادر من قوله ثلاثاً قصاراً الاکتفاء بقدر الثلاث من الأیة او الأیتین وان لم تکن الثلاث علی ترتیب النظم القرانی واشتراط ذلک لا تدل علیه عبارة الحلبی اذ قوله تعدل ثلاث ایات قصار شامل اما لما کانت علی الوجه المشروع بان تکون متوالیة اولا والبانه لابدله من دلیل فمع عدمه وجوده یعمل باطلاق عبارة الحلبی من الاکتفاء بالأیة التی بلغت ثمانیة عشر حرفاً لاقامة واجب القراءة (التحریر المختار ج۱ ص۷۵) فقط والله تعالیٰ اعلم ۲۵ شعبان ۱۳۷٤ هجری

د فرض په دوو آخري رکعتونو کښې سورة فاتحه واجبه نه ده

سوال د فرض لمانځه په آخري دوو رکعتونو کښې که چیرته سورت فاتحه و نه ویل شي نو لمونځ کیږي و که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب لمونځ کیږي د فرضو په آخري دوه رکعتونو کښې د سورة فاتحه لوستل مستحب دي. ضروري نه دی. یواځې د یوې تسبیح اندازه دریدل کافي دي

قال فی شرح التنویر وهو مخیّر بین قراءة الفاتحة وصحح العینی وجوبها وتسبیح ثلاثاً وسکوت قدرها وفی النهایة قدر تسبیحة فلا یکون مسیئاً بالسکوت علی المذهب لثبوت التخییر عن علی وابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنهما وهو الصارف للمواظبة عن الوجوب وفی الشامیة تحت قوله (وصحح العینی وجوبها) لکن الاصح عدمه (قوله وفی النهایة قدر تسبیحة) وهو الیق بالاصول حلیة ای لان رکن القیام یحصل بها لما مرّ ان الرکنیة تتعلق بالادنی (ردالمحتار ج۱ ص۴۷۷) فقط والله تعالیٰ اعلم ۱٤ ربیع الاوّل ۱۳۷٦ هجری

مسنون قرائت

سوال خالد وائي چه کوم خلک په لمانځه کښې د طوال مفصل. قصار مفصل او اوساط مفصل نه پرته د سورتونو ځه حصې تلاوت کوی د هغوی لمونځونه د سنتو په خلاف وي. لکه څرنګه چه د سورتونو څه حصې تلاوت کول له نبي کریم ﷺ نه ثابت نه دي. له دي امله د دوی لمونځونه د سنتو په خلاف دي زید وائي چه له رسول الله ﷺ نه د اجزاء السور تلاوت کول ثابت دی د مشکوة شریف په باب القرائت کښې راغلي دي او علامه قاضي خان هم له اجزاء السور نه تلاوت له نبي کریم ﷺ نه ثابت کړي د. کوم کار چه له نبي کریم ﷺ نه ثابت وي هغه ته خلاف سنت ویل نابوهی ب عند دی نن صبا علماء او نور خلک په عامه توګه لېدل کېږی چه د طوالو. اوسطو او قصارو پابندي نه کوی آیا دا ټول حضرات لمونځونه د سنتو په خلاف ادا کوی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب قال فی شرح التنویر ویسن (فی الحضر) لامام ومنفرد ذکره الحلبی والناس

عنه غافلون. (طوال المفصل) من الحجرات الى آخر البروج (فى الفجر والظهر) منها الى آخر لم يكن (اوساطه فى العصر والعشاء) باقيه (قصاره فى المغرب) اى فى كل ركعة سورة مما ذكر. ذكره الحلبى. وقال ابن عابدين رحمه الله: اى من الطوال والاوساط والقصار ومقتضاه انه لا نظر الى مقدار معين من حيث عدد الأيات مع انه ذكر فى النهر ان القراءة من المفصّل سنة والمقدار المعيّن سنة اخرى ثم قال وفى الجامع الصغير يقرأ فى الفجر فى الركعتين سورة الفاتحة وقدر اربعين او خمسين والقصر فى الاصل على الاربعين وفى المجرد ما بين الستين الى المائة والكل ثابت من فعله عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام ويقرأ فى العصر والعشاء خمسة عشر فى الركعتين فى ظاهر الرواية كذا فى شرح الجامع لقاضى خان وجزم به فى الخلاصة وفى المحيط وغيره يقرأ عشرين وفى المغرب خمس أيات فى كل ركعة آه. اقول كون المقروء من سور المفصّل على الوجه الذى ذكره المصنف هو المذكور فى المتون كالقدورى والكنز والمجمع والوقاية والنقاية وغيرها وحصر المقروء بعدد على ما ذكره فى النهر والبحر مما علمته مخالف لما فى المتون من بعض الوجوه كما نبّه عليه فى الحلية فانه لو قرأ فى الفجر او الظهر سورتين من طوال المفصّل تزيدان على مائة أية كالرحمٰن والواقعة او قرأ فى العصر او العشاء سورتين من اوساط المفصّل تزيدان على عشرين او ثلاثين أية كالغاشية والفجر يكون ذٰلك موافقاً للسّنّة على ما فى المتون لا على الرواية الثانية ولا تحصل الموافقة بين الروايتين الا اذا كانت السورتان موافقة للعدد المذكور ويلزم على ما مرّ عن الحلبى من ان المقدار المعيّن سنة اخرى ان تكون قراءة السورتين الزائدتين على ذٰلك المقدار خارجة عن السنة الا ان يقتصر من كل سورة منهما على ذٰلك المقدار مع انهم صرحوا بان الافضل فى كل ركعة الفاتحة وسورة تامة فالذى ينبغى المصير اليه انهما روايتان متخالفتان اختار اصحاب المتون احداهما ويؤيده انه فى متن الملتقى ذكر اوّلاً ان السنة فى الفجر حضرا اربعون أية او ستون ثم قال واستحسنوا طوال المفصل فيها وفى الظهر الخ فذكر ان الثانى استحسان فيترجح على الرواية الاولى لتأيده بالاثر الوارد عن عمر رضي الله عنه انه كتب الى ابى موسى الاشعرى رضي الله عنه ان اقرأ فى الفجر والظهر بطوال المفصل وفى العصر والعشاء باوساط المفصل وفى المغرب بقصار المفصل قال فى الكافى وهو كالمروى عن النبى صلى الله عليه وسلم لان المقادير لا تعرف الا سماعاً آه. (رد المحتار ج۱، ص۵۰۰)

له مذکوره بحث څخه معلومه شوه چه د قرائت د سنت په اړه دوه روایتونه راغلي دي یو په کښې ئې د آیتونو ټاکلی شوی تعداد مسنون ګڼلی دی او په بل کښې ئې مفصل سورتونه په ... کښې ئې د تطبیق صورت د بیان کړی دی چه له مفصلو سورتونو څخه د آیتونو ټاکلی تعداد مسنون دی. علامه شامي په دې باندې نیوکه ښکاره کړې ده او دې خبرې ته ئې ترجیح ورکړې ...

چه د دواړه مستقل روایونه دي او د مفصلو سورتونو روایت د عامو متونو روایت دی او همدغه راجح دی

په دې کښې دا تفصیل دی چه روزه سورت تلاوت کول بهتر دی او که څوک وغواړي چه د سورت کومه برخه تلاوت کړي نو د سورت له آخر څخه دې واخلي د سورت د آخري برخې پريښودل مکروه تنزيهي دی غرض دا چه مفصل سورت ويل سنت دی. د دې په خلاف چه کوم عادت جوړ شوی دی هغه صحيح نه دی په ختنه او منځ کښې د مفصل سورت قرائت مستحب والی راعلی دی. لیکن علامه حلبي رحمه الله فرمائی چه دلته له مستحب څخه مراد سنت دی او که فرضاً ستحباب هم وی نو ترک نی مکروه تنزيهي بللی دی د مستحب استحبابو پريښودل او د تنزيهي کراهت په ځانګړې توګه په دې باندي دوام او اصرار کول د اصلاح وړ خبره ده د مفصلو سورتونو څخه بهر چه چېرته چه کوم څای کښې د کوم سورت ثبوت پيدا کيږي هغه احياناً د حال په مقتضا بندي مبني دی

قال ابن عابدين رحمه الله (قوله واختار في البحر عدم التقدير الخ) والظاهر ان المراد عدم التقدير بمقدار معين لكل احد وفي كل وقت كما يفيده تمام العبارة بل تارة يقتصر على ما ورد كاقصر سورة من طوال المفصل في الفجر او اقصر سورة من قصاره عند ضيق وقت او نحوه من الاعذار لانه عليه الصلاة والسلام قرأ في الفجر با لمعوذتين لما سمع بكاء صبي خشية ان يشق على امه وتارة يقرأ اكثر ما ورد اذا لم يمل القوم فليس المراد الغاء الوارد ولو بلا عذر ولذا قال في البحر عن البدائع والجملة فيه انه ينبغي للامام ان يقرأ مقدار ما يخف على القوم ولا يثقل عليهم بعد ان يكون على التمام وكذا في الخلاصة اه. (ردالمحتار ج۱ ص۵۰۵)

فقط والله تعالى اعلم ۸ محرم ۱۳۸٤ هجری

د فرض په لومړيو دوه رکعتونو کښې که چېرته سورت و نه ويل شي نو په اخري دوه رکعتونو کښې ئې ويل مستحب دي

سوال څه فرمائي مفتيان کرام د دې مسئلې په باره کښې چه که چېرته د فرض په دوه رکعتونو کښې له سورة فاتحه سره يل سورت يو ځای نه شي نو په اخرنو دوه کښې ئې د نو سلو ...څه ده؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب که چېرته په لومړيو دوه رکعتونو او يا په يوه رکعت کښې له فاتحې سره سورت و نه ويل شي نو په دواړو اخرنو او يا په يوه رکعت کښې د سورت يو ځای کول مستحب دي

قال في الدر ولو ترك سورة ولي العشاء مثلاً ولو عمداً قرأها وجوباً وقيل ندباً مع الفاتحة جهراً في الاخريين و

فی الشامیة (قوله و لو عمداً) هذا ظاهر اطلاق المتون و به صرح فی النهر و لم ...... الی احد و کأنه اخذه من الاطلاق و الا فصنیع الفتاوٰی والشروح یقتضی ان وضع المسألة فی النسیان تأمل افاده الخیر الرملی. و قال تحت (قوله وجوباً وقیل ندباً) والحاصل ان اختیار صاحب الفتح والبحر والنهر الندب لانه صریح کلام محمد. (رد المحتار ج۱ص۵۰۰) فقط والله تعالی اعلم ۱۸ ربیع الاول ۱۳۸۶ هجری

د سورۀ فاتحه او بل سورت تر منځ د بسم الله ویل بهتر دي

سوال د سورت په شروع کښې د بسم الله ویل مستحب دي او که نه؟ په بهشتي زیور کښې ني د بسم الله ویلو ته ترجیح ورکړی دی او په مستخلص کښې ني نه ویلو ته ترجیح ورکړی دی عبارت دا دی

واما عند رأس کل سورة فلا یأتی به فی الصلوٰة عند ابی حنیفة و ابی یوسف رحمهما الله تعالٰی و قال محمد رحمه الله تعالٰی یأتی بها احتیاطاً و الصحیح قولهما. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب په سنت والي کښې ئې اختلاف دی او نه سنت والی ئې راجح دی لیکن په بهتري کښې ئې هیڅ اختلاف نشته لهذا د بهشتي زیور مسئله صحیح ده

قال فی شرح التنویر لا تسن بین الفاتحة و السورة مطلقاً و لو سریة و لا تکره اتفاقاً و فی الشامیة (قوله لا تسن) مقتضی کلام المتن ان یقال لا یسمی لکنه عدل عنه لایهامه الکراهة بخلاف نفی السنیة ثم ان هذا قولهما و صححه فی البدائع و قال محمد تسن ان خافت لا ان جهر بحر و نسب ابن الضیاء فی شرح الغزنویة الاول الی ابی یوسف فقط فقال و هذا قول ابی یوسف و ذکر فی المصفی ان الفتوٰی علی قول ابی یوسف انه یسمی فی اول کل رکعة و یخفیها و ذکر فی المحیط المختار قول محمد و هو ان یسمی قبل الفاتحة و قبل کل سورة و فی کل رکعة و فی روایة الحسن ابن زیاد انه یسمی فی الرکعة الاولٰی لا غیره و انما اختیر قول ابی یوسف لان لفظة الفتوٰی اٰکد و ابلغ من لفظة المختار و لان قول ابی یوسف وسط و خیر الامور اوسطها کذا فی شرح عمدة المصلی آه. ما فی شرح الغزنویة وقع فی النهر هنا خطأً و خلل فی النقل ایضاً عن شرح الغزنویة فاجتنبه فافهم (قوله و لا تکره اتفاقاً) و لهذا صرح فی الذخیرة و المجتبٰی بانه ان سمی بین الفاتحة و السورة المقروءة سراً او جهراً کان حسناً عند ابی حنیفة رحمه الله و رجحه المحقق ابن الهمام و تلمیذه الحلبی لشبهة الاختلاف فی کونها اٰیة من کل سورة. بحر (رد المحتار ج۱ص۴۵۶) فقط والله تعالی اعلم ۸ ربیع الاول ۱۳۸۷ هجری

په قرائت کښې د غږ د لوړ والي اندازه

سوال په بهشتي زيور کښې دي چه که په لمانځه کښې الحمد لله او سورت په دومره پټ آواز سره ووېل شي چه خپل آواز حوک وا نه وري نو لمونځ ئې نه کيږي نو آيا دومره په زوره لمونځ کول چه خپل غږ واوريدل شي فرض دی او که واجب که چيرته ئې په غلطی سره پټ يا سوکه ووائي نو آيا په سجدهٔ سهو سره لمونځ صحيح کيږی؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دا يو قول دی. دويم قول دا دی چه که چيرته له خولی نه خخه حروف صحيح را ووځي نو لمونځ کيږي اگر که ئې پخپله وا نه وريدلی شي. په لومړي قول باندې له عمل کولو حخه اکثره وهم پيدا کيږی او اکثره خلک د همدی وهم له وجې په زوره زوره لمونځ کوی حه له وجې ئې د نورو خلکو په لمونځونو کښې خلل پيدا کيږي د دې لپاره زما په خيال په دويم قول باندی بايد عمل وشي

فقط والله تعالیٰ اعلم ۲۵ ذی قعده ۱۳۹۸ هجری

په دواړو رکعتونو کښې يو سورت ويل

سوال که چيرته په اول او دويم رکعت دواړو کښې سورت اخلاص ووېل شي نو لمونځ مکروه کيږي او که نه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په فرائضو کښې په قصد سره داسې کول مکروه تنزيهي دي او په نوافلو کښې کوم کراهت نشته

قال فی العلائية لا بأس ان يقرأ سورة ويعيدها فی الثانية وفی الشامية افاد انه يكره تنزيها.(ردالمحتار ج۱، ص۵۱۰) وفی العلائية ولا يكره فی النفل شیء من ذلك.(ردالمحتار ج۱، ص۵۱۱) فقط والله تعالیٰ اعلم

۲۷ شعبان ۱۳۸۸ هجری

په يوه رکعت کښې دوه سورتونه ويل

سوال د فرض لمانځه په لومړی يا دويم رکعت کښې د دوه سورتونو ويل جائز دی او که نه؟ که چيرته قصداً يا سهواً ووېل شي نو سجدهٔ سهو واجبيږی او که نه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د فرض لمانځه په يوه رکعت کښې دوه سورتونه يو ځای کول او ويل د اولٰی خلاف دی او د دوه سورتونو په منځ کښې يو يا زيات سورتونه پريښودل مکروه دی لېکن په نوافلو کښې کوم کراهت نشته

که چيرته دوه سورتونه په قصد سره ووائي يا په سهو سره سجدهٔ سهو نه په واجبيږی قال ابن عابدين رحمه الله تحت (قوله و يكره الفصل بسورة قصيرة) و هذا لو فی ركعتين اما فی ركعة فيكره الجمع بين

سورتين بينهما سُوَرٌ او سورة (فتح) وفي التاتارخانية اذا جمع بين سورتين في ركعة رأيت في موضع انه لا بأس به و ذكر شيخ الاسلام لا ينبغي له ان يفعل على ما هو ظاهر الرواية آه. و في شرح المنية الاولى ان لا يفعل في الفرض ولو فعل لا يكره الا ان يترك بينهما سورة او اكثر. (ردالمحتار ج۱، ص۵۱۰)

فقط والله تعالى اعلم ۳ شعبان ۹۲ ـــــــ هجری

يو سورت په دوه رکعتونو کښې د ويلو حکم

سوال که چیرته په یوه رکعت کښې نیم سورت وویل شي او په دویم رکعت کښې پاتې نیمائي وویل شي نو په دی کښې کوم کراهت شته او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب له کراهت پرته جائز دی البته په منځ کښې د یوه آیت پرېښودل مکروه دي د دوه یا زیاتو آیتونو په پرېښودلو کښې کراهت نشته لیکن د اولی خلاف دی

قال في شرح التنوير لا بأس ان يقرأ سورة ويعيدها في الثانية وان يقرأ في الاولى من محل وفي الثانية من من اخر ولو من سورة ان كان بينهما آيتان فاكثر. وقال ابن عابدين رحمه الله قال في النهر وينبغي ان يقرأ في الركعتين آخر سورة واحدة لا آخر سورتين آه (قوله ولو من سورة الخ) واصل بما قبله اي لو قرأ من محلين بان انتقل من آية الى اخرى من سورة واحدة لا يكره اذا كان بينهما آيتان فاكثر لكن الاولى ان لا يفعل بلا ضرورة لانه يوهم الاعراض والترجيح بلا مرجح. شرح المنية وانما فرض المسألة في الركعتين. (ردالمحتار ج۱، ص۵۱۰)

فقط والله تعالى اعلم ۱۷ صفر ۹۹ ـــــــ هجری

د فاتحه خلف الامام، په زوره آمین ویل او د لاسونو په پورته کولو کښې د مذهب د امامانو تفصیل

سوال امام شافعي. امام احمد او امام مالک یعني دری گوني امامان رحمهم الله تعالی د امام شا ته د سورت فاتحه دويلو قائل وو او که نه. رفع يدين او آمين ئې په زوره وايه او که نه او د کوم امام په نزد دا جائز دي؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د امام اعظم. امام مالک او امام احمد رحمهم الله په نزد په جهري لمانځه کښې قرائت خلف الامام جائز نه دی. البته په سري يې لمانځه کښې د امام مالک و امام احمد په نزد مستحب دی دا ائمه اربعه وو کښې يواځې امام شافعي رحمه الله د دی قائل دی چه په سري لمانځه کښې قرائت خلف الامام واجب دی په جهري لمانځه کښې هغه هم نه قرائت خلف الامام کوله شوافع وائي چه "امام شافعي رحمه الله په آخر عمر کښې په جهري لمانځه کښې هم د قرائت خلف الامام په وجوب [illegible] قائل شوی [illegible] کوم [illegible] دی [illegible]

خه دي ده په کتاب الام کښي له دې څخه منع فرمايلي ده. دا کتاب څخنو په قديمي کتابونو کښي شمار کړی دی لیکن صحیح دا ده چه کتاب الام د ده له نوي کتابونو څخه دی **كما صرح به السيوطي في حسن المحاضرة ج۱ ص۱۲۲، والحافظ ابن كثير في البداية والنهاية ج۱ ص۲۵۲** دوهم که چیرته د منع کولو ون مخکښني يا قديم هم فرض کړی شي نو له دې څخه ئې رجوع د ايجاب په صورت کښي کړې دی او که د استحباب يا جواز په صورت کښې؟ درې واړه قولونه دي غرض دا چه له امام شافعي رحمه الله څخه په جهري لمانځه کښې د فاتحه خلف الامام د وجوب کوم یقیني ثبوت نه پیدا کړی همدارنګه ده له امام سره د قرائت کولو اجازه نه ده ورکړې بلکه د امام په سکته ګانو کښې د قرائت دليل دی **(مغني لابن قدامة ج۱ ص۶۰۹/ تحفة الاحوذي ج۱ ص۲۵۷/ فيض الباري ج۲ ص۲۷۱/ تفسير ابن كثير ج۲ ص۲۸۰/ كتاب القراءة للبيهقي ص۶۱/ مختصر المزني ج۱ ص۶۶/ تنوع العبادات لابن تيمية ص۸۶/ فصل الخطاب للشيخ انور شاه).**

د آمين ويل د امام اعظم او امام مالک رحمهما الله تعالى په نزد پټ ويل ئې افضل دی او د امام شافعي او احمد رحمهما الله په نزد جهراً ويل ئې مندوب دی (فيض الباري ج۲ ص۲۹۱. فتح الملهم ج۲ ص۹).

همدارنګه د لاسونو پورته کول هم د امام شافعي او امام احمد رحمهما الله تعالى په نزد مستحب دي او د امام اعظم او امام مالک رحمهما الله په نزد ئې نه پورته کول مستحب دي

فقط والله تعالى اعلم ۲۹ ربيع الأخر ۹۳ هجری

له ضرورت څخه په زيات لوړ آواز سره قرائت جائز دی

سوال په لمانځه کښې جهري قرائت په ډېر لوړ آواز سره شرعاً صحيح دی او که نه او د دې ايت چه ﴿وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا﴾ څه مطلب دی؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب له ضرورت څخه په زيات لوړ آواز سره قرائت جائز دی البته په جهر کښې تکلف کول نه دي مثلاً په لوړ آواز سره جهر کول څه نه په لمانځه کښې د شوشش سبب وګرځي نو په دې صورت کښې ضرر وي نو جائز دی

في الشامية تحت (قوله فان زاد عليه اساء) وفي الزاهدي عن ابي جعفر لو زاد على الحاجة فهو افضل الا اذا جهد نفسه او اذى غيره قهستاني (رد المحتار ج۱ ص۴۰۰)

[illegible]

د قرائت ممانعت نه نابستري فقط والله تعالیٰ علم ۱۲رجب ۱۳۹۴هجری

په (فَادۡخُلِيۡ فِيۡ عِبَادِيۡ) کښې چې (فِيۡ) پاتې شي؟

سوال امام صاحب په لمانځه کښې د فَادۡخُلِيۡ فِيۡ عِبَادِيۡ په ځای فَادۡخُلِيۡ عِبَادِيۡ ووايه آيا په دې سره لمونځ فاسدېږي او که نه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په معنی کښې خو کوم فساد نه راځي د دې لپاره نې لمونځ کېږي فانه يجوز حذف اداة الظرف لما في ادخلوا الجنة. فقط والله تعالیٰ اعلم ۲۹شعبان ۱۳۹۴هجری

چا ته چه کوم سورت ياد نه وي هغه به لمونځ څرنګه ادا کوي؟

سوال که چيرته چا ته يو آيت هم ياد نه وي نو هغه به څه کوي؟ حضرت مولانا مفتي کفايت الله رحمه الله د دې جواب دا سې ليکلی دی چه سبحان الله والحمدلله دې د قرائت په ځای ووائي او په زر په زر په ده باندې د قرآن مجيد زده کول او ياد ول فرض دي د فرض قرائت په اندازه قرآنکريم يادول فرض او د واجب په اندازه واجب دی او په نه زده کولو سره به سخت ګنهګار وي د مفتي صاحب رحمه الله دا فتوی صحيح ده او که نه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د حضرت مفتي کفايت الله صاحب رحمه الله دا فتوی صحيح ده

قال في الهندية وفي المبسوط الوبري والاخرس والأمّي الذی لا يحسن شيئاً يصير شارعاً بالنية ولا يلزمه التحريك باللسان كذا في التبيين. (عالمگيرية ج۱،ص۶۹)

په نوي مسلمان باندې د دې ډول لمونځونو بيرته راګرځول واجب نه دی البته که چيرته کوم مسلمان په داسې غفلت کښې ډوب پاتې شوی وي او اوس ئې د توبې توفيق پيدا کړي وی نو په مذکوره طريقې سره به فوراً لمونځ شروع کوي لېکن په اندازه دې ضرورت د قرآنکريم تر يادولو وروسته به دا لمونځونه بيرته راګرځوی فقط والله تعالیٰ اعلم ۲۲ربيع الاول ۱۳۹۶هجری

منفرد چه د جهري لمونځونو قضاءې اړوي نو په قرائت کښې د جهر اختيار لري

سوال که چيرته څوک جهري لمونځ قضاء شوی وی اوس هغه سړی به ورځ کښې هغه قضايي لمونځ منفرد ... چې ... بيرته راګرځول غواړي نو قرائت ... ... که نه ... بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب منفرد ... لمونځ کولو کښې ... که چه ... جهري لمونځ

کښې د وخت په دننه کښې د جهر او اخفاء دواړو اختیار دی همدارنګه د جهري لمانځه په قضائي کښې هم د دې اختیار لري

قال فی الدر المختار و یخافت المنفرد حتماً ای وجوباً ان قضی الجهریة فی وقت المخافتة کان صلی العشاء بعد طلوع الشمس کذا ذکره المصنف بعد عد الواجبات قلت و هکذا ذکره ابن الملک فی شرح المنار من بحث القضاء علی الاصح کما فی الهدایة لکن تعقبه غیر واحد ورجحوا تخییره کمن سبق برکعة من الجمعة فقام یقضیها یخیر.(ردالمحتار ج۱،ص۴۹۸) فقط والله تعالیٰ اعلم غرۂ رجب ۱۳۹۷ هجری

چه کله د جهري لمانځه قضائي د ورځې په جماعت سره راګرځوي نو جهر واجب دی

سوال که څیرته د یوې ورځې جهري لمونځ قضاء شي. اوس ئې هغوی د ورځې په جماعت سره را ګرځوي نو امام به قرائت په زوره کوي و که نه به؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په نوموړې صورت کښې به امام باندې جهر واجب دی قال فی التنویر و یجهر الامام فی الفجر و اولی العشائین اداءً او قضاءً و جمعة و عیدین و تراویح و وتر بعدها.(ردالمحتار ج۱،ص۴۹۷) فقط والله تعالیٰ اعلم غرۂ رجب ۱۳۹۷ هجری

د سهار په سنتو او وترو کښې د ټاکلي سورتونو د ویلو حکم

سوال څه فرمائي د دین علماء کرام او د شرع متین مفتیان عظام د دې مسئلې په باره کښې چه په لمونځونو کښې ټاکل شوي سورتونو ویل لکه د سهار د سنتو په لومړي رکعت کښې سورة الکافرون او دوهم رکعت کښې سورة اخلاص او د وترو په لومړي رکعت کښې سورة التکاثر او په دوهم رکعت کښې سورة الکافرون او دریم رکعت کښې سورة اخلاص د ښل لپاره ویل څنګه دي؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د سهار په سنتو کښې د سورة الکافرون او اخلاص او په وترو کښې سورة اعلی، کافرون او اخلاص ویل له نبی کریم ﷺ څخه ثابت دي د وترو په اول رکعت کښې د سورة تکاثر د تخصیص هیڅ وجه نشته ده که څوک غیر ماثوره سورت د سهولت په غرض سره یا سورة د تبرک په نیت سره غوره کړي نو په دې کښې هیڅ کراهت نشته لیکن دا په لازمه توګه کښې نو ګڼل یې بلکه کول بهتر دی البته د وترو په امامت کښې په دغو سورتونو پابندي دوام مکروه دی ځکه چه له دې څخه ناخبره سړی به د وجوب شبهه ور لوېږي. د

دي لپاره د فرائضو په امامت کښې هم په کوم مخصوص سورت باندې همېشه والی مکروه دی

په عوامو کښې په غير معروف طريقې سره تلاوت جائز نه دی

سوال څه فرمائي د دين علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې په يوه کلي کښې ناپوهه خلک ډېر دی او د هغو په مخکښې چه قرآن پاک څنګه ليکلی دی عين په هغه ډول ويل ئې صحيح ګڼي او که څېرنه ئې له روايت سره مثلاً (قل هو الله احد، الله الصمد) ووائي نو په امام باندې دا مقتديان اعتراض کوي په دې صورت کښې امام صاحب بايد څه وکړي آيا الله الصمد دې لکه څرنګه چه مشهور دی هغسې دې وائي او که په غير معروف طريقې سره يعني ن الله الصمد ئې هم ويلی شي؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په عوامو کښې په غير معروف طريقې سره د قرآنکريم په ويلو کښې انتشار او بدګماني پيدا کيږي نو ځکه جائز نه دي

فقط والله تعالیٰ اعلم		١١ شوال ١٣٩٧ هجری

په سورۀ زلزال کښې د ((خيراً)) په ځای ((شرّاً)) په ويلو سره لمونځ کيږي

سوال په سورۀ زلزال کښې چا د خيراً په ځای شرّاً ووايه. وروسته ئې بيا خيراً ووايه نو آيا په دی سره سجدۀ سهو واجبيږي او که نه؟ لمونځ ئې مات شوی دی او که نه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په معنٰی کښې کوم فساد نه راځي د دې لپاره لمونځ کيږي. سجدۀ سهو نه ده واجبه		**فقط والله تعالیٰ اعلم**		٢٨ شوال ١٣٩٧ هجری

د جُمعې په ورځ د سهار په لمانځه کښې دسورۀ سجده ويلو حکم

سوال زېد وايي چه د جُمعې په ورځ د سهار په لمانځه کښې په لومړي رکعت کښې سورۀ سجده او په دويم رکعت کښې سورۀ دهر ويل مستحب دی عمرو وائي چه حنفي فقهاء کرامو دا مکروه ليکلی دی په دوی دواړو کښې د کوم يوه خبره صحيح ده؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د جُمعې په ورځ د سهار په لمانځه کښې په لومړي رکعت کښې د سورۀ سجده ويل او په دويم رکعت کښې د سورۀ دهر ويل فی نفسه مستحب دی ليکن په دی باندې همېشه والی مکروه دی. تر څو چه عوام ئې واجب و نه ګڼي تر هغې د جومات نو امامانو د مستحب په شکل ورک کړی دی. دا غفلت دی اصلاح ئې لازمه ده

قال فی الدر و یکرہ التعیین کالسجدۃ و هل اتی لفجر کل جمعۃ بل یندب قراءتهما احیاناً و قال ابن

عابدین رحمۃ اللہ علیہ وفی فتح القدیر لان مقتضی الدلیل عدم المداومة لا المداومة علی العدم کما یفعله حنفیة العصر فیستحب ان یقرأ ذلك احیاناً تبرکاً بالمأثور فان لزوم الایهام ینتفی بالترك احیاناً. (الی قوله) وقید الطحاوی و الاسبیجابی الکراهة بما اذا رای ذلك حتماً لا یجوز غیره اما لو قرأه للتیسیر علیه او تبرکاً بقراءته عَلَیْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام فلا کراهة لکن بشرط ان یقرأ غیرها احیاناً لئلا یظن الجاهل ان غیرها لا یجوز.

(ردالمحتار ج۱، ص۵۰۸) فقط واللہ تعالیٰ اعلم ۳ ربیع الاول ۱۳۹۸ھجری

آمین سوکه ویل بهتر دي

سوال د جماعت په لمانځه کښې آمین باند په لوړ آواز سره وویل شي او که په ټیټ آواز سره. په بو داؤد او ابن ماجه کښې د ابن کثیر په حوالي سره به لوړ آواز سره آمین ویل ثابت دي؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دواړه جائز دي لیکن سوکه ویل ئې بهتر دي بهتري ئې له قرآنکریم او د حضرت شعبه رضی اللہ عنہ له حدیث څخه ثابته ده کوم چه په ترمذي شریف کښې دی په قرآنکریم کښې ارشاد دی چه اُدْعُوْا رَبَّکُمْ تَضَرُّعًا وَّ خُفْیَةً له دي څخه د دُعاء اخفاء ثابتیږي او آمین هم دُعاء ده کما نقل الامام البخاري عن عطاء رحمهم الله تعالی. د شعبه رضی اللہ عنہ حدیث د قرآنکریم د آیت مطابق دی له دی وجي دا باید غوره شي او په نورو حدیثونو کښې د تطبیق په کولو سره هغو ته له قرآنکریم سره تطبیق ورکول کیږي فقط واللہ تعالیٰ اعلم ٤ ربیع الاول ۱۳۹۸ھجری

د سورۂ فاتحه په هر آیت باندې وقف افضل دی

سوال یو مولوي صاحب وائي چه په لمانځه کښې چه کله سورۂ فاتحه ویل کیږي نو په هر آیت باندی وقف کول مستحب او بهتر دی یو بل مولوي صاحب وائي چه له وقف پرته په برله پسې سوکه ویل ئې مستحب دي په دې دواړو کښې د کوم یوه قول صحیح دی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د سورۂ فاتحه په هر آیت باندې وقف کول بهتر دي

عن ابن جریج عن ابن ابی ملیکة عن اُم سلمة رضی اللہ عنہا قالت کان رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم یقطع قراءته یقول الحمد لله رب العلمین ثم یقف ثم یقول الرحمن الرحیم ثم یقف رواه الترمذی. (مشکوۃ ص۱۹۱/ شمائل ترمذی ص۵۱۲) و فی کنز العمال عن ابی عثمان النهدی عن عمر بن الخطاب رضی اللہ عنہ ان النبی صلی اللہ علیہ وسلم کان یقطع قراءته بسم الله الرحمن الرحیم الحمد لله رب العلمین الی اخرها السفی فی النخ حدیث الفراء و رجاله ثقات. (کنز العمال ج ص۱۰)

له لاندې حديث څخه هم د دې فضيلت ثابتېږي عن ابي هريرة رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال من صلى صلوة لم يقرأ فيها بام القرآن فهي خداج ثلاثا غير تمام فقيل لابي هريرة رضي الله عنه انا نكون وراء الامام فقال اقرأ بها في نفسك فاني سمعت رسول الله ﷺ يقول قال الله تعالى قسمت الصلوة بيني وبين عبدي نصفين ولعبدي ما سأل فاذا قال العبد الحمد لله رب العلمين قال الله تعالى حمدني عبدي واذا قال الرحمن الرحيم قال الله اثنى على عبدي فاذا قال مالك يوم الدين قال مجدني عبدي وقال مرة فوض الى عبدي فاذا قال اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ. قال هذا لعبدي ولعبدي ما سأل. (صحيح مسلم ج۱، ص۱۶۹)

فقط والله تعالى اعلم ۳ جمادى الاولى ۱۳۹۸ هجرى

د باران په وخت کښې له مسنونې اندازې څخه دې قرائت بايد کم شي

سوال که چيرته عين د جُمعې د جماعت په وخت کښې باران شروع شي او امام صاحب ته دا معلومه وي چه ګڼ شمېر لمونځ کوونکي د لمونځه په صحن کښې ولاړ دي او لمديږي نو آيا په داسې صورت کښې به دا سنتو ته نژدې نه وي چه امام صاحب به ډېرو کوچنيو سورتونو سره لمونځ ادا کړي؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب هو همداسې صحيح دی قال ابن عابدين رحمه الله فقد ظهر من كلامه (الكمال) انه لا ينقص عن المسنون الا لضرورة كقراءته ﷺ بالمعوذتين لبكاء الصبي. (رد المحتار ج۱، ص۵۲۸)

فقط والله تعالى اعلم ۱۶ جمادى الثاني ۱۳۹۱ هجرى

د سورۀ فاتحه څه برخه په پټه تر ويلو وروسته که چيرته د امامت نيت وکړي سورۀ فاتحه دې له سره نه شروع کوي

سوال منفرد په جهري لمونځه کښې په پټه سره لمونځ کوه د سورۀ فاتحه د قرائت په منځ کښې چا اقتداء ورپسې وکړه او هغه هم د امامت نيت وکړ نو اوس به سورۀ فاتحه به له سره شروع کوي او که له هم هغه ځايه دې به جهر سره ويل شروع کړي؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په دې کښې اختلاف دی ځينې د وجوب قائل دي او ځينې د نه وجوب قائل دي، دوېم قول راجح دی له دې [illegible] کوي که جهر به ئې له سره شروع کړي [illegible]

قال فی العلائیة ولو اتمہ به بعد الفاتحة او بعضها سرًا اعادها جهرًا بحر لکن فی اٰخر شرح المنیة اتمہ به بعد الفاتحة یجهر بالسورة ان قصد الامامة والا فلا یلزمه الجهر وقال ابن عابدین رحمه الله تعالی (قوله لکن الخ) استدراك علی قوله ولو اتمہ به وهذا قول اٰخر وقد حکی القولین القهستانی حیث قال ان الامام لو خافت ببعض الفاتحة او کلها او المنفرد ثم اقتدی به رجل اعادها جهرًا کما فی الخلاصة وقیل لم یعد وجهر فیما بقی من بعض الفاتحة او السورة کله او بعضها کما فی المنیة آه. وعزا فی القنیة القول الثانی الی القاضی عبد الجبار وفتاوٰی اوعدی ولعل وجهه ان فیه التحرز عن تکرار الفاتحة فی رکعة وتأخیر الواجب عن محله وهو موجب لسجود السهو فکان مکروها وهو اسهل من لزوم الجمع بین الجهر والاسرار فی رکعة علی ان کون ذٰلك الجمع شنیعا غیر مطرد لما ذکره فی اٰخر شرح المنیة ان الامام لو سها فخافت بالفاتحة فی الجهریة ثم تذکر یجهر بالسورة ولا یعید ولو خافت باٰیة او اکثر یتمها جهرًا ولا یعید وفی القهستانی ولا خلاف انه اذا جهر باکثر الفاتحة یتمها مخافتة کذا فی الزاهدی آه ای فی الصلوٰة السرّیة وکون القول الاوّل نقله فی الخلاصة عن الاصل کما فی البحر والاصل من کتب ظاهر الروایة لا یلزم منه کون الثانی لم یذکر فی کتاب اٰخر من کتب ظاهر الروایة فدعوٰی انه ضعیف روایة ودرایة غیر مسلّمة فافهم. (ردالمحتار ج۱،ص۴۹۷)

فقط والله تعالیٰ اعلم ۷ شعبان ۹۸ ۱۳ هجری

امام که چیرته د سورۂ فاتحه څه حصه په پټه ووائي نو بیرته دې نه را ګرځوي

سوال امام صاحب په جهري لمانځه کښې د سورۂ فاتحه څه آیتونه په پټه وویل، وروسته ورته یاد شو. یا چا فتح ورکړه نو له هم هغه ځایه دې په زوره شروع کړي او که دې سورۂ فاتحه له سره جهراً شروع کړي او که سورۂ فاتحه له سره جهراً شروع کړي نو آیا سجدۂ سهو سقطیږي؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په دې کښې هم د اختلاف او دلائلو هغه تفصیل دی کوم چه په جوړنې مسئلې کښې بیان شول او راجحه دا ده چه د سورۂ فاتحه له سره شروع کول مکروه دي که چیرته ئې سورۂ فاتحه له سره ووئیل نو د لمانځه اعاده بهتر ده **کمامر فی المسئلة السابقة** په اندازه د **ما تجوز به الصلوٰة** درې حرفونه ئې سرًا ووئیل نو سجدۂ سهوه واجبه ده کوم چه په اعاده سره سقطیږي ځکه چه د اعادې د نقصان جبر په دې

په لمانځه کښې د سورت له منځنۍ برخې څخه قرائت کول

سوال نن صبا په عامه توګه د جوماتونو امامان په لمونځونو کښې د پوره سورت په ځای د سورت له منځه کومه رکوع تلاوت کوي آیا دا صحیح ده او که کوم کراهت پکښې شته؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په مروّج رواج کښې لوی قباحت دا دی چه په لمونځونو کښې د سنت په مطابق مفصل سورتونه نه لوستل کیږي په داسې حال کښې چه دا سنت دي

د مفصلو سورتونو د یوې برخې په لوستلو کښې دا تفصیل دی چه د یوه سورت له آخر څخه په دواړو رکعتونو کښې قرائت کول مکروه نه دی له دې پرته نور صورتونه مثلاً د سورت له شروع یې د سورت له منځه تلاوت کول یا په یوه رکعت کښې د یوه سورت آخر او په بل سورت کښې د بل سورت آخر لوستل مکروه تنزیهي دی

قال فی شرح التنویر لا بأس ان یقرأ سورة ویعیدها فی الثانیة وان یقرأ فی الاولی من محل وفی الثانیة من اٰخر ولو من سورة ان کان بینهما اٰیتان فاکثر. وقال ابن عابدین رحمه الله علیه قال فی النهر وینبغی ان یقرأ فی الرکعتین اٰخر سورة واحدة لا اٰخر سورتین فانه مکروه عند الاکثر آه. لکن فی شرح المنیة عن الخانیة الصحیح انه لا یکره و ینبغی ان یراد بالکراهة المنفیة التحریمیة. فلا ینافی کلام الاکثر ولا قول الشارح لا بأس تأمل.

و یؤیده قول شرح المنیة عقب ما مرّ و کذا لو قرأ فی الاولی من وسط سورة او من سورة اولها ثم قرأ فی الثانیة من وسط سورة اخری او من اولها او سورة قصیرة الاصح انه لا یکره لکن الاولی ان لا یفعل من غیر ضرورة آه. (قوله ولو من سورة الخ) واصل عما قبله ای لو قرأ من محلین بان انتقل من آیة الی اخری من سورة واحدة لا یکره اذا کان بینهما اٰیتان فاکثر لکن الاولی ان لا یفعل بلا ضرورة لانه یوهم الاعراض والترجیح بلا مرجح شرح المنیة و انما فرض المسألة فی الرکعتین لانه لو انتقل فی الرکعة الواحدة من اٰیة یکره و ان کان بینهما اٰیات بلا ضرورة فان سها ثم تذکر یعود مراعاة لترتیب الاٰیات شرح المنیة. (ردالمحتار ج۱ص۵۱۰)

فقط والله تعالی اعلم ۲۳ رمضان ۱۳۹۸ هجری

د قرآنکریم د تجوید فرض مقدار

سوال [illegible] فرض دی او له تجوید [illegible] قرآنکریم لوستل حرام دی [illegible] صحیح ده [illegible]

الجواب باسم ملهم الصواب [illegible]

تاء او طاء کښې فرق زده کول فرض دي. د تجوید نور قواعد لکه اخفاء، اظهار، تفخیم، ترقیق او داسې نور زده کول مندوب دي.
فقط والله تعالیٰ اعلم ۱۹ ذی القعده ۱۳۹۸ هجری

د وقف لازم شرعي حیثیت

سوال څه فرمایي د دین علماء کرام د دې مسئلې په باره کښې چه که چیرته څوک په لمانځه کښې په وقف لازم باندې وقف و نه کړي لکه (فَلَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ إِنَّا نَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ - الآية) کښې په (قولهم) باندې وقف و نه کړي نو په دې سره په لمانځه کښې کومه خرابي راځي او که نه؟ او د وقف په ځای باندې د وقف په نه کولو سره کفر لازمیږي او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په قرآنکریم کښې چه چیرته وقف لازم لیکلی وي هلته د وقف لازم والی د تجوید د فنّ له لحاظه دی او شرعاً په کوم ځای باندې وقف لازم نه دی لهذا د وقف په نه کولو سره په نه په لمانځه کښې کوم فرق راځي او نه کفر پرې لازمیږي. البته د تجوید د رعایت له وجې په وقف لازم باندې وقف کول ضروري دي

فقط والله تعالیٰ اعلم ۶ رمضان المبارک ۱۳۸۷ هجری

د پورتني سوال غوندې یو بل سوال

سوال په قرآنکریم کښې د تلاوت کوونکو لپاره صحیح او مناسب محل وقوع باندې د دریدلو او ساه اخیستلو په غرض سره د اوقفو علماوو چه د وقف کوم تقسیم کړی دی لکه تام. مختار. کافي. جائز. حسن. مفهوم. قبیح. متروک او داسې نور او علامه سجاوندي صاحب خو د وقف په کولو سره د هغو لپاره د اوقافو رموز وضع کړي دي. ګوا که د هغه اصطلاحات د اوقف د نورو علماوو څخه مختلف دي لیکن مفهوم ئې تقریباً سره یو دی او دا رموز اوقاف په هر ملک کښې چاپیدونکي په ټولو نسخو کښې پیدا کیږي او له علامه سجاوندي څخه مخکښې هم د اوقافو امامانو د معنی د لحاظ په ساتلو سره د وقف تقسیم کړی دی او د وقف په ځایونه ئې په ټول قرآنکریم کښې تعین کړي دي او د هغو احکام ئې بیان کړی دی و په دې موضوع باندې ئې مستقل کتابونه لیکلي دي مثلاً **ایضا الوقف و الابتداء للانباری متوفی ۳۲۸ هجری، الاکتفاء فی معرفة الوقف و الابتداء لابی عمر الدانی متوفی ۴۴۴ هجری، الاهتداء فی بیان الوقف و الابتداء للعلامة ابن الجزری، منار الهدای فی بیان الوقف و الابتداء للاشمونی** دا کتاب په عمومه توګه لاس ته راوړل کیږي **المرشد للشیخ زکریا الانصاري** د کتاب د منار الهدی په شرح باندې دی. او نورو ډیرو حضراتو د خدمت کړی دی خو بې غوښتونکي څرګه. دا

چه د علماء وقف دا تقسیم او د هغو لپاره د رموزونو وضع کول او په د قرآنکریم په نسخو کښي نې د شاملولو شرعي حیثیت څه دی؟ او همدارنګه حکم نې څه دی؟

علامه زرکشي او علامه سیوطي د وقف اقسام. د هغو حکمونه او متعلقه نور بیانونو وروسته بخپلو کتابونو **البرهان فی علوم القرآن** ج۱ ص ۳۵۴ او **الاتقان فی علوم القرآن** ج۱ ص ۸۹ کښي لیکلي دي **وذهب ابو یوسف القاضی صاحب ابی حنیفة الی ان تقدیر الموقوف علیه من القرآن بالتام و الناقص والحسن والقبیح وتسمیته بذلك بدعة ومتعمد الوقف علی نحوه مبتدع قال: لان القرآن معجز وهو کا للفظة الواحدة فکله قرآن وبعضه قرآن وکله تام حسن وبعضه تام حسن، حکی ذلك ابو القاسم برهان النحوی عنه.** چه کله دا خبره مولوي حفیظ الدین صاحب او مولانا سید نزیر حسین صاحب او دامې نورو څو اهل حدیثو حضراتو وکړه چه د علامه سجاوندي مقرر شوي رموز اوقاف او په هغو باندی وقف کول بدعت دي او په آیاتو بانې وقف کول ضروري او واجب دي نو حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي رحمه الله د هغو په رد کښې رد الطغیان في اوقاف القرآن په نامه کتاب ولیکه او دا ئې یکښې ثابته کړه چه په دغو ځایونو باندې وقف کول د سنتو خلاف نه دی. قاضي ابو یوسف له عبارت سره چه کوم تکر پیدا کیږي هغه حل کړی او مفصل. مدلل له حوالې سره ځواب ځخه مو کتمن کړی او د شکریې د ادا کولو موقع راکړی

الجواب حامداً و مصلیاً د قرآنکریم اوقاف له صحیحو روایتونو او د امت له اجماع څخه ثابت دي او بدعت ویل ورته صحیح نه دي البته په دغو اوقافو باندي دریدل د هیڅ په نزد واجب نه دي لهذا واجب ګڼل ئې او په هغو بندې پابندي نه کوونکي ګنهګار بلل خامخا بدعت دی. د دې یوړ تفصیل د حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي نوّر الله رساله رد الطغیان في اوقاف القرآن کښې دي چه هغه د روایاتو او اجماع له مخې د قرآن په اوقافو باندي دریدل ثابت کړي دي او کوم چه تا د امام ابو یوسف قول را نقل کړی دی. د هغه په اړه عرض دا دی چه کوم وخت د قرآنکریم په تلاوت کښې د سهیل آسانتیا او تعلیم زده کړې یه غرض سره مختلف اقدامات وشول نو ځنو حضراتو به قرآنکریم کښې د تحریف له مخې د هغو مخالفت وکړل مثلاً حه کله یه قرآنکریم باندې نقطې ولګول شوې ـ حرکت بکاره شول یا د نبې په توګه تر هرو ننځو آیتونو وروسته د خمس ـ ح او تر هرو لسو آیتونو وروسته د عشر یا ع ولګول شول نو علماء متقدمینو یه دې کښې خلاف وکړ. ځنو حضراتو جائز ورته ویل او ځنو مکروه ورته ویل. د صحابه و تابعینو نه دواړه قولونه کښې هم دی. د دې خلاف وړ ښکلې یه دغو دواړو قولونو کښې مفتی به او غوره شوی قول هغه بلل شوی دی کوم چه نن هغه له د خلق عمل له مخې غوره کړی دی او د تعامل

په خلاف چه د سلفو کوم قولونه مخې ته راځي هغه اوس د شاذ کېدلو پر بناء مفتٰی به پاتې نه شوي تر کومه ځایه چه د امام ابو یوسف د مذکور قول تعلق لري په هغه کښې دوه احتماله دي. یو دا چه د هغه مقصد به اوقافو لره له پلوه بدعت ویل نه وي بلکه د دغو اوقافو مطابق که چېرته څوک وقف لازم وبولي نو هغه به ئې بدعت بللی وي په دې صورت کښې د هغه په قول کښې کوم شکال نه پاتې کیږي ځکه چه د امت مفتٰی به مسلک همدغه دی. دویم احتمال دا دی چه هغه به اوقافو ته مطلقاً بدعت ویلی وي په دې صورت کښې چونکه د امت تعامل د دې په خلاف ګرځیدلی دی نو ځکه دا قول په شاذ قولونو کښې شاملیږي کوم چه متروک شوی دی لهذا د اُمت د تعامل په خلاف په هغه باندې استدلال به صحیح نه وي و الله اعلم با لصواب

احقر عبد الشکور
دار الافتاء دار العلوم کراچي نمبر ۱۴

الجواب صحیح
محمد تقي عثماني ۱۹ذیقعده ۱۴۰۰ هجری

الجواب صحیح
رشید احمد . یوم الترویة ۱۴۰۰ هجری

د سنتو او نفلو په ټولو رکعتونو کښې د سورت یو ځای کول (ډک ادا کول) واجب دي

سوال په سنتو او نوافلو کښې په دریم او څلورم رکعت کښې له سورهٔ فاتحه سره بل سورت یو ځای کول (ډک ادا کول) ضروري دي او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب هو، واجب دي **فقط والله تعالیٰ اعلم** ۷رمضان المبارک ۱۴۰۰ هجری

بسم الله الرحمن الرحيم

لولا الاستطالة لكان الضاد عين الظاء

الارشاد الى مخرج الضاد

د ضاد د لفظ تحقيق

سوال د ضاد لفظ د دواد په ادا كولو سره لمونځ كيږي او كه نه؟ او آيا دا لفظ له ظاء سره متابهت لري او كه له دال يا ډال سره؟ بينوا با لدليل اجركم الله الجليل

الجواب باسم ملهم الصواب د ضاد په ځای د ډال په ادا كولو سره لمونځ نه كيږي ځكه چه ډال د عربي ژبې توری نه دی ضاد با لكل له دال يا ډال سره مشابهت نه لري ځكه چه ضاد د رخوه له حروفو څخه دی چه د صوت (آواز) جريان پكښې لازم دی او دال د شديده حروفو له جملې څخه دی چه په هغه كښې د صوت جريان امكان نه لري په بولې نرۍ كښې هيڅوک هم ضاد له دال سره د مشابهت په وركولو سره په هغه كښې جريانِ صوت نه شي كولی د تجويد د علم د اصولو مطابق همدا يو دليل كافي دی چه خواب ئې ت قيامته ممكن نه دی د دې اصولي نه وروسته د بل كوم دليل ضرورت نشته كه چه په چا كښې طاقت وي نو په دال كښې دې د صوت جريان وښئي **ودونه خرط القتاد**. له دې سره سره خو داسې دلائل وړاندې كيږي چه له هغه څخه دا څرګنديږي چه د ضاد حرف له ظاء سره مشابهت لري

۱- د علم تجويد په ټولو كتابونو كښې دی چه **لولا الاستطالة لكان الضاد عين الظاء.**

۲- فقهاء رحمهم الله ليكي چه په ضاد او ظاء كښې دومره زيات مشابهت دی چه فرق پكښې كول مشكل دی **قال في الخانية وان ذكر حرفاً مكان حرف وغير المعنى فان امكن الفصل بين الحرفين من غير مشقة كالطاء مع الصاد فقرأ الطالحات مكان الصالحات تفسد صلاته عند الكل وان كان لا يمكن الفصل بين الحرفين الا بمشقة كالظاء مع الضاد والصاد مع السين والطاء مع التاء اختلف المشائخ فيه قال اكثرهم لا تفسد صلوته.** (خانية على هامش الهندية ج۱ ص۱۳۱)

وفي شرح التنوير الا ما يشق تمييزه كالضاد والظاء فاكثرهم لم يفسدوها. (رد المحتار ج۱ ص۵۹۲)

۳ صاحب اتقان او نور مفسرین لیکي چه ﴿وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ اِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ﴾ کښې د تجنيس صنعت دی او دا په هغه صورت کښې ممکن کيدلی شي چه ضاد او ظاء متشابه الصوت وي

۴. په ضاد او ظاء کښې د فرق د مشکل والي له وجې علماوو ليکلي دي چه په هغو کښې د فرق د کولو کوشش بايد وشي په جزري کښې داسې الفاظ چه په هغو کښې ضاد او ظاء شته جمع کړي او د فرق د کولو تاکيد ئې کړی دی په مقاماتو کښې ئې هم داسې ډول الفاظ بو خای کړي دي امام غزالي په کيمائ سعادت کښې فرمايي چه (فرق درميان ضاد وظاء بجا آوردا گرنتوالد روا باشد)

او په احياء العلوم کښې دي چه ويجتهد فی الفرق بين الضاد والظاء.

۵ په قرآنکريم کښې د قرائت د اختلاف له وجی که چيرته د يوه حرف په خای بل حرف وويل شي نو په عمومي توګه دا دواړه حرفونه متشابه الصوت وي مثلاً ﴿اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ﴾ کښې د صاد په خای د سين قرائت هم شته همدارنګه وَ ﴿مَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِيْنٍ﴾ کښې د ظاء قرائت هم شته حه له دي حخه حرګنديږي چه ضاد او ظاء متشابه الصوت دي

۶. د عربو په کلام کښې داسې الفاظ ډير ليدل کيږي چه په هغو کښې د ضاد په خای د ظاء په ويلو سره معنی نه بدليږي قال العلامة الألوسی رحمه الله وقد جمع بعضهم الالفاظ التی لا يختلف معناها ضاداً وظاءً فی رسالة صغيرة ولقد احسن بذلك فليراجع فانه مهم. (روح المعانی ج۳۰ ص۶۱)

۷ متقدمينو په نزد د ضاد او ظاء رسم الخط هم تقريباً سره يو غوندي وو كما نقل الألوسی رحمه الله تعالى عن ابی عبيدة ان الظاء والضاد فی الخط القديم لا يختلفان الا بزيادة رأس احدهما على الاخرى زيادة يسيرة قد تشتبه. (روح المعانی ج۳۰ ص۶۱)

۸ اردو. سندخي. فارسي. پنجابي. انګريزي لنډه دا چه د دُنيا په هري ژبې کښې ضاد د ظاء مشابه بلکه عين ظاء ادا کوي فقط والله تعالى اعلم وعلمه اتم واحکم ۲ صفر ۷۴ هجری

د پورتني سوال غوندي بل سوال

سوال د ضاد لفظ له ظاء سره مشابه دی او که له دال سره مولوی به يو شک کښې ښکلی دی چه ضاد له ظاء سره مشابهت نه لري مدلل ئې بيان کړی بينوا توجروا

الجواب و منه الصدق و الصواب ضاد له ظاء سره مشابهت لري. د صرفو. تجويد. تفسير. فقهي او نورو ووبو کتابونه به دی بندي مملو دي د خينو کتابونو نومونه به لاندی ذکر دي

۱ شافية ۲. رضي ۳ جاربردی ۴ فصول اکبری ۵. جزرية

۶۔شروح جزریه　۷۔منهاج　۸۔نشر　۹۔طیبة النشر　۱۰۔تمهید ۱۱۔رشحة فیض
۱۲۔شاطبیه　۱۳۔شرح قصیدۂ شامیه ۱۴۔جهد المقل　۱۵۔منهیۂ جهد ۱۶رعایه　۱۷تفسیر کبیر
۱۸اتقان　۱۹ کشاف　۲۰عزیزی ۲۱حسینی　۲۲بیضاوی　۲۳حاشیۂ بیضاوی
۲۴تفسیرالمنار　۲۵روح المعانی ۲۶برهان　۲۷تجنیس　۲۸خلاصة الفتاوٰی ۲۹خزانة
المفتین　۳۰خزانۂ اکمل ۳۱فتاوی نقشبندیه　۳۲حلیه　۳۳۔عتابیه　۳۴ - تاتارخانیه
۳۵خزانة الروایات ۳۶رسائل الارکان　۳۷مهذب　۳۸جامع الروایات　۳۹مفتاح الصلوٰة　۴۰محاسن
العمل ۴۱مختار الفتاوٰی　۴۲سمرقندی　۴۳مجموعۂ سلطانی ۴۴بغیة المرتاد　۴۵میزان ۴۶حروف الهجاء
۴۷وجیز کردری　۴۸رسالۂ نجم الدین　۴۹ذخیرة　۵۰منیه ۵۱ کبیری　۵۲بزازیه
۵۳خانیه　۵۴عالمگیریه　۵۵خیریه ۵۶فتح القدیر　۵۷در مختار　۵۸طحطاوی
۵۹ردالمحتار

څو ورځې کیږي چه د یوه مولوي صاحب　فتوٰی راورل شوې وه په هغې کښې چه څومره عبارتونه دي ټول زمونږ د مسلک تائید کوي

په لومړي مخ باندې د تفسیر سراج المنیر عبارت دی چه په ضاد او ظاء کښې د فرق کولو په خاطر محنت کول ضروري دي که چیرته په دغو دواړو حرفونو کښې تشبه نه وي نو د فرق کولو لپاره د محنت څه ضرورت دی؟

دهمدې عبارت په آخر کښې دي چه **فان اکثر العجم لا یفرقون بین الحرفین** او د تفسیر بیضاوي په حاشیه کښې دي چه ان اکثر الناس **خصوصاً العجم کانوا فی الزمان الاول لا یعلمون الفرق بینهما.**

(مجموعة الفتاوٰی ج۲،ص۳۲)

له دې څخه ثابته شوه چه اسلافو ضاد لره ظاء دا کاوه دا کومه خبره چه کیږي چه اسلافو به دال ادا کاوه دا غلطه ده

له دې وروسته ئې د جزریه عبارت وړاندې کړی دی په دې کښې هُم همدا خبره ده چه په ضاد او ظاء کښې فرق ضروري دی دا هم د تشابه مستلزم دی

په دویم مخ کښې ئې د شامیه عبارت دی چه ضاد ضعیفه قبیح ده البته زمونږ هم همدغه مسلک دی

له دې وروسته ئې د شرح فقه الاکبر او جامع الفصولين له عبارتونو څخه ئې ثابته کړې ده چه ضاد په ظاء سره اداکول جائز نه دي او په قصد سره ادا کول ئې کفر دی زمونږ هم همدګه مسلک دی چه له عذر پرته په ظاء سره ادا کول ئې جائز نه دي

په دريم مخ کښې ئې د رد المحتار عبارت دی **ان جرى على لسانه اولا يعرف التمييز لا تفسد وهو المختار وفي البزازية وهو اعدل الاقاويل وهو المختار** او د کتاب الاذکار للنووي عبارت دی **ولو قال ولا الظالين بالظاء بطلت صلوته على ارجح الوجهين الا ان يعجز عن الضاد بعد التعلم فيعذر.**

له دغو دواړو عبارتونو څخه څرګنده شوه چه د ضاد حقيقي مخرج باندې د قدرت د نه درلودلو له وجې د ضاد په ځای ظاء ويل جائز دي زمونږ هم همدغه مسلک دی

لنډه دا چه نوموړي ليکنه له اوله تر آخره زمونږ د مسلک مؤيد ده په دې کښې د ضاد په ځای د ذ ل د ادا کولو په باره کښې يوه جزئيه هم نشته د عذر په وخت کښې د ظاء ويلو په باره کښې عبارتونه دي ليکونکي دا عبارتونه د تشابه په ظاء سره په ترديد او تشابه په دال سره په تائيد کښې وړاندې کړي دي ليکن حقيقت برعکس دی

و کم من کائب قولاً صحيحاً   وآفته من الفهم السقيم

فقط والله تعالى اعلم   ۱۴ شوال ۱۳۷۴ هجری

د دې په شان يو بل سوال

سوال ۱ تاسو ليکلي دي چه د ضاد په ظاء سره له ويلو څخه لمونځ نه فاسديږي او د شاميه حواله مو ورکړې ده حالانکه د متشابه حروفو له جملې څخه يو د بل ځای له ادا کولو څخه سره د معنى له تغيره د لمانځه عدم فساد د متاخرينو مذهب دی او شاميه د متقدمينو مذهب ته ترجيح ورکړې دی او احوط ئې ورته ويلي دی

۲ - که چېرته د لمانځه فاسد والی او نه فاسد والی د حروفو په تشابه او عدم تشابه باندې کيسودل شي نو بيا چه د غير المغضوب په ويلو سره د عدم فساد او د ولا الضالين په ويلو سره د فساد حکم ورکړ شوی وای حالانکه په کبيري او داسې نورو کښې حکم برعکس ليکل شوی دی

۳ ضاد لره په مطلقه توګه د ظ. د ويلو په حو ر کښې کوم صريح عبارت شته؟ سره له حوالې ئې وليکئ څکه چه څنو قراوو ته چه کله ويل کيږي نو هغوی وائي چه مونږ خو ضاد وايو ليکن تاسو ته لکه ظاء غوندې ښکاريږي دا عجيبه توجيه ده آيا د دوی لمونځونه کيږي؟

الجواب باسم ملهم الصواب ۱ علامه ابن عابدين رحمه الله د منيې له شرحې څخه د لمانځه د فساد ضابطه داسې نقل فرمائي **ان الخطاء اما في الاعراب اي الحركات والسكون ويدخل فيه تخفيف**

المشدد وقصر الممدود وعكسهما او فی الحروف بوضع حرف مكان آخر او زيادته او نقصه او تقديمه او تأخيره او فی الكلمات او فی الجمل كذلك او فی الوقف ومقابله.

والقاعدة عند المتقدمين ان ما غير المعنى تغييرا يكون اعتقاده كفرا يفسد فی جميع ذلك سواء كان فی القرآن او لا الا ما كان من تبديل الجمل مفصولا بوقف تام وان لم يكن التغيير كذلك فان لم يكن مثله فی القرآن والمعنى بعيد متغير تغيراً فاحشاً يفسد ايضاً كهذا الغبار مكان هذا الغراب وكذا اذا لم يكن مثله فی القرآن ولا معنى له كالسرائل باللام مكان السرائر وان كان مثله فی القرآن والمعنى بعيد ولم يكن متغيراً فاحشاً تفسد ايضاً عند ابی حنيفة ومحمد رحمهما الله وهو الاحوط وقال بعض المشائخ لا تفسد لعموم البلوى وهو قول ابی يوسف رحمة الله عليه وان لم يكن مثله فی القرآن ولكن لم يتغير به المعنى نحو قيامين مكان قوامين فالخلاف على العكس فالمعتبر فی عدم الفساد عند عدم تغير المعنى كثيراً وجود المثل فی القرآن عنده والموافقة فی المعنى عندهما فهذه قواعد الائمة المتقدمين.

واما المتأخرون كابن مقاتل وابن سلام واسمعيل الزاهد وابی بكر البلخی والهندوانی وابن الفضل والحلوانی فاتفقوا على ان الخطاء فی الاعراب لا يفسد مطلقاً ولو كان اعتقاده كفراً لان اكثر الناس لا يميزون بين وجوه الاعراب قال قاضی خان وما قاله المتأخرون اوسع وما قاله المتقدمون احوط وان كان الخطاء بابدال حرف بحرف فان امكن الفصل بينهما بلا كلفة كالصاد مع الطاء بان قرأ الطالحات مكان الصالحات فاتفقوا على انه مفسد وان لم يمكن الا بمشقة كالظاء مع الضاد والصاد مع السين فاكثرهم على عدم الفساد لعموم البلوى وبعضهم يعتبر عسر الفصل بين الحرفين وعدمه وبعضهم قرب المخرج وعدمه ولكن الفروع غير منضبطة على شیء من ذلك فالاولى الاخذ فيه بقول المتقدمين لانضباط قواعدهم وكون قولهم احوط واكثر الفروع المذكورة فی الفتاوى منزلة عليه آه. ونحوه فی الفتح وسيأتی تمامه. (ردالمحتار ج۱، ص۵۹۰)

ثم قال فی شرح (قوله الا ما يشق الخ) قال فی الخانية والخلاصة الاصل فيما اذا ذكر حرف مكان حرف وغير المعنى ان امكن الفصل بينهما بلا مشقة تفسد والا يمكن الا بمشقة كالظاء مع الضاد المعجمتين والصاد مع السين المهملتين والطاء مع التاء قال اكثرهم لا تفسد آه وفی خزانة الاكمل قال القاضی ابو عاصم ان تعمد ذلك تفسد وان جرى على لسانه او لا يعرف التميز لا تفسد وهو المختار حلية وفی البزازية وهو اعدل الاقاويل وهو المختار آه وفی التتارخانية عن الحاوی حكى عن الصفار انه كان يقول الخطاء اذا دخل فی الحروف لا يفسد لان

فيه بلوى عامة الناس لانهم لا يقيمون الحروف الا بمشقة آ. وفيما اذا لم يكن بين الحرفين اتحاد المخرج ولا قربه الا ان فيه بلوى العامة كالذال مكان الضاد او الزاء المحض مكان الذال و الظاء مكان الضاد لا تفسد عند بعض المشائخ آه قلت فينبغي على هذا عدم الفساد في ابدال الثاء سينا و القاف همزة كما هو لغة عوام زماننا فانهم لا يميزون بينهما و يصعب عليهم جداً كالذال مع الزاء ولا سيما على قول القاضي ابي عاصم و قول الصفار وهذا كله قول المتأخرين وقد علمت انه اوسع و ان قولا لمتقدمين احوط قال في شرح المنية و هو الذي صححه المحققون و فرعوا عليه فاعمل بما تختار و الاحتياط اولى سيما في امر الصلوٰة التي هي اول ما يحاسب العبد عليها. (ردالمحتار ج۱، ص۵۹۲)

د متقدمينو ضابطه

د متقدمينو د ضابطې حاصل دا دی چه که چېرته په معنی کښې داسې تغير واقع شي چه عقيده يې کفر وي نو دا په هر صورت په اتفاق سره د لمانځه مفسد دی او که چېرته تغير د کفر تر سرحده نه وي نو د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد بيا ئې مدار په **وجود المثل في القرآن و عدمه** باندې دی او د طرفينو رحمهما الله په نزد ئې مدار په **وقوع التغير البعيد في المعنى و عدمه** باندې دی **وهو الراجح**. د متقدمينو دا ضابطه مطلقه ده کوم چه په ظاهره حروف متشابهة الصوت هم پکښې شامل دي ليکن د متشابهو حروفو په باره کښې له متقدمينو څخه کوم نص نه دی راغلی په ځينو عباراتو کښې دضاد په ظاء سره تبديلول د معنی د تغير په وخت کښې د لمانځه مفسد والی د طرفينو خوا ته منسوب شوی دی مثلا په روح المعاني کښې دی چه

واختلفوا في تمميل احداهما بالاخرى هل يمتنع و تفسد به الصلوٰة ام لا. فقيل تفسد قياساً و نقله في المحيط البرهاني عن عامة المشائخ و نقله في الخلاصة عن ابي حنيفة و محمد رحمهما الله تعالى. (روح المعاني ج۲۰، ص۱۶)

همدارنګه په ځينو او داسې نورو کښې ئې مغضوب په ظاء يا ذال سره ويل د متقدمينو د مذهب سره سم مفسد ګڼلی دی له دغو عباراتو څخه دا مقصد نه دی چه مفسد والی ئې له متقدمينو څخه منصوص دی بلکه مقصد دا دی چه دا د متقدمينو د ضابطې سره سم په ټولو صورتونو کښې د مفسد دی چنانچه علامه حلبي رحمه الله له ځينو څخه د مذکوره فروع سره نقل کولو وروسته

فرمايي **هذا ما ذكره فاضيخان من ابدال هذه الاحرف الثالثة بعضها من بعض و كله مخرج على قواعد المتقدمين**.(كبيرى ص ۴۵۰)

غرض دا چه د متشابهه حروفو د تبديلي حکم له متقدمينو څخه منصوص نه دی. چه کله متاخرينو په دې باندې غور وکړ چه د متقدمينو قاعده په متشابهه حروفو باندې هم شامله ده او که نه ده نو متاخرينو په دې کښې اختلاف وکړ ځينو د متقدمينو ضابطه عامه وبلله او اکثرو حروف متشابهه له هغې څخه مستثنى وبلله او همدا صحيح هم ده چنانچه علامه آلوسي رحمه الله د قياس له مخې د لمانځه د فساد د حکم تر ذکر کولو وروسته فرمايي

وقيل لا استحساناً ونقله فيها عن عامة المشائخ كابي مطيع البلخي و محمد بن سلمة و قال جمع انه اذا امكن الفرق بينهما فتعمد ذلك و كان مما لم يقرأ به كما هنا و غير المعنى فسدت صلاته و الا فلا لعسر التمييز بينهما خصوصاً على العجم و قد اسلم كثير منهم في الصدر الاول و لم ينقل حثهم على الفرق و تعليمه من الصحابة رضي الله عنهم و لو كان لازماً لفعلوه و نقل و هذا هو الذي ينبغي ان يعول عليه و يفتى به. (روح المعالى ج۳۰، ص۶۱)

مولانا عبد الحی صاحب لکهنوي رحمه الله فرمايي چه په تفسير کبير کښې دي **فثبت بما ذكرنا ان المشابهة بين الظاء و الضاد شديدة و ان التمييز عسير و اذا ثبت هذا فنقول لو كان هذا الفرق معتبراً لوقع السوال عنه في زمان رسول الله ﷺ او في ازمنة الصحابة رضي الله عنهم لا سيما عند دخول العجم في الاسلام فلما لم ينقل وقوع السوال عن هذه المسألة علمنا ان التمييز بين هذين الحرفين ليس في محل التكليف**. او د بيضاوي شريف په حاشيې باندې دي **ان اكثر الناس خصوصاً العجم كانوا في الزمان الاول لا يعلمون الفرق بينهما** او محمد بن محمد الجزری په تمهيد في علم التجويد کښې فرمايي **فمنهم من يجعلها ظاء (الى قوله) وهم اكثر الشاميين** او ځينې اهل مصر او د شيخ جمال حنفي مکي په فتوى کښې دي چه ضاد په ظاء سره ويل د اکثرو اهل عربو لغت دی او د جهد المقل په حاشيه کښې مسطور دی **فمنهم من يجعلها ظاء و هذا ليس بعجب**. (مجموعة الفتاوى ج۲، ص۳۰)

د متقدمينو په زمانه کښې د ضاد او ظاء رسم الخط هم تقريباً سره يو وو **كما نقل العلامة الآلوسي رحمه الله قول ابي عبيدة بان الظاء و الضاد في الخط لا يختلفان الا بزيادة رأس احداهما على الاخرى زيادة يسيرة قد تشتبه**.(روح المعالى ج۳۰، ص۶۱) .

له پورتني عباراتو څخه ثابته شوه چه متقدمينو په متشابهه حروفو کښې د فرق اهتمام نه کاوه او که نه نو داسې سوالونه به خامخا منقول وای متقدمينو چه کله په ضاد او ظاء کښې د فرق اهتمام واجب نه باله نو په تبديل سره ئې د لمانځه د فساد حکم د متقدمينو خوا ته منسوبول څنګه صحيح کيدلی شي؟ مولانا عبد الحی لکهنوي صاحب رحمه الله تر زماني پورې هم عوامو د ضاد او ظاء تر منځ فرق نه کاوه، چنانچه مجموعة الفتاوی ج۲. ص۳۳ کښې يو سوال په دې الفاظو سره راغلی دی "په دې زمانې کښې اکثره خلک ضاد د ذال او زاء مشابه ادا کوي"

علامه آلوسي رحمه الله په حواله د خلاصه د طرفينو رحمهما الله تعالی په نزد چه د فساد کوم حکم نقل کړی دی که چيرته د هغه منصوص والی هم تسليم شي نو دا به په عمد باندې محمولیږي په اولې زمانې کښې د ضاد او ظاء کښې د فرق د کولو اهتمام نه وو تر دې پورې چه د دواړو رسم الخط هم تقريباً متحد وو کما قدمنا څکه چه د بوه حرف په ځای په قصد سره د بل حرف د ويلو قوي ګومان وو له دې وجې طرفينو رحمهما الله تعالی په قصد سره تبديلي مفسد وبلله په دې باندې مزيده قرينه دا هم ده چه د خلاصې په مذکوره عبارت کښې د معنی د تغير ذکر نشته پس د معنی له تغير پرته هغه مفسد کيدلی شي کوم چه په قصد سره وي

لنډه دا چه د متقدمينو له ضابطې څخه متشابه حروف به څنګړې توګه ضاد او ظاء مستثنی دي الا فی العمد قال فی البزازية ان تغير المعنی و ليس مثله فی القرآن عنده و الاصل فيه انه ان امكن الفصل بين الحرفين بلا كلفة كالصاد مع الطاء بأن قرء الطالحات مكان الصالحات فسد عند الكل و ان لم يمكن الا بمشقة كالظاء مع الضاد و الصاد مع السين و الطاء مع التاء فالاكثر على انه لا يفسد لعموم البلوى و اطلق البعض الفساد ان تغير المعنى و قال القاضى ابو الحسن و ابو عاصم ان تعمد فسد و ان جرى على لسانه او كان لا يعرف التمييز لا يفسد و هو اعدل الاقاويل و هو المختار. (بزازية على هامش العالمگيرية ج۴،ص۴۲)

په دې عبارت کښې لومړی د متقدمينو د ضابطې بيان دی او بيا والاصل فيه انه ان امكن الفصل بين الحرفين بلا كلفة ـ الخ څخه د دې ضابطې توضيح کيږي

۲ - د کبيري جزئيه

قال فى الخانية لو قرء غير المغضوب بالظاء او بالذال تفسد صلوته و لو قرء الضالين بالظاء او بالذال لا تفسد صلوته و لو قرء اللذين بالدال تفسد صلوته. (خانية على هامش العالمگيرية ج۱،ص۱۴۲)

و فى غنية المستملى غير المغظوب بالظاء و الذال المعجمتين تفسد اذ ليس هما معنى و لا الضالين بالظاء المعجمة و الدال المهملة لا تفسد لوجود لفظهما فى القرآن و قرب المعنى لصحة تقدير و لا الظالين اى

المستمرين في الضلال والدالين اى القائلين هل ندلكم على رجل الآية ول قرأة بالذال المعجمة تفسد لبعد معانه لانه اسم فاعل ذل النخلة اذا وضع عذقها على الجريدة لتحمله وليس من الذلة اذ لم يستعمل الوصف منها على فاعل بل على فعيل. (كبيري ص ۴۴۸)

د خانيې عبارت مخې ته له كينو دلو څخه ثابته شوه چه په كبيري كښې له خانيې څخه په نقل كولو كښې تسامح (غلطي) شوې ده په خانيه كښې ئې ذال غير مفسد او دال مفسد بللى دى او په كبيري كښې د دې برعكس شوے دى په كبيري كښې دا فروع له خانيه څخه را اخيستل شوى دى چنانچه فرمايي وهذا فصل وهو ابدال احد هذه الاحرف الثالثة اعنى الضاد والظاء والذال من غيره فلنورد ما ذكره في فتاوى قاضيخان من هذا القبيل. بيا د پورتنو مذكوره جزئياتو له بيانولو وروسته فرمايي هذا ما ذكره قاضيخان من ابدال هذه الاحرف الثلاثة بعضها من بعض و كله مخرج على قواعد المتقدمين. (كبيري ص ۴۵۰)

له كبيري پرته بل په يوه كتاب كښې هم ددالين غير مفسد والى نه دى راغلى. په كبيري كښې چه د عدم فساد كوم تاويل بيان شوى دى هغه هم ډير لرې تاويل دى كما لا يخفى همدارنګه د متقدمينو د ضابطې مطابق كه چيرته د دالين غير مفسد والى و هم مثل شي نو د متقدمينو ضابطه د غير عمد په صورت كښې دى او نن صبا خلک عمداً (قصداً) دال ادا كوي د دې لپاره د معنى د تغير باوجود دال ويل مفسد وګرځيد

په المغضوب كښې د ظاء يا ذال ويل د متقدمينو د ضابطې لاندې د مفسد بللو ځواب پورته تير سو. يعني د متشابهه حروفو تبديل د متقدمينو له ضابطې څخه ونلى دى

د متاخرينو ضابطه

د متاخرينو په نزد د اعرابو تبديلوالى د لمانځه مفسد نه دى اګر كه ئې اعتقاد كفر وي د متشابهه حروفو تبدبلي هم مفسد نه دى. د متشابهه حروفو به اړه د متاخرينو دا فيصله متقدمينو د ضابطې خلاف نه ده بلكه د هغې توضيح ده كما قدمت

ځنو متاخرينو د متقاربة المخرج (نژدې مخرج درلودونكو) حروفو تبديلي هم غير مفسد ګڼلى ده او ځينو عموم بلوى ته اعتبار وركړى دى

علامه حسن عامدي بخشي د قاضي ابو العاصم قول: (ان تعمد ذلك تفسد و ان جرى على لسانه او لا يعرف التمييز لا تفسد) نقل كوى نه دى نږد كښې له جمله څخه (وهو المختار) و له برازيه څخه (و

هو اعدل الاقاويل وهو المختار) نقل کړی دی له دې څخه په ظاهره دا څرګندیږي چه دا مستقل قول دی لیکن د بنده په خیال کښې د قاضي ابو العاصم قول د متاخرینو د قول توضیح دی څکه چه دا ډیره لږ خبره ده چه کوم فقیه په قصد سره د حروفو تبدیلي هم مفسد و نه بولي

ضاد په دال سره ادا کول

په ضاد او دال کښې نه د صوت تشابه (یو شان والی) دی.نه د تمیز سخت والی او نه د مخرج ږدی والی که چرته څوک د ضاد په صحیح تلفظ باندې قادر نه وی نو له ضاد سره متشابه حرف په ظاء سره ئې ویلی شي لهذا د دغو قواعدو لاندې ضاد لره دال ویل به د لمانځه مفسد وی البته د یمه قاعده "عموم بلوی" لاندې دا مسئله د غور وړ ده په مذکوره عباراتو کښې د عموم بلوی چه کوم مثالونه بیان شول به هغو ټولو کښې ئې هغه حروف بدل کړي دي چه متشابه الصوت وي لکه اس عابدین رحمه الله د قاف په همزه سره د ویلو مثال هم بیان کړی دی په هر صورت په ظاهره د عموم بلوی قاعده د ټولو حروفو په باره کښې عامه ده و د بحث لاندې مسئلې کښې عموم بلوی نشته ده اګر که له مخرج څخه عاجز سړی ضاد به ظاء سره ویلی شي لیکن د جهل د زیاتوالي له وجې ګڼ شمیر عوام په دې غلط فهمۍ کښې لویدلي دي چه د ضاد تلفظ د مفخم دال غوندی دی و هغوی ئې به مفخم دال سره ادا کوی او دا ګنې چه هغوی هغه لفظ ادا کړ کوم چه په قرآنکریم کښې دی د دې لپاره د هغوی د لمونځونو د صحیح ګڼلو ګنجائش معلومیږي

کمامرّ من قول ابی العاصم اولا یعرف التمییز لا تفسد.وقال العلامة الحلبی رحمه الله روی عن محمد بن سلمة انها لا تفسد لان العجم لا یمیزون بین هذه الحروف (الضاد و الظاء و الذال) و کان القاضی الامام الشهید المحسن یقول الاحسن فیه ای فی الجواب فی هذه الابدال المذکورة ان یقول المفتی ان جری ذلک علی لسانه ولم یکن ممیزاً بین بعض هذه الحروف وبعض و کان فی زعمه انه ادی الکلمة علی علی وجهها لا تفسد صلوته و کذا ای مثل ما ذکر المحسن روی عن محمد ابن المقاتل و عن الشیخ الامام اسمٰعیل الزاهد و هذا معنی ما ذکر فی فتاوی الحجة انه یفتی فی حق الفقهاء باعادة الصلوة و فی حق العوام بالجواز کقول محمد بن سلمة اختیاراً للاحتیاط فی موضعه والرخصة فی موضعها. (کبیری ص۴۲۸)

د عبارات هم اګر که د دریو حروفو ضاد. ظاء. ذال په باره دی لیکن تعلیل **(لایعرف التمیز وکان فی زعمه انه ادی الکلمة علی وجهها)** عام دی نسبه د مفخم دال ویلو په صورت کښې د لمانځه د صحت د ټولو هیڅ ګنجائش ... څکه چه دال عربي حرف نه دی

له صحيح تلفظ څخه عاجز سړي لپاره د کوشش د کولو حکم

سوال دمتقدمينو په نزد چه کوم سړی د کوم حرف په صحيح تلفظ باندې قادر نه وي په هغه باندې د تصحيح کوشش کول فرض دي ترهغه وخته پورې چه په صحيح تلفظ باندې قادر شوی نه وي سر هغه وخته پورې به بوه صحيح تلفظ کوونکي په اقتداء باندې قادر وي نو په هغه پسې دې لمونځ کوي او که نه نو د غلط تلفظ تر څنګ ئې لمونځ کيږي او که چيرته د تصحيح کوشش پريږدي با ذ صحيح تلفظ کوونکي پسې د اقتداء تر څنګ ئې منفرداً (يواځې) لمونځ ادا کړ نو لمونځ ئې فاسد يږي

قال فى العلائية وحرر الحلبى و ابن الشحنة انه بعد بذل جهده دائماً حتماً كالامى فلا يؤم الا مثله ولا تصح صلاته اذا امكنه الاقتداء بمن يحسنه او ترك جهده او وجد قدر الفرض مما لا لثغ فيه هذا هو الصحيح المختار فى حكم الالثغ و كذا من لا يقدر على التلفظ بحرف من الحروف الخ. و فى الشامية (قوله دائماً) اى فى آناء الليل و اطراف النهار فما دام فى التصحيح و التعلم و لم يقدر عليه فصلاته جائزة و ان ترك جهده فصلاته فاسدة كما فى المحيط و غيره الخ (قوله حتماً) اى بذلاً حتماً فهو مفروض عليه ط (قوله و كذا من لا يقدر على التلفظ بحرف من الحروف) عطفه على ما قبله بناءً على ان اللثغ خاص بالسين و الراء كما يعلم مما مرّ عن المغرب و ذلك كالرحمٰن الرحيم و الشيطان الرجيم و الآلمين و اياك نأبد و اياك نستئين. السرا انأمت فكل ذلك حكمه ما مرّ من بذل الجهد دائماً و الا فلا تصح الصلاة به. (رد المحتار ج۱، ص۵۴۴)

و قال العلامة الحلبى رحمة الله عليه و ذكر فى فتاوى الحجة ما يوافق قوله صاحب المحيط فانه قال ما يجرى على السنة النساء و الارقاء الخطاء الكثير من اول الصلوٰة الى آخرها كالشيطان و الآلمين و اياك نأبد و اياك نستئين السرات انأمت فعلى جواب الفتاوى الحسامية ما داموا فى التصحيح و التعلم و الاصلاح بالليل و النهار و لا يطاوعهم لسانهم جازت صلاتهم كسائر الشروط اذا عجز عنها من الوضوء و تطهير الثوب و القيام و القراءة و الركوع و السجود و القعود و التوجه اذا حصل العجز عنها فكذا هذا اما اذا تركوا التصحيح و الجهد فسدت صلاتهم كما اذا تركوا سائر الشروط. (كبيرى ص۴۵۲)

ددغو عبازاتو سر ښ، ضاد سه دال سره د وبونکي لمونځ بابد صحيح ن شي ځکه چه د ضاد د مخرج د تصحيح لومړی مرحله دا ده چه به طاء سره ووېل شي او په دې باندې هر سړی قادر دی لېکن د متاخرينو په نزد چه د عموم بلوی په اړه کوم عبارت تېر سو له هغو څخه د عمومو بلوی په صورتونو کښې د لمانځه د صحت لپاره د بذل جهد د کوشش د کولو شرط نشته لهذا د

متاخرينو د دې قاعدې لاندې که چيرته څوک د ضاد په صحيح مخرج باندې قادر نه وي او هغه د تصحيح کوشش هم نه کوي ليکن پخپل ګومان کښې د ضاد صحيح تلفظ د مفخم دال غوندې ګڼي نو لمونځ ئې کيږي کما قدمنا.

د ضاد په دال سره ويونکي پسې د اقتداء حکم

قال فی شرح التنویر و لا غیر الالثغ به ای بالالثغ علی الاصح کما فی البحر عن المجتبی و حرر الحلبی و ابن الشحنة انه بعد بذل جهده دائماً حتماً کالامی فلا یؤم الامثله (الی قوله) هذا هو الصحیح المختار فی حکم الالثغ و کذا من لا یقدر علی التلفظ بحرف من الحروف و فی الشامیة (قوله علی الاصح) ای خلافاً لما فی الخلاصة عن الفضلی من انها جائزة لان ما یقوله صار لغةً له و مثله فی التاتارخانیة و فی الظهیریة و امامة الالثغ لغیره تجوز و قیل لا و نحوه فی الخانیة عن الفضلی و ظاهره اعتمادهم الصحة و کذا اعتمدها صاحب الحلیة قائلا لما اطلقه غیر واحد من المشائخ من انه ینبغی له ان لا یؤم غیره و لما فی خزانة الاکمل و تکره امامة الفأفاء اھ و لکن الاحوط عدم الصحة کما مشی علیه المصنف و نظمه فی منظومة تحفة الاقران و افتی به الخیر الرملی قال فی فتاواه الراجح المفتی به عدم صحة امامة الالثغ لغیره ممن لیس به لثغة. (رد المحتار ج۱، ص۵۴۳)

له دې څخه ثابته شوه چه اصح او احوط خو دا دی چه د الثغ پسې د غير الثغ اقتداء صحيح نه ده ليکن يو قول ئې د صحت هم شته د جهل يا ناپوهی د غلبی له وجې ضاد په مفخم دال باندې ويونکي خلک هم په الثغ باندې قياس کيدلی شي لهذا د الثغ په دال ويونکي پسې اقتداء خو په هر حال کښې جائزه ده او کوم سړی چه په دې جهالت کښې مبتلا نه ده هغه دې په دوال ويونکي پسې اقتداء نه کوي البته د ابتلاء په موقعه کښې د دال ويونکي پسې د لمانځه د ادا کولو ګنجائش شته ليکن بيرته را ګرځول ئې احوط دی دا حکم دا حکم په جهل مرکب کښې ګرفتار د دال ويونکي دی، که چيرته د (اضله الله علی علم) په مطابق عناداً يا د خلکو له ويرې دال وائي نو نه ئې خپل لمونځ کيږي او نه د مقتديانو

۴- ضاد په مطلقه توګه د ظاء ويلو د جواز هيڅوک هم قائل نه دی البته کوم سړی چه د ضاد په مخرج باندې قادر نه وي د هغه لپاره د ظاء د ادا کولو اجازه شته چه په مخرج باندې قادر وي نو هغه ته عمداً ظاء ادا کول جائز نه دی. که ئې خطاءً ووائي نو لمونځ کيږي په کيميای سعادت کښې دي چه فرق در ميان ضاد و ظاء بجا آورد اگر نتواند روا باشد۔

وفي الشامية عن خزانة الاكمل قال القاضي ابو عاصم ان تعمد ذلك تفسد وان جرى على لسانه اولا يعرف التمييز لا تفسد وهو المختار حلية. وفي البزازية وهو اعدل الاقاويل وهو المختار. (ردالمحتار ج۱ ص۵۹۲)

پاتې شوه دا پوښتنه چه ځيني قراء حضرات وائي چه مونږ ضاد وايو ليکن تاسو ته لکه ظاء د سي ښکاريږي البته په دې کښې لوموړی باید دا څرګنده شي د ضاد او ظاء په سماع او صوت کښې فرق ډير سخت او انتهائي متعسر دی

قال في التفسير الكبير ان المشابهة بين الظاء والضاد شديدة وان التمييز عسير وفي جهد المقل الضاد والظاء والذال المعجمات الكل متشاركة في الجهر والرخاوة ومتشابهة في السمع وايضاً فيه ويشبه صوتها (الضاد) صوت الظاء المعجمة بالضرورة وفي شرح الشاطبية ان هذه الثلاث متشابهة في السمع وايضاً في جهد المقل لثبوت التشابه وعسر التمييز بينهما. (مجموعة الفتاوى ج۲ ص۳۲)

وفي الهندية وان كان لا يمكن الفصل بين الحرفين الا بمشقة كالظاء والضاد الخ وهكذا في شرح التنوير والشامية والخانية وفتح القدير والنهر الفائق وخزانة المفتين وخلاصة الفتاوى وغيرها.

لنډه دا چه کله په ضاد او ظاء کښې فرق کول سخت دی نو ښکاره ده چه په دې فرق باندې[1] هغه څوک پوهيدلې شي چه په دې فن کښې پوره مهارت ولرې د سين. ثاء. ذال او زاء په سماع او صوت کښې په ښه توګه فرق باندې پوهيږي. بلکه په ضاد او ظاء به فرق باندې پوهيدل د سين ثاء ذال او زاء کښې د فرق له پوهيدو څخه زيات سخت دی **كما هو ظاهر وثابت بالادلة المذكورة** لهذا دا د تعجب او حيرانتيا کومه خبره نه ده چه قاري فرق پکښې کوي ليکن په دې فن کښې ماهر نه وي هغه ته يې اوريدو سره کوم فرق معلوم نه شي او که چيرته اوريدونکی په دې فن کښې د ماهر والي تر څنګ فرق نه شي معلومولی نو معلومه ده چه قاري د ضاد په مخرج باندې قادر نه دی ګر که د قدرت په درلودو باندې دعوی کوي او چه څوک پرې قادر نه وي هغه د ظاء د کولو جرئت البته که چيرته سامع په دې فن کښې ماهر وي او دا يقين ئې هم وي چه قاري د ضاد په اصل مخرج باندې قادر دی ليکن په قصد سره په مخرج باندې د قدرت درلودلو تر څنګ سوائې د [illegible] قصد نه مخې ضاء وئي نو د داسې قاري لمونځ په واقعيت کښې فاسديږي ليکن په دې کښې د داسې سړي وجود مشکل دی کوم چه په مخرج باندې د قدرت درلودلو وجود به ضاد او ظاء تر منځ په فرق باندې د پوهې سره سره هم عمداً ظاء ووائي

---

[1] [illegible]

فقط واللہ تعالیٰ اعلم وعلمہ اتم وحکمہ احکم ۔ ھر/جمادی الاولی ۱۳۷۵ھ؁ ہجری

د پورتني سوال په شان يو بل سوال

سوال د ضد لفظ له دال سره مشابهت لري او كه له ظاء سره. په مفصله توگه ئې وليكي مشهوره ده چه د حجاز علماء دال وائي؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په دې اړه به نژدې وخت كښې د حجاز د علماوو له خوا څخه څو فتاوى را ورسيدې. په دې وخت كښې د هغو په نقل كولو اكتفاء كوم د هرې فتوى يواځې ضروري او د كفايت په اندازه برخه ئې ليكل كيږي

حضرت مولانا شير محمد سندهي مهاجر مدينه منوره ليكي

د قصدة امنيه په شرح كښې دي **فللذلك اشتد شبهته وعسر التمييز واحتاج القارى فى ذلك الى الرياضه لاتصال بين مخرجهما وفصحاء العرب يتلفظون بها بحيث يشبه صوتها صوت الظاء كما فى الجلد الاول من تفسير المنار للشيخ محمد عبدة مفتى مصر انا نجد اعراب الشام وما حولها ينطقون بالضاد فيحسبها السامع ظاء لشدة قربها منها وشبهها بها وهذا هو المحفوظ عن فصحاء العرب الاولين.**

په دې حرف كښې اختلاف هلته شروع شو چه كله عربو ته د مختلفو ممالكو وينځې راغلې. له هغو څخه اولادونه وشول نو د دې حرف په صحت كښې خلل پيدا كيدل شروع شول

انها فى لغة قوم ليس فى لغتهم ضاد فاذا احتاجوا الى التكلم بها فى العربية اعتاصت عليهم فربما اخرجوها ظاء لاخراجهم اياها من طرف اللسان واطراف الثنايا وربما تكلفوا اخراجها من مخرج الضاد فلم يتأت لهم فخرجت بين الضاد والظاء.(شرح الشافية)

مفتي سعد الله رامپوري صاحب فرمايي

خواندن دال مهمله يا زا بجائے ضاد نه بدعتے ست امرزے اهلِ هند بلكه بعض اهلِ عرب نيز زبيشتر درين بلا مبتلا بوده اند.

ملا علي قاري رحمه الله ليكي **من يخرجه دالا مهملة ومن يخرجه لاماً مفخمة ومن يخرجه ظاءً مهملة كالمصريين الخ**

په دې رسالې باندې د حرمينو د علماوو تقاريظ هم شته دلته دوه درې مصري قاريان راغلي وو هغو په قرائت كښې ضاد د ظ په شان ادا كړ اكثره عرب مخرج صحيح را باسي ليكن د رخوة صفت مفقود اداكوي چه له وجې ئې د شديد دال غوندې اورېدل كيږي

قاري عبد الرحمن اله آبادي. استاذ الكل صاحب كوم چه خپل مشر وروړ قاري عبد الله صاحب سره له كلونو كلونو راهسې د صولتيه په مدرسه كښې د عربو استاذ هم پاتې شوي دي د فوائد مكيه د رسالې په حاشيه كښې فرمايي چه په ضد كښې چه كوم رخاوت ليدل كيږي هغه اكثره عرب ئې ښائي نه ادا كوي. دا لحن خفي دي انتهى تحرير السلدي رحمه الله

د حسن بن ابراهيم الشاعر فتوی

اقول وانا الفقير الى رحمة ربه القدير حسن بن ابراهيم المدرس بالحرم النبوى ان نهاية القول فى الضاد هو انها اقرب الى الظاء فقط كما فى الرعاية وجهد المقل وغيرهما واما كون الضاد شبيهة بالدال او الغين فما سمعنا به قط ولا وجد فى كتاب فمن صلى خلف امام يعتقد ذلك فصلاتهما باطلة والله على ما نقول وكيل.

كتبه بيده راجى عفو ربه القادر حسن بن ابراهيم الشاعر المدرس بالحرم النبوى بالمدينة المنورة

د موصوف دويمه فتوی

اعلم وفقنى الله تعالى واياك للصواب قال الجزرى رحمه الله والضاد باستطالة ومخرج ميز من الظاء فلا بد من اخراجها من مخرجها المعلوم بين القراء ضاداً خالصة وقراءتها بالظاء لا يجوز الا اذا تعسر النطق هكذا اخذنا من مشائخنا ولا يجوز قراءتها بالدال كذلك ان قصد ولا بغيره طاءً او ظاءً. والله ولى التوفيق.

كاتبه حسن بن ابراهيم الشاعر خادم القراء والمدرس بالحرم النبوى

تحريراً ۱۴ صفر ۱۳۷۵ هجرى

په دې فتوی باندې د مکې او مدينې نورو مشهورو علماوو او قراوو دستخطونه او تقريظونه هم موجود دي رشيد احمد ۱۲ ذى الحجة ۱۳۷۵ هجرى

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

﴿ وَإِذَا قُرِئَ ٱلۡقُرۡءَانُ فَٱسۡتَمِعُواْ لَهُۥ وَأَنصِتُواْ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ﴾

نيل المرام

بالتزام السكوت عند

قرائت الامام

سوال زمونږ په کلي کښې يو شاغلي اهل حديث دى. هغه وائي چه په امام پسې چه کوم خلک سورۀ فاتحه نه لولي د هغه لمونځ با لکل نه کيږي او هغه په دې باندې قسمونه هم کوي او وائي چه په دُنيا کښې هيڅوک داسې حديث نه شي وړاندې کولى چه په هغه کښې له امام سره د سورۀ فاتحه له ويلو څخه منع راغلې وي

دا سړى شپه او ورځ همدا شور او غوغا جوړه کړې وي او هر وخت د صافو او ساده لمونځ کوونکو د غلطولو په کوشش کښې مصروف وي د بلمازو دومره فکر ورسره نشته چه لمونځ کوونکي ترې جوړ کړى بس هر وخت د لمونځ کوونکو د غلطولو او د هغوى د لمونځونو د باطل ګڼلو په فکر کښې مشغول دى ځينې لمونځ کوونکي ئې له فتنې څخه متاثر کيدونکي تر سترګو کېږى له تاسو شاغلي څخه هيله ده چه دا مسئله په تفصيل سره وليکى او زمونږ د خلکو لارښوونه وکړى؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په امام پسې د سورۀ فاتحه ويلو په مسئله کښې له حضراتو صحابۀ کرامو څخه را ونيسه په هرې زمانې کښې اختلاف را روان دى دا ډول نورې هم ډيرې جتهدي مسئلې دي داسې مسائل له قرآن او حديثو څخه د مستنبط کدو له وجې د مجتهدو صحابۀ کرامو رضى الله تعالى عنهم او د دين د امامانو رحمهم الله تر منځ اختلافي دي. په دغو کښې پخپله د مجتهدينو د تل لپاره دا عمل پاتې سوى دى چه د دليل د قوت پر بنسټ باندې چه کوم طرف راجح ورته ښکاره سوى دى هغه ئې غوره ګڼلى دى ليکن په نورو باندې ئې هر ډول عنرض [illegible] او بد رد ويلو باندې د زړې اوړدول روا نه دي بللي او نه ئې خپل اجتهاد په جبر باندې په زوره د مسلط کولو کوښښ کړى دى بلکه بواخې ئې د زړې په ښکاره ونو باندې سره د دلائلو د تفصيل او [illegible] سره د کوم دليل په ښکلو باندې اکتفاء کړې ده او په خلکو کښې به د خپلې

رائې د قبلولو او نه قبلولو څخه تل بې نيازه وو هغوی له خپلې رائې سره اختلاف کوونکي نه هيڅکله ګمراه بللي دي او نه ئې د هغوی د عبادت د باطل والي د فتوی په ورکولو سره په امت کښې د تخريب او منافرت تخم کرلی دی.

د هغو حضراتو دا عمل د قرآنکريم د هدايت او د نبي کريم ﷺ په ښوونې او تعليماتو باندې مبني دی د الله تعالی ارشاد دی ﴿وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ﴾ په دې کښې د اجتهاد خاوندانو ته په غامضه (مشکلو او پټو) مسائلو کښې د دعوت فکر ورکړ شوی دی همدارنګه د هر مجتهد د فکر رسيدنه د هغه لپاره حق او واجب العمل تاکل شوی دی لکه څرنګه چه مجتهد په غير منصوصي مسائلو کښې د غور او فکر په کولو سره هغه په منصوصي باندې دقياس کولو په ذريعه د هغو حکم معلوموي همدارنګه هغه منصوصي مسائل چه ادله ئې متعارض يعنې سره ټکر دي په هغو کښې د تطبيق، ترجيح او تساقط اصول د غور لاندې راولي او فيصله کوي دنبي کريم ﷺ په زمانه کښې داسې څو مثالونه پيدا کيږي چه په کومې مسئلې کښې به د صحابهٔ کرامو رضی الله تعالی عنهم رائې مختلفې شوې او هر يوه به پخپل اجتهاد باندې عمل کاوه په هغه وخت کښې نه چا په يوه او بل باندې اعتراض وکړ او نه وروسته د نبي کريم ﷺ خدمت ته په حاضريدو باندې نبي کريم ﷺ د چا په فعل او عمل باندې نيوکې کړې

غرض دا چه مجتهد صحابهٔ کرام رضی الله عنهم او مجتهدين امامان رحمة الله عليهم کښې هر يوه سړي پخپل اجتهاد باندې عمل کاوه ليکن د نورو په اجتهاد باندې ئې کوم اعتراض نه کاوه د دغو مجتهدينو د پيروانو هم همدغه معمول وو چه پخپل منځ کښې د لاس او ګريوان کيدلو په ځای د خپلو خپلو مقتدايانو د اجتهاد مطابق عمل کاوه په دې کښې هيڅ خبره نشته چه اکابرو علماوو د اجتهادي مسائلو تنقيح او تنقيد او د هغو د مناشي او مباني د تنقير او تفتيش لپاره په زړه پورې بحثونه ليکلي دي د خپلو دلائلو تفصيل او د مقابل لورې د دلائلو ځوابونو لپاره ئې فاضلانه مضمونونه ليکله ليکن د مخالف لورې تفسيق، تضليل، تحقير او تذليل او عباداتو لره ئې ضائع او باطل بللو حماقت هيچا نه دی کړی او نه دغه خالص علمي مباحث کوم چه د عوامو له پوهې څخه ډېر لوړ دي د هر کس و ناکس مخې ته په راوړلو سره په عوامو کښې د انتشار او فتنې د پيدا کولو کوم جواز را وايستلو

راقم الحروف د صحيح البخاري په تدريس کښې د خپل عمر ډېره لويه برخه مصرف کړې ده په دې زمانې کښې د قرآن او حديث لوړ پوړې مضامين، د حقائقو، دقيقو، نکتو او لطائفو د مطالعې شوق و د حديث د طالبانو د استعداد او ضرورت مطابق د هغو په مخکښې د بيانولو عادت پاتې شوی دی ليکن د طلبه وو د اصرار تر څنګ په اجتهادي مسائلو باندې څخه مې له زياتې بحث او تمحيص کولو څخه تل تر تله څنګ کاوه لومړی د دې لپاره چه په کومو مسئلو

کښې چه د حضراتو صحابهٔ کرامو رضی الله تعالی عنهم رائې مختلفې دي په هغو کښې زبات بحث او مباحثه همداسې هم بې ضرورته او د ديني تقاضاوو په خلاف دي دويم دا چه په دغو مسائلو باندې د کفايت له اندازې څخه هم ډير څه ليکل شوي دي دريم دا چه په دې دور کښې په دين کښې نظرياتي او عملي فتنې په دومره کثرت او شدت سره را پورته کيږي چه د هغو په موجودوالي کښې مجتهد فيه مسائلو کښې په جزئي اختلافاتو کښې د لويدلو هيڅ جواز نشته يوې خوا ته مرزائيت، نيچريت، اباحيت، انکارِ حديث او ديندار انجمن غوندې اعتقادي او ارتدادي فتنو وريغ په خوريدو دي او بلې خوا ته بد اعمالي، په ښکاره فسق او فجور او د بې حيائی سيلاب د برق غوندې په تيزي سره په مخ روان دی او له عوامو څخه په تيريدنې سره د علماوو او صلحاوو کورونو ته هم داخل شوي دي د کوم سړي په زړه کښې چه د ذرې غوندې احساس او د دين درد هم وي او د اسلام او مسلمانانو د خير خواهی لږ غوندې خيال هم ولري په دغو حالاتو کښې جزئي اختلافاتو په هوا ورکولو سره د الحاد او نورو بې دينيو خپريدلو ته موقع ورکول هيڅکله نه شي برداشتولی ليکن په دې باره کښې د اهل حديث د ډلې د ډيرو کردار د اهل حديث د ډلې په تندي باندې کلنګ دی د هغو دا رسوا کوونکی او اسلام دښمنه کردار له برکته په هغو کښې د پوهې د خاوندانو سرونه ټيټ شوي دي ليکن هغوی پخپل دې بې واکې قوم باندې د برلاسي له پيدا کولو څخه عاجز دي.

د دوی په عقل باندې حيرانتيا ده چه يوې خوا ته خو دومره د نظر د پراخوالي جواز چه د اجتهاد د جواز لپاره هيڅ شرط نشته هر سړی له موره پيدا مجتهد دی او بلې خوا ته دومره تنګ نظري چه د خپل اجتهاد نه بغير نور ټول خلک ګمراه بولي

د غير مقلدينو خصوصيات

۱ - اهلِ حديث حضرات په اجتهادي مسائلو کښې خپل اجتهاد په قطعي توګه صحيح او د نورو اجتهاد په قطعي توګه غلط ګڼي او په دې کښې تر دې اندازې پورې غلو کوي چه ګوا که خپله رايه معاذ الله الهي وحی ګڼي په خلاف د نورو مجتهدينو چه وه خپلې رائې د وحی غوندې قطعي نه ګڼي بلکه محض د غلبهٔ ظن درجه ورکوي چه د خطا احتمال هم پکښې موجود دی چنانچه د خطا د تر واضح کيدو وروسته هغه له خپلې رائې څخه رجوع کوی ليکن په دنيا کې يو اهلِ حديث هم داسې په نظر نه راځي چه هغه نه پخپل اجتهاد کښې چيرته د يوې ادنی غوندې شبهه هم پيدا شوې وي. د غلطی .عتر ف او له خپلې رائې څخه رجوع کول خو لويه خبره ده

۲ - په مجتهد فيه مسائلو کښې په حضراتو صحابهٔ کرامو رضی الله تعالی عنهم. تابعين او تبع تابعين ائمهٔ دين رحمهم الله کښې د رائې اختلاف پيدا کيږي او دا اختلاف لازم هم دی د دې

لپاره چه د اجتهادي مسائلو په استنباط کښې او د دلائلو د تعارض په وخت کښې د تطبيق او ترجيح د کليات په استعمال کښې د انسان عقل دخل لري. يو مجتهد يوه جزئيه د يوې کليې لاندې په راوستو سره د جواز قول کوي او بل مجتهد ئې له بلې کليې سره زيات منطبق په ګڼلو سره هغه ناجائزه بولي له کلياتو سره د جزئياتو په انطباق کښې د رائې له اختلاف څخه حفاظت محال دی چنانچه په همدې بناء باندې مونږ شپه او ورځ په ډاکټرانو، انجنيرانو، وکيلانو او قاضيانو کښې اختلافات پخپلو سترګو وينی ليکن د اهلِ حديثو حضراتو په رايه کښې هيڅکله اختلافات نه ليدل کيږي له دې څخه ثابته شوه چه د هغوی عمل په حديثو باندې شور او غوغا او د مخ مخ اجتهاد دعوی غلطه ده په حقيقت کښې دا يوه مستقله ډله ده چه هر غړی ئې د خپلو اسلافو په ړانده تقليد کښې مبتلا دی له دې سره د حيرانتيا خبره خو دا ده چه د ائمه اربعه وو تقليد ته حرام او شرک وائي

۳ - د مجتهدينو امامانو په دې باندې اتفاق دی چه په اختلافي مسائلو کښې دا حتياط په اړخ باندې بايد عمل وشي چنانچه کوم سړي چه پخپله حج نه وي کړی هغه په حنفي مذهب کښې د بل چا له خوا څخه حج بدل کولی شي ليکن لکه څرنګه چه په څينو نورو مذاهبو کښې دا جواز نه لري د دې لپاره د همدې بل مذهب د رعايت په خاطر په حنفي فقه کښې د داسې سړي د حج بدل لپاره تلل مکروه تاکل شوی دی. همدارنګه که چيرته طواف کوونکی بيت الله ته دومره نژدې ورشي چه کېږ لاس ئې په شاذروان (د بيت الله په بنياد) باندې تير شي نو په حنفي مذهب کښې ئې طواف صحيح کيږي ليکن يواځې د نورو مذاهبو د مراعات په خاطر ئې دې ته هم مکروه ويلي دي د فقهي په کتابونو کښې د دې بې شميره مثالونه پيدا کيږي ليکن د اهلِ حديثو حضراتو طريقة کار تر ټولو جلا دی د هغوی په نزد په داسې مسائلو کښې د نورو مذاهبو پر خلاف کول د زيات اجر او ثواب باعث دی چنانچه د ذی الحجې په دياړلسم تاريخ کښې د قربانۍ جواز مختلف فيه دی د دې لپاره په عبادت کښې د احتياط تقاضا خو دا وو چه په دې تاريخ کښې قرباني و نه شي کوم حضرات ئې چه د جواز قائل دي د هغو په نزد بهترينه ورځ ئې لسم، بيا يولسم، بيا دولسم او بيا دياړلسم دی ليکن اهل حديث خلک يواځې د نورو مذاهبو د مخالفت لپاره په دياړلسم تاريخ باندې قرباني افضله بولي او په همدې باندې عمل کوي همدارنګه د اوښ په قربانۍ کښې خاص له نورو مذاهبو سره د مخالفت په خاطر لس کسان شريکيږي او که نه نو د عبادت د اهميت تقاضا خو دا وه چه په دې کښې له احتياط څخه کار اخيستل شوی وای او په اوښ کښې له اوه کسانو څخه زيات نه وای شريک شوی

يوه بله نادره واوره: د بدی په منځ کښې د مسازو په حالت کښې قبلې ته د مخ اړولو جواز مختلف فيه دی څکه په هر حال کښې احتياط په دې کښې دی چه قبلې ته نه مخ اړولو څخه پرهېز

وشي ليکن د اهل حديثو په نزد له نورو مذاهبو سره مخالفت لوی جهاد دي چنانچه په کراچی کښې ئې د خپل جومات استنجا خانې رنګې او له نوي سره ئې قبلې ته مخامخ استنجاء خانې جوړې کړې چه کله ئې د وجې پوښتنه وشوه نو و ئې ويل چه دا سنت له ځوارلس سوه کلونو څخه مړ وو مونږ را ژوندی کړ. الحمدلله الذی عافانا مما ابتلا کم به.

۴ - اهلِ حديث په جزئي اختلافي مسائلو په خپرونه او تبليغ کښې بلکه د خپلې نظريې په ټول امت باندې د مسلط کولو په کوشش کښې دومره مخبوط الحواس (ګډوډ حواس) دي چه نه هغوی د، فکر کوي چه په دغو مسائلو کښې د حضراتو صحابهٔ کرامو رائې هم مختلفې دي او هغوی د رائې د اختلاف باوجود هغه د بحث او مباحثې موضوع نه جوړول او نه دا احساس کوي چه له فتنې څخه ډک په دې دور کښې په داسې حال کښې د دين په اصولو باندې حملې کيږي او د فسق او فجور روان شوی سيلاب ديني ارزښتونه هم د خس او خاشاک غوندې ورسره وړي د جزئي مسائلو په خپرلو سره مسلمه امت په نورو فتنو او ابتلاوو کښې مه اچوی او پخپل منځ کښې د منافرت د فضا په پيدا کولو سره بې دينه قوتونو ته د نور پرمختګ سبب مه جوړيږی بلکه دا فروعي اختلافات د نسيان په طاق کښې کښيږدی او د بې دينۍ زياتيدونکو موجونو د مخ نيوي لپاره ټول په يوه صف کښې ودريږی او جهاد وکړی

په انصاف سره ووايئ چه اهلِ حديث د سبائيت. مرزائيت. نيچريت او اباحيت غوندې فتنو څخه د اسلام د حفاظت لپاره کوم ښکاره خدمت کړی دی؟ يا د فسق او فجور د مخ نيوي لپاره ئې کله کوم کار کړی دی؟ د هغوی خپل ټول کوششونه او جهاد يواځې د فاتحه خلف الامام. آمين با لجهر او رفع يدين باندې مصرفيږي يا بيا ټول امت مسلمه بلکه د دين تر امامانو پورې د فسق او ګمراهۍ نسبت کوي که څيرته يو څوک چه ږيره يا خرئي او يا ئې لنډوي. لباس د شرعې په خلاف اغوندی. سود خوري. رشوت اخلي. عکسونه ساتي. په رقص او سرور باندې ئې زړه ورکړی وي. شراب څښي له کوم اهل حديث سره مخامخ شي نو هغه ته تر ټولو مخکښې دا تبليغ کوي چه په امام پسې د الحمد لله سورة نه وبلو سره لمونځ نه کيږي. چه کوم خلک ئې نه وائي هغه ټول ګمراه دي و د حديث مخالفت کوي

۵ کوم سړی چه په امام پسې الحمد لله. آمين په زوره او د رفع يدينو په تېزي سره تبليغ کوي و په مامانو پسې د رد ند وبلو امتيازی شان ولری هغه که هر څومره په فسق او فجور کښې مبتلا وي بلکه کفريه عقائد دي هم ولري د اهل حديثو په ډله کښې مقبول ګرځي

په دې باره کښې د (شَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ أَهْلِهَا) لاندې پخپله د اهل حديث عالم قاضي عبد الواحد خانپوری صاحب شهادت ګواهي ملاحظه کړی دی فرمائی

د دې زمانې دروغجن اهل حديث د مبتدعين مخالفينو. سلف صالحينو كوم چه د ما جاء الرسول له حقيقت څخه جاهل دي هغوی په صفت كښې د شيعه ګانو او روافضو خليفه ګان شوي دي. يعنې لكه څرنګه چه په مخكښينيو زمانو كښې د كفر او نفاق دروازه او دهليز وو او د ملاحده او زنادقه وو د اسلام خوا ته مدخل وو همدارنګه دا جاهل او بدعتي اهل حديث په دې زمانې كښې د ملاحده او زنادقه وو منافقينو دروازه، دهليز او مدخل دي بعينه د شيعه ګانو غوندې (الی ان قال) مقصود دا دی چه په رافضيانو كښې ملاحده وو د تشيّع په ښكارولو سره د حضرت علي او حسنينو رضی الله تعالی عنهم له غلو (له حد څخه زيات) سره د تعريف په كولو سلف ته ظالمان وويل او ښكنځا ئې ورته وكړه او بيا چه څومره الحاد او زندقه خپره كړي څه پروا نشته همدارنګه دا جاهلان بدعتي دروغجن په اهل حديثو كښې يو ځل رفع يدين وكړي او تقليد رد كړي او سلفو ته بد ووائي لكه امام ابو حنيفه رحمه الله ته چه په فقهه كښې ئې امامت د اجماع اُمت له مخې ثابت دی او بيا چه څومره كفر. بد اعتقادي. الحاد او زنديقيت په هغوی كښې خپور كړي په ډيرې خوښې سره ئې قبلوي او د يوې ذرې غوندې نه خفه كيږي اګر كه د اهلِ سنت علماء او فقهاء ئې زر څله خبردار كړي هيڅكله ئې نه اوري سبحان الله ما اشبه الليلة البارحة او د دې راز دا دی چه هغه د اهل السنة و الجماعة له عقائدو څخه په را وتلو سره د سلفو له اتباع څخه مخ اړوونكي او مستكبر شوي دي فافهم و تدبّر.

(التوحيد و السنة في رد اهل الالحاد و البدعة "الملقب به" اظهار كفر لعاء لله بجميع اصول امنت بالله ص۲۶۲)

د نفس مسئلې په اړه له بحث څخه مخكښې د دې اوږده تمهيد څخه مقصد دا دی چه لوستونكو ته د دې اندازه ولګيږي چه په پورتنيو مذكوره حالاتو كښې د فاتحه خلف الامام په اړه له څه ويلو او اوريدلو تكليف يا د كوم مدللې ليكنې لپاره ليكنه او دماغي محنت تر كومې اندازې پورې ګټور كيدلی شي له بحث او تمحيص (پلټنې) څخه د فهم او انصاف د خاوندانو پوهنه مقصود وي ليكن د پورتنيو خصوصياتو درلودونكې د اهل حديثو له جماعت څخه د دې څه توقع كيدلی شي؟ كله كله له تقريري يا تحريري دلائل بازيو څخه د كومې فتنې د وركولو او د عامو مسلمانانو د دين ساتنه مقصود وي اګر كه د فتنې له خاوندانو څخه د حق د قبلولو هيڅ اميد نه وي ليكن په دې كښې د الاهمّ فا لاهمّ د اصولو لحاظ ساتل لازم دي د الحاد او ارتداد غوندې سره كوونكو فتنو سره موجودوالي كښې په فروعي مسائلو باندې بحث. مباحثه او په هغې باندې د وخت او دماغ د مصرفولو هيڅ جواز نشته چنانچه كله كله ما نه ويل سوي دي چه فلاني ښاغلي د كوم اهل حديث د خوشحالولو لپاره فاتحه خلف الامام شروع كړې دی ناسو هغه پوه كړی مه خواب وركړی دی چه هغه بربردی چه په امام پسې فاتحه ووائي له ما سره د هغه د پوهولو وخت

نشته حقیقت دا دی چه چا ته د خپل خان د پوهولو فکر نه وي د هغه پوهول بې فائدې او د وخت ضائع کول دي خو خله خو له موره پیدا شویو مجتهدینو په دغو مسائلو باندې له ما سره د خبرې کولو هیله ښکاره کړې ده لیکن ما په هر خلې عذر وړاندې کړی دی وجه ئې هم هغه ده چه د اهمو مسائلو په موجودوالي کښې د دغو فروعي مسائلو خوا ته مخ اړول جائز نه دي بالخصوص کله چه په مخاطب (چا ته چه خبره کیږي) کښې نه صلاحیت وي او نه ئې د حق تحقیق مطلوب وي په داسې حالت کښې د خبرو کولو څه فائده؟ یو ځل یوې مجتهدې صاحبې ته په فاتحه خلف الامام باندې د بحث کولو جذبه وراغله او د حدیث پوهنې ډیره لویه دعوه ئې وکړه، ما ترې پوښتنه وکړه چه د صحیح البخاري نوم څه دی؟ بس د اجتهاد نشه ئې مړه شوه. یوه چا څومره ښه ویلي دي

الف کو کیل جانیں سب بچارے مگر دعوی ہے سب کا اجتہادی

د فاتحه خلف الامام په اړه د اهل حدیثو پرله پسې شور او غوغا تر څنګ ما د خپل عمر اوه پنځوس کاله له پوره چوپتیا او صبر سره تیر کړل زمونږ د اکابرو همدغه شان پاتې شوی دی لیکن اوس اهل حدیثو لې دې چوپتیا څخه د ګټې په اخیستو سره دا غلطه پروپیګنډه شروع کړې ده چه د احنافو په نزد داسې یو حدیث هم نشته چه په هغه کښې خلک په امام پسې د فاتحه له ویلو څخه منع شوي وي

دا پروپیګنډه دومره تیزه شوه او له عوامو څخه د داسې حدیث مطالبه په دومره سختۍ سره وشوه چه عام مسلمانان ډیر تنګ او پریشان شول او له ما څخه ئې په دې باره کښې غوښتنې وکړې زه چا چا ته ځواب ورکړم؟ او خالص علمي تحقیق څرنګه د عوامو په دماغو کښې واچوم؟ بالاخره مې په نه زړه سره قلم پورته کړ او دا فیصله مې وکړه چه په لنډه توګه له دلائلو سره د مسئلې وضاحت ولیکم مخکښې هر سړی د خپل ظرف (قابلیت) او علمي استعداد په مطابق له هغه څخه ګټه اخیستلی شي کم تر کمه چا ته خو د دې موقع په لاس نه ورځي چه د احنافو په نزد یو حدیث هم نشته الله تعالی دې مونږ ټولو ته سالمه پوهه او په صراط مستقیم باندې هدایت را بخښي او له هر ډول فتنو څخه مو دې پخپل حفاظت کښې وساتي آمین

د عمل بالحدیث په شکل کښې له قرآن څخه انحراف (مخ ګرځونه)

اهل حدیث په حدیثو باندې د عمل کولو مدعیان دی لیکن په قرآن باندې عمل نه کوي یوه مجتهد صاحب ما ته وویل چه آیا د امام پسې د سورة فاتحه د نه ویلو په باره کښې کوم حدیث شته؟ ما وویل چه په امام پسې د قرائت له کولو څخه په قرآن کښې منع راغلې ده هغه وویل چه حدیث خو هم نشته؟ حقیقت دا دی چه په امام پسې د فاتحه ویلو ممانعت له حدیثو څخه هم ثبت

دی لکه څرنګه چه مونږ به ئې مخکښې بیان کړو انشاء الله تعالی ما د هغه بناغلي په خواب کښې د حدیث په ځای د قرآن حواله ځکه ورکړه چه هغه تر ټولو مقدم دی لیکن په دې باندې سخت حیران شوم چه هغه د قرآني ارشاد منلو ته تیار نه وو او د هغه په مقابله کښې ئې خاص په حدیث باندې ټینګار کاوه د دې برعکس د احنافو اصول دا دي چه هغوی لومړی قرآنکریم ګوري. له هغه وروسته په احادیثو باندې نظر اچوي چه کوم حدیث د قرآنکریم مطابق وي هغه را اخلي او کوم چه په ظاهره له قرآنکریم سره متعارض په نظر راشي د هغه یو داسې مفهوم لټوي چه د قرآن په خلاف نه وي چنانچه د فاتحه خلف الامام مسئله وګورئ په قرآنکریم کښې ارشاد دی ﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾ په دې کښې صاف حکم دی چه کله قرآنکریم ویل کیږي نو تاسو ئې په توجه سره واورئ او چُپ او غلي پاتې شئ امام احمد رحمه الله فرمايي چه دا آیت په اتفاق سره په امام پسې د سورهٔ فاتحه د قرائت په باره کښې نازل شوی دی اوس احادیث را واخلئ په یوه حدیث کښې هم دا حکم نشته چه له امام سره تاسو هم تلاوت کوئ ارشاد دی **انما جعل الامام ليؤتم به فلا تختلفوا عليه فاذا ركع فاركعوا و اذا قال سمع الله لمن حمده فقولوا ربنا لك و الحمد و اذا سجد فاسجدوا.** په دویم حدیث کښې دی **ليؤمكم احدكم فاذا كبر فكبروا واذا قال غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ فقولوا آمين الخ** په دې کښې له امام سره د ټولو افعالو د ادا کولو حکم ورکړی شوی دی لیکن (**واذا قرأ فاقرءوا**) ئې و نه ویل بلکه (**واذا قرأ فانصتوا**) په ویلو سره ئې له امام سره د ویلو څخه منع وفرمایله احنافو دې حدیث ته ترجیح ورکړه ځکه چه دا حدیث د سند له لحاظه تر صحیح والي د قرآني حکم مطابق دی د دویم حدیث ئې داسې معناوي بیان کړي چه له هغو څخه تضاد پاتې نه شي

همدارنګه د آمین په مسئله کښې احنافو لومړی د قرآنکریم خوا ته رجوع وکړه نو دا ارشاد لاس ته راغی چه ﴿ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً﴾ امام بخاري رحمه الله د عطاء رحمه الله قول را نقل کړی دی چه آمین دعا دی، او قرآنکریم د دعاء د اخفاء حکم ورکړی دی پس له قرآنکریم څخه ثابته شوه چه آمین باید سوکه وویل شي د دې لپاره احنافو هغه حدیث ته ترجیح ورکړه په کوم کښې چه د آمین اخفاء مذکور دی او نور حدیثونه ئې په دې باندې منطبق کړل

د رفع یدینو د لاسونو د پورته کولو په اړه ئې هم په قرآن کریم باندې غور وکړ نو څرګنده شوه چه په لمانځه کښې د خشوع او سکون حکم ورکړ شوی دی الله تعالی فرمايي ﴿وَالَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ﴾. ﴿قُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ﴾ اوس احادیث مطالعه کړئ په صحیح مسلم کښې روایت

دی چه صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم په لمانځه کښې دسلام په وخت په لاس سره اشارې کولې په دې باندې نبي کریم ﷺ وفرمایل
یعني دا څه حرکت دی چه په لمانځه کښې داسې لاسونه پورته کوی لکه څرنګه چه مست اسونه لکۍ اچوي. په لمانځه کښې په سکون پاتې شی څومره زبردسته خبرداري ده د سلام په وخت کښې لمونځ په ختمیدو وي چه کله په دې وخت کښې هم د لاسونو پورته کول د سکون په خلاف دی نو د لمانځه په منځ کښې د رکوع په وخت کښې د لاسونو پورته کول به څنګه مناسب وي؟ البته تکبیر تحریمه چونکه په لمانځه کښې داخل نه دی د دې لپاره په دې وخت کښې د لاسونو پورته کول په لمانځه کښې د سکون د حکم په خلاف نه دی غرض دا چه په دې مسئله کښې هم د قرآني حکم له مخې احنافو د رفع یدین د نه کولو روایتونو ته ترجیح ورکړی دی په دې باندې نور مسائل قیاس کړی چه احناف تر ټولو مخکښې د قرآنکریم خوا ته رجوع کوي بیا په احادیثو کښې هغه حدیث ته ترجیح ورکوي چه د قرآني نص مطابق وي

د حدیث د صحت معیار

اهل حدیث دا الزام لګوي چه احناف په ځینو مسائلو کښې د صحیح حدیث په خلاف عمل کوي د غور وړ خبره دا ده چه دصحیح تعریف حدیث څه شی دی؟ اهل حدیث تقلید ته د ناجائز او حرام ویلو تر څنګ په دې باب کښې د حدیثو د امامانو بخاري، مسلم، ابو داؤد او داسې نور رحمهم الله تعالی تقلید کوي کوم حدیث چه امام بخاري رحمه الله صحیح ووائي هغه صحیح دی که چیرته د حدیثو د امامانو رحمهم الله تقلید جائز بلکه ضروری دی چه له هغو پرته د یوه حدیث تصحیح نه شي کیدلی نو د فقهې د امامانو رحمهم الله تعالی تقلید ولی ناجائز دی؟
د حدیثو امامانو رحمهم الله د حدیث په صحت او نه صحت چه کوم اصول لیکلي دي هغه ئی د خپل اجتهاد له مخې ټاکلي دي. په هغو باندې کومه وحی نه ده نازله شوې همدارنګه د فقهې د امامانو په نزد هم د حدیثو د تصحیح څه اصول مقرر دي کوم چه د فقهې په اصولو کښې مذکور دي چه له هغو څخه لاندیني دوه اصوله دخانګړې اهمیت درلودونکي دی

۱ کوم حدیث چه له کتاب الله یا سنت مشهوره سره زیات نزدی وی هغه به راجح وي
۲ د حضراتو صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم له جملې څخه چه کوم حضرات په تفقه کښې مشهور دي د هغو روایت د غیر فقیه په روایت باندې به راجح وی

له دې ضروري توضیح څخه وروسته اوس د اصل مسئلې یعنې قرائت خلف الامام د ممنعت په دلائل لیکل کیږي

قرآني نصوص

۱ وَلَا تَعْجَلْ بِالْقُرْاٰنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ یُّقْضٰۤی اِلَیْكَ وَحْیُهٗ وَقُلْ رَّبِّ زِدْنِیْ عِلْمًا ○ (۲۰/ ۱۱۴)

په دې آیت کښې نبي کریم ﷺ ته دا تعلیم ورکړ شوی دی چه د وحی د نازلیدو په وخت پخپله ئی مه ورسره وایه له دې ځخه ثابته شوه چه د قرآن د تلاوت په وخت کښې هغه په چوپتیا سره اوریدل او ټول د هغه خوا ته متوجه کیدل او په هغه کښې تفکر او تدبّر شرعاً مامور به دی

۲ لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ ○ اِنَّ عَلَیْنَا جَمْعَهٗ وَقُرْاٰنَهٗ ○ فَاِذَا قَرَاْنٰهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ ○ (۷۵/ ۱۶، ۱۷)

په دې آیت کښې هم نبي کریم ﷺ له جبریل علیه السلام سره له تلاوت کولو منع کړی شوی دی حالانکه دلته د قرآن د حفظ په غرض سره د یو ځای ویلو ضرورت هم وو سره له دې الله تعالی د قرآنکریم د حفظ ذمه واري پخپله اخیستی او په خاموشي او توجه سره ئې د اوریدلو حکم وفرمایه. له دې ځخه د قرآنکریم د دې ادب څومره سخت تاکید ثابتیږي چه له قاري سره پخپله د تلاوت کولو په ځای د هغه قرائت په خاموشي او پوره توجه سره باید واورول شي بیا ئې د لاتقرأ په ځای (لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ) په ویلو سره دپوره چوپتیا مزید تاکید وکړ چه ژبه هم مه ښوروه تر دې وروسته په تاکید باندې له پاسه تاکید لپاره دوباره فرمایي چه (فَاِذَا قَرَاْنٰهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ) د دې په تفسیر کښې حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما فرمایي **فاستمع له وانصت** (صحیح البخاري ج۲، ص۱، مسلم ج۱، ص۱۸۴، طیالسی ص۳۴۲)

د اتباع دوه معناوې دي یوه دا چه کوم کار متبوع کوي هغه کار دې تابع کوي بله دا چه په خاموشي سره اوریدل. له مذکوره آیت ځخه ثابته شوه چه په قرائت کښې د اتباع معنی د یو ځای ولو نه ده بلکه په خاموشي سره اوریدل دي ځکه چه له یو ځای ویلو ځخه منع شوې ده د همدې لپاره حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما د هغه تفسیر (فاستمع له وانصت) سره کړی دی

مونږ مخکښې یو حدیث وړاندې کوو (انما جعل الامام لیؤتم به الخ د التمام) معنی اتباع ده حافظ ابن حجر رحمه الله د دې په تشریح کښې فرمایي **قال البیضاوی و غیره الائتمام الاقتداء و الاتباع ای جعل الامام اماما لیقتدی به و یتبع.** (فتح الباري ج۲، ص۱۳۹) له دې ځخه ثابته شوه چه که چیرته په حدیث کښې د واذا قرأ فانصتوا زیادوالی هم نه وای ثابت په هم به دې سره له فاتحه خلف الامام ځخه ممانعت شوی وای ځکه چه په رکوع، سجده او داسې نورو کښې د امام د اتباع معنی دا ده چه مقتدی هم له هغه سره دغه ارکان ادا کړي او په قرائت کښې د اتباع معنی دا ده چه په خاموشي سره غوږ ونیسي کما مر

۳ وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ○

دا آیت په لمانځه کښې د سورۂ فاتحه په اړه نازل شوی دی چه څرګند هدایت پکښې شوی دی چه کله امام قرائت وائي نو په هغه وخت کښې په مقتدیانو باندې فرض دی چه د امام قرائت واوري او چُپ و اوسیږي

امام احمد رحمه الله په دې باندې اجماع را نقل کړې ده چه دا آیت د قرائت خلف الامام په اړه ده د امام احمد رحمه الله د دې قول څو حواله جات په لاندې ډول دي

۱ - علامه جمال الدین زیلعي رحمه الله فرمائي قد اخرج البیهقی عن احمد رحمه الله قال اجمع الناس علی ان هذه الأیة فی الصلوة (زیلعی ج۱، ص۲۳۲)

۲ - قال العلامة موفق الدین بن قدامة فی المغنی قال احمد رحمه الله الناس علی ان هذا فی الصلوة (الی قوله) و قال احمد فی روایة ابی داؤد اجمع الناس علی ان هذه الأیة فی الصلوة (مغنی ج۱، ص۶۰۵)

۳ - قال العلامة شمس الدین بن قدامة قال احمد رحمه الله فی روایة ابی داؤد اجمع الناس علی ان هذه الأیة فی الصلوة (شرح المقنع الکبیر ج۲، ص۱۳)

۴ - قال الامام ابن الهمام رحمه الله و اخرج البیهقی عن الامام احمد رحمه الله قال اجمع الناس علی ان هذه الأیة فی الصلوة (شرح نقایة ج۱، ص۸۳)

۶ - غیر مقلدینو امام شیخ الاسلام ابن تیمیه فرمایي وذکر احمد بن حنبل رحمه الله الاجماع علی انها نزلت فی الصلوة و ذکر الاجماع علی انها لا تجب القرائة علی المأموم حال الجهر. (فتاوی ابن تیمیة ج۲، ص۱۴۳)

وقال ایضاً و قول الجمهور هو الصحیح فان الله سبحانه و تعالی قال: وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ○ قال احمد رحمه الله اجمع الناس علی انها نزلت فی الصلوة (فتاوی ابن تیمیة ج۲، ص۴۱۲)

۷ - غیر مقلد عالم مولانا عبد الصمد پشاوري پخپل کتاب (اعلام الاعلام فی القرائة خلف الامام) کښې لیکي والاصح کونها فی الصلوة لما روی البیهقی عن الامام احمد قال اجمعوا علی انها فی الصلوة (اعلام الاعلام ص۱۹۰)

په مذکوره عبارت کښې له امام احمد رحمه الله څخه د بیهقي د اجماع روایت لره غیر مقلد عالم هم منلی دی لهذا د مبارکپوری صاحب دا وینا صحیح نه ده چه "ما ته د امام بیهقي په معرفة السنن و الأثار او کتاب القراءة کښې دا قول په لاس نه شو" د بیهقي د روایت لیدونکي یو جماعت دی چه غیر مقلد او د غیر مقلدینو امام هم شته د دغو ټولو په مقابله کښې که حیرته مبارکپوری صاحب

ته دا روايت تر نظر نه وي تير شوی نو هغه ته دا ويل کيږي چه

واذا لم ترالهلال فسلم لاناس رأوه بالابصار

د وجدان نشتوالی د نه وجود دليل نه دی. بيا دا منطق هم څه عجيبه دی چه د بيهقي يواځې دوه کتابونه ئې وليدل او فيصله ئې واوروله چه بيهقي دا روايت نه دی کړی دا د استدلال کوم ډول دی چه کوم شی په دوه کتابونو کښې نه وي هغه به د بيهقي په يوه کتاب کښې هم نشته برسيره پر دې له امام احمد رحمه الله څخه په نقل کښې بيهقي يواځې نه دی بلکه موفق الدين ابن قدامه. شمس الدين ابن قدامه او شيخ الاسلام ابن تيميه هم ناقلين دي کما مرّ

له امام احمد رحمه الله څخه علاوه له حافظ ابن عبد البر رحمه الله څخه هم د اجماع قول منقول دی و نصه لاخلاف انه نزل فی هذا المعنی دون غيره (اوجز المسالك ج۱، ص۲۴۸)

د اجماع تر ثبوت وروسته د دې آيت د شان نزول په اړه د مزيد کوم روايت ضرورت نشته سره له دې د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم. تابعينو او تر دوی وروسته رحمهم الله ارشادات ملاحظه کړی

۱ - صلی ابن مسعود رضی الله عنه فسمع اناسا يقرؤن مع الامام فلما انصرف قال اما ان لكم ان تفهموا اما ان لكم ان تعقلوا وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا كما امركم الله تعالی. (تفسير ابن جرير ج۹، ص۱۰۳)

۲ - قال عبد الله رضی الله عنه فی القراءة خلف الامام انصت للقرآن كما امرت فان فی القراءة لشغلا وسيكفيك ذلك الامام. (كتاب القراءة للبيهقی ص۴۲)

۳ - عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما فی قوله تعالی (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ۝) يعنی فی الصلوة المفروضة. (كتاب القراءة للبيهقی ص۴۲)

۴ قال ابن عباس رضی الله تعالی عنهما المؤمن فی سعة من الاستماع اليه الا فی صلوة مفروضة او مكتوبة او يوم جمعة او يوم فطر او يوم اضحی يعنی واذا قرئ القرآن الاية. (كتاب القراءة ص۴۲)

له حضرت عبد الله ابن مسعود او عبد الله بن عباس رضی الله تعالی عنهم څخه د دې مضمون نور هم څه روايتونه سته دلته مونږ له هر يوه څخه يواځې د دوه دوه روايتونو په نقل کولو باندې اکتفاء کوو

په لومړي روايت کښې يو راوي محاربي دی د دوه په باره کښې يو غير مقلد ليکلي دي چه د هغه نوم عبد الرحمن بن محمد بن زيد دی کوم چه د آخري درجې ضعيف دی

ليکن د هغه يو غلطي د دواړه دعوې غلطې دي په دې سند کښې عبد الرحمن بن محمد بن زيد

المحاربي نه دی بلکه یحیی بن یعلي المحاربي دی کوم چه په اتفاق سره ثقه دی. په هغه باندې هیڅ جرح نه ده کړې. امام ابو حاتم او حافظ ابن حبان د هغه توثیق کړی دی (تهذیب التهذیب ج۱۱. ص۳۰۲)

عبد الرحمن بن محمد بن زیاد المحاربي لره انتهائي ضعیف بلل هم غلط او سر تر پایه ظلم دی. د هغه په باره کښې اګر که ځینو د مضطرب کثیر الغلط یهم او داسې نورو الفاظ ویلي دي لیکن د دې لپاره صحیح نه دي چه دی د صحاح سته راوي دی. امام ابن معین، نسائي، ابو حاتم، ابن حبان، ابن سعد، ابن شاهین، بزار او دار قطني د هغه توثیق کړی دی. عثمان ابن ابي شیبه او ساجي ورته صدوق ویلي دي. امام وکیع فرمایي چه د اوږدو حدیثونو لوی حافظ وو. عجلي ئې په اره لابأس به ویلي دي (تهذیب التهذیب ج۶،ص۲۶۶)

تفسیر ابن جریر او ابن کثیر په ځینو نسخو کښې د کتابت په غلطۍ سره د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه د شاګرد نوم بشیر بن جابر لیکل شوی دی کوم چه قطعاً غلط دی. د مسند احمد بن حنبل ج۲،ص۳۸۴، مسند طیالسي ص۵۱، او صحیح مسلم ج۲، ص۳۹۲ کښې د یوه بل روایت په سند کښې یسیر بن جابر دی او همدا صحیح هم دی (نووي ج۲،ص۳۹۲، تجرید اسماء الصحابة للذهبي ج۲، ص۱۵۳، استیعاب ج۱،ص۱۰۰/و ج۳،ص۱۵۸۲)

د یُسیر بن جابر حافظ ابن حبان، ابن سعد او امام عجلي توثیق کړی دی او عوام بن حوشب هغه ته صحابي ګڼلی دی (تهذیب التهذیب ج۱۱،ص۳۷۹) حافظ ابن عبد البر هم هغه ته صحابي ویلي دی (استیعاب ج۱،ص۱۰۰/ ج۳،ص۱۵۸۲)

د دویم حدیث یوه راوي عبد الوهاب ثقفي په حافظه کښې په آخري عمر کښې څه ګډوډي راغلې وه لیکن په دې زمانه کښې هغه یو روایت هم نه دی بیان کړی (میزان الاعتدال ج۲،ص۱۶۱)

د دریم حدیث یو راوي عبد الله بن صالح لره ابن عدي مستقیم الحدیث ګڼلو تر څنګ لیکلي چه د سړي په قصد سره دروغ نه وایه لیکن په سند او متن کښې به ئې غلطي کوله (تهذیب التهذیب ج۵،ص۲۵۶)

د ابن عدي دا جرح د حدیث د جمهورو امامانو د تعدیل په مقابله کښې کوم وزن نه لري. امام ابن معین، ابو حاتم، ابن حبان، عبد الملک بن شعیب، ابو زرعه، یعقوب بن سفیان و مسلمه بن قاسم د هغه توثیق کوي. ابو هارون الخربي فرمايي چه ما نه یو صالح حجه زیات ثبت نه دی لیدلی. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمایي چه دی د صحیح بخاري راوي دی. امام بخاري رحمه الله

په الادب المفرد او جزء القرائت کښې هم له هغه څخه تخريج کړې دی امام حاکم او ذهبي او حافظ ابن کثير د هغه سند صحيح، قوي او جيد ګڼلی دی.

ابن القطان فرمايي چه دی صدوق دی په هغه باندې هيڅ يو داسې الزام ثابت نه شو چه د هغه پر بناء د هغه روايت ته غير معتبر وويل شي. البته دی مختلف فيه ی د هغه حديث حسن دی

د هغه د مختلف فيه کيدو وجه دا ده چه خالد بن نجيح يو شرير سړی وو کوم چه د ده ګاونډي وو هغه پرته له کومې وجې د هغه د بدنامولو کوشش کړی دی. (تهذيب التهذيب ج۷ص۲۵۹،۲۶۰/ تذکره ج۱،ص۲۵۶/مستدرك ج۲،ص۱۹۹/تفسير ابن کثير ج۲،ص۴۲۸)

د دې حديث د دويم راوي علي بن ابي طلحه باندې دوه اعتراضونه شوي دي يو دا چه د هغه په باره کښې امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمايي له اشياء منکرات.(ميزان ج۲،ص۲۲۸)

دويم اعتراض دا دی چه علي بن ابي طلحه ته له ابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه سماع حاصل نه دی څکه دا روايت منقطع دی.

د لومړي اعتراض ځواب دا دی چه د له اشياء منکرات مطلب دا نه دی چه د هغه په روايت کښې کوم امر قادح دی بلکه مطلب دا دی چه په هغه کښې خرابي دا وه چه ده د خليفه په مقابل کښې را وتل جائز ګڼلو ولکن له رأی سوء يری السيف کښې د دې تصريح دی و قال الحافظ رحمه الله و نقل البخاری رحمه الله من تفسيره رواية معاوية بن صالح عنه عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما شيئا کثيرا فی التراجم وغيرها ولکنه لا يسميه يقول قال ابن عباس رضی الله تعالی عنهما او يذکر عن ابن عباس وقد وقفت علی السبب الذی قال فيه ابو داؤد يری السيف.(تهذيب التهذيب ج۷،ص۳۴۰) امام نسائي، امام ابو داؤد، ابن حبان او محدث عجلي د هغه توثيق کړی دی (ميزان ج۲،ص۲۲۸/تهذيب التهذيب ج۷،ص۳۳۹)

امام مسلم رحمه الله له هغه څخه روايت کړی دی (صحيح مسلم ج۱،ص۲۶۵)

د دويم اعتراض ځواب دا دی چه علي بن ابي طلحه او ابن عباس رضی الله تعالی عنهما په منځ کښې مجاهد بن جبير او سعيد بن جبير واسطه دی او دا دواړه ثقه دي د دې لپاره دا سند له شبهې پرته صحيح دی (ميزان الاعتدال ج۲،ص۲۲۸ / تهذيب التهذيب ج۷،ص۳۳۹ / فتح الباری ج۸،ص۳۳۲/ تفسير اتقان ج۱،ص۱۹۸)

امام جعفر نحاس ... کتاب الناسخ و المنسوخ کښې د علي بن ابي طلحه له دې تفسيری صحيفې څخه نقل کړی دی (الاتقان ج۱ ص۱۸۹)

... بخاري رحمه الله په صحيح البخاري کښې او امام ابن جرير، ابن ابي حاتم و ابن المنذر و

داسې نور هم په تفاسيرو کښې له همدې صحيفې څخه نقل کوي (فتح الباری ج۸ ص۴۳۸)

د غير مقلدينو امام نواب صديق حسن خان صاحب ليکي اما روايت از ابن عباس رضی اللہ تعالی عنهما بطريق مختلف آمده اجود آنها طريق معاويه بن صالح از علی بن ابی طلحه از ابن عباس رضی اللہ تعالی عنهما است، بخاری در صحيح خود اعتماد بر همين طريق کرده پس بس ـ (اکسير فی اصول التفسير ص۱۱۰)

د خلورم حديث راوي مسکين بن بکير الحراني باندې اعتراض وارد شوی دی چه امام احمد او ابو احمد هغه وهمي او کثير الخطاء ويلي دي د دې ځواب دا دی چه د هغه وهم او خطا يواځې د سعيد بن عبد العزيز له روايت سره خاص دی پخپله ابو احمد تصريح کړې ده ومن ابن كان مسكين يخلط عن سعيد. (تهذيب التهذيب ج۱۰ ص۱۲۱) له سعيد څخه پرته د هغه په روايت کښې هيڅ وهم نشته چنانچه امام احمد. ابن معين. ابن حبان. ابن عمار او ابو حاتم د هغه توثيق کړی دی

له حضرت عبد الله بن مسعود او عبد الله بن عباس رضی اللہ عنہ څخه د دې مضمون نور هم څو روايتونه شته برسيره له دې دا ډول روايتونه له حضرت ابو هريره او عبد الله بن مغفل رضی اللہ عنہما څخه هم شته

د صحابی رضی اللہ عنہ د تفسير مقام

حاکم رحمہ اللہ فرمايي چه د امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله په نزد د صحابي تفسير د مرفوع حديث په حکم کښې دی (مستدرك ج۱ ص۱۲۳) د امام حاکم خپل تحقيق هم همدغه دی (معرفة علوم الحديث ص۲۰) اکثره علماء د صحابي تفسير د مرفوع په حکم کښې گڼي (البداية والنهاية ج۶ ص۲۳۳) علامه سيوطي رحمہ اللہ په نزد هم د صحابي تفسير مرفوع دی (تدريب الراوی ص۹۵) علامه جزائري رحمہ اللہ فرمايي چه کوم صحابي چه د وحی د نزول زمانه ميندلې وي د هغه د هر بوه آيت شان نزول بيانول د مرفوع په حکم کښې دی (توجيه النظر ص۱۶۵) نواب صديق حسن خان ليکي وكذا حكم اقوالهم في التفسير فانها اصوب من اقوال من بعدهم وقد ذهب بعض اهل العلم الى ان تفسيرهم في حكم المرفوع. (الجنة في الاسوة الحسنة بالسنة ص۹۹) وقال الحافظ ابن القيم تفسير الصحابي حجة. (زاد المعاد)

د حضراتو صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم له جملې څخه بالخصوص حضرت عبد الله بن مسعود او عبد الله بن عباس رضی اللہ عنہ تفسير ډېر لوړ مقام لري عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ ته نبي کريم ﷺ د قرآن په ښوونکو کښې لومړۍ درجه ورکړې ده (صحيح البخاری ج۱ ص۵۳۱/مسلم ج۱ ص۲۵۹) او وئې فرمايل چه د ابن مسعود تحقيق او عهد په مضبوطي سره ونيسی (استيعاب ج۲ ص۲۵۹) حضرت ابن

عمر رضی الله عنهما به فرمائي چه ابن مسعود د علم انبار وو (استعياب ج۲،ص۲۵۹) حضرت ابن عمر رضی الله تعالی عنهما فرمايي چه د ابن مسعود د علم انبار وو او دی ئې د قرآنکريم د ورنبوولو لپاره د کوفې خوا ته وليږه. (بغدادي ج۱،ص۱۴۷)

حضرت عقبة بن عامرﷺ فرمايي چه تر نبي کريمﷺ وروسته ما د پروردګار دنازل شوي احکامو تر حضرت ابن مسعود لوی عالم نه دی ليدلی حضرت ابو موسیٰﷺ د دې وجه دا بيانوي چه ابن مسعود به هر وخت د نبي کريمﷺ په خدمت کښې حاضر باش اوسيده او نبي کريمﷺ له ده څخه هيڅ وخت حجاب نه کاوه (صحيح المسلم ج۲،ص۲۹۳) د دې لپاره حضرت ابن مسعودﷺ به ښکاره ويل چه د په هغه خدای قسم چه له هغه نه بغير بل معبودنشته د قرآنکريم يو سورت او يو آيت داسې نشته چه د هغه د شان نزول علم ما ته نه وي چه په کوم موقع او کو حالت کښې نازل شوی دی او زه د کتاب الله له ځان څخه لوی عالم نه وينم همدارنګه ئې وفرمايل چه ټولو صحابه وو ته په ښه توګه معلومه ده چه زه د کتاب الله له دوی ټولو څخه لوی عالم يم (صحيح البخاري ج۲، ص۷۴۸/صحيح مسلم ج۲،ص۲۹۳) امام نووي رحمه الله فرمايي چه ابن مسعودﷺ له خلفاء راشدينو څخه هم د کتاب الله لوی عالم دی (مسلم ج۲،ص۲۹۳)

حضرت عبد الله بن مسعودﷺ باندې دا الزام لګيږي چه دی معوذتين له قرآنکريم څخه نه ګڼه ليکن دا سراسر بهتان او افتراء ده علامه ابن حزم فرمايي كل ما روى عن ابن مسعود رضي الله تعالىٰ عنه من ان المعوذتين وام القران لم يكونا في مصحفه فكذب موضوع لا يصح. (محلى ج۱،ص۱۳) علامه سيوطي فرمايي وما نقل عن ابن مسعودﷺ باطل ليس بصحيح. (اتقان ج۱،ص۷۹)

امام نووي رحمه الله هم به شرح المهذب کښې فرمايلي دي امام سبکي فرمايي چه دا خبره له قطعي دليل څخه ثابته ده چه دا به ابن مسعود باندې افتراء ده او هغه له دې څخه بالکل بري دی (طبقات ج۲،ص۲۰۷)

د تفسير په فن کښې حضرت عبد الله بن مسعودﷺ نه وروسته دوېمه درجه د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله تعالی عنهما ده حضرت عمرﷺ غوندې د بصيرت خاوند هم د قرآن په تفسير کښې د هغه خو ته رجوع کوو (صحيح بخاري ج۲،ص۶۳۲)

نبي کريمﷺ د ده لپاره دعاء کړې وه چه اې الله هغه په دين کښې پوهه او د قرآنکريم په تفسير کښې مهارت ور په برخه کړه (مسند احمد ج۱،ص۳۲۸) قال الهيثمي رجاله رجال الصحيح. (مجمع الزوائد ج۹، ص۲۷۶) وصححه ابن كثير. (البداية والنهاية ج۸،ص۲۹۰) وقال ابن عمر رضي الله تعالىٰ عنهما ابن عباس اعلم

الناس بما انزل الله علی محمد ﷺ. (البدایة والنهایة ج۸، ص۳۰۰) علامه ذهبي فرمايي چه دی د دين امام.
د علم سمندر او ډير لوی عالم وو (تذکرة ج۱، ص۳۷)

له دې وروسته مونږ د (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا) د شان نزول په اړه دخينو تابعينو روايتونه نقل کوو د قرآن په تفسير کښې تر صحابهٔ کرامو وروسته د تابعينو رحمهم الله درجه ده.
د جمهورو امامانو په نزد د تابعينو تفسير حجت دی (تفسیر ابن کثیر ج۱، ص۵۱۳) نواب صديق احمد خان صاحب وائي وهکذا تفسیر التابعي حجة. (الجنة في الاسوة الحسنة بالسنة ص۹۶)
مجاهد بن جبر رحمه الله

په تفسير کښې د تابعينو رحمهم الله له جملې په خاصه توګه حضرت مجاهد بن جبر رحمه الله مقام ډير لوړ دی. امام ذهبي رحمه الله فرمايي چه د ده امامت او د شان جلالت (لوړوالی) متفق عليه دی
حضرت خصيف رحمه الله فرمايي چه دی د تفسير تر ټولو لوی امام وو (تهذیب الاسماء ج۱، ص۸۳)
حافظ ابن کثير رحمه الله فرمايي چه دی د مفسرينو له امامانو څخه وو او د حضرت ابن عباس رضی الله عنه له خصوصي شاګردانو څخه وو او پخپلې زمانې کښې د تفسير تر ټولو لوی عالم وو (البدایة و النهایة ج۹، ص۲۲۴)
همدارنګه فرمايي چه مجاهد بن جبر رحمه الله د فنِ تفسير منلی شوی امام دی سفيان ثوري به فرمايل چه کله تاسو ته د مجاهد تفسير در ورسيږي نو بيا د بل چا د تفسير حاجت نه پاتې کيږي تر مجاهد وروسته سعيد بن جبير، عکرمه، عطاء بن رباح، حسن بصري، مسروق، سعيد بن لمسيب، ابو العاليه ربيع بن انس، قتاده او ضحاک ابن مزاحم او داسې نورو رحمهم الله درجه ده (تفسیر ابن کثیر ج۱، ص۵۱۳) نواب صديق حسن خان فرمايي ابن تيميه ګفته اعلم الناس بالتفسير اهل مکة کمجاهد مخکښې له ابن تيميه څخه نقل کوي چه له دې وجې څخه امام شافعي او امام بخاري رحمهما الله د ده په تفسير باندې پوره اعتماد کړی دی (الاکسیر فی اصول التفسیر)
اوس د مجاهد رحمه الله روايتونه ملاحظه کړئ

۵ - ابن ابي نجيح حضرت مجاهد بن جبر رحمه الله څخه روايت کوي **کان رسول الله ﷺ يقرأ في الصلوة فسمع قراءة فتی من الانصار فنزل واذا قرء القرآن الآية.** (کتاب القراءة للبيهقي ص۶۲)

۶ - ابو هاشم اسمعيل بن کثير المکي مجاهد بن جبر رحمه الله څخه روايت کوي **واذا قرء القرآن فاستمعوا له قال في الصلوة.** (کتاب القراءة ص۶۳)

۷ - حميد اعرج له حضرت مجاهد رحمه الله څخه روايت کوي **واذا قرء القرآن فاستمعوا له قال في الصلوٰة (کتاب القراءة ص۶۲)**

مونږ له مجاهد رحمه الله څخه په همدغو څو روايتونو باندې اکتفاء کوو او که نه نو له ده څخه د صحيحو اسنادو له مخې نور هم ګڼ روايتونه د همدې مضمون شته

امام بيهقي د کتاب القرائت په مخ ۷۲ کښې فرمايي چه د مجاهد دا روايت منقطع دی آه. ليکن ابو زرعه. ابو حاتم او دار قطني غوندې مشهورو د حديثو امامان په منقطع او مرسل کښې کوم فرق نه کوي **قال العلامة الجزائري رحمه الله وقد اطلق المرسل على المنقطع من ائمة الحديث ابو زرعة وابو حاتم والدارقطني (توجيه النظر ص۲۲۳)**

سعيد بن المسيب رحمه الله :

امام شافعي رحمه الله د نورو تابعينو په مراسيلو په حجيت کښې څه خبره کوي ليکن د صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم د مراسيلو غوندې د سعيد بن المسيب مرسل هم حجيت مني **(تدريب الراوي ص۱۲۰)** امام ابن معين فرمايي چه د ده مراسيل تر ټولو صحيح دي **(تدريب الراوي ص۱۲۲)** امام احمد رحمه الله فرمايي چه د ده ټول مراسيل صحيح دي **(تذکرة ج۱ ص۵۱) قال احمد بن حنبل رحمه الله مرسلات سعيد بن المسيب اصح المرسلات. (تدريب الراوي ص۱۲۲)** حاکم فرمايي چه په ټولو مراسيلو کښې صحيح ترين مراسيل د ده دي **(معرفة علوم الحديث ص۲۵)** امام بيهقي د ده مراسيل اصح المراسيل ګڼي **(السنن الکبرٰی ج۱ ص۴۲۱)** علامه جزائري فرمايي چه په مراسيلو کښې صحيح ترين مراسيل د سعيد بن المسيب دي **(توجيه النظر ص۱۶۶)**

امام نووی فرمايي چه د ده په امامت او جلالت باندې د ټولو اتفاق دی. په علمي فضيلت او ټول اعمال خير کښې له خپلو ټولو هم معاصرو څخه ممتاز وو او د ده په تفوق (لوړوالي) او برتري بهتري باندې د ټولو علماوو اتفاق دی حافظ ابن حبان رحمه الله فرمايي چه که دی پخپلې زمانې کښې د مدينې د خلکو سردار وو **(تهذيب الاسماء ج۱ ص۲۲۰)** حافظ ذهبي ده لره د تابعينو په مشرانو کښې شمېروي **(تذکرة ج۱ ص۴۸)** ابن حماد رحمه الله فرماني چه په ده کښې فقه. زهد. ورع. عبادت او ټول علمي او عملي کمالات يو ځای شوي وو **(شذرات الذهب ج۱ ص۱۰۲)** حافظ ابن کثير فرمايي چه دی على الاطلاق د تابعينو سيد وو. حضرت ابن عمر رضي الله عنهما ده ته احد المفتين ويل **(البداية والنهاية ج۹ ص۹۹)** امام يحيی بن سعيد به ويل چه له ده څخه به چه کله د کوم آيت د

تفسير پوښتنه کيدله نو ده به ويل چه مونږ د قرآن په تفسير کښې خپله رايه نه داخلوو بلکه يواځې هغه ويلی شو چه د هغه مونږ ته علم وي (تفسير ابن كثير ج۱،ص۶)

د ده روايت په لاندې ډول دی

۸ - حضرت قتاده رحمه الله له حضرت سعيد بن المسيب رحمه الله څخه روايت کوي **واذا قرء القرآن فاستمعوا له وانصتوا قال في الصلوة (كتاب القراءة ص۵۰)**

د دې روايت په سند کښې حماد بن سلمه دی. هغه ته علامه ذهبي الامام. الحافظ. المحدث او د شيخ الاسلام غوندې القاب ورکوي **(تذكره ج۱،ص۱۸۹)** امام احمد رحمه الله فرمايي چه کوم سړی چه د حماد بن سلمه په حق کښې څه وائي **فاتهمه على الاسلام** يعني هغه منافق وګڼی **(تذكره ج۱، ص۱۹۰)** له امام ابن معين څخه هم همدغه الفاظ منقول دي **(تهذيب التهذيب ۳،ص۲۶۰)** نواب صديق حسن خان صاحب فرمايي چه. گويم حماد بن سلمه امام است تفردش ما دام که در مرويش مانع از اصول نبود مضر نيست. **(بدور الاهلة ص۳۶)** په آخر کښې د هغه په حافظه کښې لږ غوندې تغير راغلی وو **(تقريب ص۱۰۱)** ليکن د حديثو د اصولو منل شوې قاعده دا ده چه د ثقه رواتو روايتونه د لږ غوندې نسيان له وجې ردول صحيح نه دي د تفصيل لپاره مفتح المغيث ص۱۳ ملاحظه کړی په **لسان الميزان ج۱،ص۱۷، ميزان الاعتدال ج۲،ص۲۳۱، ج۲،ص۲۵۵، او بغدادي ج۱۳،ص۱۳۰** کښې هم د لږ وهم او کم تغير له وجې په ثقاتو باندې اعتراض کوونکو سخت ترديد او نکير شوی دی

په دې روايت باندې دا اعتراض شوی دی چه په دې کښې قتاده مدلس دی د دې لپاره د هغه عنعنه مقبوله نه ده د دې ځواب دا دی چه د حضرت قتاده رحمه الله تدليس د حديثو امامانو غير مضر تاوان نه رسوونکی، ګڼلی دی علامه جزائري رحمه الله له ابن حزم رحمه الله څخه د داسې مدلسينو فهرست نقل کوي چه د هغو تدليس د روايت په صحت باندې اثر نه اچوي **منهم كان جلة اصحاب الحديث وائمة المسلمين كالحسن البصري و ابي اسحق السبيعي و قتادة بن دعامة و عمرو بن دينار و سليمان الاعمش وابي الزبير وسفيان الثوري وسفيان بن عيينة. (توجيه النظر ص۲۵۱)**

امام حاکم رحمه الله فرمايي چه د کومو مدلسينو تدليس تاواني دي د هغو له جملې څخه ابو سفيان طلحة بن نافع او قتادة بن دعامه په څنګړي توګه د يادولو وړ دي **(معرفة علوم الحديث ص۱۰۳)** په صحيحينو کښې د قتاده روايتونه له عنعنې سره سره بيخي ډېر دی دا د صحيحينو خصوصيت نه شي ويل کيدلی د دې لپاره امام حاکم او ابن حزم نوموړي فيصله عامه ده په معرفه علوم الحديث مخ ۱۰۷ کښې د سليمان شاذ کوفي قول منقول دی چه د اعمش و قتاده يواځې هغه

روايتونه معتبر دي چه په هغو کښې د سماع تصريح موجود وي ليکن لږ غوندې په لسان الميزان ج۱، ص۸۴ کښې پخپله د سلميان شاذ کوفي (تانا بانا) هم وګورئ د حديثو امامانو هغه ته دا القاب ورکړي دي کذاب، د احاديثو واضع، شرابي، بيهوده، نامراد، عدو الله، خبيث، د وېښو په لوبولو باندې متهم

حافظ ابن حجر رحمه الله پخپل کتاب طبقات المدلسين کښې قتاده د مدلسينو په دريمې طبقې کښې ګڼلې چه د هغو عنعنه قبول نه دي ليکن پخپله حافظ رحمه الله په فتح الباري کښې د قتاده منعن روايتونه صحيح بولي د مثال په توګه ج۲، ص۲۰۲ وګورئ او پخپله د حافظ فيصله ده چه د هغه په نظر کښې د فتح الباري تحقيق زيات راجح او د اعتماد وړ دی د مدلسينو طبقات د ده د ابتدائي دور تصنيف دی او په دې زمانې کښې په تصنيفونو باندې دی پخپله مطمئن نه دی چنانچه قاضي شوکاني فرمايي ونقل عنه انه قال لست راضيا عن شيء من تصانيفي لاني عملتها في ابتداء الامر ثم لم يتهيأ لي من يحررها مع سوى شرح البخاري ومقدمته والمشتبه والتهذيب ولسان الميزان وروى عن في موضع اخر انه اثنى على شرح البخاري والتعليق والنخبة. (البدر الطالع ص۸۹ طبع ۱۳۴۸ هجري) له دې څخه ثابته شوه چه حافظ رحمه الله په طبقات المدلسين کښې د قتاده د عنعنه په باره کښې چه څه ليکلي دي وروسته ئې له هغو څخه رجوع کړې ده.

حضرت حسن بصري رحمه الله

۹ - منصور له حضرت حسن بصري رحمه الله څخه روايت کوي چه ده وفرمايل. واذا قرء القرآن فاستمعوا له وانصتوا قال في الصلوة. (کتاب القراءة ص۵۵)

امام المحدثين علي بن المديني فرمايي چه د حسن بصري رحمه الله مراسيل چه ثقه راوي ئې نقل کړي بالکل صحيح وي (تدريب الراوي ص۱۲۲)

ابن سعد فرمايي چه حسن بصري جامع الکمالات، عالم، د لوړې مرتبې خاوند، رفيع المنزله، فقيه، مامون، عابد، زاهد، وسيع العلم، فصيح، بليغ، حسن او جميل وو (طبقات ابن سعد ج۷ ص۱۱۵) علامه ذهبي فرمايي چه دی د علم سمند، فقيه النفس، کبير الشان، عديم النظير او بليغ التذکير وو (تذکره ج۱، ص۶۲) امام نووي فرمايي چه د ده د شان په جلالت سړي د ټولو اتفاق دی (تهذيب الاسماء ج۱، ص۱۶۱) ابو بکر الهندلي فرمايي چه حسن بصری رحمه الله نه تر هغو پورې د سوره سورت تفسير و د هغه شان نزول او داسې نورو پوره علم نه حاصلاوه تر هغو پورې نه مخکښې نه تلو (شذرات ج۱، ص۱۳۶) دی د فقهې لوی امام او د بصرې لوی مفتي وو قتاده فرمايي چه دی د

حلالو او حرامو تر ټولو لوی عالم وو (طبقات سعد ج۱ ص۱۱۸ قسم اول) حافظ ابن کثیر رحمه الله د ده په حق کښې الامام الفقيه المشهور احد التابعين الكبار الاجلاء ليکي او فرمايي چه دی په علم، عمل او اخلاص کښې خانګړی وو. (البداية والنهاية ج۹ ص۲۹۹) نواب صديق حسن خان صاحب فرمايي چه حسن بصري او محمد بن القرظي و ابو العالية الرياحي او داسې نور رحمهم الله اين جما قدماء مفسرين اند وغالب اقوال ايشان متلقى از صحابه رضي الله عنهم بوده است. (اکسير ص ۱۱۰)

امام زهري رحمه الله

۱۰ - يونس له امام زهري رحمه الله څخه روايت کوي قال لا يقرأ من وراء الامام فيما يجهر به الامام يكفيهم قراءة الامام وان لم يسمعهم صوته ولكن يقرؤن فيما لا يجهر به سرا في انفسهم ولا يصلح لاحد خلفه ان يقرأ معه فيما جهر به سرا ولا علانية قال الله تعالى: وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ○ (كتاب القراءة ص۵۰) په سرّي لمونځونو کښې د قرائت خلف الامام حکم به مخکښې راشي انشاء الله تعالى دلته يواځې دا مقصود دی چه امام زهري رحمه الله هم د واذا قرء القران الاية. شان نزول په لمانځه کښې د قرائت په باره کښې بولي

امام شافعي رحمه الله فرمايي چه زهري په حديثو، تفسير او د رجالو په توثيق کښې امام دی (الرسالة للامام الشافعي ص۶۳) حافظ ابن کثير د ده په باره کښې فرمايي چه احد الاعلام من ائمة الاسلام تابعي جليل واعلم الناس. (البداية والنهاية ج۹ ص۳۴۰) امام بيهقي فرمايي چه د ده په زمانه کښې له ده څخه پورته د حديثو حافظ، عالم او د حديثو جامع او مرتب بل څوک نه وو (كتاب القراءة ص۵۰) امام ابن المديني فرمايي چه په حجاز کښې د ثقاتو ټول علم د زهري او عمرو بن دينار تر منځ تقسيم وو (تذكرة ج۱ ص۹۹) عمر بن عبد العزيز رحمه الله به ويل چه اوس له زهري څخه پورته څوک د پورته شوي سنت پوهيدونکی نه دی باقي شوی (تذكرة ج۱ ص۹۹) عمرو بن دينار به ويل چه ما په حديثو کښې څوک تر ده زيات انصّ نه دی ليدلی (تهذيب التهذيب ج۹ ص۴۴۸) ابن خلکان ليکي چه د مدينې د اوه وارو مشهورو فقهاوو علم د ده په سينه کښې محفوظ وو (الوفيات الاعيان ج۱ ص۴۵۱) حافظ ابن تيميه فرمايي چه دی بخپل وخت کښې د سنتو او حديثو لوی امام وو (الفتاوی ابن تيمية ج۲ ص۱۳۵)

ابو العالية الرياحي رحمه الله

۱۱ - مهاجر ابو العاليه رياحي رحمه الله څخه روايت كوي **كان النبي صلى الله عليه وسلم اذا صلى قرأ فقرأ اصحابه فنزلت فاستمعوا له الاية فسكت القوم وقرأ النبي صلى الله عليه وسلم.** (كتاب القراءة ص۶۲)
امام نووي رحمه الله فرمايي چه ابو العاليه رياحي له كبارو تابعينو څخه وو. ابو القاسم طبري فرمايي چه د ده په توثيق باندې ټول متفق دي (تهذيب الاسماء ج۱،ص۲۵۱)
ابو بكر بن داؤد وائي چه تر صحابهٔ كرامو رضي الله عنهم وروسته ابو العاليه څخه پورته څوک د قرآن عالم نه وو (تذكره ج۱،ص۵۸) ابن سعد ده ته كثير الحديث وائي (طبقات ابن سعد ج۷،ص۸۵) پخپله امام بيهقي په لمانځه كښې د قهقهې حديث نه بغير د ده پاتې ټول حديثونه صحيح بولي (السنن الكبرى ج۱،ص۱۴۷) امام عجلي فرمايي چه دى له ثقه او لويانو تابعينو څخه دى امام ابن عدي فرمايي چه د په لمانځه كښې د خندا له حديث څخه پرته د ده ټول احاديث صحيح دي (تهذيب التهذيب ج۳،ص۲۸۵) مولي طاش كبري زاده فرمائي چه دى د لويانو تابعينو څخه وو د نبي كريم ﷺ تر وفات يو اخې دوه كاله وروسته ئې اسلام راوړ او د حضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه په خدمت كښې حاضر شو د حضرت عمر رضي الله عنه پسې ئې لمونځ كړى دى او له صحيح روايت څخه ثابت دى چه ده حضرت عمر رضي الله عنه ته درې ځله قرآنكريم ور اورولى وو (مفتاح السعادة ج۱،ص۳۶۴/ تهذيب التهذيب ج۳،ص۲۸۴)

قال الذهبي اما اذا اسند ابو العالية فحجة. (ميزان ج۱،ص۳۳۰) له دې څخه ښكاره شوه چه د ابو العاليه مرسل حجت نه دى ليكن جمهورو محدثينو د ذهبي دا قول نه دى قبل كړى د دې لپاره حافظ ابن حجر رحمه الله دې لره په تهذيب التهذيب كښې نه دى نقل كړى

عبيد بن عمير و عطاء بن ابي رباح رحمهما الله

۱۲ طلحه بن عبيد الله بن كريز له عبيد بن عمير او عطاء بن ابي رباح رحمهما الله څخه روايت كوي **انما ذلك في الصلوة يعني و اذا قرئ القرآن فاستمعوا له و انصتوا الاية.** (تفسير ابن جرير ج۹،ص۱۱۰/ تفسير ابن كثير ج۳،ص۱۲۳) علامه ذهبي فرماى چه عبيد بن عمير عالم، واعظ او د لوى قدر خاوند وو (تذكره ج۱،ص۴۸) ابن معين، ابو زرعه او ابن حبان ده ته ثقه ويلي دي عجلي فرمائي چه دى ثقه او كبارو تابعينو څخه دى حضرت ابن عمر رضي الله عنهما به د ده د وعظ مجلس ته به حاضريده او د ده نه

ني معريف كاوه (تهذيب التهذيب ج۲، ص۴۱)

عطاء بن رباح رحمه الله ته ذهبي د مكې د خلكو مفتي، محدث، القدوة او العلم وئلي دي (التذكرة ج، ص۹۲) ابن حبان فرمايي چه دی په فقه، ورع او فضل كښې د تابعينو سردار دی حافظ ابن حجر دی ثبت، حجه، امام او كبير الشان ليكي (تهذيب التهذيب ج۷، ص۲۰۴) حافظ ابن كثير فرمايي چه دی له كبارو، ثقاتو او د لوړې مرتبې له تابعينو څخه وو. له دوه سوه صحابهٔ كرامو ﷺ سره ملاقات شوی دی ابن سعد فرمائي چه دی ثقه، فقيه، عالم او كثير الحديث وو (البداية والنهاية ج۹، ص۳۰۶)

محمد بن كعب القرظي رحمه الله

۱۳ ـ ابو معشر محمد بن كعب رحمه الله څخه رايت كوي چه نبي كريم ﷺ به چه كله په لمانځه كښې قرائت كاوه نو په ده پسې به صحابهٔ كرامو ﷺ هم له ده سره قرائت كاوه په دې باندې د سورهٔ اعراف دا آيت (واذا قرء القرآن فاستمعوا له وانصتوا ـ الآية) نازل شو (كتاب القراءة ص۶۶) ابن حبان فرمايي چه محمد بن كعب القرظي رحمه الله په علم او فقه كښې د مدينې منورې له فاضل ترينو علماوو څخه وو (تهذيب التهذيب ج۹، ص۴۲۱) امام نووي رحمه الله فرمائي چه دی د تابعينو له امامانو څخه وو (تهذيب الاسماء ج۱، ص۹۰ قسم اوّل) حافظ عجلي ده ته ثقه، صالح او عالم قرآن ويل ابن سعد ده ته ثقه، عالم او كثير الحديث وائي عون بن عبد الله فرمائي چه ما په تفسير قرآن كښې له هغه څخه لوی عالم څوک نه دی ليدلی (البداية و النهاية ج۹، ص۲۵۸/ تهذيب التهذيب ص۴۲۰، ج۹) علامه ذهبي فرمايي چه دی د قرآن مفسر وو (دول الاسلام ج۱، ص۵۶) حافظ ابن كثير فرمايي چه دی د قرآن د تفسير عالم، صالح او عابد سړی وو (البداية و النهاية ج۹، ص۲۵۸) نبي كريم ﷺ پيشګوئي وړاندې وينه، كړې وه چه په بنو قريظه كښې به يو سړی پيدا شي چه د تفسير په فن كښې به د هغه مثال نه وي ائمه رحمهم الله فرمايي چه دا وړاندوينه د محمد بن كعب القرظي په باره كښې ده (البداية والنهاية ج۹، ص۲۵۸) مولانا مباركپوري فرمايي چه په مدينه كښې تر محمد بن كعب وروسته زيد بن اسلم غوندې د قرآن مفسر بل نه وو (تحفة الاحوذي ج۱، ص۲۱۴)

مباركپوري صاحب د مذكوره زيد بن اسلم په باره كښې ليكي چه امام احمد، ابن معين او ابو زرعه غوندې جليل القدرو امامانو د ده توثيق كړی دی ... فرمايي چه ده څخه لويو لويو فقهاؤ روايت كړی دی (ميزان الاعتدال ج۲، ص۱۰۲، تهذيب

التهذيب ج۱۰ص۴۲۰) امام نعيم ده تل كيّس او حافظ ويلى دى (تهذيب التهذيب ج۱۰ص۴۲۰) علامه ذهبي فرمايي چه د ده علم ظرف وو او امام نسائي له هغه ره احتجاج كرى دى (تذكرة ج۱ص۲۱۹) حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي چه دى د نسائي، ابو داؤد، ترمذي او ابن ماجه راوي دى (تهذيب التهذيب ج۱۰ص۴۱۹)

برسيره پر دې چه كومو محدثينو ده ته ضعيف ويلى دى هغوى هم دى يواخى د حديثو په روايت كښې ضعيف بولي د تفسير په فن كښې دى په اتفاق سره منل شى امام وو. لكه څرنګه چه امام احمد بن حنبل، محمد بن عثمان بن ابي شيبة، علي بن المديني او عمرو بن علي الفلاس او داسې نور د حديثو امامان رحمهم الله فرمايي چه د ابو معشر د تفسير په اړه رواتونه په خصوصي توګه هغه روايتونه چه له محمد بن قيس او محمد بن كعب څخه ئې نقل كوي پرته له چون او چرا ښه صحيح او معتبر دي (تهذيب التهذيب ج۱۰ص۴۲۰) د ده مذكوره روايت د تفسير په باره كښې دى او له محمد بن كعب څخه دى د دې لپاره په اتفاق سره صحيح او معتبر دى همدارنګه له ده څخه د تاريخ روايت هم په اتفاق سره حجت دى امام خليلي فرمايي وتاريخه احتج به الائمة وضعفوه في الحديث. (تهذيب التهذيب ج۱۰ص۴۲۲) لكه محمد بن اسحاق چه سره خى د احكامو په اړه په احاديثو كښې ضعيف دى ليكن د مغازي امام دى

حجيّة المرسل

د آيت كريمه د شان نزول په اړه له حضراتو صحابة كرامو رضي الله عنهم او تابعينو رحمهم الله څخه چه كوم رواتونه موږته نقل شول دا د هغوى خپل خيال نه دى بلكه د مرفوع حديث په حكم كښې دى يعنى د هغو له روايت څخه ښكاري چه بغير له صحابة كرامو رضي الله عنهم دا شان نزول بيان كړى دى. د صحابه وو د تفسير په اړه پورته له ټولو حوالو څخه ثابته شوى ده چه په حكم دې مرفوع كښې دى همدارنګه د امت د جمهورو په نزد د تابعينو رحمهم الله تفسير هم په حكم د مرفوع دى. د دې لپاره جمهور محدثين او د دين امامان مرسل لره حجت مني قبول ئې بولي او له هغو وروسته د دوهمې پېړۍ تر آخره پورې د ټولو امامانو په اجماع سره د مرسل د حجيت قايل وو

وقال ابن جرير اجمع التابعون باسرهم على قبول المرسل ولم يأت عنهم انكاره ولا عن احد من الائمة بعدهم الى رأس المأتين قال ابن عبد البر كأنه يعني الشافعي اول من رده (توجيه النظر للجزائري ص۲۲۲ تدريب الراوى للسيوطي ص۱۲۰ منية الالمعي للعلامة قاسم بن قطلوبغا ص۲۰) و قال العلامة الكوثري رحمه الله والاحتجاج بالمرسل كان سنة متوارثة جرت عليه الامة في القرون الفاضلة حتى قال ابن

جرير رد المرسل مطلقاً بدعة حدثت في رأس المأتين آه كما ذكره الباجي في اصوله و ابن عبد البر في التمهيد و ابن رجب في شرح علل الترمذي (تأنيب الخطيب ص۱۵۲) واما المراسيل فقد كان يحتج بها العلماء فيما مضى مثل سفيان الثوري و مالك و الاوزاعي حتى جاء الشافعي فتكلم فيه. (توجيه النظر ص۲۲۵) و كان ذكر النواب صديق حسن خان في الحطة في ذكر الصحاح الستة ص۱۰۶۔

همدارنگه نواب صاحب فرمايي اعلال بارسال موجب ترک او نيست زيرا که قبول مراسيل مذهب جمع از فحول علماء اصول است (دليل الطالب ص۲۲۵)

د مرسل د حجيت تر ټولو مخکښې امام شافعي رحمه الله انکار کړی دی تر ده مخکښې د مرسل په قبول والي باندې اجماع وه. امام احمد رحمه الله هم مرسل لره حجت ګڼي امام شافعي رحمه الله هم د مرسل د حجيت قطعاً انکار نه کاوه بلکه د ځينو شرائطو سره هغه هم مرسل قبلاوه قال الحافظ رحمه الله وقال الشافعي رحمه الله يقبل اذا اعتضد بمجيئه من وجه آخر يباين الطريق الاولى مسنداً كان او مرسلا. (شرح نخبة الفكر ص۵۲) بلکه شيخ الاسلام زکريا انصار فرمايي چه د مرسل مؤيد اګر که ضعيف هم وي نو ب هم قبليږي (حاشيهٔ شرح نخبه)

و قال الامام النووي رحمه الله و مذهب مالك و ابي حنيفة و احمد و اكثر الفقهاء رحمهم الله تعالى ان يحتج به و مذهب الشافعي رحمه الله انه اذا انضم الى المرسل ما يعضده احتج به وذلك بان يروى مسنداً او مرسلاً من جهة اخرى او يعمل به بعض الصحابة رضي الله تعالى عنهم او اكثر العلماء. (مقدمة النووي لشرحه لصحيح المسلم ص۱۶)

امام ابن تيميه فرمايي اذا كان المرسل من وجهين كل من الراويين اخذ العلم عن شيوخ آخر فهذا يدل على صدقه فان مثل ذلك لا يتصور في العادة تماثل الخطاء فيه و تعمد الكذب. (منهاج السنة ج۴ ص۱۱۰) د دې مرسل په حجيت باندې امام بيهقي په کتاب القراءت ص۱۴۳ کښې، حافظ ابن تيميه د [illegible] ج۱، ص۱۰۵ کښې او مبارکپوری په ابکار المنن ص۱۳۸ کښې [illegible] نقل کړی دی همدارنګه مبارکپوری فرمايي د معتضد مرسل په حجت والي کښې هيڅ شبهه نشته (تحقيق الكلام ج۱ ص۹) مونږ پوره د مدرسه [illegible] ص۱۲ [illegible] ليکلي دي [illegible] مراسيل امام شافعي رحمه الله هم [illegible] کښې حجت [illegible] که [illegible] مرسل [illegible] مسند د هغه مؤيد [illegible] ګرځيدلی نه وي

غرض دا چه د آيت کريمه (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا) [illegible] مذکوره مرسل د امام شافعي و [illegible] ص [illegible] ثبوت [illegible] حجت [illegible]

د غير مقلدينو امامان

د غير مقلدينو امامانو هم د دې څرګند حقيقت په اعتراف مجبور دي چنانچه امام بيهقي د چې چه په کتاب القرائت باندې د غير مقلدينو د مسلک مدار دی فرمايي **الا لا نتکر نزول هذه الآية في الصلوة او في الصلوة والخطبة کما ذهب اليه من ذکرنا قوله من سلف هذه الامة. (جزء القراءة ص٧٧)**

وقال الشوکاني لان عمومات القران والسنة قد دلت على وجوب الانصات والاستماع والتوجه حال قراءة الامام للقران. (نيل الاوطار ج٢، ص٢٢٦)

وقال ابن تيمية اللذين ينهون عن القراءة خلف الامام جمهور السلف والخلف ومعهم الکتاب والسنة الصحيحة والذين اوجبوها الحديثهم ضعفه الائمة. (تنوع العبادات ص٨٦)

وقال ايضاً وقول الجمهور هو الصحيح فان الله سبحانه وتعالى قال (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ○) قال احمد اجمع الناس على انها نزلت في الصلوة. (فتاوی ابن تيمية ج٢، ص١٤٣)

نواب صاحب فرمايي ((اين آيت دلالت نمی کند مگر بر منع قرائت در حال جهر امام بقرائت لقوله (فاستمعوا) و استماع نمی باشد مگر از برائے قرائت مجهور بهانه برائے قرائت مخافتت

اوس مونږ په قرآني نصّ کښې د مخالفې ډلې رکيک (سُست او کمزوري) تاويلات ګنوو

١. د مبارکپوري تعنّت (نکته چيني يا باطله وينا)

مبارکپوري صاحب په تحقيق الکلام او تحفة الاحوذي کښې فرمايي چه د دې آيت خطاب مؤمنانو ته نه دی بلکه کافرانو ته دی کومو چه د تبليغ په وخت کښې **شور او غوغا جوړاوه او دا** نی ويل چه قرآن مه اورئ لکه څرنګه چه امام رازي **پخپل تفسير کبير ج٤ ص٥٠٢** کښې ليکلي دی او دليل ئې دا وړاندې کړی دی چه که چرته واقعي **هم خطاب مؤمنانو ته وای نو دلعلکُم د لفظ** به څه ضرورت وو؟ ځکه چه دا لفظ د ترجي (اميد يا هيله) لپاره راځي او **مؤمن په هر حال کښې** د خداوندي رحمت مورد او مستحق دی

د مبارکپوري صاحب دا تحقيق بواځې تعنّت دی ځکه چه مونږ مخکښې د امت له اجماع څخه ثابته کړه چه د امت کرښمه به لمانځه کښې د قرائت په باره کښې نازله شوې دی

امام رازي

د امت د اجماع په خلاف د امام رازی رحمه الله خبره معتبره نه دی ... [illegible]

امام مني ليكن په تفسير او حديث كښې ئې ضعيف گڼي

چنانچه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي امام رازي د عقلياتو مسلم (منل شوی) امام دی ليكن په احاديثو او آثارو كښې د هغه مرتبه كمزورې ده له دې وجې څخه د هغه په تفسر كښې وچ او لانده هر څه دي (لسان الميزان ج۴،ص۴۲۶)

قال الامام السيوطي رحمه الله قال ابو حيان في البحر جمع الامام الرازي في تفسيره اشياء كثيرة طويلة لا حاجة لها في علم التفسير ولذلك قال بعض العلماء فيه كل شيء الا التفسير. (الاتقان ج۲،ص۱۹۰) وقال المولى طاش كبرى زاده رحمه الله قال ابن السبكي في طبقاته الكبرى اعلم ان شيخنا الذهبي ذكر الامام في كتاب الميزان في الضعفاء وهذا امر لا معنى له من وجوه اعلاها انه ثقة حبر من احبار الامة وادناها انه لا رواية له وذكره في الرواة مجرد فضول وتعصب وتحامل تقشعر منه الجلود (الى قوله) عمد الى امام من ائمة المسلمين وادخله في جماعة ليس هو منهم اعني رواة الحديث فان الامام لا رواية له. (مفتاح السعادة ج۱،ص۴۴۸)

نواب صاحب فرمائي «مؤلف وى از علم حديث بے خبر است ودر علوم كلام و فنون رسميه امام اهلِ زمان. بعضے از اهل معرفت بعلوم كتاب و سنت گفته اند . فيه كل شئ الا التفسير». (اكسير ص۱۰۴)

همدارنگه فرمايي «رازي از علم حديث خبر ندارد» (اكسير ص۱۱۳)

بيا د «لعل» له لفظ څخه استدلال هم عجيبه دی، په داسې حال كښې چه په شاهي محاوره كښې په يقيني توگه د وعدې لپاره د دې تكې استعمال مشهور دی قال العلامة عبد الله بن احمد النسفي ولعل للترجي والاطماع ولكنه من كريم فيجري مجرى وعده المحتوم وفائه وبه قال سيبويه. (مدارك التنزيل ج۱،ص۵۸) كه چيرته د «لعل» لفظ د مؤمنانو لپاره استعمالول صحيح نه وي نو د لاندې آيتونو به څه ځواب وي؟

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ○(۲/۱۸۳)

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا غَيْرَ بُيُوْتِكُمْ حَتّٰى تَسْتَاْنِسُوْا وَتُسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَهْلِهَا ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ○(۲۴/۲۷)

وَتُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ جَمِيْعًا اَيُّهَ الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ○(۲۴/۳۱)

فَاِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِي الْاَرْضِ وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ○(۶۲/۱۰)

د امام رازي رحمه الله په مقابله كښې كه چيرته موږ د هغو مفسرينو ... څه ...

كريمه شانِ نزول لمونځ كښې نو د دفترونو دفتر به تور او ډک شي لېکن مونږ د شان نزول به ا و بواځې د روايتونو په وړاندې كولو اكتفاء كړې دی له روايت پرته د مفسرينو د اقوالو د ذكر كولو نه ضرورت شته او نه هم د دومره اوږده فهرست د نقل كولو فرصت شته

۲ - مباركپوري صاحب فرمايي د دې آيت شانِ نزول خطبه ده لكه څرنګه چه امام بيهقي په كتاب القرائت ص۷۵ كښې ليكلي دي لهذا له دې آيت څخه د قرائت خلف الامام په نه جواز باندې استدلال صحيح نه دی (**ابكار المنن ص۱۲۵**)

دا هم د امام بيهقي خپل خيال دی له يوه صحيح روايت څخه هم د دې تائيد نه دی شوی. د صحيحو روايتونو او اجماع امت په مقابله كښې د امام بيهقي قول هيڅ وزن نه لري مخبله مباركپوري په بوه ځاى كښې ويلي دي چه امام بيهقي اګر كه يو مشهور محدث دی لېكن د هغه يو قول هم له دليل پرته معتبر كيدلی نه شي (**تحقيق ج۲، ص۳۲**)

د امام بيهقي خيال برسيره پر دې چه د اجماع خلاف او بې دليله دی د دې لپاره هم صحيح نه شي كيدلی چه دا آيت مكي دی او د جُمعې لمونځ په مدينه منوره كښې فرض شوی دی د امام ابن جرير رحمه الله د تحقيق مطابق جُمعه په سنه ۱ هجري كښې فرض شوی دی بالفرض د خپو د قول مطابق كه چيرته په مكه مكرمه كښې د جُمعې فرضيت سليم هم شي نو د جُمعې لمونځ نه بدی سره په مدينه منوره كښې شوی دی او په مكې مكرمې كښې د جُمعې يو لمونځ هم نه دی شوی

و قال الامام البغوي رحمه الله الاٰية مكية و الجمعة وجبت بالمدينة.(معالم التنزيل على هامش تفسير ابن كثير ج۳، ص۶۲۴) غير مقلد عالم مولانا عبد الصمد صاحب ليكي: **كوم خلك چه د دې آيت شانِ نزول خطبه بولي** هغوی په سختۍ غلطۍ باندې دي **څكه چه دا آيت مكي دی او د خطبې حكم په** مدينه منوره كښې نازل شوی دی (**اعلام الاعلام ص۱۸۹**)

له دې څخه د اخر خطبه هم مراد نه شي اخستل كيدلی څكه چه د اختر د لمانځه حكم هم په مدينه منوره كښې نازل شوی دی (**طبري ص۱۲۹۱**)

كه چيرته فرض نې كړو دا هم و منل شي چه د جُمعې په خطبه كښې د دې ښه ... نزول دی نو بيا هم له دې څخه دا نه ثابتيږي چه لمونځ د دې آيت شانِ نزول نه دی څكه چه د نزول په ... كښې نعدد كيدی شي جائز دی قال الشيخ عبد الرحمٰن بن الحسن (**فتح القدير شرح كتاب التوحيد ص۱۰۸**)

(وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيلًا) ... نزول په صحيح بخاري ج۲ مثلا : دې ... ص۶۹۶/ صحيح مسلم ص۱۰... ج۱/ سنن نسائي ج۱ ص۱۱۹/ مسند احمد ج۱ ص۲۳ او مسند ابي عوانة ج۲

ص۱۲۲ کښې لومنۍ نښوول شوی دی او په صحیح بخاري. مسلم او مسند دا بي عوانه په همدغو ځایونو کښې د دې شانِ نزول دعاء ښوولی دی

فائدهٔ جلیله

د قرآن او حدیث له مطالعې څخه دا څرګندیږي چه ډېر واري داسې واقعات کوم چه د کوم قرآني حکم لاندې داخلیږي د هم هغه آیت شانِ نزول ویل کیږي حالانکه اصل شان نزول نور څه وي لیکن دې واقعې لره محض د شمول فی الحکم له وجې شان نزول ویل شوی دی مثلاً نن بو خوک غلا وکړي نو داسې ویل کیږي چه د (وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْا اَيْدِيَهُمَا) آیت د ده په باره کښې نازل شوی دی قال الحافظ السیوطی رحمه الله و قال ابن تیمیة قولهم نزلت هذه الأیة فی کذا یراد به تارة سبب النزول ویراد به تارة ان ذلك داخل فی الأیة وان لم یکن السبب کما تقول عنی بهذه الأیة کذا. (الی قوله) وقال الزرکشی فی البرهان وقد عرف من عادة الصحابة والتابعین ان احدهم اذا قال نزلت هذه الأیة فی کذا فانه یرید بذلك انها تتضمن هذا الحکم لا ان هذا کان السبب فی نزولها فهو من جنس الاستدلال علی الحکم بالأیة لا من جنس النقل لما وقع. (الاتقان ج۱، ص۳۱) وقال الشاه ولی الله رحمه الله فی الباب الرابع من الفوز الکبیر -وقسمی آن است که معنی آیت بعموم خود تام ست بغیر احتیاج دانستن حادثه که سبب نزول شده است وحکم عموم لفظ راست نه خصوص سبب را. قدماء مفسرین بقصد احاطهٔ آثار مناسبه بآن آیت یا بقصد بیان ما صدق آن عموم آن قصه را ذکر کرده اند این قسم را ذکر کردن ضرور نیست پیش این فقیر محقق شده است که صحابه وتابعین بسیار بود که نزلت الأیة فی کذا می گفتند وغرض ایشان تصویر ما صدق آن آیت بود وذکر بعض حوادث که آیت آن را بعموم خود شامل شده است خواه این قصه متقدم باشد یا متأخر. اسرائیلی باشد یا جاهلی یا اسلامی تمام قیود آیت را در گرفته شد یا بعض آن را. والله اعلم. ازین تحقیق دانسته شد که اجتهاد را درین قسم دخل هست وقصص متعدده را آنجا گنجائش هست. پس این نکته مستحضر دار وحل مختلفات سبب نزول ادنی عنایت می توان نمود (الفوز الکبیر ص۳۵)

همدا تحقیق نواب صدیق حسن خان صاحب هم نقل کړی دی (اکسیر ص۱۹)

پس کومو حضراتو چه د (وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا) آیت کریمه شان نزول د جمعې پر خطبه ښللی دی د هغو دا مقصد دی چه د اوریدول و خوښنا حکم خطبې ته هم شامل دی د هغو د دون همځکله دا مطلب نه شي کېدلی چه د دې آیت اصل شان نزول نو خې خطبه دی ...

للمعا ان الاٰية مكية والجمعة فرضت في المدينة.

لنډه دا چه دا آيت په اجماع سره د لمانځه په باره کښې نازل شوی دی او د دې لومړنی مدلول لمونځ دی ليکن د علت د حکم له مخې د جُمعې او اختر خطبو ته هم شامل دی

۳ ۔ امام بيهقي رحمه الله فرمايي چه صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم به د اقتداء په وخت کښې په لوړ آواز سره خبرې کولې چه له دې څخه د ممانعت په باره کښې دا آيت کريمه نازل شوی دی امام بيهقي د خپلې دې دعوې د اثبات لپاره څلور روايتونه نقل کړي دي **(کتاب القراءة ص۱۱)**

د امام بيهقي دا دعوه ځکه صحيح نه ده چه مونږ د صحيحو اسنادو له مخې دا ثابته کړه چه دا آيت په امام پسې د قرائت ويلو په باره کښې نازل شوی دی نه د عامو خبرو کولو په باره کښې.

امام بيهقي چه له کومو روايتونو څخه استدلال کړی دی هغه ټول ضعيف او معلول دي تفصيل ئې په لاندې ډول دی ملاحظه ئې کړی

لومړی روايت په دې کښې دوراوي محمد بن دينار او ابراهيم هجري ضعيف دي. د محمد بن دينار تضعيف امام ابن معين، دار قطني، نسائي او عقلي کړی دی امام ابو داؤد فرمايي چه په آخر کښې د هغه حافظه متغيره شوې وه **(تهذيب التهذيب ج۹، ص۱۵۵)** او ابراهيم هجري لره امام بخاري. نسائي. ترمذي، احمد. ابن معين، ابو زرعه. سعدي. حربي. ابو حاتم، ابن عدي او علي بن الحسين بن الجنيد ټولو ضعيف ګڼلی دی **(تهذيب التهذيب ج۱،ص۱۶۵/ميزان الاعتدال ج۱،ص۲۱)**

امام بخاري رحمه الله ابراهيم هجري ته منکر الحديث ويلی دی او د حديث د امامانو فيصله ده چه امام بخاري څوک منکر الحديث وبولي د هغه د روايت قبلول جائز نه دي **(ميزان ج۱،ص۵/طبقات سبکي ج۲،ص۹/تدريب الراوي ص۲۳۵)**

دويم روايت په دې کښې مؤمل بن اسمٰعيل دی چه ده لره هم امام بخاري رحمه الله منکر الحديث ګڼلی دی پرته له دې څخه ابو حاتم. ابن حبان. يعقوب بن سفيان. ساجي. دار قطني، ابن سعد. ابن قانع. محمد بن نصر مروزي او امام ابوزرعه هغه لره کثير الخطاء. سيئ الحفظ. منکر الحديث. کثير الغلط ګڼي او د هغه د روايتونو له قبلولو څخه ئې منع فرمايلې ده **(تهذيب التهذيب ج۱۰،ص۳۸۰/ميزان ج۳،ص۲۲۱)**

دريم روايت د دې راوی عبد الله بن عامر دی چه امام بخاري. امام احمد. نسائي. ابو داؤد. ابو زرعه. ابو عاصم. دار قطني. سعدي. امام ابن معين، ابو احمد الحاکم او ابو حاتم ئې تضعيف کړی دی او امام بن المديني خو ضعيف ضعيف دوه واره ووېل دوه چنده تضعيف ئې د ده وکړ **(تهذيب التهذيب ج۵،ص۲۷۵/ميزان ج۲،ص۵۰/لسان ج۳،ص۳۰۲)**

خلورم روایت په دې کښې عاصم بن عمر دی امام بخاري رحمه الله ده لره منکر الحدیث ګڼلی دی، امام ترمذي، امام احمد، ابن معین او جوزقاني د هغه تضعیف کړی دی (تهذیب التهذیب ج۵ ص۵۰/میزان ج۲،ص۴)

په کومو راویانو باندې چه یو درجن د حدیثو امامان جرح کړې وي د هغو له روایت څخه استدلال او ځان ویل اهلِ حدیث؟ این چه بو العجبي است د دې آیت شان نزول ((کلام فی الصلوة)) نه دی په دې باندې لاندیني دلائل دي

۱ - د اجماع او صحیحو حدیثونو له مخې ثابته شوه چه دا آیت په لمانځه کښې د قرآنکریم د قرائت په باره کښې نازل شوی دی.

۲ - امام بیهقي چه کوم حدیثونه نقل کړي دي هغه ټول د آخري درجې ضعیف دي

۳- د صحیح حدیث له مخې ثابته ده چه په لمانځه کښې د خبرې کولو ممانعت د (وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ) آیت سره شوی دی "کما روی الشیخان رحمهما الله تعالیٰ عن زید بن ارقم رضی الله تعالیٰ عنه.(بخاری ج۱،ص۱۶۰/مسلم ج۱،ص۲۰۴)

۴ - مبارکپوري صاحب په تحقیق الکلام ج۲، ص۳۶ کښې فرمایي (وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ - الاٰیة) په دویم آیت (فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ) باندې منسوخ دی ځکه چه دا وروسته نازل شوی دی چه په دې باندې لاندیني دلائل دي

۱ - امام سیوطي رحمه الله فرمایي چه ټول سورت مزمل په مکه مکرمه کښې نازل شوی دی لیکن (فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ) آیت په مدینه منوره کښې نازل شوی دی (الاتقان ج۱،ص۱۴)

۲ - په دې آیت کښې د زکوة حکم هم شته او حافظ ابن حجر رحمه الله په مدینه منوره کښې د زکوة په فرضیت باندې داسې استدلال کړی دی چه حضرت قیس بن سعد رضی الله عنه څخه روایت دی چه د زکوة له فرض کیدو څخه مخکښې مونږ ته د صدقة فطر د ادا کولو حکم راکړل شوی وو زکات چه فرض شو د صدقة فطر د ادا کولو نه تاکیدي حکم ورکړی شو او نه منع ترې وشوله له دې څخه ثابته شوه چه زکات تر صدقة فطر وروسته فرض شوی دی او صدقة الفطر د روژې تتمه پوره والی دی د روژه په اتفاق سره په مدینهٔ طیبه کښې فرض شوی دی (فتح الباری ج۳،ص۱۱)

۳ - امام ابو نصر مروزی رحمه الله فرمایي د (فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ) آیت په مدینه منوره کښې نازل شوی دی ځکه چه په دې د قتال ذکر دی و قتال په مدینه منوره کښې فرض شوی دی د مبارکپوري صاحب دا دعوه غلطه ده هغه چه د (فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ) آیت په مروی کښې به

وروسته والي باندې کوم دلائل بیان کړی دی د هغو ځوابونه په ترتیب سره ملاحظه کړئ

د لومړي دلیل ځواب امام سیوطي صاحب رحمه الله اګر که دا قول را نقل کړی دی لیکن د دې تردید ئې هم کړی دی **ونصله (المزمل) استثنى منها واصبر على ما يقولون الأيتين حكاه الاصبهاني وقوله ان ربك يعلم الى أخر السورة حكاه ابن الغرس ويرده ما اخرجه الحاكم عن عائشة رضي الله عنها انه نزل بعد نزول صدر السورة بسنة وذلك حين فرض قيام الليل في اول الاسلام قبل فرض الصلوات الخمس. (الاتقان ج۱،ص۱۶)**

د حضرت عائشه رضي الله عنها دا روایت مسلم ج۱، ص۲۵۶، نسائي ص۱۸۲، مستدرک ج۱، ص۵۰۴ کښې د صحیح سند له مخې مروي دی له حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه هم د همدې مضمون روایت په مستدرک ج۲، ص۵۰۵ او سنن کبرئ ج۲، ص۵۰۰ کښې شته دا د صحیح سند درلودونکي روایتونه د ابن غرس له دې روایت څخه ځو درجې زیات قوي دی چه په هغه کښې د یونس بن حبیب غوندې مجهول راوي دی له دغو روایتونو څخه ثابته شوه چه د سورۀ مزمل آخري برخه د اولې برخې څخه یو کال وروسته نازل شوی دی او د سورۀ مزمل لومړنی برخه په اتفاق سره د نبوت په ابتدائي دور کښې نازله شوې ده پخپله مبارکپوري صاحب فرمايي تر ټولو مخکښې سورۀ قلم نازل شوی دی او له هغه وروسته سورۀ مزمل **(تحقیق الکلام ج۲،ص۲۸)**

د دویم دلیل ځواب: دا دعوه هم صحیح نه ده چه زکوٰة په مدینه منوره کښې فرض شوی دی حقیقت دا دی چه د زکات حکم په مکې مکرمې کښې نازل شوی وو په سورۀ **مؤمنون**، سورۀ **حم** سجده او سورۀ لقمان کښې د زکات حکم راغلی دی حالانکه دا سورتونه ټول مکي دي د **يؤتون الزكوة** تاويل په تزکیه د نفس باندې غلطه توجیه او له قیاس څخه لرې ده برنه له دې څخه **حضرت** جعفر طیار رضي الله عنه د نجاشي رحمه الله په دربار کښې چه کوم تقریر کړی وو په هغه کښې د زکات یادونه شته **(مسند احمد ج۵،ص۲۹۱/ مستدرک ج۲،ص۳۱۰/ وقال الحاكم والذهبي على شرطهما)** حالانکه د دغو حضراتو د حبشې خوا ته د هجرت ابتداء په کال د نبوت په پنځم کال کښې شوی وو **(طبری ص۱۱۱۵/ زادالمعاد ج۲،ص۹۱)**

د امام ابن خزیمه رحمه الله دعوی ده چه زکات له هجرت څخه مخکښې فرض شوی وو **فتح الباری ج۳،ص۲۱۱)** امام رازی رحمه الله هم همدغه وائي **(التفسیر الکبیر ج۲،ص۲۳۵)**

علامه آلوسی رحمه الله فرمائي چه د اکثرو علماوو د تحقیق مطابق زکات په مکه مکرمه کښې فرض شوی وو **(روح المعاني ج۱، ص۰)**

[illegible]

قائل دي چه نفس زکات په مکه مکرمه کښې فرض شوی وو ليکن د هغه د نصاب او اندازې تعين په مدينه منوره کښې وشو (تفسیر ابن کثیر ج۴ص۳۳۹)

له دې تحقيق څخه ثابته شوه چه د قيس ابن سعد ﷺ په روايت کښې د زکات له فرضيت څخه مراد د زکات د نصاب او د هغه د اندازې تعيين دی ونظیرہ ما قاله الحافظ رحمه الله فی شرح قول ابن عمر رضی الله تعالی عنهما (انما کان هذا قبل ان تنزل الزکاة) هذا مشعر بان الوعید علی الاکتناز وهو حبس ما فضل عن الحاجة عن المواساة به کان فی اول الاسلام ثم نسخ ذلك بفرض الزکاة لما فتح الله الفتوح وقدرت نصب الزکاة فعلی هذا المراد بنزول الزکاة بیان نصبها ومقادیرها لا انزال اصلها والله اعلم. (فتح الباری ج۳ص۲۱۶)

د دريم دليل ځواب حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي د امام ابو نصر دې آيت لره مدني ګڼل غلط دي هغه ته په دې کښې د قتال له ذکر څخه مغالطه ور لويدلې ده په داسې حال کښې چه په دې کښې د «س» حرف دا وائي چه د راتلونکې حکم به د قتال وي د دې لپاره په آئنده کښې د راتلونکې مشقت له مخې الله تعالی د تهجد د لمانځه تاکيد ساقط کړ

ونصه وذکر الشافعی عن بعض اهل العلم ان صلاة اللیل کانت مفروضة ثم نسخت بقوله تعالی فاقرءوا ما تیسر منه فصار الفرض قیام بعض اللیل ثم نسخ ذلك بالصلوات الخمس واستنکر محمد بن نصر المروزی ذلك وقال الآیة تدل علی ان قوله تعالی فاقرءوا ما تیسر منه انما نزل بالمدینة لقوله تعالی فیها وَآخَرُونَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ الله والقتال انما وقع بالمدینة لا بمکة والاسراء کان بمکة قبل ذلك اه وما استدل به غیر واضح لان قوله تعالی علم ان سیکون ظاهر فی الاستقبال فکانه سبحانه وتعالی امتن علیهم بتعجیل التخفیف قبل وجود المشقة التی علم انها ستقع لهم والله اعلم. (فتح الباری ج۱ص۳۹۳)

بيا د مبارکپوري صاحب دا منطق هم عجيب دی چه (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ - الآية) څخه د (فاقرءوا ما تیسر - الآية) وروسته والی د نسخ مستلزم دی نسخ خو به هلته وو چه د دغو دواړو آيتونو په مفهوم کښې يو له بله مخالفت وای په داسې حال کښې چه دلته هيڅ مخالفت نشته ځکه چه لومړی د قرائت خلف الامام پورې اړه لري او دوېم آيت د تهجد د لمانځه په باره کښې دی چنانچه پخپله غير مقلد عالم مولانا مير سيالکوټي صاحب فرمايي چه د سورة مزمل دا رکوع د تهجد په لمانځه کښې د تخفيف لپاره نازل سوی دی (تفسیر واضح البیان ص۴۴۳) مبرکپوری صاحب هم له روح المعاني څخه د دې نقل کړی دی (تحفة الاحوذی ج۱ص۲۰۶) امام بيهقي فرمايي وهذا معروف مشهور فیما بین اهل العلم. (کتاب القراءة ص۱۰۳) وقال الشوکانی نزلت فی قیام اللیل للیسر مما نحن فیه

(نيل الاوطار ج۲، ص۲۱۸) همدارنګه ابو داؤد ج۱. ص۱۹۲. عون المعبود ج۱. ص۳۰۵. اعلام الموقعين لابن القيم ج۲. ص۳۷۸. السراج المنير للعلامة الشربيني ج۱. ص۲۴۸. تفسير العلامة ابي السعود علي هامش التفسير الكبير ج۸. ص۴۸۵ کښې هم د دي تصريح شته غرض دا چه د مبارکپوري صاحب د نسخ دعوه غلطه ده نواب صديق حسن‌خان صاحب د سورة اعراف په اړه فرمايي چه در وی یک آیت یا دو آیت منسوخ است باقی همه محکم اول خذ العفو و امر بالعرف، دوم واعرض عن الجاهلين (افادة الشيوخ ص۶۵) او که چيرته بفرض محال نسخ هم تسليم شي نو پخپله مبارکپوري صاحب فرمايي چه د (فاقرءوا ما تيسر) آيت څخه د قرائت فرضيت نه شي ثابتيدلی (تحفة الاحوذی ج۱، ص۲۰۶)

۵- مبارکپوري په تحقيق الکلام ج۱. ص۲۸ کښې فرمايي چه د (وإذا قرئ القرآن) آيت مکي دی او د امام پسې د قرائت د کولو په باره کښې احاديث له حضرت ابو هريرهؓ او حضرت عبادة بن الصامتؓ څخه مروي دي حضرت او هريرةؓ په سن۷ه هجري کښې اسلام راوړی دی او حضرت عبادهؓ انصاري دی له دی څخه څرګنده شوه چه د قرائت خلف الامام حکم په مدينه منوره کښې شوی دی لهذا دا حديث د آيت لپاره ناسخ دی مولانا مبر صاحب هم په تفسير واضح البيان ص۴۵۳ کښې همدا ليکلي دی

د دي حضرانو ظلم وګوری په خبر واحد سره قرآني نصّ منسوخوي بيا د قرائت خلف الامام په اړه يو روايت هم داسې نشته چه صحيح هم وي او صريح هم د دي تفصيل مخکښې راځي انشاء الله تعالی په داسې ضعيف. معلول او مجملو روايتونو څخه د قرآني نصّ د نسخ دعوی د ګل په باڼي سره د الماس سرې کول دی نواب صاحب ليکي ناسخ مثل منسوخ باشد در قوت بلکه اقوی ازان چه در صورت ضعف مزيل قوي نه تواند شد واين حکم عقل است واجماع بر آن دلالت کرده، چه صحابه نص قرآن را بخبر واحد منسوخ نه کرده اند. (افادة الشيوخ بمقدار الناسخ والمنسوخ ص۵)

علاوه پر دی د حضرت عبادة بن الصامتؓ د مدني ولی له وجی د هغه حديث هم مدني ګڼل غلط دی ځکه چه دی په عقبهٔ اولی او عقبهٔ ثانيه دواړو کښې موجود وو ممکنه ده چه د ده روايت په دی وخت کښې وی په له مدنی صحابهٔ کرامو ؓ بلکه پخپله له حضرت ابو هريرهؓ څخه هم د هر ننه د منع په اسوه هم شته کما سيأتي.

مبارکپوري په تحقيق الکلام ج۲. ص۲۸ کښې نو دله نکته بيانوی چه حاصل ئې دا دی چه سورة اعراف له عقبه ثاني څخه هم مخکښې نازل شوی دی ځکه چه په سنه ۱۰ ه نبوي کښې لومړی

سورهٔ جن نازل شو بیا سورهٔ اعراف (مجمع البحار ج۲، ص۵۳۰) او بیعت عقبهٔ اولی په سـ۱۲ـه نبوي کښې او بیعت عقبهٔ ثانیه په سـ۱۳ـه نبوي کښې شوی دی. همدارنګه له عقبهٔ اولی څخه مخکښې د جماعت لمونځ روا نه وو د دې لپاره د حضرت عبادهؓ دا حدیث په هر صورت له آیت څخه وروسته دی

مبارکپوري په دې نکتې باندې چه څومره تعجب وشي کم دی لومړی له دې وجې چه حافظ ابن کثیرؒ فرمايي چه بیعت عقبهٔ اولی په رجب سنـ۱۰ـه نبوي کښې شوی دی او عقبهٔ ثانیه په سنـ۱۲ـه نبوي کښې (البداية والنهاية ج۳، ص۱۵۹) دویم دا چه امام نووي او حافظ ابن حجر رحمهما الله تعالی فرمايي چه د جماعت لمونځ د اسلام له ابتداء څخه روا شوی دی (نووی علی مسلم ج۱، ص۱۸۳/فتح الباری ج۳، ص۶۰) حضرت ابو ذر غفاريؓ د اسلام تر قبلولو وروسته چه کله د خپل قوم خواته بیرته ورغی نو نیمې قبیلې اسلام قبول کړ او حضرت ایماء بن رحضهؓ د هغو امامت کاوه (صحیح مسلم ج۲، ص۲۹۶/مستدرك ج۳، ص۵۹۲) حالانکه حضرت ابو ذر غفاريؓ ډیر مخکښې اسلام راوړونکی دی له ده څخه مخکښې په نارینه وو کښې یواځې حضرت ابو بکر صدیق او حضرت بلال رضی الله تعالی عنهما او په ښځو کښې یواځې حضرت خدیجهؓ ایمان راوړی وو (مستدرك ج۳، ص۳۴۱/تذکره ج۱، ص۱۷/اکمال ص۵۹۳)

درېیم دا چه جېرته له عقبهٔ اولی څخه مخکښې د جماعت لمونځ مشروع نه وو نو په د دې مثل هم لازمېږي چه (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا) ایت د بیعت عقبهٔ اولی نه وروسته نازل شوی دی ځکه چه پوره ثابت شول چه د دې آیت شان نزول په اتفاق سره قرائت خلف الامام دی پس د عبادهؓ د حدیث له دې آیت څخه تاخر (وروسته والی) ثابت نه شو دا بحث مې یواځې د اسباغ کلام په توګه ولیکه او که نه نو حقیقت دا دی چه دا ضعیف او غیر صریح روایتونه د قرآن د نص لپاره ناسخ نه شي کیدلی

۶ مبارکپوري فرمايي چه که څېرنه د څېرو هم مثله شي چه (فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ ـ الآية) سره (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ) منسوخ نه دی لیکن په دې کښې د نسخ احتمال خو موجود دی چه کله چه په دې کښې دا احتمال موجود دی نو په دې سره استدلال حرنګه" (تحقیق الکلام ج۲، ص۳۹)

د مبارکپوري دا خیال هم صحیح نه دی ځکه چه هغه احتمال د استدلال مانع دی چه ناشي عن دلیل وي که څېرنه دلیله د نسخ احتمال نه کوم دلیل باندې مبني وای نو امام احمد، حافظ ابن تیمیه و حافظ ابن عبد البر رحمهم الله او د امت نور جمهور علماء له دې آیت څخه استدلال نه

کوه حالانکه په دې اړوند مونږ پورته له امام احمد رحمه الله څخه د اجماع قول نقل کړی دی
۷ - مبارکپوري ابکار المنن ص۱۴۰. تحفة الاحوذي ج۱. ص۲۵۸ او تحقيق الکلام ج۲. ص۳۸ کښې او مولانا مير صاحب په تفسير واضح البيان ص۴۳۸ کښې د ملا جيون او علامه تفتازاني د قول په را نقل کولو سره ليکي چه د احنافو په نزد په دغو دواړو آيتونو کښې تعارض دی د دې لپاره (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا) څخه استدلال صحيح نه دی.
ملا جيون رحمه الله حنفي والی منل شوی دی ليکن د تحقيق مدار د چا په شخصيت باندې نه دی او علامه سعد الدين تفتازاني رحمه الله حنفي ګڼل غلط دي دی شافعي وو د کشف الظنون مصنف علامه کاتب چلپي، علامه حسن چلپي، علامه سيوطي او علامه محمود الکفوي رحمهم الله د دې تصريح کړې ده په هر صورت د کوم شخصيت له قول څخه حقيقت نه شي بدليدلی. مونږ پورته دا ثابته کړه چه (فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ) متقدم دی او (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا) متاخر دی همدارنګه لومړی آيت د تهجد د لمانځه په باره کښې دی او دويم آيت د قرائت خلف الامام په باره کښې دی چه کله په دلائلو کښې تقدم او تاخر معلوم وي او بيا د دواړو محل هم جلا جلا وي نو د تعارض قول به څنګه صحيح شي؟
که چيرته با لفرض په دغو دواړو آيتونو کښې تعارض هم و منل شي نو د تعارض د له منځه وړلو لپاره تر ټولو مخکښې د تطبيق صورت لټول کيږي. که هغه و نه شي نو بيا ترجيح او په دريمه درجه کښې د تساقط حکم دی په دغو آيتونو کښې د تطبيق صورت هم ميندل کيږي او د ترجيح وجه هم.
د تطبيق صورت يو صورت خو پورته بيان شو چه په يوه آيت کښې په فرض لمانځه کښې د قرائت بيان دی او په دويم آيت کښې د تهجد په لمانځه کښې د قرائت حکم دی پرته له دې نه که چيرته دواړه آيتونه يواځې د فرض لمانځه په اړه فرض کړی شي نو د تطبيق صورت ئې دا دی چه د سورة مزمل په آيت کښې امام او منفرد ته د قرائت حکم ورکړ شوی دی او په سورة اعراف کښې مقتدي له قرائت څخه منع کړی شوی دی چنانچه امام بيهقي رحمه الله له حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه د صحيح سند له مخې روايت کړی دی چه له (فاقرءوا ما تيسر) څخه له سورة فاتحه څخه زائد قرائت مراد دی (کتاب القراءة ص۶، ص۱۵۲، ص۱۵۳) امام دار قطني رحمه الله هم له حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه همدا مضمون په حسن روايت سره را نقل کړی دی (دار قطني ج۱، ص۱۲۹) مولانا مير صاحب ليکي الغرض که چرته په (فاقرءوا ما تيسر) کښې له قرائت څخه قرائت فی الصلوة مراد واخيستل شي نو له هغه څخه مراد تر فاتحه وروسته قرائت دی (التفسير واضح البيان

ص۳۳۵)

چونکه اهل حديث هم د مقتدي لپاره له سورۀ فاتحه څخه د زيات قرائت په ممانعت قائل دي
ځکه له دي څخه په لازمي توګه امام يا منفرد مراد وي

د ترجيح صورت

که چيرته با لفرض د تطبيق هيڅ صورت موجود نه واى نو له شبهي پرته د سورۀ اعراف آيت به راجح تګكل شوى واى ځکه چه پورته د صحيحو روايتونو او د امت د جمهورو له تصريحاتو څخه ثابته شوې ده چه په دې آيت کښې مقتدي له قرائت خلف الامام څخه منع کړى شوى دى

۸ - امام بيهقي په کتاب القرائت ص۷۵ کښې او مبارکپوري صاحب په تحقيق الکلام ج۲، ص۵۱ کښې فرمايي چه په حديث کښې سکوت د اخفاء په معنى هم استعمال شوى دى چنانچه د صحيح البخاري روايت دى چه حضرت ابو هريرهؓ له حضور اکرم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چه **اسكاتك ما بين التكبير و القراءة ما تقول؟** ده مبارک وفرمايل چه زه **اللّهم باعد بيني و بين خطاياى الخ** وايم (**صحيح البخاري ج۱، ص۱۰۳**) حضرت ابو هريرهؓ په دې مقام باندې له سکوت څخه د ورو يا سوکه ويلو تعبير کړى دى همدارنګه په مستدرک او داسې نورو کښې روايت دى (**و يسكت بعد القراءة هنية يسأل الله من فضله**). په دې کښې سکوت او سوال سره يو ځاى شوي دي لهذا په امام پسې سوکه ويل په آيت کښېد انصات (غلي والي) د حکم په خلاف نه دي

د دغو حضراتو دا تاويل ځکه باطل دى چه د سکوت حقيقي معنى مکمله خاموشي ده **قال الامام الراغب الاصفهاني السكوت مختص بترك الكلام.** (**مفردات ص۲۲۵**) **و قال الامام ابن خالويه نزف الرجل اذا انقطعت حجته عند المناظرة و سكت و اسكت مثله.** (**اعراب ثلاثين سورة من القرآن ص۶۰**) **و قال مجد الدين الفيروز آبادي اسكت انقطع كلامه فلم يتكلم.** (**قاموس ج۱، ص۹۲**) **و كذا في المنجد ص۳۵۲ و قال الامام الرازي رحمه الله ان السكوت عدمي معناه انه لم يقل شيئا و لم يفعل امراً و لم يتصرف في قول و لا فعل و لا شك ان هذا المعنى عدمي محض.** (**مناظرات امام رازي ص۳۵**) د لغت د امامانو له تصريحاتو څخه ثابته شوه چه سکوت د خبرو د پريښودلو او مکمله خاموشي په معنى ده ليکن کله کله په مجازي توګه د جهر په مقابله کښې د اخفاء په معنى هم استعماليږى ځکه چه د جهر په حالت کښې نور خلک هم د هغه خبرې اوريدلې. نو دى وروسته د اخفاء په حالت کښې د اوريدونکو په نزد کلام معدوم دى ځکه چه هغو نه اوريدل په دې مناسبت سره په وخت د قرائن صارفه عن الحقيقت سکوت په معنى د اخفاء سره مجازاً راځي **قال الامام ابو بكر الجصاص الرازي رحمه الله انما سماه**

ساكتا مجازاً الا ان من لا يسمع يظنه ساكتاً. (احكام القرآن ج۳،ص۴۰) پس چه چيرته د مجازي معنی د اخيستلو هيڅ قرينه نه وي هلته له سکوت څخه د هغه حقيقي معنی يعني يواځي مکمله خاموشي به مراد وي د حقيقي معنی د مراد اخيستلو لپاره د کومې قرينې او دليل حاجت نه وي سره له دې د قرآن د قرائت په وخت د انصات (چُپوالي) حکم يواځې په حقيقي معنی کښې استعماليږي په دې باندې دا دليل هم دی چه د نزول وحی په ابتداء کښې نبي کريمﷺ به پخپله هم له حضرت جبرائيلؑ سره قرائت ويلو دصحيح البخاري په روايت کښې دي **وكان مما يحرك شفتيه** په دې باندې حکم کيږي (**لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ الآية، وكان مما يحرك شفتيه**) څخه ثابته شوه چه ده به سوکه ورسره ويل بيا په (**لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ**) قرآني نص کښې تصريح ده چه د ژبې د ښورولو هم اجازه نشته درېم په مذکوره آيت کښې په تفسير کښې له حضرت ابن عباسؓ څخه داسې مروي دی **فاستمع له وانصت.** (صحيح البخاري ج۱،ص۳) له دې څخه څرګنده شوه چه د قرائت په وخت کښې د انصات معنی مکمله خاموشي ده تر دې پورې چه ژبه هم و نه ښوريږي

حضرت مولانا انور شاهؒ په فصل الخطاب ص۷۸ کښې د ابو هريرهؓ د حديث په اړه فرمايي چه په دې کښې له سکوت څخه مطلق سکوت مراد نه دی بلکه له تکبير تحريمه څخه سکوت مراد دی لکه څرنګه چه د حضرت زيد بن ارقمؓ په روايت (**امرنا بالسكوت**) په شرح کښې حافظؒ فرمايي چه په دې حديث کښې سابق حکم يعنې په لمانځه کښې له کلام او سلام څخه سکوت مراد دی مطلقاً سکوت مراد نه دی چه ثناء، آمين، تسميع، تحميد، تشهد او درود شريف هم مه وايې (فتح الباري ج۳،ص۱۰) همدارنګه مستدرک په حديث (**ويسكت بعد القراءة هنية يسأل الله من فضله**) کښې له قرائت څخه سکوت او د مجمع الزوائد په روايت (**من صام رمضان في انصات. الخ**) کښې له دروغو، غيبت او داسې نورو عبثو څخه سکوت مراد دی د آذان ځواب ورکول د سکوت منافي نه دی ځکه چه د آذان پر هری کلمې وروسته وقفه ده په خلاف د لمانځه د سکوتو چه د هغو په هيڅ يوه حديث کښې ثبوت نشته کما سياتي

مونږ له امام بيهقي او مبارکپوري څخه پوښتنه کوو چه د خطبې په حالت کښې به مو د تسبيح [illegible] سره د ويلو اجازه ولې نه ورکوی او دلته د سکوت له حکم څخه د [illegible] ويلو [illegible] ولې نه [illegible] د [illegible] کښې مو [illegible] ولې غوره کړه [illegible] څرنګه چه [illegible] حالت کښې [illegible] نزول [illegible] څرنګه [illegible] حالت کښې د [illegible] حکم ورکوی

د خطبې په حالت کښې د تحية المسجد د لمانځه حکم

امام بخاري رحمه الله په جزء القرائت ص ۳۵ کښې. امام بيهقي رحمه الله په کتاب القرائت ص ۸٤ کښې او مبارکپوري د تحقيق الکلام په جلد ۲ کښې فرمايي چه د خطبې په حالت کښې د سکوت به حکم دومره تېنګر دی چه په دې وخت کښې د امر با لمعروف او نهی عن المنکر هم اجازه نشته **لقوله عليه السلام اذا قلت لصاحبك يوم الجمعة انصت فقد لغوت.** (بخاری ج۱، ص۱۲۸ / مسلم ج۱، ص۲۸۱) ليکن د دې تر څنګ د نبي کريم ﷺ ارشاد دی چه کله يو څوک په داسې وخت کښې جومات ته ورسېږي چه امام په خطبه کښې وي نو هغه دې په لنډه توګه دوه رکعته لمونځ وکړي **اذا جاء احدکم يوم الجمعة والامام يخطب فليرکع رکعتين وليتجوز فيهما.** (بخاری ج۱، ص۱۲۱ / مسلم ج۱، ص۲۸٤) په دغو دوه رکعتونو کښې خو خامخا قرائت کېږي. لکه څرنګه چه دا حکم له انصات (خاموشي) سره بکر نه دی همدارنګه د مقتدي قرائت هم د استماع او انصات د آيت منافي ب بکر نه دی

د دې ځواب دا دی چه د جمهور اهل اسلام په نزد د خطبې په حالت کښې لمونځ کول جائز نه دی ځکه چه د خطبې په وخت د انصات (چُپوالي) حکم عام دی لکه څرنګه چه د خطبې به حالت کښې خبرې کول. ذکر. تسبيح او داسې نور په له دې وجې چه د انصات خلاف دي ناجائز دي همدارنګه لمونځ کول هم د انصات منافي دي ځکه جائز نه دی د خطبې به وخت د انصات د حکم د عموم والی بره په ځانګړې توګه له لمانځه څخه ممانعت هم له نبي کريم ﷺ څخه ثابت دی چنانچه فرمايي **يصلي ما کتب له ثم ينصت اذا تکلم الامام.** (بخاری ج۱، ص۱۲۱ / مسلم ج۱، ص۲۸۳ / طيالسی ص۲۵) **وعن نبيشة ....الهذلي رضي الله عنه مرفوعا فان لم يجد الامام خرج صلی ما بدا له وان وجد الامام قد خرج جلس فاستمع وانصت رواه احمد ورجاله رجال الصحيح خلا شيخ احمد وهو ثقة.** (مجمع الزوائد ج۲، ص۱۷۱)

به يو رښتي حديث نبی د امام احمد رحمه الله د شيخ نوم علي بن اسحق دی (فتح الملهم ج۲، ص۴۱۰) امام نسائي. امام ابن معين. حافظ ابن حبان. ابن سعد او محمد بن حمدويه رحمهم الله تعالی يوه د ده توثيق کوی (تهذيب التهذيب ج۷، ص۲۸۲) حافظ ابن حجر رحمه الله هم هغه ثقه کښلی دی (تقريب ص۲۰۹) حافظ رحمه الله د فتح الباري په مقدمه کښې فرمايي چه زه به دې کتاب کښې يو ځی صحيح و حسن روايتونه ذکر کومه **بشرط الصحة والحسن فيما اورده من ذلك.** (مقدمة الفتح ص۴) و ... حديث حافظ رحمه الله په فتح الباري ج۲ ص۲۹۷ کښې راوړی دی او د ... فتح الباري ... ذکر کړی نه دی ... صحيح او ... حسن دی

... الکلام ص۵۰۳ کښې د دې ... ځوی دی چه ... کښې ...

خراساني دی چه د په باره کښې ئې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي چه دی د ارسال. تدليس او د وهم د ډير والي ښکار وو او امام بخاري رحمه الله د هغه يو حديث هم نه دی را اخيستلی (التقريب ص۲۳۹) همدارنګه فرمايي چه دا د بخاري د شرط مطابق نه دی (مقدمة فتح الباري ص۴۳۶)

د دې لپاره علامه هيثمي قول (رجاله رجال الصحيح) وهم دی

په حقيقت کښې دا د علامه هيثمي رحمه الله وهم نه دی بلکه د حافظ ابن حجر رحمه الله وهم ځکه چه د صحيح البخاري په ج۲ ص۷۳۲ او ص۷۹۶ کښې له عطاء څخه روايت موجود دی او محدث ابو مسعود دمشقي او علامه قسطلاني او داسې نورو تصريح کړې ده چه دا عطاء خراساني دی بلکه پخپله حافظ ابن حجر رحمه الله د تحرير مطابق دا د نسائي. ابو داؤد. ترمذي او ابن ماجه څخه پرته د صحيح مسلم هم راوي دی (تهذيب التهذيب ج۷، ص۲۱۲)

د دغو نصوصو پر بناء جمهور صحابه رضي الله عنهم. تابعين او د دين امامان رحمهم الله تعالی مسلک دا دی چه د خطبې په وخت د تحية المسجد ادا کول جائز نه دي امام نووي رحمه الله فرمايي چه حضرت عمر. حضرت عثمان او حضرت علي رضي الله عنهم او امام ابو حنيفه. امام مالک. امام ليث بن سعد رحمهم الله تعالی او د جمهورو صحابه وو رضي الله عنهم او تابعينو رحمهم الله تعالی همدا مسلک دی (نووي علی صحيح مسلم ج۱، ص۲۸۷) امام ترمذي رحمه الله فرمايي چه د فقهاوو او محدثينو همدغه مسلک وو (ترمذي ج۱، ص۶۷) علامه عراقي رحمه الله فرمايي چه حضرت ابن عمر. حضرت ابن عباس. عروة بن زبير رضي الله عنهم او مجاهد. عطاء بن رباح. سعيد بن المسيب. محمد بن سيرين. امام زهري. قتاده. ابراهيم نخعي او قاضي شريح رحمهم الله تعالی د ټولو همدا مسلک وو (فتح الملهم ج۲، ص۴۱۵) دوېم فريق هم د دې په تسليمولو باندې مجبور دی چه د جمهورو په نزد د خطبې په حالت کښې تحية المسجد جائز نه دی چنانچه د خير الكلام مؤلف په دې مسئله کښې د جمهورو د قول په ځواب کښې فرمايي چه جمهوريت د حديث په معامله کښې حجت نه دی (خير الكلام ص۵۶۳)

جناب والا! لوستونکو ته دوکه ورکول غواړي چه د جمهورو مسلک د حديث خلاف دی يعنې حديث يو اخې هغه دی چه کوم ته چه دی ښاغلی حديث وواني او که نه نو صريح او صحيح احاديث په کوم باندې چه د جمهور امت عمل وي هغه هم حديث نه دی بلکه د حديث مخالف دی

که چېرته معاذ الله (پناه دې وي د خدای) جمهور صحابه. تابعين. محدثين. فقهاء او د دين امامان په حديث باندې نه دی پوه شوي يا په قصد سره ئې مخالفت کړی وي نو له قرآن. حديث او

ټول اسلام څخه اعتماد پورته کیږي

امر با لمعروف او نهی عن المنکر فرض دی چه کله د خطبې په حالت کښې دا هم منع وي نو د نوافلو به څنګه اجازه کیدلی شي؟ تعجبه ده چه غیر مقلدین د جماعت تر دریدو وروسته د سهار د سنتو اجازه نه ورکوي په داسې حال کښې چه دا سنت تر ټول مؤکد او ډیر ټینګار پرې شوی دی لیکن د خطبې په حالت کښې تحیة المسجد بیا جائز بولي بیا دا چه څوک له جماعت نه خارج وي د جماعت د دریدو په وخت کښې هغه د انصات حکم نشته او د خطبې په وخت کښې حاضرینو ته د انصات حکم شته له دې سره سره د سهار سنت ممنوع ګڼل او د خطبې په وخت کښې د تحیة المسجد جائز ګڼل دا څرنګه صحیح کیدلی شي؟

د جواز د حدیث ځواب

۱ - امام نسائي رحمه الله په سنن کبری کښې د دې حدیث ترجمة الباب (باب الصلوة قبل الخطبة) قائم کړی دی (زیلعي ج۲،ص۲۰۳) له دې څخه ثابته شوه چه د امام نسائي رحمه الله په نزد د تحیة المسجد د ادا کولو حکم د خطبې له شروع کولو څخه مخکښې دی او په حدیث کښې یخطب په معنی د (یرید الخطبة) دی (یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اِذَا قُمْتُمْ اِلَی الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ ـ الأیة) امام نووي رحمه الله د (اذا امن الامام فامنوا) په شرح کښې فرمايي قالوا معناه اذا اراد التأمین.(نووی علی مسلم ج۱،ص۱۷۴)

د صحیح البخاري په دویم روایت کښې دی والامام یخطب او قد خرج (بخاری ج۱،ص۱۵۶) و قال الحافظ رحمه الله متفق علیه.(فتح الباری ج۲،ص۳۲۱) له دې حدیث څخه هم د امام نسائي رحمه الله د تحقیق تائید کیږي ځکه چه په دې کښې راوي د تردد په صورت کښې بیانوي چه نبی کریم ﷺ یخطب وفرمایل او که قد خرج ئې وفرمایل سامع (اوریدونکي) ته په عمومي توګه په مترادفو الفاظو کښې تردد وي له دې څخه ثابته شوه شه راوي یخطب په معنی د اَرَادَ اَنْ یَخْطُبَ را اخلي دا «او»، د تنویع لپاره نه شوای ویلی ځکه چه په دې صورت کښې یواځې یخطب ویل کافي وو جه کله د خطبې په حالت کښې جواز ثابت شو نو تر خطبې مخکښې خو په طریقهٔ اولی سره بخیله ثابتیږي لهذا تر یخطب وروسته او قد خرج عبث ګرځي هو که چیرته عبارت برعکس داسې وای (والامام قد خرج او یخطب) نو «او» په معنی د ((بل للترقي))د را اخیستلو ګنجائش وو همدارنګه که چیرته «او» د تنویع لپاره وای نو جمهورو صحابه وو او تابعینو رضی الله عنهم د خطبې او غیر خطبې په حالت کښې فرق نه کوه بلکه په دواړو صورتونو کښې به ئې د تحیة المسجد د جواز قائل وای

برسیره پر دې د حدیث الفاظ ((ولیتجوز فیهما)) کښې حکم دی چه تحیة المسجد دې په لنډه

سوګه ادا کړي دا مستقل دليل دی چه دا حکم په هغه وخت کښې دی چه کله امام د خطبې لپاره تيار وي که چيرته د خطبې په حالت کښې هم لمونځ جائز وای او دا حکم د انصات منافي نه وای نو د خطبې په حالت کښې په تحية المسجد کښې د اختصار حکم د څه لپاره؟ چه کله د انصات او تحية المسجد د دواړو په حکم بندې په يوه وخت عمل کيدلی شي نو تحية المسجد دې بايد په ښه اطمينان او آرام سره ادا شي د اختصار مقتضٰی څه شی دی؟

۲ - دا يوه جزئي واقعه ده څينو راويانو دا عام ګڼي او د معنٰی د نقل لاندې ئې قاعده کليه جوړه کړه. کښه دا ده چه سليک غطفاني رضی الله عنه په سترې او خفه حالت کښې جومات داخل شو. نبي کريم ﷺ هغه ته حکم وکړ چه ودريږه او دوه رکعته لمونځ ادا کړه تر څو چه خلک د هغه د حالت په ليدو سره له هغه سره امداد ته متوجه شي او ده خلکو ته په هغه باندې د صدقې د کولو ترغيب ورکړ په سنن نسائي کښې دي چه ((جاء رجل يوم الجمعة والنبي ﷺ يخطب بهيئة بذة فقال له رسول الله ﷺ اصليت قال لا قال صلّ ركعتين و حث الناس على الصدقة)). (نسائي ج۱، ص۱۵۸) په مسند احمد رحمه الله کښې دا الفاظ دي ((ان هذا الرجل دخل المسجد فى هيئة بذة فامرته ان يصلى ركعتين و انا ارجو ان يفطن له رجل فيتصدق عليه)). (فتح الباري ج۲، ص۳۲۷) د دې روايت د سند په اړه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي ((واما قصة سليك رضی الله عنه فقد ذكر الترمذى انها اصح شيء روى فى هذا الباب واقوى)). (فتح الباري ج۲، ص۳۲۹) په څينو روايتونو کښې دا الفاظ هم شته ((اركع ركعتين ولا تعد لمثل هذا)). (دار قطنى ج۱، ص۱۶۹) له دې روايت څخه استدلال مقصود نه دی بلکه يواځې د تائيد له مخې وړاندې کړی شو بخپل سليک رضی الله عنه هم دا کار عامه او کليه قاعده و نه بلله. که چيرته هغه دا عامه ګڼلې وای نو به راتلونکي کښې به هغه د هغه په تعميل کښې غفلت نه کاوه حالانکه تر دريو جُمعو پورې پرله پسې همدا واقعه مخکښې راتلله چه هغه تحية المسجد له خانه ادا نه کړ ولاحمد وابن حبان انه كرر امره بالصلاة ثلاث مرات فى ثلاث جمع. (فتح الباري ج۲، ص۳۲۸)

په دې خواب باندې حافظ رحمه الله داسې رد کوي والتعليل بكونه ﷺ قصد التصدق عليه لا يمنع القول بجواز التحية فان المانعين منها لا يجيزون التطوع لعلة التصدق قال ابن المنير فى الحاشية لو ساغ ذلك لساغ مثله فى التطوع عند طلوع الشمس وسائر الاوقات المكروهة. (فتح الباري ج۲، ص۳۲۸)

د ابن منير او حافظ رحمهما الله تعالى دا اعتراض په هغه صحيح وای شه د تحية المسجد مانعين تصدق لره د حکم علت او مدار ګڼلی. حالانکه تصدق علت نه دی بلکه د تخصيص حکمت دی همدا رنګه تخصيص هم د خطبې په حالت کښې په لمونځ کولو کښې نه ده بلکه تخصص په

دي كار كنبې دی چه د هغه لپاره په خطبه كنبې تاخير وشو **كما فى رواية الليث عند مسلم رضي الله عنه و النبى ﷺ قاعد على المنبر.** (فتح البارى ج۲،ص۳۳۹) د دار قطني له روايت څخه هم د دې تائيد كېږي **و امسك عن الخطبة حتى فرغ من صلاته.** (دار قطنى ج۱،ص۱۶۹) دا روايت د استدلال په توګه نه دی بلكه د تائيد لپاره وړاندې كړی شو له معتمر مرسل څخه هم د دې تائيد كيږي

د دار قطني په روايت كنبې د **(امسك عن الخطبة)** معنى دا ده چه د خطبې له شروع كولو څخه منع شو دا مطلب نه دی چه د خطبې په منځ كنبې ودريد د صحابي له شان څخه ډيره لرې خبره ده چه د خطبې تر شروع كېدو وروسته دې جومات ته راغلی وای او بيا پر له پسې تر دريو جُمعو پورې ئې همدغه حال وي په تير شويو روايتونو كنبې **(قاعد على المنبر)** او **(لم يخرج)** الفاظ صريح نصّ دي چه د تحية المسجد د ادا كولو حكم له شروع كيدو څخه مخكښې وو

۹ مباركپوري په تحقيق الكلام ج۲، ص۵۱ كنبې له مجمع البحار څخه د **(قرأ رسول الله ﷺ فيما امر و سكت فيما امر)** كنبې قرأ په معنى د جهر او سكت په معنى د اسرّ نقل كوي او فرمايي چه په **(اذا قُرِئَ القُرْاٰن ـ الخ)** كنبې هم جهري قرائت مراد دی ځكه چه به دې آيت كنبې يواځې د جهری لمونځونو حكم دی

د مباركپوري دا استدلال ځكه صحيح نه دی چه د مجمع البحار قول صحيح نه دی د حديث معنى دا هم كيدلی شي چه **قرأ حال كونه اماما و سكت حال كونه مؤتما او قرأ بعد الفاتحة فى الاوليين و سكت بعدها فى الاخريين.** چنانچه په صحيح البخاري ج۱، ص۱۰۷ كنبې د دې تصريح شته چه په څرنيو دوه ركعتونو كنبې نبي كريم ﷺ به يواځې سورۀ فاتحه قرائت كاوه همدارنګه د ده مقتدي والی هم ثابت دی چنانچه د باب البيت سره ده مبارک ﷺ تر دوه ورځو پورې لس لمونځونه د جبرئيل عليه السلام په اقتداء كنبې ادا كړي دي او له غزوۀ تبوک څخه د بيرته راتلو په وخت د حضرت عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه پسې اقتداء وكړه (مسلم ج۱،ص۱۳۲ / ابو داؤد ج۱،ص۲۰) په اهلِ قبا كنبې د مصلحت له مخې په بيرته راتلو باندې ئې د مازديګر لمونځ د حضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه پسې قتداء وكړه خلكو د ابو بكر د متوجه كولو لپاره خپلې ځړې وهكولې تر بنه ځنډ وروسته دی خبر شو نو شا ته شو او نبی كريم ﷺ لمونځ وركړ (بخاری ج۲،ص۱۰۶۶)

او كه چيرته خاص د مجمع البحار معنى را واخستله شي نو د هغه به هم هغه خواب وي كوم چه پورته په نمبر ۸ كنبې تېر شو يعنى قرائت د جهر په معنى سره مجاز دی چه د كومې قرينې وجود ورته ضروری دی د قرائت حقيقي معنى د ولو ... كه به سره وي يا په جهر سره د قر...

په نصّ کښې هېڅ قرينه صارفه عن الحقيقة نشته ځکه په دې کښې قرائت د خپلې حقيقي معنی مطابق سراً او جهراً دواړو ته شامل دی

۱۰ - امام بخاري رحمه الله فرمايي چه په آيت کښې د استماع او انصات دواړو حکم دی استماع لکه څرنګه چه يواځې په جهري لمونځونو کښې کيدلی شي د دې لپاره دا حکم سرّي لمونځونو ته شامل نه دی لهذا له دې څخه د قرائت خلف الامام د مانعينو على الاطلاق استدلال صحيح نه شو (جزء القراءة ص۹) همدا مضمون امام بيهقي په کتاب القرائت ص۷۶ کښې او نواب صاحب دليل الطالب ص ۲۸۰ کښې او مبارکپوري صاحب په ابکار المنن ص۱۴۸ او تحقيق الکلام ج۲. ص۵۱ کښې نقل کړی دی

د دې ځواب دا دی چه په آيت کښې دوه حکمونه دي. يو د استماع حکم او دويم د انصات حکم په جهري قرائت کښې د استماع او انصات دواړو موقع دی او په سرّي قرائت کښې يواځې انصات کيدلی شي ځکه چه په جهري کښې د استماع مع الانصات حکم دی او په سرّي کښې يواځې د انصات حکم دی.

د انصات معنی مطلق سکوت او ترک کلام (خبرې د پريښودلو) دی د دې لپاره استماع لازم نه دی لقوله ﷺ فان رأى حيث لا يسمع فانصت ولم يلغ كان له كفل من الاجر رواه ابو داؤد (جمع الفوائد ج۱، ص۲۵۶) وفى كنز العمال مما رواه عبد الرزاق عن زيد بن اسلم رضي الله عنه مرسلا وعن عثمان بن عفان رضي الله عنه موقوفاً اقيموا الصفوف وحاذوا بالمناكب وانصتوا فان اجر المنصت الذى لا يسمع كاجر المنصت الذى يسمع. (فتح الملهم ج۲، ص۲۰) وقال الحافظ رحمه الله فى الفتح وقد وقع التفريق بين الانصات والاستماع فى قوله تعالى فاستمعوا له وانصتوا ومعناهما مختلف فالانصات هو السكوت وهو يحصل ممن يستمع وممن لا يستمع كان يكون مفكراً فى امر اخر وكذلك الاستماع قد يكون مع السكوت وقد يكون مع النطق بكلام اخر لا يشتغل الناطق به عن فهم ما يقول الذى يستمع منه. وقال فى ابواب التفسير لا شك ان الاستماع اخص من الانصات لان الاستماع الاصغاء والانصات السكوت ولا يلزم من السكوت الاصغاء. (فتح الملهم ج۲، ص۲۰) وقال الامام النووى رحمه الله فالاستماع الاصغاء والانصات السكوت ولذا قال الله تعالى واذا قرئ القرآن فاستمعوا له وانصتوا. (نووى مع مسلم ج۱، ص۲۸۳) وقال المهلبى رحمه الله لا فرق بين السكوت والانصات عند العرب. (كتاب القراءة ص۸۳)

البته مجد الدين فيروز آبادي صاحب قاموس فرمايي نصت ينصت وانصت وانتصت سكت و الاسم النصتة بالضم وانصته وله سكت له واستمع لحديثه ص۱۵۲. ... په ... تعريف کښې ... وانصته

انصت له اذا سكت له مثل نصحه و نصح له و انصته و انصت له مثل نصحته و نصحت له و الانصات هو السكوت و الاستماع للحديث يقال انصته و انصت له. او په مختار الصحاح کښې دي الانصات السكوت والاستماع انصته وانصت له.

له دغو عبارتونو څخه څينو ته دا غلط فهمي ور لويدلې ده چه د استماع او انصات دواړو يوه معنیٰ ده ليکن دا صحيح نه ده څکه چه په دې صورت کښې په قرآنکريم کښې بې له مقصده د يوه لفظ زياتوالی لازم ګرځي د لغت علماوو په پورتني عباراتو کښې د انصات معنیٰ سكوت مع الاستماع نه ده بيان کړې بلکه سكوت و الاستماع ئې ويلي دي. يعنې د دې دواړه معناوې راخي بيا مخکښې له (انصت وانصت له) څخه وضاحت کوي چه دا د استماع په معنیٰ باندې هلته کيدلی شي چه مفعول يا صله ئې هم په معنیٰ د استماع تسليم شي نو د دې مستقلې دوه معناوې دي يو سكوت او بل استماع له دغو دواړو معناوو څخه د قرائنو په مطابق يو ئې متعين کيدلی شي په قرآنکريم کښې تر دې مخکښې د (استمعوا) ذکر او د سرّي قرائت د استماع قابل نه کيدل په دې باندې قرائن دي چه دلته انصات په معنیٰ د استماع نه دی

بلکه د مفعول او صله د ذکر باوجود د دې دوه مستقلې معناوې بيان شوي دي يو (سكت له) او بل (استمع لحديثه سكت) او (سكت له) کښې فرق دا دی چه اولنی ئې د داعية تکلم څخه پرته سكوت مفرد دی مثلا يو سړی يواځې ناست دی او د دې لپاره غلی ناست دی چه د هغه لپاره د تکلم (خبرې کولو) کومه داعيه نشته او په دويم کښې د تکلم د داعيې باوجود د بل سړي د رعايت په خاطر ئې سكوت کړی دی ګوا که دا سكوت مرکب دی بيا د بل سړي د رعايت دوه صورتونه دي يو دا چه د هغه د خبرو اوريدل مقصود وي او بل دا چه دی کومه خبره کول غواړي هغه خبره د هغه له خوا څخه کوم بل څوک کوي مثلاً د حاکم په دربار کښې د عريضې د وړاندې کولو لپاره يو وفدورځي د هغو مشر عريضه وړاندې کوي او د وفد نور غړي اګر که د هغه خبرې هم نه اوري نو بيا هم د دې لپاره غلي وي چه د هغو رهبر يا قائد د هغوی له خوا څخه وکالتاً عريضه وړاندې کوي ومن هذا القبيل قوله ﷺ انا خطيبهم اذا انصتوا اى يوم القيامة.

مبارکپوري صاحب په تحقيق الکلام ج۲. ص۴۹ کښې په ابن همام رحمه الله باندې اعتراض کړی دی چه د هغه استماع په جهری لمونځونو پورې او انصات په سرّي لمونځونو پورې متعلق ګڼل تفسير بالرأی دی کوم چه حرام دی

د مبارکپوري صاحب دا اعتراض محض يو تهمت دی څکه چه د ابن همام رحمه الله تفسير د صحيحو احاديثو، لغت او جمهورو مفسرينو په تحقيق باندې مبني دی

امام ابن تیمیه په سرّي لمونځونو کښې د قرائت خلف الامام د اثبات تعریر داسې بیانوي چه پرته له ذکر. قرائت. دعاء یواځې سکوت نه عبادت دی او نه مامور به بلکه د وسوسو سبب دی لهذا په ذکر کښې مشغولیدل له سکوت څخه افضل دی او د قرآن قرائت تر ټولو بهترین ذکر دی د دې لپاره په سرّي لمونځونو کښې په امام پسې قرائت مستحب دی **(فتاوٰی ابن تیمیة ج۲،ص۱۵۰)**

تعجبه ده چه ابن تیمیه **(واذا قرء القرآن ـ الأیة)** شانِ نزول لمونځ ګڼي او په دې باندې اجماع را نقل کوي نو د قرآني نص په مقابله کښې د قیاس جنګولو به څه جواز وي؟

برسیره پر دې د ماسیبنین او مازدیګر په لمونځونو کښې د صحیح حدیث له مخې د دیرشو آیتونو تلاوت مسنون دی او ابن تیمیه هم مقتدي ته تر سورهٔ فاتحه د زیات قرائت اجازه نه ورکوي چه کله دومره اوږد سکوت؟ وسوسو مورث نه دی نو یواځې د سورهٔ فاتحه د اوه آیتونو پورې لنډ سکوت لره د وساوسو سبب ګڼل به څنګه صحیح وي؟

۱۱ ـ امام بخاري رحمه الله په جزء القرائت ص۹ او ص۲۵ کښې. امام ترمذي رحمه الله په سنن ترمذي ج۱،ص۴۲ کښې او امام بیهقي په کتاب القرائت ص۱۷ او ص۲۹ کښې فرمایي چه مقتدي باید د امام په سکتو کښې سورهٔ فاتحه ووائي همدا خبره مبارکپوري صاحب په ابکار المنن ص۱۴۸ او تحقیق الکلام ج۲. ص۵۱ کښې لیکلې ده او د هغه نورو اتباعو هم لیکلي ده د امام د سکتاتو د اثبات لپاره ئې لاندیني دلائل وړاندې کړي دي

۱ـ حضرت ابو هریره رضی الله عنه له نبي کریم ﷺ څخه روایت کوي چه کوم سړی فرض لمونځ له امام سره وکړي نو هغه دې د امام په سکتاتو کښې سورهٔ فاتحه ولولي **(کتاب القراءة ص۵۳/مستدرك ج۱،ص۲۳۸)**

۲ ـ عمرو بن شعیب د خپل والد په واسطه له خپل نیکه څخه روایت کوي چه کله به نبي کریم ﷺ انصات وکړنو په دې کښې به صحابه کرامو رضی الله عنهم قرائت کاوه **(کتاب القراءة ص۶۹،ص۹۶)**

۳ـ **بسند عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده** روایت دی حدیث چه د امام به سکتو کښې سورهٔ فاتحه قرائت نه کړی نو د هغه لمونځ به کامل نه وي **(کتاب القراءة ص۵۳)**

۴ حضرت ابن عمر رضی الله عنه فرمایي چه مقتدي دې د امام د سکتې په حالت کښې قرائت وکړي ځکه چه چې قرائت و نه کړي نو د هغه په لمانځه کښې به خلل واقع کيږي **(کنز العمال ج۴،ص۹۰)**

۵ حضرت سعید بن جبیر رحمه الله د سلفو عمل نقل کوي چه امام به ضرور سکتې کولې تر څو چه مقتدي سورهٔ فاتحه قرائت کړي **(جزء القراءة ص۵۰)**

۶ - د سعید بن جبیر رحمه الله مذکور قول (کتاب القراءة ص۶۹، ص۸۶)

۷ - له حضرت ابو هریره رضی الله عنه یا حضرت ابو سلمه رحمه الله څخه روایت دی چه د امام لپاره دوه سکتې وي هغه د فاتحې د قرائت لپاره غنیمت وګڼی (جزء القراءة ص۵۸/ کتاب القراءة ص۶۰)

۸ - دهشام بن عروه پلار هغه ته وویل چه کله امام سکته وکړي نو په دې وخت کښې قرائت وکړه او د امام د قرائت په وخت کښې غلی شه څکه چه لمونځ که فرض وي او که نفل پرته د الحمد نه له ویلو نه ادا کیږي (جزء القراءة ص۸۵/ کتاب القراءة ص۸۶)

۹ - له حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چه د امام په سکته کښې پرته د فاتحې له قرائت څخه لمونځ نه مکمل کیږي (کتاب القراءة ص۶۶)

د مذکوره دلائلو په ترتیب سره ځوابونه ملاحظه کړئ:

۱ - د ابو هریره رضی الله عنه حدیث د دې په سند کښې محمد بن عبد الله بن عبید ابن عمیر ضعیف دی امام بخاري رحمه الله په ضعفاء ص۲۸ کښې. امام مسلم رحمه الله په صحیح مسلم ج۱. ص ۲۰ کښې له امام یحیی القطان څخه. امام نسائي رحمه الله په ضعفاء صغیر ص۲۵ کښې. امام ترمذي رحمه الله په جامع الترمذي ج۲. ص۱ کښې. امام دار قطني رحمه الله په دار قطني ج۱، ص۱۲۱ کښې او پخپله امام بیهقي رحمه الله په کتاب القرائت ص۵۴ کښې د هغه تضعیف کړی دی امام یحیی بن معین رحمه الله هم هغه لره ضعیف ګڼلی دی (میزان الاعتدال ج۳، ص۷۷/ لسان المیزان ج۵، ص۲۱۶)

برسره پر دې په دې حدیث کښې د فرض لمانځه تخصیص دی حالانکه د اهلِ حدیثو په نزد په نفل لمونځونو کښې هم د فاتحې قرائت ضروري دی

۲ - د عمرو بن شعیب حدیث. په محدثینو کښې د عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده د سند تضعیف او د هغه ناقابل قبول کېدل مشهور او معروف دی عمرو بن شعیب اګر که پخپله ثقه دی لکن چه کله هغه (عن ابیه عن جده) روایت کوي نو بیا په اتفاق سره د قبول وړ نه دی څکه چه هغه ته له خپل پلار څخه سماع حاصل نه دی بلکه هغه ئې له کتاب څخه نقل کوي په دې سند باندی کلام او ضعف ئې په لاندیني کتابونو کښې دی سنن ترمذی ج۱، ص۳۳، ج۱، ص۸۲ / طبقات المدلسین لابن حجر ص۱۱/ میزان الاعتدال ج۲، ص۲۸۹/ تهذیب التهذیب ج۸، ص۴۳ و ص۵۳/ مستدرک حاکم ج۱، ص۱۹۷/ شرح معانی الآثار ج۱، ص۲۵/ محلی ابن حزم ج۱، ص۲۳۲/ اسعاف المبطاء برجال الموطاء ص۲۲.

په تحفة الاحوذی ج۱. ص۲۶۷ کښې لیکلی دی چه امام احمد او علی بن المدیني رحمهم الله علی د عمرو بن شعیب روایت د اعتبار وړ ګڼی حالانکه امام علی بن المدیني تصریح کوي چه

كله عمرو بن شعيب (**عن ابيه عن جده**) روايت كوي نو هغه ضعيف دى (**تهذيب التهذيب ج۸ ص۵۲**)

او امام احمد رحمه الله فرمايي **له اشياء مناكير و انما يكتب حديثه يعتبر به فاما ان يكون حجة فلا** همدارنګه فرمايي **وربما وجس في القلب منه شيء.** (**تهذيب التهذيب ج۸ ص۴۹**)

له نوموړي تفصيل څخه ثابته شوه چه دعلامه ذهبي د عمرو بن شعيب روايت نه حسن وبل له بلي طريقي څخه دى له دې څخه (**عن ابيه عن جده**) سند مراد نه دى لكه څرنګه چه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي **ومن ضعفه مطلقا فمحمول عن روايته عن ابيه عن جده.** (**تهذيب التهذيب ج۸ ص۵۱**)

۳- د عمرو بن شعيب په دويم روايت كښي له نوموړي ضعف پرته محمد بن عبد الله بن عبيد بن عمير هم واقع دى د چا چه تضعيف د ابي هريره رضي الله عنه د حديث لاندې تير شو

مذكوره پورتني حديثونو نه علاوه ئې چه كوم روايتونه وړاندې كړي دي هغه ټول د صحابهٔ كرامو رضي الله عنهم او تابعينو رحمهم الله باندې موقوف دي حالانكه د اهل حديثو په نزد د صحابه رو موقوف هم حجت نه دى د تابعينو موقوفات په كوم شمار كښې؟ علاوه له دې نه د مذكوره احاديثو غوندې له دغو آثارو څخه يو اثر ئې هم صحيح نه دى د هغو تنقيح (چاڼ) ملاحظه كړى

۴ - د ابن عمر رضي الله عنهما اثر په حقيقت كښې دا اثر له عبد الله بن عمرو بن العاص څخه دى په رواتو كښې چا په غلطۍ سره ابن عمر كړى دى (**كتاب القراءة ص۳۵**) د دې په سند كښې مثنى بن صباح ضعيف دى امام بخاري، امام نسائي، امام احمد، امام ترمذي، دار قطني، امام يحي القطان، ابن المهدي، حافظ ابن حجر، ابن معين، ابن عدي، ابن سعد، علي بن الجنيد، حافظ ابن حبان، ساجي، ابو احمد الحاكم، سحنون او امام عقيلي رحمهم الله تعالى هغه لره ضعيف ګڼلى دى (**ضعفاء صغير للبخاري ص۳۰/ ضعفاء صغير للنسائي ص۵۳/ ميزان الاعتدال ج۳ ص۷/ تهذيب التهذيب ج۱۰ ص۳۶/ تقريب ص۳۳۶**)

برسيره پر دې دا اثر مجمل دى ځكه چه په دې كښې د سورهٔ فاتحه صراحت نشته

۵ - د سعيد بن جبير اثر د دې په سند كښې دوه راويان ضعيف دى يو عبد الله بن رجاء مكي امام احمد، ازدي او ساجي رحمهم الله تعالى د هغه تضعيف كړى دى (**ميزان الاعتدال ج۲ ص۲۴/ تهذيب التهذيب ج۵ ص۲۱۱**) دويم عبد الله بن عثمان بن خثيم امام نسائي، امام ابن معين، امام ابو حاتم، حافظ ابن حبان، امام ابن المديني، امام دار قطني رحمهم الله تعالى هغه لره ضعيف ګڼلى (**ميزان الاعتدال ج۲ ص۵۶/ تهذيب التهذيب ج۵ ص۳۱۵/ نصب الرايه ج۱ ص۳۵۴**)

۶ - د سعيد بن جبير دويم اثر د دې په سند كښې هم عبد الله بن عثمان بن خثيم دى د چه

تضعیف پورته د حدیثو له څو امامانو څخه نقل شوی دی

۷- د ابي هریرهؓ اثر په دې کښې خو لومړی دا خبره ده چه دا د له حضرت ابو هریرهؓ څخه مروي دی او که له ابو سلمه تابعيؒ څخه رواتو په دې کښې تردّد دی برسیره پر دې د دې په سند کښې موسی بن مسعود ضعیف دی امام احمد. امام ترمذي. امام ابن خزیمه. بزار. ابو حاتم. عمرو بن علي الفلاس. ابو احمد الحاکم. امام حاکم. ابن قانع. ساجي او امام دار قطني رحمهم الله تعالی هغه ته ضعیف ویلی دی (میزان الاعتدال ج۳،ص۲۸۱/تهذیب التهذیب ج۱۰،ص۳۷۰)

۸- د هشام بن عروه اثر د دې په سند کښې هم موسی بن مسعود واقع دی چه د هغه تضعیف تقریباً د حدیثو له یو درځن امامانو څخه پورته نقل شو

برسیره پر دې په دې روایت کښې د (قصاعداً) زیاتوالی هم دی چه په هغه باندې د غیر مقلدینو هم عمل نشته

۹- د ابي هریرهؓ اثر د دې په سند کښې اسحاق بن عبدا الله بن ابي فروه ضعیف دی امام مالک. امام شافعي. امام نسائي. ابو حاتم. ابن حبان. ابو زرعه. ابن عمار. علي بن المدیني. دار قطني. برقاني. ابن خزیمه. خلیلي. بزار. ابن جارود. عقیلي. دولابي. ابو العرب. ساجي او ان شاهین رحمهم الله تعالی د هغه تضعیف کړی دی (تهذیب التهذیب ج۱،ص۲۴۱)

له مذکوره بحث څخه څرګنده شوه چه د مقتدیانو د سورۀ فاتحه د ویلو لپاره د امام د سکتاتو هیڅ ثبوت نشته البته په دوه ځایونو باندې سکتې ثابتې دي یوه سکته تر تکبیر تحریمې وروسته او دویمه سکته تر سورۀ فاتحه وروسته په اولنۍ سکته کښې خو ښکاره ده چه د سورۀ فاتحه د ویلو موقع نشته او تر سورۀ فاتحه وروسته سکته یواځې مقدره ده چه امام خپله ساه درست کړي د حدیثو امامان د دې تصریح کوي حتی یتراد الیه نفسه. (نسائی ج۱،ص۱۰۳/ابو داؤد ج۱،ص۱۱۳/ترمذی ج۱،ص۳۴/دارمی ص۱۳۶) پخپله مبارکپوري فرمایي بل السکتة الثانیة کانت لان یتراد الیه نفسه کما صرح به قتادة (تحفة الاحوذی ج۱،ص۲۰۹) له دغو تصریحاتو څخه ثابته شوه چه نه دې سکتې څخه مقتدیانو ته د فاتحې د قرائت موقع ورکول مقصود نه دی و نه په دومره لنډې سکتې کښې ئې ګنجائش شته تعجبه ده چه هوا پرستي له سکتې څخه سکتات څرنګه جوړ کړل؟ خان ته بیا هم اهل حدیث وائي حافظ ابن قیمؒ فرمائي چه له کوم صحیح حدیث څخه دا نه ده ثابته چه نبي کریم ﷺ دې د مقتدیانو د سورۀ فاتحه د قرائت لپاره سکته کړې وي (الهدیه العمام ص۱۸۵) د دې لپاره جمهور اهل اسلام د داسې سکتې یا سکتانو قائل نه دي تر دې پورې چه پخپله غیر مقلدینو کښې د انصاف خاوندان دا رد وي

شیخ الاسلام ابن تیمیه فرمائي ولم نعلم نزاعا بين العلماء انه لا يجب على الامام ان يسكت ليقرأ المأموم بالفاتحة ولا غيرها (الى قوله) ولا يستحب للامام السكوت ليقرأ المأموم عند جماهير العلماء وهذا مذهب مالك و ابي حنيفة و احمد بن حنبل و غيرهم رحمهم الله تعالى. (فتاوى ابن تيمية ج۲، ص۱۲۶/ تنوع العبادات ص۸۵) محمد بن سمعيل بن الصلاح امير يماني فرمائي ثم اختلف القائلون بوجوب القراءة فقيل في محل سكتات الامام و قيل في سكوته بعد تمام القراءة و لا دليل لهذين القولين في الحديث. (سبل السلام شرح بلوغ المرام ج۱، ص۱۰۶)

د مذکور شیخ محمد بن اسمعیل په اړه نواب صدیق حسن خان صاحب فرمائي امام صنعاء و علامهٔ یمن و شاعر مجید و مجتهد مفید و محدث کامل و عارف واصل است. عامل بود بکتاب و سنت بحسب اجتهاد نفس خود تقید بتقلید احدی از اهل علم نداشت. (التقصار جیود الاحرار من تذکار جنود الابرار ص۸۰)

درایةً هم د مقتدیانو لپاره د امام سکته کول د شرعي د اصولو خلاف دي بلکه د شریعت له قانون سره مقابله ده شریعت مقتدیانو ته د امام د اتباع حکم ورکړی دی او د حدیثو د متابعت د عیانو امام ته د مقتدیانو د اتباع حکم ورکوی چه د هغو لپاره دې خاموشي غوره کړي د نبي کریم ﷺ ویناخو دا ده چه کله امام قرائت کوي نو تاسو غلي و اوسی لیکن پخیل ګومان سره د هل حدیثو دا فیصله ده چه د مقتدیانو د قرائت لپاره دې امام باید غلی شي امام ابو بکر الجصاص رحمه الله فرمائي وقوله ﷺ وانما جعل الامام ليؤتم به فاذا قرأ فانصتوا اخبار منه من ان من الائتمام بالامام الانصات لقراءته وهذا يدل على انه غير جائز ان ينصت الامام لقراءة المأموم لانه لو كان مأموراً بالانصات له لكان مأموراً بالائتمام به فيصير الامام مأموما والمأموم اماما في حالة واحدة وهذا فاسد. (احكام القرآن ج۳، ص۵۱)

۱۲ د خیر الکلام مصنف فرمائي چه د سورهٔ اعراف په آیت کښي له انصت څخه په کُلي توګه خصوصي مراد نه دی ځکه چه له نورو آیتونو څخه ثابتیږي چه د قرآن د قرائت په وخت خو جائز کلمات ویل د اعراف د آیت منافي نه دي آیتونه دا دي (اِنَّ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهٖٓ اِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ يَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ سُجَّدًا ۙ وَّيَقُوْلُوْنَ سُبْحٰنَ رَبِّنَآ اِنْ كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُوْلًا). (بنی اسرائیل) (وَاِذَا سَمِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَى الرَّسُوْلِ تَرٰٓى اَعْيُنَهُمْ تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوْا مِنَ الْحَقِّ ۚ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اٰمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ۝ وَمَا لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَمَا جَاۗءَنَا مِنَ الْحَقِّ ۙ وَنَطْمَعُ اَنْ يُّدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصّٰلِحِيْنَ). (مائده) (اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ مِنْ

قَبْلِهٖ هُمْ بِهٖ يُؤْمِنُونَ وَإِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ قَالُوْا اٰمَنَّا بِهٖ إِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّنَا إِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلِهٖ مُسْلِمِيْنَ).(قصص) له دغو سره حخه حرګنده سوه حه خينې جنزې کلمې وېل د قرآن د استماع او انصات سره ټکر نه دی (خير الکلام ص۳۶۶)

موږ پوره تسه کړه چه د اعراف د آيت شان نزول په اجماع سره قرائت خلف الامام دی په سورتي آيتونو کښې چه کوم کلمات راغلي دي هغه نه په حالت د لمانځه کښې دي او نه په حکم دی قرائت د قرآن دي همدا رنګه آيا پوره سورهٔ فاتحه صرف څو کلمات دي؟ د درايت له مخې هم سورتي آيتونو کښې د مذکوره کلماتو او د سورهٔ فاتحه په قرائت کښې فرق تسه چه د فاتحي په درست کښې د قرآن متنازعه ده او داسي کلمات وېل چه سه هغو کښې په قرآنکريم باندی د ايمان او نفد ظهار وی متنازعه نه دی بلکه د قرآن متبعت دی مثلا سه شاهي دربار کښې د عرضی د وراندی کولو سه وخت کښې چه بول حاضرين عرضه ووائي نو د ادب خلاف دی او که حرته بو سړی عريضه وړاندی کوی او نورنې په ساتيد کښې څه کلمات ووائي نو دا عين ادب دی

سر دی څيه بوری د دغو بيکرو سوبلاتو خوابونه وو کوم چه په (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَأَنْصِتُوْا) قرآني نص کښې کړی مخکښې د مخالف لوري د خنو الزاماتو حال واوري د الزاماتو د فهرست سر ذکر کولو مخکښې موږ غواړو چه دوباره دا حقيقت په ذهن کښې در کښينوو حه د اعراف آيت په اجماع سره په لمانځه کښې له قرائت خلف الامام حخه د ممانعت په باره کښې نازل سوی دی حه مفصل بيان ئي په دی آيت باندی د بحث سه ابتداء کښې سر شو لهذا له لمانځه څخه د باندی قرائت او سه لمانځه کښې د غير مقتدی قرائت او سه لمانځه کښې له قرائت پرته د نورو ذکرونو لکه ثناء او داسي نورو سه دا آيت شامل نه دی د دې حقيقت سه نظر کښې ساتلو سره د مخالف لوری له خوا څخه وارد شوی الزامات بخپله له حقيقت څخه لرې او باطليری اوس د دغو الزاماتو فهرست ملاحظه کړئ

[1] امام بخاری رحمه الله سه جزء القرائت ص۳۵ کښې او مبارکپوري سه تحقيق الکلام ج۲. ص۴۴ کښې فرمائی حه کله سو څوک سه داسې وخت کښې اقتداء کول وغواړی حه امام سه قرائت باندی شروع کړی وی نو سکبير تحريمه به خامخا وائی او دا آيت د استماع او انصات منافي دی لهذا به مذکوره آيت باندی د فاتحه خلف الامام د مانعينو هم عمل نسته.

د دی الزام باطل والی ښکاره دی حه تکبير تحريمه نه قرآن دی او نه د لمانځه به منځ کښې دی ځکه چه د احنافو سه نزد تکبير تحريمه شرط دی او شرط له مشروط حخه د باندی او مخکښې وي

[2] امام بخاری رحمه الله سه جزء القرائت ص۷ او ص۱۰ کښې. امام بيهقي رحمه الله سه کتاب القرائت ص۱۵۷ کښې او مبارکپوری سه تحقيق الکلام ج۲. ص۴۶ کښې فرمائی حه د قرائت خلف الامام

مانعين هم په اقتداء کښې د ثناء او داسې نورو د ويلو قائل دي ځکه د دې آيت په استماع او انصاب باندې عمل کوونکي پاتې نه شول

د احنافو په نزد مدرک د دې لپاره ثناء ويلې شي چه تر اوسه خو لا امام قرائت شروع کړی نه دی او مسبوق ته د امام د جهري قرائت په وخت کښې د ثناء ويل جائز نه دي په منيه کښې دي چه و روی عن الفقيه ابي جعفر الهندواني انه قال اذا ادرك الامام في الفاتحة يثني بالاتفاق. دا قول د تمريض په صيغې سره د منقول والي له وجې ضعيف دی چنانچه علامه حلبي رحمه الله د مذکور عبارت لاندې فرمائي وان ادركه في السورة يثني عند ابي يوسف لا عند محمد ذكره في الذخيرة وهو بعيد اذا لا فصل في قوله تعالى وإذا قرئ القرآن فاستمعوا له الآية بين الفاتحة وغيرها بل الاصح هو القول الاول انه لا يأتي به مطلقا لاطلاق النص. (كبيرى ص۲۹۵) البته له سرّي قرائت سره د ثناء د ويلو اجازه شته د دې خواب هغه دی چه منصوص ممانعت يواځې د قرآن له قرائت څخه دی لقوله ﷺ فلا تقرؤوا بشيء من القرآن قاضي شوکاني فرمائي وظاهر التقييد بقوله من القرآن يدل على انه لا بأس بالاستفتاح حال قراءة الامام بما ليس بقرآن والتعوذ والدعاء. (نيل الاوطار ج۲، ص۲۴۴) او نواب صديق حسن خان صاحب فرمائي واين روايات (فلا تقرؤوا بشيء من القرآن وغيرها) ونحو آن دلالت دارند برآنکه منهي عنه نزد قراءت امام همان قرآن کريم است فقط واما قراءة توجه واستعاذه ونحو آن پس لا بأس به است ونهي متناول آن نيست ونه بوجهي از وجوه برآن دلالت دارد. (دليل الطالب ص۲۴۳) مولانا عبد الصمد صاحب هم په اعلام الاعلام ص۱۹۲ کښې همداسې ليکي له روايتونو برسيره درايةً هم دا خبره معقوله ده چه د امام د قرائت په وخت کښې د مقتدي لپاره يواځې قرائت منع دی، ثناء او داسې نور منع نه دي ځکه چه په سورة فاتحه کښې امام د ټولو مقتديانو له خوا څخه عريضه وړاندې کوي لهذا د مقتديانو له امام سره يو ځای ويل د ادب خلاف دی په خلاف د ثناء او داسې نور چه هغه دربار ته د داخليدو په وخت کښې د ابتدائي سلام او آدابو حيثيت لري او په دغو امورو کښې وکالت او نمائندګي نه وي بلکه د هغو ادا کول په ټولو حاضرينو باندې لازم وي

۳ - امام بخاري رحمه الله په جزء القرائت ص۷ کښې، امام بيهقي رحمه الله په كتاب القرائت ص۱۵۷ کښې او مبارکپوري په تحقيق الکلام ج۲. ص۴۲ کښې فرمائي چه د قرائت خلف الامام مانعينو په نزد د امام قرائت د مقتدي لپاره کافي دی لېکن په ثناء او داسې نورو کښې امام کفايت نه شي کولی له دې څخه ثابته شوه چه د هغو په نزد له فرض څخه د غير فرض اهميت زيات دی

د دې خواب پورته تير شو چه د حديث له روايت برسيره د درايت مقتضی هم همدغه دی چه

وکالت او نمائندګي بواځې د عریضې په وړاندې کولو کښې وي. د آدابو په پر ځای کولو کښې نه دي

له دغو اکبرو ځخه هيله ده چه آيا ستاسو په نزد د سورهٔ فاتحې ځخه پرته د ټول قرآن اهميت له ثناء او داسې نورو څخه کم دی چه له سورهٔ فاتحه څخه له زيات قرائت څخه ممانعت کوی او د ثناء او داسې نورو حکم ورکوی

د قرآن. حدیث او عقل سلیم دې فیصلې لره ستاسو له خپلې کورنۍ څخه قاضي شوکاني. نواب صاحب او مولانا عبد الصمد هم په تسليمولو مجبوره دي

۴ امام بخاري رحمه الله په جزء القرائت ص۷ کښې فرمائي چه کله د سهار جماعت ولاړ وي نو د احنافو په نزد له هغه سره نژدې د سنتونو ادا کول جائز دی دا آیت د استماع او انصات سره ټکر دی

دا الزام ځکه صحيح نه دی چه دا سړی تر اوسه د امام په اقتداء کښې نه دی داخل شوی

۵ . مبارکپوري په تحقيق الکلام ج۲. ص۳ کښې د کفايه ج۱. ص۶۸ او شرح وقايه ج۱. ص۱۷۵ کښې فرمائي چه د احنافو په نزد چه کله خطبې (يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا) ووائي نو اوريدونکو ته په پټه درود شريف ويل جائز دي حالانکه آيت اعراف خطبې ته هم شامل دی

دا الزام هم غلط دی ځکه چه دا تحقيق په تفصيل سره تير شو چه د اعراف آيت په اجماع سره د قرائت خلف الامام په اړه نازل شوی دی د آيت د نزول په وخت د خطبې وجود هم نه وو د خطبې په حالت کښې د سکوت حکم په حديثو باندې مبني دی البته چونکه خطبه هم د دوه رکعته لمانځه قائم مقام دی د دې لپاره ځينو حضراتو دا هم د اعراف د آيت د الفاظو په عموم کښې داخل کړی دی

برسيره پر دی په حنفي مذهب کښې د محقق او مفتی به قول په مطابق د خطبې په حالت کښې د اوريدونکو لپاره د درود شريف سوکه ويل هم جائز نه دي قال فی الخانية ومشائخنا قالوا بانه لا يصلی علی النبی ﷺ بل يستمع وينصت لان الاستماع فرض والصلوة علی النبی ﷺ يمکن بعد هذه الحالة.(خانيه ج۱ ص۸۰) وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تحت (قوله يصلی علی النبی ﷺ عند سماع اسمه فی نفسه) وعن ابی يوسف رحمه الله قلبا امتثالا الامرين الانصات والصلوة عليه صلی الله عليه وسلم کما فی الکرمانی قهستانی فی فصل باب الامامة واقتصر فی الجوهرة علی الاخير حيث قال ولم ينطق به لانها تدرک فی غير هذا الحال والسماع يفوت.(ردالمحتار ج۱ ص۷۶۸)

خاتمة الكلام (د خبرو لنډيز)

د قرائت خلف الامام په مسئلې باندې له څه لیکلو څخه مخکښې بنده په دې باندې غور وکړ چه که چېرته په دې مسئلې باندې د کوم بل عالم دا سې رساله په لاس راشي چه له جامعیت سره سره لنډه هم وي نو د دې په ځای چه زه د کومې نوې رسالې په لیکلو محنت وکړم سائلینو ته له هغې رسالې څخه د استفاده کولو مشوره ورکړم. لیکن په همدې صفت سره کومه رساله په دې وخت کښې زما په نظر را نه غله. د مولانا محمد سرفراز خان صفدر صاحب کتاب احسن الکلام په دې موضوع باندې د تحقیق او جامعیت له لحاظه ډېر د لوړې مرتبې دی لیکن ډیر اوږد دی ځکه ص خیل درس صحیح البخاري مخې ته په کېښودلو سره په هغې باندې د نور تحقیق کار شروع کړ په اضافو کښې مې له احسن الکلام طبع دوهم څخه هم مدد واخیست. په هغه کښې چه د کومو حوالو ورکړې شوې دی د هغو خوا ته له مراجعت څخه ثابته شوه چه د حواله جاتو په لیکنه کښې ډېرې غلطیانې دي. چه چېرته پرته له ستړې څخه په غلطۍ باندې پوه شوی یم د هغو اصلاح مې کړې دی او که نه نو همداسې را نقل کړی دي لهذا د علم خوندان چه چېرته په حواله کښې د جلد یا صفحې غلطي پیدا کړي نو هغه دې په احسن الکلام کښې د کتابت په غلطۍ باندې محمول کړي. په مصنف باندې دا اعتماد دی چه هغه د کوم مضمون نسبت چه د کوم کتاب خوا ته ورکړی وی هغه به صحیح وي.

د قرآني نصوصو بحث تکمیل ته نږدې وو چه ناڅابه د حضرت مولانا ظفر احمد صاحب قدس سرّه رساله فاتحة الکلام مې تر نظر تېر شو کوم چه په ظاهره زما د مقصد مطابق دی له دې وجې زه خپله رساله په همدې ځای ښې نه رسوم او د بحث لاندې مسئلې په اړه د احادیثو بحث، د احنافو دلائل او د مخالف لوري د دلائلو ځوابونو تفصیل په فاتحة الکلام کتلو او دعا کوم چه الله تعالیٰ دې مسلمه اُمت په فروعي مسئلو کښې د لوېدو او په مجتهد فیه امورو کښې د دمغو، قلم، صلاحیتونو، وخت، وسائلو، د مصرفولو او سخال منځ کښې د لاس او ګرېوان کېدو په ځای د اسلام د دښمنانو د تخریبونو او الحاد او بې دینۍ څخه د اسلام د دین د حفاظت په دې محدودو مسعو کوششونو توفیق ورکړې او د (أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ) مصداق جوړ شي آمین ثم آمین و ما توفیقي الا بالله.

رشید احمد

۱۲ رمضان المبارك ۱۳۹۸ هجري يوم الجمعة

فاتحة الكلام

فى القراءة

خلف الامام

بجواب

تكميل البُرهان

فى قراءة

أمّ القران

تاليف حضرت مولانا ظفر احمد صاحب عثمانی رحمه الله تعالى

بسم الله الرحمن الرحيم

مقتدي او د سورهٔ فاتحه قرائت

د حنفي مذهب موقف د کتاب او سنتو په رڼا کښې

تمهيد

له حمد او صلوة نه وروسته ما ته زما يوه ملګري د ډاک په ذريعې سره يوه رساله په نامه د تکميل البرهان في قراءة ام القرآن را ولېږله چه له کتنې څخه ئې جرګنده شوه چه د رسالې مصنف په نامه سره ... سی د سورة فاتحه لوستل لازم فرض ګنلی دی او له خپله ځانه ئې دا اجماعي مسئله فرض کړې ده لکه څرنګه چه له دې څخه د حنفي مذهب سکوالی مترشح کړې د دې لپاره ښه جرګنده شوه چه په دې مسئله کښې حنفي دلائل بيان کړي شي ترڅو چه دنيا ته څرګنده شي چه ... او حنفيه رحمهم الله په دې مسئلې کښې بې له دليل څخه کومه خبره نه کوي بلکه د کتاب او سنتو له دليل څخه ئې کوي د حنفيه وو د دلائلو تر لوستلو وروسته د هغو الزامونو ځوابونه هم ... ورکول کړي کوم چه په دې رسالې کښې په حنفيه وو باندې لګول شوي دي والله المستعان وعليه التکلان حسبنا الله ونعم الوكيل.

۱ - وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ۝

او چه کله قرآنکریم لوستل کیږي نو هغه (په ښه توګه) واورئ او چُپ (خاموش) و اوسیږئ ښائي چه په تاسو رحم وشي

ابو داؤد صاحب په سنن کښې له امام احمد بن حنبل څخه روایت کړی دی چه د ټولو خلکو په دې باندې اجماع ده چه دا آیت د لمانځه په باره کښې استعمال شوی دی امام احم فرمائي چه ټول خلک په دې باندې دي چه دا آیت د لمانځه په باره کښې دی سعید بن المسیب. حسن بصري. ابراهیم نخعي، محمد بن کعب او زهري ټول همدا خبره کوي چه دا آیت د لمانځه په باره کښې نازل شوی دی زید بن اسلم او ابو العالیه هم همدغه وائي چه خلکو د امام پسې قرائت کاوه نو دا آیت کریمه نازل شو (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا) بیا په دې باندې اجماع ده چه په مقتدي باندې په امام پسې قرائت لازم نه دی امام احمد فرمائي چه مونږ په اهل اسلام کښې له چا څخه دا نه دي اوریدلي چه کله امام په زوره قرائت وائي نو په هغه پسې د لمونځ کوونکو لمونځ پرته له قرائت څخه نه صحیح کیږي چنانچه رسول الله ﷺ او د ده صحابه او تابعین او په اهل حجاز کښې امام مالک. اهل عراق کښې سفیان ثوري. په اهل شام کښې اوزاعي. اهل مصر کښې لیث بن سعد له دوی څخه یوه ئې هم دا نه دي ویلي چه کله امام قرائت وائي او مقتدي قرائت و نه وائي نو ؛ هغه لمونځ باطل دی (المغني د ابن قدامه ج۱. ص۲۰۲ مطالعه کړی)

له دې څخه په ښکاره توګه معلومه شوه چه له کومو احادیثو څخه چه د مقتدي په ذمه په امام پسې قرائت لره فرض ګڼل شوی دی هغه د امام احمد په نزد صحیح نه دي او چه کوم صحیح دي هغه د منفرد او امام په حق کښې دي. د مقتدي په باره کښې نه دي لکه څرنګه چه په راتلونکي کښې څرګندیږي

مفسر ابن جریر طبري له مسیب ابن رافع څخه روایت کوي چه عبد الله بن مسعود وفرمایل چه مونږ به په لمانځه کښې په یو بل باندې سلام کاوه یعني سلام علی فلان. سلام علی فلان بیا د قرآنکریم دا آیت نازل شو (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا) چه کله قرآن ویل کیږي نو غوږ ورته و نیسئ او چُپ شئ

۲ ۳ ابن جریر له ابو عیاض څخه روایت کوي چه ابو هریره ؓ وفرمایل چه خلکو به لمانځه کښې خبرې کولې نو چه کله دا آیت نازل شو (واذا قرء القرآن) او دویم آیت (قوموا لله قانتین) نو د چُپ اوسیدلو حکم وشو د دی دوارو روایتونو راویان ثقه دي

له بشیر بن جابر څخه روایت دی چه ابن مسعود ؓ لمونځ وکړ او ځینې خلک ئې له امام سره قرائت ویلو وليدل نو له لمانځه څخه په فارغیدو سره ئې وفرمایل چه تاسو ته د دې وخت

نه دي راغلي چه پوه شي. د دې وخت نه دی راغلي چه خبر شي چه کله قرآن لوستل کېږي نو غوږ و نيسي او غلي يا چُپ شئ لکه څرنګه چه الله تعالى حکم کړی دی [1] (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا) امام طبري صاحب هم همدغه روايت کړی دی او د دې ټول راويان ثقه دي او سند ئې صحيح دی

۴ - امام بيهقي له مجاهد څخه روايت کوي چه رسول الله ﷺ په لمونځه کښې قرائت کاوه نو د يوه انصاري ځوان قرائت ئې واوريده نو دا آيت نازل شو (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا) بيهقي د دې په سند باندې هيڅ جرح نه ده کړې يواځې ئې دومره وويل چه دا مُرسل دی او دا مُرسل زمونږ په نزد حجت دی او چه کله ئې تائيد په نورو مراسيلو او داسې نورو څخه وشي نو بيا د ټولو په نزد حجت دی

مفسر طبري صاحب د دې موافق له زهري څخه روايت کوي چه کله رسول الله ﷺ به څه وويل نو يو انصاري ځوان به هم ورسره يو ځای ووايه په دې باندې دا آيت نازل شو (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا).

۵ - حافظ ابن مردوه پخپل تفسير کښې له معاوية بن قره څخه روايت کوي چه ما له خپلو صحابه وو څخه پوښتنه وکړه. عبد الرحمٰن مسرومي (راوي) وائي چه زما ګومان دا دی چه هغه عبد الله بن مغفل دی هغه ته ما وويل چه آيا په هر سړي باندې کوم چه قرآن اوري د هغه اوريدل او خاموش اوسيدل واجب دي و ئې فرمايل چه دا آيت (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا). د قرائت خلف الامام په باره کښې نازل شوی دی چه کله امام قرائت وائي نو وا ئې وری او غلي و اوسی

د دې ټول راويان ثقه دي يواځې ابو المقدم ضعيف دی ليکن دا حديث وکيع او زيد بن الحباب. نضر بن شميل او يزيد بن هارون غوندي د حديثو امامان روايت کوی نو هغه داسې ضعيف نه دی چه رد کړی شي خصوصاً په داسې حال کښې چه د هغه په تائيد کښې ډير آثار موجود دي، امام بيهقي له ابو العاليه څخه مرسلاً روايت کوی چه رسول الله ﷺ به چه کله به لمونځه کښې قرائت کاوه نو صحابهٔ کرامو به هم قرائت کوه نو آيت نازل شو (فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا) (د نبي کريم ﷺ قرائت واورئ او خاموش و اوسی نو خلک خاموش وسيدل و نبي کريم ﷺ به قرائت کاوه [1] (جزء القرائت ص۷۴) بيهقي د دې په راويانو کومه جرح نه ده کړې يواځې دومره چه دا منقطع يعني مرسل دی او مرسل زمونږ په نزد حجت دی

---

[1] د دغو ټولو آثارو او احاديثو کوم چه په دې مضمون کښې مذکور دی د سند او متن مفصل تحقيق ئې په علاء السنن کښې راغلي دی خوک ئې چه شوق لري هلته دی مطالعه کړي. ۱۲ منه

۲ امام بیهقی په جزء القرائت کښې له عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت کړی مؤمن د قرآنکریم خوا ته د غوږ نیولو څخه په وسعت کښې دی. که نې واوری یا نې وا نه وری. لیکن په فرض لمانځه کښې او د جمعې، کوځتي اختر او لوی اختر په ورځ یعني په دغو لمونځونو کښې چه کله قرآن لوستل کیږي نو قرآنکریم واوري او خاموش به شي. ص۷۳

فائده د ابن عباس مذهب خو دا معلومیږي چه د لمانځه نه بغیر د قرائت اوریدل واجب نه دی نه دی کښې د فقهاوو اختلاف دی د حنفیه وو دا قول هم د دي موافق دی. دویم قول دا دی چه د لمانځه نه د باندې هم د قرآن د قرائت لپاره چُپ اوسیدل او اوریدل واجب دي په دې کښې احتیاط دی ځکه چه د قرآن د آیت شان نزول اګر که قرائت خلف الامام دی لیکن الفاظ نې مطلق دي

۷ محمد بن کعب قرظي د تفسیر او حدیثو امام، څخه روایت دی چه صحابه کرامو به له رسول الله ﷺ سره یو ځای قرائت کوو تر دې پورې چه د سورۀ اعراف آیت نازل شو ﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا﴾. (جزء القراءة ص۷۰)

بیهقي د دې په سند کښې هیڅ علت نه دی بیان کړی بلکه سکوت نې کړی دی

فائده مفسر ابن جریر طبري پخپل تفسیر کښې د دې آیت په اړه د ګڼو آثارو په نقلولو سره فرمایلي دي چه په ټولو قولونو کښې صحت او صواب ته زیات نږدې د هغو خلکو قول دی کوم چه وائي چه مقتدیانو ته په لمانځه کښې د قرآنکریم د اوریدلو حکم ورکړ شوی دی. چه کله امام قرائت کوي او خلک په هغه پسې اقتداء کوي او د خطبې د اوریدلو امر شوی دی. موږ دا قول ځکه صحیح بللی دی چه له صحیح حدیث څخه د رسول الله ﷺ دا ارشاد ثابت دی چه ده وفرمایل (اذا قرأ الإمام فأنصتوا). چه کله امام قرائت کوي نو خاموش و اوسئ او د ټولو (علماوو) په دې باندې اتفاق دی چه کوم سړی د جمعې خطبه له امام څخه واوري په هغه باندې اوریدل او خاموش وسیدل واجب دي. له اجماع څخه سربیره له رسول الله ﷺ څخه په احادیثو کښې هم په تواتر سره د دې امر راغلی دی او له دغو دواړو حالتونو څخه سربیره په بل یو حالت کښې د قرآنکریم اوریدل او د قرائت لپاره د چُپ اوسیدل واجب نه دي. اګر که په دې صورت کښې اختلاف شته چه کله مقتدی په امام پسې وي څینې علماء په هغه باندې خاموش وسیدل نه او حیوي بلکه د سورۀ فاتحه قرائت ورته واجب بولي لیکن له رسول الله ﷺ څخه په صحیح حدیث کښې ثابت دی چه ده وفرمایل چه کله امام قرائت کوي نو خاموش و اوسئ ... په امام پسې د هغه د قرائت د خاموش ... سیدل په هغو خلکو باندې واجب دي چه څوک نې ... وي ... د ... ته وحی د قرآنکریم له عموم ... د رسول الله ﷺ له ... ص۲۹

له دې تقریر څخه دا ... چه ... د ...

کړی په جهری لمانځه کښې د مقتدي په ذمې باندې د قرأن اوریدل او چُپ اوسېدل واجب بولي او په سِر لمانځه کښې د مقتدي قرائت جائز بولي او زیات اختلاف په جهری لمانځه کښې دی. په سِر لمانځه کښې زیات اختلاف نشته لکه څرنګه چه به رالمونکي کښې به څرګنده شي اګر که د حنفیه وو په نزد د دې هم دلائل موجود دی چه په سِر لمانځه کښې هم مقتدي باید په امام پسې قرائت و نه کړي ځکه چه په قرآنکریم کښې دوه حکمونه دي یو (استمعوا) د امام قرائت واورئ دا د جهري لمانځه سره خاص دی دوهم حکم (انصتوا) د امام د قرائت په وخت کښې خاموش و اوسئ دا جهري او سِرّي لمونځونو دواړو ته شامل دی نو که څرنګه مقتدي په سِرّي لمانځه کښې د استماع په حکم باندې عمل نه شي کولی نو د انصات په حکم باندې خو عمل کولی شي دا به د څه لږ سربېرې له دې نه سربېره احادیث او آثار هم په رالمونکي کښې ښکاره شي چه له هغو څخه د مقتدي په ذمې باندې په امام پسې مطلقاً د چُپ اوسېدلو وجوب ثابت دی که جهري لمونځ وي او که سِرّي لمونځ

دلته په دې خبرې باندې هم ځان پوه کړئ چه کومو صحابه وو یا تابعینو د (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا). په شان نزول کښې د جمعې د خطبې ذکر کړی دی د هغو مطلب دا دی چه وروسته د جمعې خطبه هم د دې آیت لاندې داخل کړی شوې ده ځکه چه د ټولو مفسرینو، قراوو او محدثینو په دې خبرې باندې اتفاق دی چه سورۂ اعراف مکي دی بیضاوي بواخې انه آیتونه ترې مستثنی کړي دي کوم چه له (اِذْنَتَقْنَا الْجَبَلَ) څخه شروع کیږي چه (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ). پکښې داخل نه دی دا په اتفاق سره مکي دی او په مکې کښې د جمعې لمونځ فرض نه وو او نه هلته د جمعې خطبه وېله شوې وه نو دا په شان نزول کښې څرنګه بیاندلی شي بس صحیح دا ده چه دا آیت د قرائت خلف الامام په باره کښې نازل شوی دی او د خطبې حکم هم د لمانځه غوندې دی تر دې وروسته د امام بیهقي دا وینا صحیح نه ده چه په دې آیت کښې مقتدیانو ته په امام پسې د دنیوي خبرو کولو او په جهر سره له قرائت کولو څخه منع راغلې ده په نسبت سره د سورۂ فاتحه له لوستلو څخه منع نه ده راغلې ځکه چه یقیناً دا خبره ده چه د دې آیت الفاظ سورۂ فاتحه او د نورو سورتونو ته شامل دي په آیت کښې د ... حکم دی چه معنی یې دا ده بالکل چُپ او غلي اوسېدل کوئ چه له فاتحه څخه هم د چُپ اوسېدلو مقتضي دی ... بیهقي د حنفي په حق کښې په ... د ... معنی ذکر ... صحیح ... د ... د وېلو ... کوي که ... نو هلته له دې ... څخه په ... د چُپ اوسېدلو ... معنی په استدلال څرنګه صحیح وي که ... د جمعې د مذهب په هم خلاف ... او د اجماع په هم خلاف وي د جمعې په حقله کښې د ... د حنفي ...

په د الله تعالى ذكر او تسبيحات ويل جائز نه دي نه په پټه سره او نه په زوره پس د حبرانتيا خبره دا ده چه په خطبه کښې خو په مطلقه توګه له ذکر او تلاوت او داسې نورو څخه په پټه سره هم او په جهر سره هم منع کړې شي او په لمانځه کښې دی په پټه سره قرائت ته جائز وويل شي حالانکه په دې باندې اجماع ده چه د اعراف د آيت ﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا﴾. نزول د قرائت خلف الامام په باره کښې شوی دی که چرته دا وويل شي چه د خطبې لپاره په احاديثو کښې د انصات تاکيد دی نو مونږ وايو چه د لمانځه په دننه کښې مقتدي ته د انصات تاکيد په قرآنکريم کښې هم شته او په حديثو کښې هم لکه څرنګه چه په راتلونکي کښې څرګنده شي

۸ - له ابو موسى اشعرى ﷺ څخه روايت دی چه رسول الله ﷺ وفرمايل چه **اذا قرأ (اى الامام) فانصتوا** چه کله امام قرائت کوي نو چُپ و اوسئ دي لره امام مسلم روايت کړی دی او حافظ ابن حجر وفرمايل چه حديث صحيح دی امام احمد هم دي ته صحيح ويلي دي لکه څرنګه چه حافظ ابن عبد البر په تمهيد کښې بيان کړی دی او د امام ابو جعفر طبري قول مخکښې تير شو **وقد صح الخبر عن رسول الله ﷺ من قوله اذا قرأ الامام فانصتوا** چه له رسول الله ﷺ څخه په صحيح حديث کښې ثابته شوه چه ده وفرمايل چه کله امام قرائت کوي نو خاموش يا چُپ و اوسئ دا حديث امام احمد بن حنبل هم پخپل مسند کښې د امام مسلم په سند سره له ابو موسى اشعري څخه روايت کړی دی چه رسول الله ﷺ مونږ ته تعليم راکړ چه کله تاسو لمانځه ته ودريږئ نو يو سړی دې امام جوړ شي او چه کله امام قرائت کوي نو تاسو به خاموش وسئ د ابو عوانه په صحيح کښې دې حديث لره له عبد الله بن رشيد څخه ابو عبيده مجاعه بن زبير عتکي، څخه له قتاده څخه له يونس ابن جبير څخه له حطان بن عبد الله رقاشي څخه ابو موسى اشعري څخه روايت کوي چه رسول الله ﷺ وفرمايل چه کله امام قرائت کوي نو خاموش و اوسئ او چه کله ﴿غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ﴾ ووائي نو آمين ووايئ په دې کښې ابو عبيده د سليمان تيمي متابعت کړی دی هغه هم له قتاده څخه د سليمان تيمي غوندی **(اذا قرأ الامام فانصتوا)** روايت کوی او ابو عبيده ثقه دی په انساب سمعاني کښې عبد الله ابن رشيد او ابو عبيده دواړو ته مستقيم الحديث ويل شوي دي دار قطني هم پخپل سنن کښې دا حديث روايت کړی دی د هغه په سند کښې عمر بن عامر او سعيد بن ابي عروبه له قتاده څخه د سليمان تيمي غوندی **(اذا قرأ الامام فانصتوا)** روايت کړی دی عمر بن عامر د امام مسلم له راويانو څخه دی همدارنګه د هغه شاګرد سالم بن نوح هم د مسلم په رجالو کښې دی امام مسلم او ابن خزيمه او ابن حبان پخپل صحيح کښې له ده څخه روايت کوي ... د څنو محدثينو دا وينا چه د قتاده له شاګردانو څخه بو خي سليمان تيمي په دې حديث کښې چه د **(اذا**

قرأالامام فانصتوا) زیاتوالی کړی دی. غلط دی د قتاده درېو شاګردانو کوم چه ثقه دي د سلیمان تیمي موافقت کړی دی بیا له امام مسلم څخه د هغه شاګر پوښتنه وکړه چه په دې حدیث کښې (اذا قرأفانصتوا) صحیح دی؟ امام مسلم ځواب ورکړ (ترید احفظ من سلیمان). آیا تاسو له سلیمان څخه پورته د حدیثو حافظ غواړی؟ یعنې هغه کامل الحفظ. تام الحفظ. تام الضبط دی د هغه تفرد مضر نه دی (اګر که هغه منفرد هم وي په داسې حال کښې چه هغه په دې زیاتوالي کښې منفرد نه دی د دې متابعت او موافقت کوونکي نور ثقات حفاظ هم شته)

۹- له حضرت ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چه رسول الله ﷺ وفرمایل امام د دې دپاره جوړ شوی دی چه د هغه اقتداء وشي هو، چه کله هغه الله اکبر وائي نو تاسو هم الله اکبر وایئ او چه کله هغه قرائت کوي نو تاسو چُپ و اوسئ او چه کله سمع الله لمن حمده ووائي نو تاسو ربّنا لک الحمد ووایئ دې لره نسائي روایت کړی دی او امام مسلم پخپل صحیح کښې دې ته صحیح ویلي دي او امام احمد بن حنبل او ابن حزم هم دې ته صحیح ویلي دي (جوهر نقي)

فائده پس د امام ابو داؤد دا وینا چه په دې حدیث کښې د (اذا قرأفانصتوا) زیاتوالی محفوظ نه دی. زمونږ په نزد ابو خالد وهم کړی دی- صحیح نه د ځکه چه ابو خالد احمر د مسلم او بخاري له رجالو څخه دی دواړو له دې څخه احتجاج کوي (دلیل وړاندې کوي) بیا د ابو خالد احمر متابعت هم موجود دی محمد بن سعد انصاري هم له ابن عجلان څخه دا حدیث د ابو خالد احمر غوندې له (اذا قرأفانصتوا) سره روایت کړی دی په سنن نسائي کښې دا متابعت موجود دی او امام نسائي د محمد بن سعد توثیق کړی دی امام ابن جریر طبري هم دې ته صحیح ویلي دي پس انصاف دا دی چه په دې حدیث کښې پرته له هغو خلکو څخه کوم چه د قرائت خلف الامام قائل دي هیچا جرح نه ده کړې او د اصول حدیث په لحاظ سره د هغوی جرح صحیح نه ده ځکه چه لومړی خو په اصولي توګه د ثقه زیاتوالی مقبول دی دویم دا چه کوم راوي ته چه په زیاتوالي کښې منفرد وبلل کیږي د هغه متابعت نورو ثقاتو هم کړی دی اوس باید پوه شئ چه له حدیث څخه معلومه شوه چه امام د دې لپاره جوړیږي چه د هغه اتباع وشي او د قرآن د لوستونکي اتباع دا ده چه په خاموشي سره هغه واورول شي همدا د سورة اعراف د آیت (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا). مدلول دی همدا د دویم آیت[1] (وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوا أَنصِتُوا) (سورة الجن) همدا د

---

[1] (ترجمه) او چه کله مونږ ستا خوا ته د پیریانو یوه ډله متوجه کړله چه قرآن واوري چه کله هغوی د قرآن د اوریدو لپاره حاضر شول نو یخپل منځ کښې ئې سره وویل چه غلي او چُپ و اوسئ

در سوال ... (لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ). (قال ابن عباس في تفسيره فاستمع له وانصت كما في البخاري) مدلول دی همدغه مفهوم د ابو موسی اشعری او ابو هریره رضی الله عنهم په حدیثونو کښې حرکند کړی شوی دی چه کله امام قرائت کوی نو خاموش و اوسی او کوم حدیث چه د قرآنکریم له نص سره موافق نه وي په هغو کښې تاویل لازم دی که حرنه ئي سند صحیح وی او که نه وي نو رديږي به که حرنه ئي سند ضعیف وي

لکه حرنګه چه له حضرت عبادة بن الصامت رضی الله عنه د حدیث چه حومره برخه صحیح ده یعنی (لا صلوة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب) د هغه سری لمونځ نه کیږی چه سورة فاتحه و نه لولي په دی کښې د امام یا مقتدي هیڅ ذکر نشته و دی لره سفيان بن عتبه او زهری د حدیثو راوي او امام احمد بن حنبل رحمه الله تعالى نورو ته امام او منفرد ته دی محمول کړی دی څکه چه امام مالک صاحب په موطا کښې او ترمذی په جامع ترمذی کښې له حضرت جابر بن عبد الله صحابي رضی الله عنه څخه موقوفاً او امام طحاوی مرفوعاً روایت کړی دی (من صلى ركعة لم يقرأ فيها بأم القرآن فلم يصل الا وراء الامام) چه چه کوم لمونځ برنه د سورة فاتحه څخه ادا کړ هغه لمونځ و نه کړ لیکن که حرنه په امام پسی وی نو لمونځ ئي کیږي د لومړي روایت سند صحیح او د دویم روایت سند حسن دی امام احمد بن حنبل فرمائي چه وګوری جابر بن عبد الله صحابي رضی الله عنه د رسول الله ﷺ ارشاد چه (لا صلوة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب) چا چه په لمانځه کښې سورة فاتحه و نه لوست د هغه لمونځ نه کیږی دا مطلب بیان کړی دی چه دا حکم د هغه چا لپاره دی چه بواځي لمونځ کوی (ترمذي) دا حکم مقتدي ته نه دی او د عبادة د حدیث له کومي برخی څخه چه په امام پسی د قرائت ویل ثابت کړي دی د هغه په صحت باندی محدثین خبر کوی لکه حرنګه چه په راتلونکي کښې به څرګنده شي نو هغه به رديږي څکه چه هغه د قرآن د نص او د حدیثو خلاف دی یا به هغه کښې به تاویل کیږي

۱۰ له حضرت عمران بن حصین رضی الله عنه څخه روایت دی چه رسول الله ﷺ د ماسپښین لمونځ ادا کړ نو یو سړی په ده پسی د (سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى) سورت ویل شروع کړ چه کله له لمانځه څخه فارغ شو نو وی فرمایل په تاسو کښې چه چا قرائت وکړ ما دا ګومان کاوه چه یو څوک له ما سره به

۱ د وحی د نزول په وخت کښې حیلی ژبي ته حرکت مه ورکوه د دي لپاره چه ژر ئي یاد کړی ... په ذمه باندی دی ... مقصود ... او د دی ویل نو چه کله موږ د جبرئیل علیه السلام په ژبه ... سره ... د ... عبد الله بن عباس ... په تفسیر کښې فرمایلي دی چه ... او خاموش اوسه بخاری ... له دی څخه معلومه شوه چه د قرآن د لوستونکي اوریدونکي ته همدغه ده چه هغه ... اوسي

قرائت کښې منازعت جګړه، کوي دا روایت امام مسلم صاحب کړی دی

فائده له دی څخه څرګنده شوه چه رسول الله ﷺ ته بر دې وخته پوري دا معلومه وه چه صحابهٔ کرام ﷺ به ده مبارک پسې قرائت نه کاوه څکه چه په سورهٔ اعراف کښې له قرائت خلف الامام څخه منع راغلی وه چه کله بوه چا قرائت وکړ نو ده مبارک پوښتنه وکړه چه دا قرائت کوونکی څوک وو؟ که چیرته قرائت خلف الامام جائز وای نو د دې پوښتني به څه وجه نه وه پاتې شوه دا خبره چه دی سري (سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى) لوستلی وو او سورهٔ فاتحهٔ ئې نه وو لوستلی د دې لپاره تنبیه یا خبرداري ورته وشوه نو څواب دا دی چه له دې څخه څرګنده شوه چه صحابه وو په امام پسې د سورهٔ فاتحه لوستل واجب نه ګڼه او که نه نو دا صحابي به د سورهٔ فاتحه په ځای بل سورت ولي وبه؟ د هغو په نزد سورهٔ فاتحه او غیر سورهٔ فاتحه ټول برابر وو که چیرته د فاتحی لوستل به مقتدي باندې واجب وای نو ده به یواځې په دومره خبري باندې کفایت نه کاوه چه ما دا ګومان کوه چه تو څوک له ما سره په قرائت کښې منازعت کوي بلکه صاف پاک به ئې ویلي وو چه (سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى) مه وابئ بلکه سورهٔ فاتحه بابد ووابئ او امام بیهقي د حضرت عمران له کوم روایت څخه چه په امام پسې د سورهٔ فاتحه وجوب ثابت کړی دی هغه موقوف دی او په سند کښې ئې زید بن ابي زید جصاص دی کوم چه اکثرو محدثینو ضعیف او متروک ګڼلی دی د ده له روایت څخه حجت وړاندې کول له انصاف څخه لرې ده

۱۱ له عبد الله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی چه خلکو به په رسول الله ﷺ پسې قرائت کاوه نو ده وفرمایل تاسو به ما باندې قرآنکریم مخلوط ګډوډ، کړ (یعني زما په قرائت کښې مو خلط ملط پیدا کړ، د دې سند د بزار به نزد غوره دی او ب مسند احمد کښې د دې راویان صحیح راویان دی

فائده په دی کښې هم د مقتدیانو په قرائت باندې د رسول الله ﷺ انکار کول صریح دی او د امام بیهقي دا تاویل چه خلکو به په زور سره قرائت کاوه څکه چه د امام به قرائت کښې په همدی حالت کښې خلط پیدا کیږي صحیح نه دی څکه چه لومړی خو د صحابه وو ﷺ په نبي کریم ﷺ پسې په زوره قرائت کول ډیره لرې خبره ده دویم دا چه دا هم د منلو وړ نه ده چه په سوکه با پټ قرائت سره امام ته خلجان (تردّد او شک) نه لوبږي بلکې د زړونو خاوندانو ته به پټ قرائت سره هم خلجان لوبږي سا د (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا). او د (اذا قرأ الامام فانصتوا) څخه د مقتدی به ذمې باندې د سکوت واجب والی څرګند دی چه هغه به نه به زوره د قرائت کولو اجازه ورکوي او نه به سه څکه چه نه دی آیت او د انصات للخطبه له احادیثو څخه ټولو فقهاوو د خطبی په منع کښې مقتدیانو له هر ډول قرائت او ذکر څخه په مطلقه توګه منع کړی دی چه نه په سوکه قرائت وکړي او نه

په زوره بیا د دې هیڅ وجه نشته چه په خطبه کښې مطلقاً سکوت ته واجب وویل شي او په لمانځه کښې له په زوره قرائت کولو څخه منع وشي او د پټ قرائت اجازه ورکړی شي حالانکه په اتفاق سره دا آیت د قرائت خلف الامام په باره کښې نازل شوی دی لکه څرنګه چه مخکښې تیر شول

۱۲- حسن بن صالح ابو الزبیر د حضرت جابر بن عبد الله (صحابي) څخه روایت کوي چه رسول الله ﷺ وفرمایل **(کل من کان له امام فقراءته له قراءة)** (د چا چه یو څوک امام وي نو د هغه قرائت د هغه لپاره هم قرائت دی) دا روایت امام ابو بکر بن ابي شیبه (په مصنف کښې) روایت کړی دی او د دې سند صحیح دی دې حدیث لره امام ابو حنیفه رحمه الله هم له ابو الحسن موسی بن ابي عائشه څخه له عبد الله بن شداد بن الهاد څخه له حضرت جابر څخه روایت کړی دی چه رسول الله ﷺ وفرمایل چه کوم سړی په امام پسې لمونځ وکړي نو د هغه قرائت د هغه لپاره هم قرائت دی دې لره امام محمد په موطا کښې روایت کړی دی علامه عیني فرمایي چه سند ئې صحیح دی او امام ابن الهمام او محمد بن منیع ویلي دي چه دا سند د شیخینو پ شرط باندې صحیح دی او په کتاب الا ثار کښې امام محمد صاحب دې لره مفصل روایت کړی دی چه رسول الله ﷺ لمونځ کاوه نو په ده پسې یوه سړي قرائت وکړ د هغه په څنګ کښې لمونځ کوونکي و ترمبه د لمانځه نه وروسته ئې له هغه څخه پوښتنه وکړه چه تا په لمانځه کښې ولې و ترمبلم؟ و ئې ویل رسول الله ﷺ ستاسو په مخکښې وو نو ما دا مکروه وګڼله چه تاسو په نبي کریم ﷺ پسې قرائت وکړی رسول الله ﷺ دا خبره واوریدله نو وئې فرمایل **(من کان له امام فان قراءته له قراءة)** (د چا چه یو څوک امام وي نو قرائت ئې یقیناً د هغه لپاره قرائت دی) او د دې سند صحیح دی دا حدیث حافظ احمد ابن منیع هم په خپل مسند کښې له امام سفیان ثوري او شریک (عبد الله بن نخعي) څخه له موسی بن ابي عائشه څخه عبد الله بن شداد څخه له حضرت جابر څخه روایت کړی دی چه رسول الله ﷺ وفرمایل چه د چا لپاره امام وي نو د امام قرائت د هغه لپاره هم قرائت دی او د بزار غوندي عبد بن حمید هم په خپل مسند کښې دا حدیث د حسن بن صالح په واسطه سره له ابو الزبیر څخه له حضرت جابر څخه مرفوعاً روایت کړی دی (فتح القدیر) او حافظ ابن حجر فرمایلي دي چه له حضرت جابر څخه دا حدیث مشهور دی (التلخیص الحبیر ص۸۷) پس د دار قطني دا وینا چه دې حدیث لره نورو ثقه‌ګانو مرسلاً روایت کړی دی سواخي (امام) ابو حنیفه او حسن بن عماره موصولاً روایت کړی دی او مرسل محمل صواب دی غلط دی ځکه چه مونږ ثابته کړه چه دا حدیث امام سفیان ثوري او شریک بن عبد الله نخعي هم د امام ابو حنیفه غوندي موصولاً روایت کړی دی امام سفیان ثوري په اتفاق سره ثقه او حجت دی او شریک بن عبد الله د مسلم له رجالو څخه دی او حسن بن عماره له محمد بن اسحق څخه په هیڅ توګه کم نه دی بس د دغو راویانو تر متابعت وروسته دا ویل چه د

روایت موصولاً صحیح نه دی د اصولو خلاف دی بیا امام ابو حنیفه چه یواځې هم کوم حدیث لره مرفوعاً روایت کړي نو حجت دی ځکه چه هغه د اُمت په علماوو کښې چه کومه درجه لري له هېچا څخه پټه نه ده پاتې شوه د ځینو اهل حدیثو دا وینا چه له دې حدیث څخه دومره څرګنده شوه چه مقتدي ته د امام قرائت کافي دی دا خو معلومه نه شوه چه مقتدي ته قرائت کول منع دي نو خواب ئې دا دی چه له دې څخه خو دا څرګنده شوه چه په مقتدي باندې په امام پسې قرائت کول واجب نه دي او همدا زمونږ مقصود دی د ممانعت لپاره د سورهٔ اعراف آیت او د (اذا قرأ الامام فانصتوا) صحیح حدیث پورته تیر شو چه په هغو کښې مقتدي ته په امام پسې د چُپ دریدلو حکم دی

او علامه ابن الهمام فرمائي چه کله له دې حدیث څخه د مقتدي لپاره د امام د قرائت له وجې څخه یو قرائت شرعاً ثابت شو که چېرته هغه بخپله قرائت کوي نو د هغه په یوه لمانځه کښې دوه قرائتونه شول او دا روا نه دی

۱۳ - له حضرت ابو الدرداء ﷺ څخه روایت دی چه یوه سړي له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چه یا رسول الله آیا په هر لمانځه کښې قرائت شته؟ و ئې فرمایل هو نو له ډلې څخه یوه بل سړي وویل دا واجبه شوه؟ رسول الله ﷺ وفرمایل نه زما په نزد چه کله امام قرائت کوي نو هغه (د ټولو لپاره) کافي دی دې لره طبراني روایت کړی او سند ئې حسن دی (مجمع الزوائد) مطلب دا چه په هر سړي باندې قرائت واجب نه دی بلکه د چا چه یو ځوک امام نه وي په هغه باندې واجب دی ځکه چه د امام قرائت د مقتدي لپاره کافي کیږي دې حدیث لره نسائي هم له صحیح سند سره په سنن مجتبیٰ کښې روایت کړی دی او و ئې ویل چه له رسول الله ﷺ څخه مرفوعاً صحیح نه دی بلکه دا د ابو الدرداء قول دی (یعني حدیث موقوف دی مرفوع نه دی) دار قطني وویل چه دې حدیث لره زید بن حباب او ابو صالح کاتب اللیث مرفوعاً روایت کړی دی او دا خطا دی صواب دا دی چه د ابو الدرداء قول دی زه وایم چه له زید بن الحباب څخه امام مسلم رحمه الله بخپل صحیح کښې روایت کړی دی او احمد بن حنبل او ابن المدیني، عجلي او داسې نورو ثقه ورته ویلي دي او له ابو صالح کاتب اللیث څخه امام بخاري صاحب بخپل صحیح کښې تعلیقاً روایت کړی دی او حاتم دده ته ثقه مأمون او ابن القطان ورته صدوق حسن الحدیث ویلي دي (ډېر زښتیا دی د ده حدیث حسن دی) نو کوم حدیث لره چه داسې راوی مرفوع وګرځوی د محققینو په نزد هغه ته مرفوع ویل کیږي بیا زمونږ په نزد موقوف حدیث هم حجت دی کم تر کمه له دې څخه د هغو صحابه کرامو ﷺ تعداد خو زیات شو کوم چه د قرائت خلف الامام قائل نه دي

۱۴ له عطاء بن یسار څخه روایت دی چه هغه له زید بن ثابت ﷺ څخه له امام سره د قرائت په باره کښې پوښتنه وکړه نو و ئې فرمایل چه له امام سره په هیڅ یوه حالت کښې قرائت نشته دی حدیث له امام مسلم بخپل صحیح کښې د سجدهٔ تلاوت په باب کښې روایت کړی دی او طحاوی

ئې هم له صحيح سند سره د همدغو الفاظو سره روايت کړی دی چه په امام پسې په لمانځه کښې قرائت مه کوئ

فائده د حضرت زيد بن ثابت صحابي ﷺ فتوی په ډرګنده توګه د امام ابو حنيفه مؤيد دی چه په هيڅ يوه لمانځه کښې په امام پسې بايد قرائت و نه شي کوم چه سورهٔ فاتحه او داسې نورو ټولو ته عام دی

۱۵ - امام مالک صاحب په موطا کښې له وهب بن کيسان څخه روايت کوي چه هغه له حضرت جابر بن عبد الله صحابي څخه اوريدلي دي چه هغه به فرمايل چه کوم سړی يو رکعت پرته له سورهٔ فاتحه څخه ادا کړي هغه لمونځ ادا نه کړ لېکن په امام پسې (پرته د سورهٔ فاتحه د لوستلو لمونځ کيږي) د دي سند صحيح دی ترمذي هم دي حديث لره روايت کړی دی او و ئې فرمايل چه دا حديث حسن دی او طحاوي مرفوعاً له رسول الله ﷺ څخه همدغه حديث په همدغو الفاظو سره روايت کړی دی او سند ئې حسن دی له دي څخه دا هم ډرګنده شوه چه په امام پسې د مقتدي په ذمې باندې د سورهٔ فاتحه لوستل واجب نه دي او په دي کښې د بيهقي دا تاويل نه شي چليدلی چه له قرائت څخه مراد جهر دی ځکه چه په دي صورت کښې به مطلب دا وي چه کوم سړی کوم رکعت ادا کړي او په هغه کښې سورهٔ فاتحه په جهر سره و نه لولي هغه لمونځ و نه کړ لېکن په امام پسې دې په زوره نه لولي. نو دا لازميږي چه په يواځې لمونځ کوونکي باندې د سورهٔ فاتحه په زوره لوستل واجب دي حالانکه د دي هيڅوک هم قائل نه دی حافظ ابن عبد البر په کتاب التمهيد کښې فرمايلي دي **ثبت عن علي و سعد وزيد بن ثابت انه لا قراءة مع الامام لا فيما اسر ولا فيما جهر. (الجوهر النقي ص١٥٦، وج١، ص١٥٤)**

حضرت علي او سعد (بن ابي وقاص) او زيد بن ثابت څخه ثابته شوه چه (د هغو په نزد) له امام سره قرائت نشته نه په سرّي (پټ) لمانځه کښې او نه په جهري لمانځه کښې

۱۶ - امام مالک له نافع څخه له عبد الله بن عمر رضی الله عنهما څخه روايت کوي چه له هغو څخه چه کله پوښتنه وشوه چه آيا په امام پسې قرائت [illegible] و به ئې ويل چه کله يو څوک په امام پسې لمونځ کوي نو د امام قرائت د هغه لره کافي دی او چه کله يواځې لمونځ کوی نو قرائت دې بايد وکړي نافع وائي چه عبد الله بن عمر [illegible] موطا [illegible] دی سند اصح الاسانيد دی (يعني ډير صحيح دی)

۱۷ - له ابو وائل څخه روايت دی چه يو سړی د عبد الله بن مسعود حوا ته حاضر شو و و ئې ويل، آيا زه په امام پسې قرائت وکړم؟ و ئې فرمايل د قرآن لره [illegible] ځکه چه په لمانځه کښې (يو) شغل دی (يعني د قرآن [illegible]) [illegible] غور کوئ [illegible]

ته د قرائت په باره کښې، امام کافي دی دې روایت لره طبراني په کبیر او اوسط کښې روایت کړی دی او د دې راویان ثقه دي او طحاوي ني هم په صحیح سند سره روایت کړی دی او بیهقي په جزء القرائت کښې له علقمه څخه روایت کړی دی چه عبد الله بن مسعود و فرمایل په امام پسې قرائت مه کوئ ځکه چه د هغه قرائت ستاسو لپاره هم قرائت دی او امام محمد په کتاب الاثار کښې له ابراهیم نخعي څخه روایت کوي چه علقمه په امام پسې په هیڅ یوه لمانځه کښې نه په سرّي او نه په جهري کښې نه سورهٔ فاتحه قرائت کاوه او نه بل کوم سورت او نه د عبد الله بن مسعود نورو ملګرو د عبد الله بن مسعود دا مذهب مشهور دی چه هغه په امام پسې قرائت نه کاوه او له دې څخه منع هم کوله همدغه مذهب د هغه د اصحابو علقمه. اسود او داسې نورو دی په همدې بندې د ابراهیم نخعي عمل وو (د روایتونو د حوالي لپاره اعلاء السنن ملاحظه کړی)

۱۸ - عبید الله بن مقسم وائي چه ما له عبد الله بن عمر او زید بن ثابت او جابر بن عبد الله ﷺ څخه (په امام پسې د قرائت په باره کښې) پوښتنه وکړه ټولو وفرمایل چه په امام پسې په هیڅ یوه لمانځه کښې قرات نه کیږي دې روایت لره امام طحاوي په صحیح سند سره روایت کړی دی

۱۹ ابو جمره وائي چه ما له ابن عباس رضی الله عنهما څخه پوښتنه وکړه چه کله امام زما مخي ته (قرائت کوي) نو آیا زه به هم قرائت وایم؟ و نې فرمایل چه نه، دې لره هم امام طحاوي په حسن سند سره روایت کړی دی

۲۰ - علقمه له ابن مسعود څخه روایت کړی دی هغه فرمائي چه کاش د هغه سړي خوله له خاورو ډکه شوې وای څوک چه په امام پسې قرائت کوي دې لره هم امام طحاوي پ صحیح سند سره روایت کړی دی

۲۱ - عون (ابن عبد الله) له ابن عباس رضی الله عنهما څخه هغه له رسول الله ﷺ څخه روایت کوي ده وفرمایل تاسو ته د امام قرائت کافي دی که هغه اخفاء وکړي او که جهر وکړي دې لره دار قطني روایت کړی دی او وئې ویل (د دې په سند کښې) عاصم قوي نه دی زه وایم دې روایت لره علي بن المدیني شیخ البخاري غوندې د حدیثو امامان روایت کوي او معن بن عیسی ورته ثقه ویلي دي او د ده نې ډیر تعریف کړی دی او د داسې راوي روایت مرفوع ګرځول د حدیثو د اصولو موافق مقبول دی

۲۲ - امام شعبي مرسلاً روایت کوي چه رسول الله ﷺ وفرمایل په امام پسې قرائت نشته دې لره دار قطني روایت کړی دی بیا له شعبي څخه له حارث څخه له حضرت علي څخه (موصولاً) روایت کړی دی چه یوه سړي رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چه زه په امام پسې قرائت ووایم او که چُپ پاتې شم؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل بلکه خاموش پاتې شه ځکه چه امام تاسو ته کافي کیږي بیا موصول نې د ضعف په وېلو سره ووېل چه مرسل کوم چه له دې څخه مخکښې ذکر شوی دی

زيات صحيح دى زه وايم چه مرسل د حنفيه وو په نزد حجت دى خصوصاً د شعبي مرسل چه هغه خو د محدثينو په نزد هم صحيح دى او چه كله د مرسل تائيد په موصول سره وشي نو بيا په اتفاق سره حجت دى اگر كه موصول ضعيف هم وى لكه خرنگه چه د اعلاء السنن په مقدمه كښي په حواله د شرح النخبه، تدريب الراوي او داسې نورو بيان شوى دى

۲۳ - عبد الرزاق پخپل مصنف كښي له موسى بن عقبه (امام المغازي) څخه مرسلاً روايت كړى دى چه رسول الله ﷺ او ابو بكر صديق، حضرت عمر او حضرت عثمان﷛ په امام پسې له قرائت كولو څخه خلك منع كول (عمدة القاري) علامه عيني فرمائي چه دا مرسل صحيح دى

۲۴ - عبد الله بن وهب له يحيى بن عبد الله سالم عمري او يزيد بن عياض څخه مرسلاً روايت كړى دى چه رسول الله ﷺ وفرمايل چه د چا لپاره كوم امام وي او اقتداء پسې وكړي نو له امام سره دې قرائت نه كوي ځكه چه د امام قرائت د هغه لپاره هم قرائت دى دې لره امام بيهقي په جزء القرائت كښې روايت كړى دى او فرمايلي ئي دي چه په يحيى بن عبد الله كښې نظر شته او يزيد بن عياض باندې ټولو محدثينو جرح كړى ده زه وايم چه د حديث مدار په يزيد بن عياض باندې نه دى له ده سره يحيى بن عبد الله هم دى او هغه د صحيح مسلم له رجالو څخه دى نسائي او دار قطني ده لره ثقه بللى دى پس د يحيى مرسل صحيح دى د يزيد بن عياض په مجروح كيدو سره هغه ته هيڅ ضرر نه رسيږي او مرسل زمونږ په نزد حجت دى

۲۵ - امام مالك له ابن شهاب (زهري) څخه ابن اكيمه ليثي څخه له حضرت ابو هريره څخه روايت كړى دى چه رسول الله ﷺ له لمانځه څخه په فارغيدو باندې په كوم لمانځه كښي چه هغه په جهر سره قرائت كړى وو و ئي فرمايل چه په تاسو كښي كوم يوه په دې وخت كښې له ماسره قرائت كړى دى؟ يوه سړي ووئيل چه هو، يا رسول الله ﷺ ما قرائت كړى دى رسول الله ﷺ وفرمايل چه ما هم ويل چه دا څوك دى چه له ما څخه قرائت وړي (يعنى په قرائت كښي له ما سره منازعت كوي) چه كله خلكو دا خبره واوريدله نو په همدې لمانځه كښي له قرائت كولو څخه منع شول په كوم لمانځه كښې چه نبي كريم ﷺ په جهر سره قرائت كوو د روايت امام مالك په موطا كښې. امام شافعي په مسند كښي او ائمهٔ اربعه وو په سنن كښې روايت كړى دى او امام ترمذي دې ته حسن وئيلي دي او ابن حبان ورته صحيح ويلي دي امام مالك دى روايت لره په موصول سند روايت كول د صحت لره كافي دى په دى باندې څنو محدثينو دا جرح كول چه (فانتهى الناس عن القراءة فيما جهر فيه - الخ) خلك په جهري لمانځه كښې له قرائت كولو څخه منع شول الخ د زهري قول دى. د صحابي قول نه دى، د مسلم وړ نه دى ځكه چه په سنن ابي داؤد كښې دى حديث لره معمر له زهري څخه روايت كړى دى او صاف ئي وئيلي دي چه (قال ابو هريرة فانتهى الناس عن القراءة - الخ) نو

هريره وفرمايل چه تول خلک په نبي کريمﷺ پسې له قرائت کولو څخه منع شول الخ او معمر ثقه او متقن دی له ده څخه روايت کوونکی احمد بن السرح هم د ثقاتو له اثبات څخه دی پس د اصول حديث په موافق معمر ته ترجيح ورکول کيږي بيا که چيرته د زهري قول و منل شي نو هغه د سير او مغازي امام او د رسالت د زماني د خبرونو ښه پيژندونکی دی په دې باب کښې د هغه قول حجت دی له دې څخه په قطعي توګه څرګنده شوه چه له دې واقعې څخه وروسته ټولو صحابهٔ کرامو په نبي کريمﷺ پسې په جهري لمانځه کښې قرائت کول پريښودل

فائده له دې حديث څخه لاندينې امور مستفاد شول

۱ - کوم خلک چه په امام پسې قرائت کاوه د رسول اللهﷺ په امر سره ئې نه کاوه او نه ده ته د دې علم وو او که نه نو نبي کريمﷺ ته د دې پوښتنې ضرورت نه وو چه آيا کوم يوه په دې وخت کښې په ما پسې قرائت کړی دی

۲ ټولو صحابهٔ کرامو په امام پسې د نبي کريمﷺ په زمانه کښې قرائت نه کاوه څکه چه د نبي کريمﷺ په پوښتنې سره يواځې يوه سړي خواب ورکړ چه ما قرائت کړی دی

۳ نبي کريمﷺ د دې سړي په قرائت باندې انکار وکړ چه له وجې ئې خلک په جهري لمونځونو کښې له قرائت کولو څخه منع شول

۴ په سرّي لمونځونو کښې له دې وروسته هم څينو خلک قرائت کاوه چه بيا وروسته نبي کريمﷺ له دې څخه هم خلک منع کړل لکه څرنګه چه د عبد الله بن شداد په روايت کښې تير شول چه يوه سړي د مازديګر په لمانځه کښې په رسول اللهﷺ پسې قرائت وکړ يوه صحابي هغه لره په اشارې سره منع کړ تر لمانځه وروسته رسول اللهﷺ وفرمايل چه د چا لپاره امام وي د هغه لپاره د امام قرائت کافي دی

۲۶ انس بن سيرين وائي چه ما له عبد الله بن عمر رضى الله عنهما څخه دا پوښتنه وکړه چه زه په امام پسې قرائت وکړم؟ و ئې فرمايل نه خو د لويې ګيډې خاوند معلوميږې (يعني بيوقوف يا ناپوه) ته د امام قرائت کافي دی دې لره عبد الرزاق په مصنف کښې روايت کړی دی زه وايم چه د دې سند صحيح دی چه راوي ئې د صحيحينو راوي دی

۲۷ - له زيد بن اسلم څخه روايت دی چه عبد الله بن عمر رضى الله عنهما په امام پسې به خلک له قرائت کولو څخه منع کاوه دې روايت لره هم عبد الرزاق روايت کړی دی (جوهر نقي) زه وايم د دې سند هم صحيح دی

۲۸ - موسى بن سعد بن زيد بن ثابت له خپل نيکه (زيد بن ثابت صحابي) څخه روايت کوی چه هغه وفرمايل کوم سړی چه په امام پسې قرائت وکړي د هغه لمونځ صحيح نه دی دې لره امام محمد په موطا کښې روايت کړی دی او سند ئې په صحيح نسخه کښې همدارنګه دی امام بيهقي

په همدې ډول له امام بخاري څخه روايت نقل کړی دی او راويان ئې ټول ثقه دي او موسی بن سعد له خپل نيکه زيد بن ثابت څخه روايت کولو لره ابن حبان او امام بخاري ذکر کړی دی (تهذيب)

فائده له دغو ټولو آثارو څخه ثابته شوه چه د اجله صحابه وو په دې باب کښې هم هغه قول دی کوم چه د امام ابو حنيفه دی غرض دا چه د امام ابو حنيفه مذهب په دې مسئله کښې چه مقتدي دی بايد په امام پسې قرائت و نه کړي له قرآن څخه هم ثابت دی او د رسول الله ﷺ له احاديثو څخه هم او د صحابهٔ کرامو ﷺ له اقوالو او عمل څخه هم نو دا څومره لوی ظلم دی چه څينې خلک اوس هم په دې مسئله کښې په حنفيانو پسې خبرې کوي اوس مونږ دا هم بيانوو چه په تابعينو کښې هم ډير حضرات په دې مسئله کښې د امام ابو حنيفه سره موافق دي

۲۹ - فضل (ابن دکين) زير (ابن معاويه) څخه هغه له وليد بن قيس څخه روايت کوي چه هغه وويل چه ما له سويد بن غفله څخه (کوم جه يو لوی تابعي دی او څينو خلکو ورته صحابي ويلي دي) پوښتنه وکړه چه زه په ماسپښين او مازديگر کښې په امام پسې قرائت وکړم؟ و ئې فرمايل نه دې روايت لره ابو بکر بن ابي شيبه په مصنف کښې روايت کړی دی او سند ئې بالکل صحيح دی

۳۰ - هشيم ابو بشر (جعفر ب اياس) څخه هغه له سعيد بن جبري څخه روايت کوي چه له هغه څخه د قرائت خلف الامام په باره کښې پوښتنه وشوه نو و ئې فرمايل چه په امام پسې قرائت نشته دې روايت لره هم ابن ابي شيبه په مصنف کښې روايت کړی دی او راويان ئې ټول ثقه دي او د صحيحينو د راويانو له جملې څخه دي او سعيد بن جبير جليل تابعي دی

۳۱ - محمد بن سيرين څخه (کوم چه جليل تابعي دی) روايت دی چه هغه وفرمايل چه زه په امام پسې قرائت لره سنت نه گڼم دې لره هم ابن ابي شيبه په مصنف کښې روايت کړی دی او سند ئې صحيح دی

۳۲ - له ابراهيم نخعي اسود (لوی تابعي) څخه روايت کوي چه هغه وفرمايل چه کوم سړی په امام پسې قرائت کوي زه غواړم چه خوله ئې له خاورو ډکه کړم دې روايت لره عبد الرزاق په مصنف کښې روايت کړی دی او سند ئې صحيح دی چه راوي ئې د صحيحينو راوي دی.

۳۳ - اعمش له ابراهيم نخعي څخه روايت کوي جه خلکو جه کوم لومړنی بدعت ايجاد کړ هغه په امام پسې قرائت کول دي دې روايت لره هم عبد الرزاق په مصنف کښې روايت کړی دی او سند ئې د صحيحينو په شرط باندې صحيح دی (جوهر نقي)

۳۴ - منصور له ابراهيم نخعي څخه روايت کوی چه کوم سړی په امام پسې تر ټولو مخکښې قرائت کړی دی هغه (په دين کښې) منهم وو دې لره امام محمد په موطا کښې روايت کړی دی او سند ئې صحيح دی

فائده ابراهيم نخعي د کوفه له فقهاوو څخه دی په ظاهره ئې مطلب دا معلوميږي چه په کوفه

کښي نو بولو مخکښي چه په امام پسې ني قرائت شروع کړی وو هغه متهم (تهمتي) وو ممکنه ده چه د خارجي یا قدري دلي کوم غړی وو تر دې مخکښې د کوفې د خلکو عمل د عبد الله بن مسعود د عمل موافق وو چه هغه په امام پسې قرائت نه کاوه د ابراهیم نخعي دا مطلب نه دی چه په مکه او حجاز کښي هم په امام پسې قرائت کوونکی مبتدع بلل کېده وو

۳۵ - امام ابو حنیفه له حماد څخه هغه له ابراهیم نخعي څخه روایت کړی دی چه علقمه بن قیس په امام پسې په هیڅ یوه لمانځه کښي قرائت نه دی کړی نه په جهري کښي او نه په سري کښي. نه ئي سورة فاتحه وایه او نه ئي کوم بل سورت دې روایت لره امام محمد په کتاب الاثار کښي روایت کړی دی او سند ئي صحیح دی په جامع مسانید الامام کښي هم په همدې سند سره ذکر شوی دی او (ولا اصحاب عبدالله) پکښې زیاتي ویل شوی دی یعني د عبد الله بن مسعود او نورو اصحابو هم په امام پسې قرائت نه کاوه دې روایت لره ئي د حافظ ابن خسرو او آثار محمد خواته منسوب کړی دی

فائده دا حضرات له لویانو تابعینو څخه دی د کومو په امامت باندي چه د اُمت د علماوو اتفاق دی له دغو آثارو څخه څرګنده شوه چه دې حضراتو په امام پسې قرائت نه کاوه بلکه له دې څخه ئي منع فرمایله او ښنو خو دې ته بدعت او خلاف سنت پورې ویلي دي آیا اوس هم د چا خوله داسې ده چه په دې مسئله کښې په امام ابو حنیفه پسې خبرې وکړي چه کله له قرآنکریم څخه. صحیح حدیثونو څخه. د صحابه وو او تابعینو له اقوالو څخه د هغه د قول پوره تائید او تقویت کېږي او له کومو احادیثو څخه چه شافعي او ظاهري حضراتو استدلال کړی دی د هغو ټولو ځوابونه په اعلاء السنن کښي مفصل ورکړ شوی دي او ویل شوي دي چه په کومو حدیثونو کښې چه بواخې د سورة فاتحه د ویلو تاکید دی هغه په امام او منفرد باندي محمول دی. په مقتدي باندي محمول نه دی لکه څرنګه چه پخپله د حدیث راوي امام احمد او سفیان بن عیینه هم په همدې باندي حدیث محمول کړی دی او د امام او منفرد په حق کښي د سورة فاتحه لوستل زمونږ په نزد هم واجب دي او په کومو احادیثو کښي چه په امام پسې د قرائت ذکر دی هغه مرفوع صحیح نه دي بلکه ضعیف دي البته له ځینو صحابه وو څخه په امام پسې قرائت کول ثابت دي لیکن دا دې په خلاف له لویانو صحابه وو او لویانو تابعینو څخه د دې ممانعت او نفي هم ثابته ده لکه څرنګه چه مونږ په تفصیل سره بیان کړی دی پس د صحابه وو د خلاف په صورت کښي د هغو صحابه وو قول به مقدم او راجح وي چه د قرآن له دې (وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا) سره او (فاذا قرأ الامام فانصتوا) حدیث سره موافق وي او د کومو صحابه وو قول چه له قرآني نص او صحیح حدیث سره خلاف وي په هغه کښي به تاویل کېږي چه هغو به جهري لمونځونو کښي د ...

په سکتاتو کښې قرائت کاوه او د امام په سکتاتو کښې مقتدي ته د سورهٔ فاتحه قرائت کول زمونږ په نزد هم جائز دی ګوا که واجب نه دی ځکه چه پخپله د امام په ذمه باندې سکتات واجب نه دي او ګوا که زمونږ په نزد په سرّي لمونځونو کښې قرائت نه کول بهتر دي ليکن که ئې څيرنه څوک وکړي نو جائز دی او څه پروا نه لري له کومو صحابه وو څخه چه په امام پسې قرائت ثابت دی هغو په سرّي لمونځونو کښې قرائت کاوه. په جهري لمونځونو کښې په امام پسې قرائت کول د امام شافعي مذهب هم نه دی هغه يواځې د دې قائل دی چه مقتدي ته د امام په سکتاتو کښې د سورهٔ فاتحه لوستل ضروري دي د هغو په نزد امام بايد له سورهٔ فاتحه وروسته دومره اوږده سکته وکړي چه مقتدي سورهٔ فاتحه پکښې ووائي زمونږ په نزد ضروري نه دی ځکه چه د امام په ذمه په هيڅ يوه دليل سره د د دې سکتې واجب والی ثابت نه دی ليکن که چيرته امام اوږده سکته وکړي نو مقتدي ته د سورهٔ فاتحه لوستل جائز دي **والله تعالیٰ اعلم.**

۳۲　اجماعي دليل

امام طحاوي او موفق بن قدامه حنبلي د کتاب او سنت د دلائلو. د صحابه وو او تابعينو د اقوالو او آثارو په بيانولو سره له اجماع څخه هم د دې ثبوت ورکړی دی چه په امام پسې په مقتدي باندې د سورهٔ فاتحه قرائت واجب نه دی ځکه چه په دی باندې د ټولو اتفاق دی او هيڅ اختلاف پکښې نه دی کړی چه کوم سړی د رکوع په حالت کښې امام پيدا کړي، تکبير تحريمه ووائي او په رکوع کښې له امام سره شريک شي نو هغه رکعت ده پيدا کړی دی په داسې حال کښې چه هغه قرائت نه دی کړی موفق بن قدامه فرمائي **(ولانها لا تجب على المسبوق فلم تجب على غيره كالسورة. الخ)** (او اجماعي دليل دا دی چه) په مسبوق مقتدي باندې د فاتحه قرائت واجب نه دی (هغه د رکوع په پيدا کولو سره رکعت پيدا کوي) نو له ده نه پرته بل په هيڅ يوه مقتدي باندې هم دا قرائت نه واجبيږي لکه څرنګه چه د سورته لوستل واجب نه دی (په داسې حال کښې چه د حديثو په دلائلو سره د سورت د ضم کولو وجوب هم ثابت دی) که چيرته د مقتدي په ذمه باندې قرائت واجب وای نو د نورو ارکانو غوندې به له مسبوق څخه هم قرائت ساقط نه وای (ج۱. ص۲۰۹) حافظ ابن عبد البر په شرح الاستذکار کښې فرمائي چه د ټولو فقهاوو قول دی چه کوم سړی امام په رکوع کښې پيدا کړي، تکبير تحريمه ووائي په رکوع کښې شامل شي او لاسونه په زنګنونو کښېږدي له دې څخه مخکښې چه امام سر پورته کړي نو هغه دا رکعت پيدا کړ د دا امام مالک. امام شافعي. امام ابو حنيفه. د دوی د صحابو. د سفيان ثوري. اوزاعي. ابو ثور. احمد او اسحق مذهب دی همدا له حضرت علي څخه. عبد الله بن مسعود څخه. زيد بن ثابت او عبد الله بن عمر ﷺ څخه منقول دی موږ په کتاب التمهيد کښې له سند سره د دوی د ټولو اقوال بيان کړي دي لنډه دا چه په دې

باندی د بولو فقهاوو اتفاق دی حافظ ابن عبد البر، امام نووي او حافظ ابن حجر او دا سي نورو
په دی باندې اجماع را نقل کړې ده ابن الامیر یماني هم په سبل السلام کښې د عامه فقهاوو قول
ته ترجیح ورکړی دی لیکن ظاهریه وو بواخې د دې لپاره چه په دې صورت کښې په مقتدي باندې
د سورة فاتحه د ویلو وجوب نه پاتې کیږي. د اجماع په خلاف ئې دا دعوه وکړه چه د رکوع په پیدا
کولو سره مسبوق رکعت نه شي پیدا کولی ځکه چه هغه سورة فاتحه نه دی لوستلی

د ابي هريرةؓ د مسبوق په اړه د حدیث ضعیفوالی

او د ابو هریرةؓ په یوه قول پورې ئې اسره و نیوله کوم چه امام بخاری په جزء القرائت کښې ذکر کړی دی چه که چیرته یو څوک امام په رکوع کښې پیدا کړې نو دا رکعت نه شمارل کیږي حالانکه په موطا د امام مالک کښې له حضرت ابو هریرهؓ څخه د دې په خلاف روایت موجود دی کوم چه د جمهور اُمت موافق دی حافظ ابن عبد البر په شرح د موطا کښې وائي چه له انصاروف فقهاوو څخه د هیڅ یوه هم دا قول نه دی او د دې په سند کښې نظر شته امام نووي فرمائي چه دا قول د اجماع خلاف دی او د ابو هریرةؓ حدیث صحیح نه دی د هرې زمانې فقهاوو په اتفاق سره دا رد کړی دی نو دې ته اعتبار نه ورکول کیږي او د دې په خلاف ابو داؤد له ابو هریرهؓ څخه روایت کړی دی چه رسول اللهﷺ وفرمایل چه کله تاسو لمانځه ته راځئ او مونږ په سجده کښې وو نو سجده وکړئ او دا مه شمارئ او چا چه رکوع پیدا کړ هغه د لمانځه (رکعت) پیدا کړ ابو داؤد په دې باندې سکوت کړی دی او منذري او حاکم دې ته صحیح الاسناد ویلي دي ذهبي هم په تلخیص مستدرک کښې د حاکم تائید کړی دی

ابن خزیمه پخپل صحیح کښې دا حدیث په دې الفاظو سره مرفوعاً روایت کړی دی چه **(من ادرك ركعة من الصلوة فقد ادركها قبل ان يقيم الامام صلبه)** "چا چه په لمانځه کښې رکوع پیدا کړ له دې څخه مخکښې چه امام خپله ملا سیخه کړي هغه رکعت پیدا کړ" ابن خزیمه دا حدیث حجت ګڼلی دی (التلخیص الحبیر) او ابن حبان هم پخپل صحیح کښې دې حدیث ته صحیح ویلي دی (المرقات) پس دا څنګه کیدلی شي چه ابو هریرهؓ د خپل روایت شوي مرفوع حدیث په خلاف کوم قول بیان کړي پس د هغه هغه قول صحیح دی کوم چه په موطا د امام مالک کښې د مرفوع حدیث موافق دی که چیرته د مقتدي په ذمه په امام پسې قرائت واجب وای نو د رکوع په پیدا کولو سره به هغه رکعت نه شوای پیدا کولی ځکه چه پخپله هغه قرائت نه دی کړی پس په دې معلومه شوه چه د امام قرائت د مقتدي لپاره کافي ګڼل کیږي د دې لپاره هغه د رکوع په پیدا کولو سره رکعت پیدا کوي

د اهل حدیثو د دلائلو ځوابونه

لومړی دلیل

اوس زه د تکمیل البرهان د مؤلف د دلائلو حقیقت ځرګندول غواړم تر ټولو مخکښې هغه هم هغه د عبادة بن الصامت حدیث بیان کړی دی چه **(لا صلوة لمن لم یقرأ بفاتحة الکتاب)**. **(بخاری و مسلم)** د هغه سړی لمونځ نه کیږي چه سورهٔ فاتحه و نه لولي،

مونږ وویل چه دا حدیث امام احمد او سفیان بن عیینه او زهري غوندي د حدیثو د راویانو امامان د امام او منفرد په حق کښې ګڼلی دی مقتدي ئې په دې حکم کښې شامل نه کړ ځکه چه له حضرت جابر بن عبد الله صحابي ﷺ څخه مرفوعاً او موقوفاً ثابت دی **من صلی رکعة لم یقرأ فیها بام القران فلم یصل الا وراء الامام.** **(موطا مالك، طحاوی، ترمذی)** «چا چه کوم رکعت ادا کړ او سورهٔ فاتحه ئې پکښې و نه لوست هغه لمونځ و نه کړ لیکن که چیرته په امام پسې وي نو لمونځ ئې کیږي»

امام ترمذي وائي چه امام احمد بن حنبل وفرمیل چه د رسول الله ﷺ د دې ارشاد چه **(لا صلوة لمن لم یقرأ بفاتحة الکتاب)** مطلب دا دی چه کله یو حوک یواخې لمونځ کوی نو د سورهٔ فاتحه د لوستلو برته ئې لمونځ نه کیږی وګوری جابر بن عبد الله صحابي د دې حدیث همدغه مطلب بیانوی دویم حه کله له صحیح حدیث څخه ثابته شوه چه **(من کان له امام فقراءته له قراءة)**. کوم سړی چه په امام پسې لمونځ کوي د امام قرائت د هغه لپاره هم قرائت دی نو اوس دا ویل صحیح نه ده مقتدي سورهٔ فاتحه نه دی لوستلی چه کله امام لوستلی وي نو مقتدي هم حکماً لوستلی دی اګرکه ئې په ژبې سره نه وي لوستلی ځکه چه مقتدی د صحیح حدیث له مخې د امام د قرائت په وخت کښې د چُپ پاتې کېدلو حکم دی **(اذا قرأ الامام فانصتوا)**. همدغه حکم په قرآنکریم کښې دی **(وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا)**.

دویم دلیل **(لا تفعلوا الا بام القرآن فانه لا صلوة لمن لم یقرأ بها)**. **(ترمذی، ابوداؤد، نسائی)** دا ځرګنده نه ده چه د تکمیل البرهان مؤلف دا حدیث ولې پوره نه دی لیکلی پوره حدیث دا دی چه محمود بن الربیع وائي چه ما اورېدلي دی چه عبادة بن الصامت ﷺ په امام پسې قرائت کاوه نو ما وویل چه ... په امام پسې قرائت کوونکی لیدلی ئې دا نه دو راته معلومه چه تاسو قصداً داسې کړی دی و که سهو دی نه شوی ده ... ویل چه ما سهو نه ده کړي بلکه په قصد سره مې قرائت کړی دی رسول الله ﷺ ټولو ته ... لمونځ ورکړ چه ... هغه کښې جهر کیده نو د ده په قرائت کښې تشوش پیدا شو ... مخه ورو ستنه ئې وفرمایل چه تاسو له ما سره قرائت کوئ؟ خلکو وویل چه هو و ئې

فرمایل (لا تفعلوا الا بام القرآن فانه لا صلوٰة لمن لم یقرأ بها). داسې مه کوئ لـکن ام القرآن (لوستلی شئ) څوک چه دا و نه وائي د هغه لمونځ نه کیږي دا حدیث که څیرته صحیح و مثل شي نو له دې نه څرګندیږي چه صحابه وو له رسول الله ﷺ څخه پرته له پوښتنې قرائت کاوه چه کله هغه مبارک ﷺ پوښتنه وکړه چه تاسو له ما سره قرائت کوئ که څیرته نبي کریم ﷺ په امام پسې د قرائت کولوی ورکړی وای نو د دې سوال ضرورت نه پاتې کیده له دې وروسته چه کله څرګنده شوه چه هغوی په امام پسې قرائت کوي نو ئې فرمایل داسې مه کوئ لیکن سورهٔ فاتحه (لوستلی شئ) له دې څخه وجوب نه شي ثابتیدلی یواځې د اباحت (رواوالي) مفهوم ترې راووځي ځکه چه د فقهی په اصولو کتبو کښې ثابته شوې ده چه (ان الاستثناء بعد الحظر اباحة و اطلاق). تر نهی وروته چه کومه استثناء ثابتیږي هغه د اباحت لپاره وي نه د وجوب لپاره او دا زمونږ لپاره مضر نه دی ځکه چه د امام د سکتاتو په وخت کښې په جهري لمانځه کښې مونږ د مقتدی قرائت ته جائز وایو او خصم (مقابل لوري) ته مضر دی ځکه چه هغوی د اباحت قائل نه بلکه د وجوب مدعیان دی او زمونږ د تاویل تائید د طبراني له روایت څخه کیږی کوم چه په مجمع الزوائد کښې له حضرت عبادة بن الصامت ﷺ څخه مروي دی (ان رسول الله ﷺ قال من قرأ خلف الامام فلیقرأ بفاتحة الکتاب). او د دې راویانو ته ثقه ویل شوي دي ج۱، ص۱۸۲ چه کوم سړی په امام پسی قرائت کول وغواړي هغه دې سورهٔ فاتحه ولولي او په مجمع الزوائد کښې د امام احمد په حواله سره له یوه صحابي څخه دا روایت هم شته چه (قال رسول الله ﷺ لعلکم تقرءون والامام یقرأ قالها ثلثا قالوا انا لنفعل ذلک قال فلا تفعلوا الا ان یقرأ احدکم بفاتحة الکتاب فی نفسه). (رواه احمد ورجاله رجال الصحیح ج۱، ص۱۸۶) رسول الله ﷺ صحابه وو ته وویل چه ښائي تاسو په امام پسی قرائت کوئ. درې ځله ئې دا پوښتنه وکړه صحابه وو وویل چه بېشکه مونږ داسې کوو و ئې فرمایل داسې مه کوئ لیکن دا چه سورهٔ فاتحه په زړه کښې ووایئ دې لره امام احمد روایت کړی دی او راویان ئې صحیح راویان دی له دې څخه څرګنده شوه چه د سورهٔ فاتحه هم په ژبې سره د لوستلو اجازه نشته بلکې په زړه کښې د لوستلو اجازه شته او له دې څخه هیڅوک هم منع نه کوی او دا دعوه غلطه ده چه د زړه قرائت ته قرائت نه ویل کیږی ځکه چه عرفاً دې ته هم قرائت ویل کیږی څنګه چه څیرته یو څوک قسم وخوری چه زه د زید خط نه وایم او بیا د هغه خط ووینی او په مضمون ئې پوه شي لیکن په ژبې سره ئې و نه لولی حانث کیږی او د قسم کفاره په ورکوی الغرض چه څیرته شریعت قرائت فرض کړی دی هلته شرط د ژبې نه ویلو سره فرض نه ادا کیږی او د عبده له حدیث څخه د مقتدی په ذمه د سورهٔ فاتحه د قرائت وجوب نه ثابتیږی یواځې اباحت معلومیږی او ئې ثابتیږی و هغه نه

زړه کښې له لوستلو څخه هم ادا کړي. بله دا چه د دې پوري حديث له سياق څخه هم څرګندېږي چه محمود بن ربيع له حضرت عباده نه پرته هيڅ يو صحابي په امام پسې قرائت کوونکی نه وو ليدلی. يواځې ئې حضرت عبادة ليدلی وو نو دا شبه ورو لويده چه نه قصداً داسې کوې او که سهواً او محمود بن ربيع کوچنی صحابی دی او د لويانو صحابهٔ کرامو ليدونکی دی د ده په قرائت خلف الامام باندې انکار او تعجب کول پخپله د دې خبرې دليل دی چه په امام پسې د فاتحه قرائت لازم نه دی او د حضرت عباده له حديث څخه هم هغه د سورهٔ فاتحه لوستل واجب و نه ګڼه او که نه نو خپل تير شوي لمونځونه ئې به ئې را ګرځولي وای ليکن هغه نه لمونځونه را وګرځول او نه حضرت عباده د را ګرځولو امر وکړ پس دا حديث مقتدي ته په امام پسې د قرائت اجازه ورکوي او وجوب نه بيانوي او موږ هم د امام په سکتاتو کښې مقتدي ته د سورهٔ فاتحه د ويلو قائل يو او د امام د سکتاتو شرط موږ له ځانه نه لګوو بلکه په ځينو احاديثو کښې دا قيد په صراحت سره موجود دی هغه کوم چه زموږ په نزد د سند په لحاظ سره صحيح نه دي ليکن امام بيهقي په جز القرائت کښې د حجت په توګه بيان کړی دی چه عبد الله بن عمرو بن العاص څخه روايت دی چه رسول الله ﷺ وفرمايل چه کله تاسو له امام سره وئ نو د هغه له (قرائت) څخه مخکښې يا چه کله هغه سکته وکړي ام القرآن تلاوت کړئ بيهقي فرمېلي دي چه دا مرفوعاً صحيح نه دی موقوفاً صحيح دی يعني دا د رسول الله ﷺ ارشاد نه دی بلکه د عبد الله بن عمرو صحابي قول دی نه دې څخه څرګنده شوه چه کومو صحابه وو په امام پسې قرائت کاوه هغو به له امام سره يو ځای قرائت نه کاوه بلکه د هغه له قرائت څخه مخکښې يا د سکتې په حالت کښې قرائت کاوه بيا دا نوله وبنا په دې صورت کښې دی چه د عباده په حديث کښې د **(الا بأم القرآن فانه لا صلوة لمن لم يقرأ بها)** زياتوالی صحيح و منل شي ليکن محدثين په دې کښې کلام لري لکه څرنګه چه موفق[1] بن قدامه په کتاب المغني کښې فرمائي **(فاما حديث عبادة الصحيح فهو محمول على غير المأموم وقد روى ايضاً موقوفاً عن جابر و حديث عبادة الأخر فلم يروه غير ابن اسحٰق كذلك قاله الامام احمد وقد رواه ابو داؤد عن مكحول عن نافع بن محمود بن ربيع الانصاري وهو ادنى حالاً من ابن اسحٰق فانه غير معروف بين اهل الحديث)**.

(ج۱،ص۶۰۶) يعني د حضرت عباده چه کوم حديث صحيح دی هغه خو له مقتدي څخه پرته په نورو باندې محمول دی لکه څرنګه چه حضرت جابر همداسې ويلي دی او ابو داؤد دا حديث له مکحول څخه له نافع بن محمود څخه روايت کړی دی او هغه له اسحٰق څخه هم ادنی دی ځکه چه هغه د

[1] دی په حنبله وو کښې ډېر لوی امام، محدث و فقيه دی د ده کتاب المغني د اسلام په کتابونو کښې يې مساله مثل نه لري دی.

محدثينو په نزد معروف (مشهور) نه دی (بلکه مجهول دی)

له علامه ابن تيميه څخه د حنفيه وو تائيد

شيخ الاسلام حافظ ابن تيميه په رساله دې تنوع العبادات کښې فرمايلي دي چه په لمانځه کښې (د سکتې په اړه) د خلکو درې قولونه دي يو دا چه په لمانځه کښې هيڅ سکته نشته لکه څرنگه چه د امام مالک مذهب دی د هغه په نزد ثناء او تعوذ نشته او د امام په قرائت کښې هم سکته نشته دويم قول دا دی چه په لمانځه کښې يوه سکته د ثناء او تعوذ لپاره دی لکه څرنگه چه د امام ابو حنيفه مذهب دی ځکه چه دا حديث (کوم چه شيخينو له حضرت ابو هريره څخه روايت کړی دی چه يا رسول الله ﷺ تاسو چه کومه سکته د تکبير او قرائت تر منځه کوئ په دې کښې تاسو څه وايئ؟) په دې سکته باندې دلالت کوي دريم قول دا دی چه په لمانځه کښې دوه سکتې دي لکه څرنگه چه د سنن په روايتونو کښې دي ليکن دا سکته له قرائت څخه تر فارغيدو وروسته (له رکوع څخه مخکښې) دی او همدا صحيح دی په يوه روايت کښې دا هم شته چه دی به له قرائت څخه تر فارغيدو وروسته سکته کوله امام شافعي او امام احمد په اصحابو کښې د خينو خلکو قول (د دې روايت په بناء باندې) دا دی چه په لمانځه کښې درې سکتې مستحبې دي او دويمه سکته له قرائت څخه تر فارغيدو د راحت لپاره او د قرائت او رکوع تر منځ د جلا والي لپاره ده او تر سورة فاتحه وروسته سکته امام احمد، امام مالک او امام ابو حنيفه مستحبه نه گني او جمهور علماء ئې هم مستحبه نه بولي چه امام په دې مقصد سره (اوږده) سکته وکړي چه مقتدي سورة فاتحه ولولي ځکه چه که امام په جهر سره قرائت کوي په دې وخت کښې د مقتدي په ذمې باندې د جمهورو په نزد قرائت واجب يا مستحب نه دی بلکه قرائت د مقتدي لپاره منع دی او که حيرته له امام سره به دې حالت کښې مقتدي قرائت وکړي نو لمونځ ئې فاسديږي او که نه؟ د امام احمد په مذهب په دې اړوند دوه قولونه دي او عام سلف صالحين کوم چه په امام پسې قرائت نه مکروه وائي دا کراهت به دې صورت کښې دی چه کله امام په جهر سره قرائت کوي او اکثره امامان تر سورة فاتحه وروسته اوږد سکوت نه کوي او په جهري لمانځه کښې په امام پسې قرائت کوونکي خلک کم وو له دې څخه خو به کتاب الله (قرآن) کښې هم منع راغلې ده او په حديث کښې هم او جمهور سلف او خلف هم په همدې باندې دی چه به امام پسې به جهري لمانځه کښې قرائت مکروه دی خينې علماء دی خوا ته تللي دي چه کله امام به جهر سره قرائت کوي نو مقتدي دې سورة فاتحه لولي، که حيرته ئې و نه لولي نو د لمانځه نه ئې طلوالي کسي ئې خلاف دی غرض دا چه نزاع له دواړو خواوو څخه دی ليکن کوم خلک چه له امام سره مقتدي له قرائت کولو څخه منع کوي له هغو سره جمهور سلف او خلف هم دی او کتاب الله او سنت صحيحه هم دی او کوم خلک

حه نه دي حالت كښې په مقتدي باندې قرائت واجب بولي د هغو حديث ته ائمه وو ضعيف وبلي دي ابو داؤد دا روايت كړى دى او بو موسى اشعري په حديث كښې د رسول اللهﷺ دا فرمان (اذا قرأفانصتوا) چه كله امام قرائت كوي تاسو چُپ پاتې شئ امام احمد بن حنبل او اسحق (بن راهويه) او مسلم بن الحجاج او داسې نورو په نزد صحيح دى دغو ټولو دې لره صحيح ګڼلى دى په خلاف د دې حديث حه (له كوم حديث څخه چه په مقتدي باندې له امام سره قرائت واجب ګڼل كيږي) خكه چه هغه نه صحيح كښې نه د شامل شوى او له ډيرو وجوهاتو څخه د هغه ضعيف والى ثابت دى او په حقيقت كښې هغه د عباده بن الصامت قول دى (د رسول اللهﷺ ارشاد نه دى) ص۸۵/۸۶

د عباده د حديث په سند كښې اضطراب دى

د علامه ابن تيميه درجه په علم. اسناد او حديثو كښې چه څومره لوړ دى ظاهريه انكار ترې نه شي كولى آيا د تكميل البرهان مؤلف[1] د علامه كتابونه هم نه دي كتلي چه د عباده حديث ته په روايت د محمد بن اسحق صحيح ووائي حالانكه د دې په سند كښې دومره اضطراب دى چه كه جرته له حنفيانو څخه كوم عالم هم داسې مضطرب حديث نخپل حجت كښې وړاندې كولى نو ظاهريه وو به آسمان نه سرونه جګ كړي وو چه حنفيه د اسنادو او علل له علم څخه خبر نه دي د دې لپاره داسې حديثونه د حجت په توګه راوړي په جوهر نقي كښې دي چه حافظ عبد الحق اشبيلي يخپل كتاب الاحكام كښې فرمايلي دي دې حديث لره اوزاعي له مكحول څخه له عبد الله بن عمرو څخه روايت كړى دى او د حافظ ابن عبد البر په كتاب التمهيد كښې دي چه د دې حديث په سند كښې د محمد بن اسحاق مخالفت شوى دى. دې لره اوزاعي له مكحول څخه له رجاء بن حيوه څخه عبد الله بن عمرو څخه روايت كړى دى بيا ئې حديث بيان كړ. (او د امام اوزاعي درجه له محمد بن اسحاق څخه ډيره لوړه ده هغه په حديث او فقه كښې د شام د خلكو امام دى) او دارقطني يخپل سنن كښې دا حديث له مكحول څخه له عبادة بن الصامت څخه مرسلاً روايت كړى

---

۱ د تكميل مؤلف نه دى خاى كښې په حضرت مولانا احمد علي محدث سهارنپوري رحمه الله باندې اعتراض كړى دى چه هغوى نه الدليل القوي كښې ليكلي دى چه د عباده بن الصامت نه روايت كښې د سنن ابو داؤد نه سند سره نافع بن محمود واقع دى او ده نه په تقريب كښې مستور الحال ويل شوى دى نو حالانكه د ... حنفيه نه نزد د مستور الحال روايت مقبول دى د دى خواب دا دى چه د مستور ... نه هغه وخت كښې مقبول دى چه د معروفو ثقاتو نه خلاف نه وي او دلته چه نافع څومره ... كړى دى هغه د ثقاتو نه خلاف دى. بله دا چه د دى نه سند كښې اضطراب دى او مضطرب حديث نه ... سره ضعيف دى.

دی یعنی سند ئی منقطع دی. د مکحول او حضرت عباده تر منځ حذف واسطه دی، په جزء القرائت د بیهقي ص۴۴ کښې هم همدا وول دی بیا امام بیهقي دوېم خل د، له مکحول څخه له نافع بن محمود څخه له عباده څخه روایت کړی دی په ابو داوٗد کښې هم همدا رنګه (د نافع بن محمود په واسطه سره) دي لره روایت کړی دی (او نافع بن محمود مجهول دی) او په بوی طریقې کښې کوم چه حاکم په مستدرک کښې یاده کړې ده دي حدیث لره مکحول له محمود څخه له ابو نعیم څخه له حضرت عباده څخه روایت کړی دی او دا ابو نعیم معلوم نه دی چه څوک دی؟ حاکم وویل چه هغه وهب بن کیسان دی او ابن صاعد ویلي دي چه هغه د (دمشق د جامع جومات) مؤذن دی دار قطني سنن کښې همدا سې ویلي دي او حافظ په اصابه کښې دا حدیث به بلي طریقې سره را نقل کړی دی چه مکحول له نافع څخه له محمود بن الربیع څخه له عباده بن الصامت څخه روایت کړی دی د کوم حدیث په سند کښې چه اختلافات وي د هغه په اضطراب کښې به څوک خبره کولی شي لنډه دا چه د حضرت عباده صحیح حدیث هغه دی کوم چه صاحب تکمیل تر تولو مخکښې بیان کړی دی په هغه کښې د مقتدي او امام هیڅ یادونه نشته او په کوم حدیث کښې چه دا مضمون دی چه مقتدي دې په امام پسې له سورة فاتحه څخه برته نور قرائت نه کوی صحیح نه دی دې لره له محمد بن اسحاق نه پرته هیچا نه دی روایت کړی او د ابن اسحاق په باره کښې علامه ذهبي په میزان کښې فرمايلي دی (**ما انفرد به ففیه نکارة فان فی حفظه شیئًا**) ج۳ص۲۲. کوم حدیث چه دی ئې یواځې روایت کړي په هغه کښې نکارت دی (یعنی ضعف دی) ځکه چه د هغه په حفظ کښې څه کسر (کمی) شته او حافظ ابن حجر د درایه په کتاب الحج کښې فرمايلي دي (**وابن اسحٰق لا یحتج بما انفرد به من الاحکام فضلا عما اذا خالفه من هو اثبت منه۔ اھ**). ابن اسحاق چه د احکامو په حدیث کښې کوم حدیث یواځې بیان کړي هغه حجت نه دی په بې شوه دا چه له خپل ځان څخه د مضبوط او کلک راوي مخالفت وکړی (نو په دي صورت کښې خو هیڅکله حجت نه دی) او ښکاره ده چه د دي حدیث صحیح برخه هغه ده کوم چه بخاري او مسلم روایت کړی ده محمد بن اسحاق چه کوم زیاتوالی په دي کښې کړی دی هغه د ثقاتو د روایت په خلاف دی صحیح دا ده چه هغه د عبدة بن الصامت قول دی. د رسول الله ﷺ ارشاد نه دی لکه څرنګه چه علامه ابن تیمیه د دې خبرې تصریح کړې ده بیا امام بیهقي په جزء القرائت کښې او امام طحاوی په معاني الآثار کښې دا حدیث له یوسف بن عدي څخه له عبید الله بن عمرو رقي څخه له ایوب څخه له ابو قلابه څخه له حضرت انس څخه په دي الفاظو روایت کړی دی

قال رسول الله ﷺ ثم اقبل بوجهه فقال اتقرءون والامام یقرأ فسکتوا فسألهم ثلثا فقالوا انا لنفعل قال فلا تفعلوا. رسول الله ﷺ لمونځ وکړ بیا زمونږ کو په مخه شو او پوښتنه ئې وکړه چه تاسو

نو سود امام له قرائت سره قرائت کوئ؟ نو ول غلي شول ده مبارک ﷺ دري خله دا پوښتنه وکړه صحابه وويل چه بیشکه مونږ همداسې کوو و نې فرمايل داسې مه کوئ په دې کښې دا نشته چه لکن سورة فاتحه لولئ په دې باندې د بيهقي دا وينا چه يوسف بن عدي وهم کړی دی چه د (د سوره فاتحه) استثناء ئې پربښې دی. د قبول وړ نه ده ځکه چه يوسف بن عدي د امام بخاري استاذ او له صحيحو راويانو څخه دی هيڅا هم دې ته وهم نه دي ويلي هغه له محمد بن اسحاق څخه زيات د حفظ او اتقان (د يادوني او ساتنې) خاوند دی د علامه ذهبي قول پورته تير شو چه محمد بن اسحاق په حفظه کښې کمی دی بس د محمد بن اسحاق کوا ته د وهم نسبت کول زيات مناسب دي نه د يوسف بن عدي خوا ته د فن امام يحيى بن معين فرمايلي دي چه (د عباده په حديث) کښې استثنائيه جمله (الا بامّ القرآن) سند داسې (د اعتبار وړ) نه دی (الدليل القوي) او دې ته امام احمد او پوره يوې ډلې ضعيف ويلي دي (زيلعي)

د عباده رضی الله عنه په حديث کښې د ((فصاعداً)) زياتوالی په اهل حديث باندې حجت دی

ډيره عجيبه خبره ده چه د ظاهر خلک د عباده په حديث کښې **(الا بأمّ القرآن)** په زياتوالي باندې دومره زور لګوي په داسې حال کښې چه له محمد بن اسحاق نه بغير د دې هيڅ يو راوي نشته او په دې حديث کښې د فصاعداً زياتوالی نه مني حالانکه امام مسلم پخپل صحيح کښې دا روايت کړی او صحيح ئې بللی دی او ابو داؤد هم دا په صحيح سن سره روايت کړی دی د حديث پوره الفاظ دا دي

عن عبادة بن الصامت ان رسول الله ﷺ قال لا صلوة لمن لم يقرأ بأم القرآن فصاعداً.

عبادة بن الصامت وائي چه رسول الله ﷺ وفرمايل چه کوم سړی سورة فاتحه او څه زياتی و نه وائي د هغه لمونځ نه کيږي اوس که چيرته د مقتدی به ذمې باندې د سورة فاتحه ولو ته واجب وويل شي نو تر دې څه زياتوالي ته هم واجب ويل لازمېږي ځکه چه په حديث کښې د څه زياتوالي د ولو هم حکم موجود دی حالانکه د دې هيڅوک هم قائل نه دی نه دی نه دی د څينو محدثينو دا خبره چه د **(فصاعداً)** لفظ له معمر يواځې زيات کړی دی. صحيح نه ده ځکه چه د ابو داؤد به سند کښې عنه هم د معمر موافقت کړی دی هغه هم له زهري څخه د معمر غوندې روايت کوی او د **(فصاعداً)** لفظ زياتوي بيا صحيح ابن حبان کښې امام اوزاعي، عبد الرحمن بن اسحاق او داسې نورو غوندې نورو هم له زهري څخه همدا لفظ روايت کړی دی لکه څرنګه چه معمر بيان کړی دی او د ابو سعيد خدري حديث هم د دې تائيد کوي چه تفصيل به ئې وروسته راشي

امرنا رسول الله ﷺ ان نقرأ بفاتحة الكتاب وما تيسر واسناده صحيح عند ابي داؤد. رسول الله ﷺ مونږ ته د سورة فاتحه د ويلو او د له هغه سره، چه کوم خاې آسانه دی د قرائت کولو حکم راکړی دی. دې لره ابو داؤد په صحيح سند سره روايت کړی دی او ترمذي او ابن ماجه دا حديث په دې ډول روايت کړی دی (لا صلوة لمن لم يقرأ بالحمد وسورة). د هغه سړي لمونځ نه کيږي چه الحمد او سورت و نه وايي. د دې سند حسن دی پس دا دعوه د منلو وړ نه ده چه معمر په يواځې صورت کښې زياتوالی کړی دی. ب د معمر درجه په حفظ او اتقان کښې له محمد بن اسحاق څخه ډير لوړ دی. دا خبره له انصاف څخه ډير لرې ده چه د ابن اسحق زياتوالی دې قبول شي او د معمر زياتوالی دې رد کړی شي. نو اوس بايد اهل ظاهر د دې قائل شي چه له امام سره د مقتدي په ذمې باندې سورة فاتحه يا يو سورت ب دوه درې آيتونو ويل هم واجب دي حالانکه دوی د دې قائل نه دي. پس زمونږ مدعا ثابته شوه چه د حضرت عبادة حديث د مقتدي په باره کښې نه دی بلکه د امام او منفرد په حق کښې دی چه په دوی باندې سورة فاتحه او يو سورت يا دوه درې آيتونو لوستل واجب دي. د مقتدي په ذمې باندې له امام سره قرائت واجب نه دی. او که چرته له کوم لفظ څخه د وجوب شبهه پيدا هم وای نو د عبادة په حديث کښې د ابو داؤد په دې لفظ سره هره شبهه لرې شوه چه (ان كنتم لا بد فاعلين فلا تفعلوا الا بأم القران). (فيض ج۲، ص۲۷۲)

رسول الله ﷺ وفرمايل چه که تاسو خامخا په امام پسې قرائت کول غواړئ نو پرته له سورة فاتحه بل څه مه وايئ. له دې څخه هر سړی پخپله فيصله کولی شي چه دا عنوان د وجوب دی او که يواځې د روا والي. بيا جواز لره هم د امام له سکتې سره مقيد کول ضروري دي ځکه چه په جهري لمانځه کښې له امام سره يو ځاې قرائت کول به د قرآن د نص او د انصات د حديث خلاف وي.

دريم دليل عن ابي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال من صلى صلوة لم يقرأ فيها بأم القران فهي خداج ثلاثا غير تمام فقيل لابي هريرة انا نكون وراء الامام فقال اقرأ بها في نفسك. (مسلم شريف)

يعني رسول الله ﷺ وفرمايل چه څوک داسې لمونځ وکړي چه په هغه کښې سورة فاتحه و نه لولي هغه لمونځ ناقص دی (درې ځله يې وفرمايل) پوره نه دی. د ابو هريرة شاګرد وويل مونږ کله کله په امام پسې ولاړ يو نو ابو هريرة ﷺ ځواب ورکړ چه (په داسې حالت کښې) سورة فاتحه په زړه کښې وايئ. له دی وروسته مؤلف د خداج او تمام د الفاظو په معنی کښې بحث کړی دی لیکن هر د سوهی خاوند سړی په دې پوهېدلی شي چه د حديث څومره برخه چه مرفوع ده په هغې کښې د مقتدي هيڅ ذکر نشته او د حضرت ابو هريرة ﷺ د شاګرد پوښتنه هم دا واني چه د مقتدي په ذمه د قرائت واجب والی د هغه په نزد هم له حديث څخه ښکاره نه شو، او نه قرائت خلف الامام د هغه

به نزد معروف وو د دې لپاره د دې پوښتنې ضرورت پيدا شو بيا د حضرت ابو هريرهؓ خواب لره مؤلف په دې باندې محمول كړى دى چه په امام پسې دې په پټه سره سورۀ فاتحه ولوستل شي لـكن (اقرأبهافى نفسك) په دې مفهوم كښې صراحت نشته زمونږ په نزد مطلب دا دى چه په زړه زړه كښې دې وائي او مونږ ويلي دي چه د زړه قرائت ته عرفاً هم قرائت وين كبري په دې حديث سره د سورۀ فاتحه د ركنيت ثابتول او د مقتدي په ذمې باندې په امام پسې دې لره واجب بلل زور او زياتى دى

د شاه ولى الله د قول خواب

د غنيه او داسې نورو د عبارتونو وړاندې كول او د شاه ولى الله [1] په قول سره استدلال كول له

۱- د حجة الله البالغه مطالعه كوونكى په دې باندې ښه پوهيږي چه شاه صاحب فرض او واجب دواړو ته ركن وائي ملاحظه كړئ ج۱. ص۹۵. چه په دې كښې ئې ضم سورت ته هم ركن ويلي دي حالانكه ضم سورت د هيچا به نزد هم فرض نه دى. بواخې د حنفيه وو په نزد واجب دى شاه صاحب په حجة الله البالغه ج۲. ص۷ كښې فرمائي وان كان مأموما وجب عليه الانصات والاستماع فان جهر الامام لم يقرأ الاعند اسكاته وان خافت فله الخيرة فان قرأفليقرأ الفاتحة قراءة لايشوش على الامام وهذا اولى الاقوال عندى وبه يجمع بين الباب والسر فيه مانص عليه من ان القراءة مع الامام تشوش عليه وتفوت التدبر وتخالف تعظيم القرآن ولم يعزم عليهم ان يقرؤا سرًّا الان العامة متى ارادوا ان يصححوا الحروف باجمعهم كانت لهم لجة مشوشة آه.

ترجمه كه چيرته لمونځ كوونكى مقتدي وي نو په هغه باندې خاموشه اوسيدل او د قرائت اوريدل واجب دي كه چيرته امام (قرائت) په جهر (سره) كوي نو مقتدي به قرائت نه كوي ليكن د سكته په وخت او كه چيرته امام سري قرائت كوي نو مقتدي اختيار لري كه چيرته وغواړي چه قرائت وكړي نو سورۀ فاتحه دې داسې ووائي چه امام ته پرې تشويش ور و نه لويږي زما په نزد په ټولو قولونو كښې دا بهتر قول دى چه به جهري لمانځه كښې مقتدي د امام په سكته كښې قرائت وكړي او په سرّي كښې دې داسې قرائت وكړي چه امام له تشويشه پكښې ساتلى وي همدارنګه د دې باب ټول ټول حديثونه سره بو خاى كيدلى شي او په دې كښې راز دا دى كوم چه تصريح ئې په حديثو كښې هم شوى دى چه له امام سره قرائت كول امام په تشويش كښې اچوى او نه دې سره په قرآنكريم كښې غور او فكر له منځه ځي او دا صورت د قرآنكريم د تعظيم هم خلاف دى او نه سرّي لمانځه كښې هم په مقتديانو باندې قرائت نه دى لازم شوى ځكه چه عوام چه كله ټول به يو ځاى به صحيح توګه حروف ادا كوي نو له دې ځخه هم يو ډول سوبشتك شور او زوږ پيدا كيږي آه

دا دى د شاه ولى الله صاحب مسلك د قرائت خلف الامام په باره كښې كه چيرته د دۀ قول حجت دى نو صاحب تكمله نور محكښې د ځه ولږ حق نه لري ۱۲ ظ

طاهرنه وو سره خوند نه کوي که چيرته د دغو حضراتو قول حجت دی نو د نورو علماوو قول دې هم بايد حجت و گڼل شي کوم چه فرمائي چه له دې څخه يواځې دا څرگنديږي چه پرته له سورة فاتحه څخه لمونځ ناقص وي. د فاتحه په رکنيت باندې هيڅ دلالت نه کوي پرته له فاتحه څخه لمانځه سه باطل وبل د حديث خلاف دي له دې څخه يواځې د سورة فاتحه وجوب ثابتيږي او حنفيه د فاتحه قرائت په امام او منفرد باندې واجب بولي او د مقتدي لپاره د امام قرائت کافي بولي هغه د امام د قرائت په ذريعې سره حکماً پخپله قاري دی لکه څرنگه چه په تفصيل سره تير شول د مسلم او ابو داؤد په حديث کښې په صراحت سره مقتدي ته د چُپ والي حکم دی (اذا قرأ فانصتوا) همدا په قرآن کښې حکم دی (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا). پس د ابو هريره د خواب دا مطلب نه دی چه له امام سره قرائت وکړئ بلکه مطلب دا دی چه په زړه زړه کښې د هغه په سکتاتو کښې ئې لولئ او يو ځاى ئې مه ورسره وايئ او د (فى نفسك) معنى د يواځې هم راځي لکه څرنگه په صحيح حديث قدسي [1] کښې راغلي دي (فان ذكرني في نفسه ذكرته في نفسي وان ذكرني في ملأ ذكرته في ملأ خير منه). چه څوک ما تنها يادوي زه ئې تنها يادوم او چه څوک ما په ډله کښې يادوي زه هغه لره د هغه تر جماعت (ډلې) څخه په بهتر جماعت کښې يادوم په دې حديث کښې د (فى نفسه) معنى تنهائي ده لکه څرنگه چه د جماعت له مقابلې څخه څرگنده ده پس د ابو هريره د خواب هم دا مطلب کيدلی شي چه په امام [2] پسې تاسو يواځې يا تنها سورة فاتحه ولولئ له امام سره ئې يو

[1] همدارنگه د الله تعالى د دې قول چه (وَقُل لَّهُمْ فِي أَنفُسِهِمْ قَوْلًا بَلِيغًا) کښې د (فِي أَنفُسِهِمْ) تفسير سه (وحدانا) سره هم شوی دی ۱۲ رشيد احمد

[2] ترټولو زيات ښکاره مطلب دا دی چه ديواځې لمونځ کولو په حالت کښې ولولئ. چه کله له قرائت څخه منع وشوه نو د زړه د ماتيدلو گومان وو د دې گومان د لرې کولو په غرض سره ئې وفرمايل چه دا هيله مه د انفراد (يواځې لمونځ کولو) په حالت کښې پوره کړئ د دې مثال دا دی چه امام ته په لمانځه کښې د تخفيف سک لمونځ کولو حکم وشو له دې څخه د دې زړه ماتيدنې احتمال وو چه ښائي چا سه د اوږده لمانځه هيله وي د هغه د لرې کولو لپاره ئې وفرمايل چه سه انفرادي حالت کښې مو چه څومره زړه غواړي همدومره اوږد لمونځ ادا کړئ همدارنگه چه کله په قرآنکريم کښې ئې (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا) وفرمايل حو ممکنه وه چه له تلاوت څخه د ممانعت له وجې زړونه مات شي د دې لپاره دا سې تسلي ورکړل شوه چه (وَاذْكُر رَّبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ وَلَا تَكُن مِّنَ الْغَافِلِينَ ۝) يعنې په وختونو کښې کوه کمې نسه هر وخت ئې لوستلی شئ يواځې د ... په حالت کښې د امام د ... له وجې

خی مه لولئ او دا هیڅوک نه منع کوي او د دې تاويل تائيد له دې روايت څخه کيږي کوم چه امام بيهقي په جزء القرائت ص۵۴ کښې او حاکم په مستدرک ج۲. ص۲۳۸ کښې پخپله له حضرت ابو هريره څخه په دې الفاظو روايت کړی دی (من صلى صلوة مكتوبة مع الامام فليقرأ بفاتحة الكتاب في سكتاته ـ آه). او چه کله يو څوک له امام سره لمونځ کوي هغه دې د امام په سکتاتو کښې سورهٔ فاتحه ولولي

بيهقي دا منلې ده چه مرفوعاً دا حديث صحيح نه دی موقوفاً صحيح دی يعنې د رسول الله ﷺ ارشاد نه دی بلکه د حضرت ابو هريره قول دی چه له دې څخه دا خبره ښکاره شوه چه حضرت ابو هريره له امام سره د مقتدي قرائت جائز نه ګڼه او په سکتاتو کښې ئې جائز ګڼلو همدا زمونږ قول دی

په مولانا احمد علي صاحب محدث سهارنپوري باندې اعتراض او د هغه ځواب

د تکميل البرهان مؤلف د ابو هريره د حديث په بحث کښې بې له وجې د عباده د حديث په اړه يو بحث خيرلی دی چه مولانا احمد علي صاحب حنفي (محدث) سهارنپوري د عباده د حديث په سند کښې د نافع بن محمود له وجې خبره کړې ده چه هغه مستور الحال دی حالانکه د مستور روايت د امام ابو حنيفه په نزد مقبول دی بيا د عباده روايت لره امام ابو داؤد په څلورو طريقو سره راوړی دی له دغو څلورو څخه يوازې په يوه سند کښې نافع بن محمود دی بيا نافع بن محمود ته امام ذهبي په کاشف کښې ثقه ويلی دی او دار قطني د دې سند لره حسن او راويانو ته ئې ثقه ويلي دي (چه له دې څخه د نافع ثقه والی هم لازم شو) او ابن حبان هم ده لره په ثقاتو کښې ياد کړی دی

د دې اوږدې خبرې ځواب دا دی چه مولانا احمد علي صاحب هغه څه ويلي دي کوم چه موفق ابن قدامه حنبلي په کتاب المغني کښې فرمايلي دي چه د عباده په حديث کښې دا زياتوالی چه "ليکن په امام پسې سورهٔ فاتحه لولئ" يوازې ابن اسحق روايت کړی دی او ابو داؤد له نافع بن محمود څخه هم روايت کړی دی او هغه له ابن اسحاق څخه هم دې دی ځکه چه د اهل حديثو په نزد غير معروف دی لکه څرنګه چه مونږ به تفصيل سره بيان کړو چه امام احمد او يحيی بن معين

تلاوت مه کوئ ذلته هم د (في نفسك) تفسير له حضرت ابن عباس رضي الله تعالى عنهما څخه (وحدك) منقول دی او دا تفسير د سراً ذکر له تفسير څخه ځکه بهتر دی چه (دون الجهر من القول) سراً ته هم شامل دی ۱۲ رشيد احمد

هم دې زياتوالي ته ضعيف ويلي دي او ابن حبان اګر که نافع لره د ثقاتو په کتاب کښې داخل کړی دی ليکن حديث ته ئې معلل ويلي دي او له دې يوه حديث نه بغير ئې بل کوم روايت نشته د دغو حضراتو په مخکښې د دار قطني د توثيق او تحسين چه کومه درجه ده اهلِ علم پخپله پرې پوهدلی شي علامه ابن تيميه هم دې ته د ضعيف په ويلو سره فيصله کړې ده چه دا د حضرت عباده قول دی. د رسول الله ﷺ وينا نه ده بيا مونږ مخکښې وويل چه د دې حديث ټولو طريقو ته په کتو سره په ښکاره توګه څرګنديږي چه د دې په سند کښې ډير اضطراب دی او مضطرب حديث د هغه د اضطراب تر لرې کولو پرته د هيچا په نزد حجت نه شي جوړيدلی او د اضطراب د علت د لرې کولو هغه صورت دی کوم چه امام بخاري او مسلم غوره کړی دی چه د دې حديث هغه برخه ئې په صحيح کښې داخله کړې کومه برخه ئې چه ثقاتو روايت کړې ده چه په هغې کښې د امام او مقتدي هيڅ يادونه نشته او د کومې برخې راويان ئې چه د محمد بن اسحاق او نافع بن محمود غوندې خلک دي هغه ئې په صحيح کښې شامله نه کړه او د حديثو په اصولو کښې دا فيصله سوی ده چه کله د مضطرب له څو طريقو څخه يوه طريقه رواج و مومي هم هغه به مقبوله وي نورې طريقې به ئې مردودې وي پس مولانا احمد علي صاحب حنفي محدث سهارنپوري کومه مغالطه نه ده ورکړې پخپله د تکميل البرهان مصنف جاهلانو ته دوکه او فريب ورکوي

څلورم دليل

د تکميل د مؤلف څلورم دليل هغه دی کوم چه مونږ د مجمع الزوائد په حوالې سره پورته بيان کړ چه له يوه صحابي څخه مروي دی چه رسول الله ﷺ صحابهٔ کرامو ؓ ته وفرمايل ښائي چه تاسو په امام پسې قرائت کوئ؟ درې ځله ئې دا پوښتنه وکړه صحابه وو وويل بې له شکه مونږ همداسې کوو. و ئې فرمايل داسې مه کوئ ليکن دا چه سورهٔ فاتحه پخپل زړه کښې ولولئ الخ

جاهلانو ته د دوکې د ورکولو لپاره د تکميل مؤلف دې حديث لره پخپلو دليلونو کښې شامل کړی دی نه داسې حل کښې چه دا د حنفيه وو دليل دی ځکه چه د نبي کريم ﷺ له صحابهٔ کرامو څخه پوښتنه کول چه آيا تاسو په امام پسې قرائت کوئ؟ پخپله دا وائي چه له امام سره د مقتدي قرائت په نبي کريم ﷺ باندې ښه نه لګيده او د صحابه وو د اقتداء په حالت کښې قرائت کول د نبي کريم ﷺ په اجازې سره نه وو چه کله هم د پوښتنې نوبت راغی په دې باندې ځينو اهل حديثو دا ويل چه سوال د سورهٔ فاتحه د قرائت په اړه نه وو بلکه له سورهٔ فاتحه څخه د زيات قرائت په اړه وو. غلطه ده ځکه چه د دار قطنی الفاظ دي چه (**هل منکم من احد يقرأ شيئًا من القران و حسله**) (**فيض الباري ج۲، ص۲۰۲**) آيا په تاسو کښې څوک د قرانکريم څه حصه تلاوت کړی ده؟ دار قطني د دې سند ته حسن ويلی دی او د دې لفظ د فاتحه او غير فاتحه په حق کښې عام و ئې ظاهر دی تر

دي وروسته د نبي كريمﷺ دا ارشاد چه **(الا ان يقرأ احدكم بفاتحة الكتاب فى نفسه)** هم زمونږ دليل دى ځکه چه په دې کښې **(فى نفسه)** قيد موجود دى چه سورۂ فاتحه په زړه کښې لولئ يا د دې معنى د منفرد دى يعني له امام سره ئې مه وايئ له هغه[1] ځخه ئې مخکښې يا د هغه په سکته کښې ئې ولولئ او مونږ له حديث قدسي ځخه د **(فى نفسه)** معنى د منفرد كيدو بيان کړې دى د تكميل د مؤلف دا عوى چه د **(فى نفسه)** معنى د سوکه يا په پټه د ويلو ده. د قبول وړ نه ده د مالكيه له علماوو ځخه څينو لويو لويو علماوو د ابو هريره د حديث **(اقرأبها فى نفسك)** په تفسير کښې همدا خبره کړې ده چه سورۂ فاتحه په زړه کښې وايئ **(شرح مسلم للنووى وفتح الملهم)** بيا مونږ دا وويل چه تر نهي وروسته استثناء د وجوب لپاره نه وي بواځې د اباحت لپاره وي نو له دې حديث ځخه د مقتدي لپاره د فاتحه د قرائت بواځې جواز يا اباحت ثابتيږي نه وجوب او دا د تكميل د مؤلف لپاره مضر يا تاواني ده ځکه چه هغه د فرضيت او رکنيت مدعي دى او له دې حديث ځخه د مقتدي په حق کښې رکنيت خو پريږده وجوب هم نه ثابتيږي

پنځم دليل

د حضرت انس حديث کوم چه مضمون ئې له هغه ځخه په مخکښيني حديث کښې د يوه مجهول صحابي د حديث مضمون دى. په دې کښې هم د **(فى نفسه)** لفظ دى او د نبي كريمﷺ درى خله پوښتنه کولو هم آيا تاسو په لمانځه کښې له امام سره يو ځاى قرائت کوئ؟

مونږ ويلي دي چه دا حديث په اصل کښې د حنفيه وو دليل دى چه اهل ظاهر ئې د مغالطې ورکولو په توګه خپل دليل جوړول غواړي بيا ان حبان په کتاب الضعفاء کښې د ابن سالم په واسطه سره له حضرت انس ځخه روايت کړى دى **قال رسول اللهﷺ من كان له امام فقراءة الامام له قراءة** "رسول اللهﷺ وفرمايل چه د چا لپاره کوم امام وي او دى ئې مقتدي وى، نو د امام قرائت د هغه لپاره هم قرائت دى" ابن حبان په ابن سالم کښې کلام ئې خبره کړې ده لېکن په تقريب کښې ئې ثقه ورته ويلي دي او په تهذيب التهذيب کښې دى چه **قال ابو حاتم لا بأس به (ج٩ ص١٤٤)** ابو حاتم وويل په دې کښې هيڅ خبره نشته او دا لفظ د توثيق لپاره استعماليږي که چېرته نافع بن محمود ته د ذهبي په قول سره ثقه ويل کيدلى شي نو ابن سالم ته د ابو حاتم په قول سره په طريقۂ اولى سره ثقه ويل کيږي پس د دواړو حديثونو نه يو ځاى کولو سره زمونږ د قول تائيد کيږي چه له دې

[1] په سري حاشيه کښې ... ولولي ۱۲ رشيد احمد

حدیث څخه د مقتدي لپاره سوا څی د قرائت جواز ثابتيږي نه وجوب او جواز هم په دې ډول چه په
زړه کښې به ئې وائي نه بر امام مخکښې او نه دې د امام په سکته کښې. له امام سره دې یو ځای نه
وائي

شپږم دلیل

شپږم حدیث د تکمیل مؤلف د عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده په سند سره بیان کړی دی چه
رسول الله ﷺ وفرمایل تاسو په ما پسې قرائت کوئ؟ صحابه وو وویل چه هو مونږ ئې زر زر وایو
نبي کریم ﷺ وفرمایل چه داسې مه کوئ لیکن بواځې سورۂ فاتحه لولئ بیا له عون المعبود څخه
ئې نقل کړی دی چه عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده سند د امام بخاري او داسې نورو په نزد
حجت دی مغالطه او دوکه ورکول دی نه وائي دې لره له عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده حجت
کېدل ورو سره باید ثابت سوی وای لومړۍ دا ضروري وه چه له امام بخاري یا بیهقي څخه تر عمرو
بن شعیب پورې د راویانو څه حال دی؟ که څرنګه د بخاري او بیهقي جزء القرائت په ښه توګه وکتل
سي نو څرګندیږي چه له عمرو بن شعیب څخه روایت کوونکی ضعیف دی

قال البیهقی و محمد بن عبید الله بن عمیر وان کان غیر محتج به و کذلك بعض من تقدم ممن رواه عن عمرو بن شعیب فللقراءة المأموم فاتحة الکتاب فی سکتة الامام شواهد صحیحة عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده خبراً عن فعلهم و عن ابی هریرة و غیره من فتواهم. (ص۵۲)

امام بیهقي فرمائي چه اګر که محمد بن عبد الله بن عمیر څخه حجت نه شي قائمیدلی (ځکه چه
هغه ضعیف متروک دی، ځینو محدثینو خو وربه کاذب هم ویلی دی (لسان ج۵. ص۲۱۲)
همدارنګه ځیني نور خلک هم کوم چه دې لره له عمرو بن شعیب څخه روایت کوي (له هغو څخه هم
حجت نه سي قائمیدلی) لیکن د امام به سکته کښې د مقتدي د سورۂ فاتحه د قرائت لپاره له عبد
الله بن عمرو او حضرت ابو هریره او داسې نورو څخه به صحیح روایتونو کښې د هغوی فعل او
فتوی بیان موجود دی آه

په دې کښې امام بیهقي فیصله کړې ده چه له عبد الله بن عمرو. حضرت ابو هریره او داسې
نورو نه دې باب کښې مرفوع حدیث ثابت نه دی بواځې د دوی د فعل او فتوی ثابته ده او هغه هم
مطلقاً نه دی بلکه د امام په سکته کښې د مقتدي قرائت نه جائز وائي او له دې څخه حنفیه هم منع
نه کوي. نه وجوب باندې ئې هیڅ دلیل نسته لکه څرنګه چه نه تفصیل سره بیان شول نس دا هم
زموږ دلیل دی

اووم دلیل

نه دې دلیل کښې ئې نسا د عباده بن الصامت حدیث بیان کړی دی حالانکه د حدیثو لوستونکي

او بل ته ور ښوونکي ته پوهيږي چه کله صحابي يو وي نو حديث ئي هم يو وي. يو حديث لره خو حديثه ګڼل صحيح نه دي

مونږ وويل چه د عباده حديث مضطرب دی د دې په طريقو کښې که چيرته کومې يوې طريقې ته ترجيح نه وای نو د قبول وړ به نه وای ليکن کله چې يوې طريقې ته ترجيح ورکړې شوه نو همدا طريقه حجت ده پاتې طريقې ئې حجت نه شي جوړيدلی او له دغو طريقو څخه هغه طريقه راجحه ده کوم چه امام مسلم او بخاري په صحيح کښې غوره کړې ده او په دې کښې دمقتدي او امام څه ذکر نشته. يواځې دومره مضمون شته چه څوک سورۀ فاتحه و نه لولي د هغه لمونځ نه کيږي او له دې څخه هيڅوک انکار نه کوي. په امام او منفرد باندې زمونږ په نزد هم د فاتحه قرائت واجب دی او دا حديث ئې په دې معنی باندې امام احمد بن حنبل. سفيان بن عيينه او امام زهري غوندې د حديثو امامانو محمول کړی دی حضرت جابر بن عبد الله صحابي او نورو صحابه وو هم د دې همدا مطلب ګڼلی دی له دې صحيح طريقې پرته د عباده د حديث چه څومره طريقې دي ټولې مرجوح دي او د قبول وړ نه دي بيا له کوم کتاب څخه چه د حديث دا الفاظ په تکميل البرهان کښې نقل شوي دی له هغه څخه د حديث الفاظ نه دي را اخيستل شوي ځکه چه الفاظ ئې د تکميل البرهان د مؤلف په خلاف او د حنفيه وو لپاره مفيد وو د مجمع الزوائد الفاظ دا دي **من قرأ خلف الامام فليقرأ بفاتحة الكتاب** (ج۱ص۱۸۶) يعني چه کوم سړی په امام پسې قرائت کوي نو سورۀ فاتحه دې وائي له دې څخه صاف څرګنديږي چه په امام پسې د سورۀ فاتحه قرائت لازم نه دی چه څوک ئې لوستل غواړي لوستلی ئې شي او مونږ د حضرت ابو هريره او عبد الله بن عمرو بن العاص له روايتونو څخه ثابته کړې ده چه د دې مطلب دا دی چه مقتدي دې پخپل زړه کښې سورۀ فاتحه وائي يا دې د امام په سکته کښې وائي او له دې څخه هيڅوک هم منع نه کوي

اتم دليل

اتم حديث د حضرت عائشه ﷺ دی چه رسول الله ﷺ وفرمايل کوم سړی چه په لمانځه کښې سورۀ فاتحه و نه لولي د هغه لمونځ ناقص (نيمګړی) دی (د تکميل البرهان مؤلف د دې په ترجمه کښې د بيکار لفظ له ځانه ور زيات کړی دی) د دې نه زړه غرض دی چه د دې حديث حاصل هغه دی کوم چه د حضرت ابو هريره ﷺ د دريم حديث حاصل دی نه دی چه د مقتدي نه دمی باندې د سورۀ فاتحه قرائت لازمول زور او زياتی دی ځکه چه مقتدي نه د امام قرائت کافي دی چه ثبوت ئې مونږ د صحيح حديثونو له مخې ورکړی دی له مقتدي پرته د امام او منفرد لمونځ خو مونږ هم له سورۀ فاتحه پرته ناقص بولو ځکه چه د سورۀ فاتحه لوستل په دوی باندې واجب دی د مقتدي لپاره په قرآن او حديث کښې د انصات خاموشۍ کيدلو حکم دی (انما جعل الامام ليؤتم به)

امام د دې اشاره خوا ته شوې دی چه د هغه اتباع وشي، او له امام سره يو ځای قرائت کول اتباع نه دی بلکه د امام اتباع دا دی چه مقتدی غلی پاتې شي او قرائت يې واوري نو له امام سره يو ځای د مقتدي قرائت کول د شاه ولی الله رحمه الله په قول د قرآن د نقطه خلاف دی

نهم او لسم دليل

تر دې وروسته نهم او لسم حديث هم د حضرت عبادة حديث دی او دواړه د بيهقي له جزء القرائت څخه را نقل شوی دی

مونږ ويلي دي چه د عبادة حديث مضطرب دی او د مضطرب حديث چه کومې طريقې ته ترجيح ورکړ شي هغه مقبوله او پاتې نورې ټولې طريقې يې د قبول وړ نه دي او دا هم څرګنده شوې ده چه د دې حديث هغه طريقه راجحه ده کومه چه امام بخاري او امام مسلم غوره کړې ده بيا د تکميل مؤلف دا حديث د بيهقي له جزء القرائت څخه خو را نقل کړې لېکن دا ني و نه ليدل چه کوم وخت محمد بن سليمان بن فارس دا حديث په دغو الفاظو سره بيان کړی دی **(لاصلوٰة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب خلف الامام)** نو دې وخت کې ابو الطيب محمد بن احمد ذهلي هغه له دې خبرې منع کړ **(قال قلت لمحمد بن سليمان خلف الامام؛ قال خلف الامام ص۳۷)** آيا نو دې حديث کښې خلف الامام هم شته؟ و نې ويل هو! او محمد بن ذهلي ثقه دی د هغه نه دې لفظ باندې انکار کول پخپل دا بيانوي چه د هغه په نزد دا زياتوالی منکر دی چه ورته ني دا ده چه د دې حديث په سند کښې زهري هم شته او د زهري مذهب له موطأ امام مالک او داسې نورو څخه معلوم شوی دی چه د هغه په نزد په جهري لمانځه کښې مقتدی ته له امام سره يو ځای قرائت جائز نه دی په تفسير طبري کښې هم د قتادة په روايت سره د زهري دا قول مروي دی چه نه کوم لمانځه کښې امام جهر کوي مقتدي دې په هغه کښې قرائت نه کوي ځکه چه د امام قرائت دا هم نه وری هو! په کوم لمانځه کښې چه امام جهر نه کوي مقتدي دې پخپل زړه کښې قرائت وکړی او په کوم لمانځه کښې چه امام جهر کوي په هغه کښې هيڅوک ته قرائت جائز نه دی په نه زوره او نه په پټه ج۱ ص۱۱۱، که خبرته په دې حديث کښې هغه د خلف الامام لفظ روايت کړی وای نو ده جهري لمانځه کښې به ني په امام پسې له قرائت کولو څخه ولې منع کوله؟ پس نا خو زياتوالی شاذ دی لکه څرنګه چه د ابو الطيب ذهلي له پوښتنې څخه دا مفهوم را وځي بيا چه د حديث د مسبوق په باره دی کوم چه تر امام وروسته څېل پاتې رکعتونه پوره کوي مطلب دا دی چه کله څرنګه مسبوق تر امام وروسته په پاتې رکعتونو کښې سورة فاتحه و نه لولي نو لمونځ يې نه کېږي او په مسبوق باندې مونږ هم د سورة فاتحه قرائت واجب بولو او د خلف د لفظ معنی وروسته مستعمل له قرآن څخه ثابت دی د دې آيت تفسير چه **(وَجَعَلْنٰهَا نَكَالًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا)** ترجمه کړی مونږ د واقعه عبرت وګرځاوه

د هغو خلکو لپاره کوم چه د دې په مخکښې موجود وو او د هغو خلکو لپاره کوم چه تر دې وروسته رانلونکي وو» (تفسير طبري ج۱، ص۲۶۵)

پاتې سوه د امام بیهقي دا وینا چه د دې سند صحیح دی نو له دې څخه د حدیث صحیح والی نه لازمیږي ځکه چه سند حدیث هغه دی چه راویان ئې ټول ثقه وي لیکن کوم ثقه ئې د ثقاتو د جماعت (ډلې) خلاف کړی وی بیا د امام بیهقي دا وینا چه په دې حدیث کښې د خلف الامام د لفظ زیاتوالی داسې دی لکه څرنګه چه د مکحول په روایت کښې د (لاتقرؤابأم القرآن) زیاتوالی دی نو د مکحول د دې زیاتوالي حال خو مونږ بیان کړ چه امام احمد او یحیی بن معین او داسې نورو د حدیثو امامانو ده ته ضعیف ویلي دي بیا دا وینا چه دی له حضرت عباده څخه د څو وجوهاتو له مخې مشهور صحیح دی نو دا هغه خبره ده کومه چه علامه ابن تیمیه کړې ده چه صحیح دا ده چه د د حضرت عباده قول دی. د رسول الله ﷺ قول نه دی له دې څخه مونږ کله انکار کړی دی چه ځینې صحابهٔ کرام د قرائت خلف الامام قائل وو لیکن چونکه د هغوی قول د قرآن د نصّ او صحیح حدیث خلاف دی له دې وجې په دې کښې تاویل کیږي چه هغو با په زړه کښې سورهٔ فاتحه تلاوت کاوه او یا د امام په سکته کښې او د هغو صحابه وو قول ته ترجیح ورکول کیږي کوم چه د قرآن د نصّ او د صحیحو احادیثو موافق دي او د عباده په لسم حدیث کښې هم د امام او غیر امام زیاتوالی صحیح نه دی د کوم چه مطلب ئې دا دی چه "د هغه سړي لمونځ صحیح نه دی چه سورهٔ فاتحه و نه لولی که امام وي یا بل څوک" ځکه چه د دې په سند کښې احمد بن عمیر دمشقي مشهور په ابن جوصا دی چه په اړه ئې حافظ بن منده له حمزه کناني څخه نقل کړی دی چه هغه له ابو جوصا څخه روایت کول ښه نه ګڼل او وئې فرمایل چه له ما سره د ابن جوصا د روایت دوه سوه حصې دي کوم چه هغه خالص سپین وای او حاکم له زبیر بن عبد الواحد اسدي څخه نقل کوی چه ... د ابو علي ... نه دی لیدلی برته له دې چه هغه له عبد الله ابن وهب دینوري او ابن جوصا څخه روایت کوي ... د دې په سند کښې محمد بن ابی السري هم شته کوم چه غالباً عسقلاني دی دی سره له حفظه ډیری غلطئ کوی او منکرات روایت کوي ذهبي په میزان کښې د هغه د ... منکر حدیث په بیانولو سره فرمایلي دي ... نور منکر احادیث هم ... پس په دې ... کښې د ... وغیر امام لفظ ... د ابن ابی السری له منکرو څخه دی ... د ابن جوصا له ... څخه دی ... نه سي ... بیا په دې کښې د مقتدي ذکر ... د ... او غیر ... ذکر دی نو له غیر امام څخه منفرد مراد دی نه مقتدي ځکه چه د مقتدي په باره کښې نه صحیح حدیث "اذا قرأ الامام فانصتوا" چه کله امام قرائت کوی نو چُپ پاتی سئ کښې د خاموشۍ ... صریح حکم ... دی او ... حکم په قرآن کښې هم دی وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ

فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا او مونږ ووېل چه به اتفاق سره دا آيت د قرائت خلف الامام په باره کښې نازل شوی دی اوس دې د تکمیل البرهان مؤلف خپل ګرېوان نه سر ښکته کړي او و دې ګوري چه څوک خدايي حکم او د رسول الله ﷺ صحيح حديثونه ردوي. دی او که مونږ؟ بيا په دې باندې دا لن ترانۍ (بې ځايه خبرې او الزامات) چه خپل ځان ئې محقق، مبصر او د محمدي شريعت محکوم او فرمانبردار ګڼلی او د حنفي مذهب عوام او خواص ئې مذهب پرست، فرقه بند او هډوکي خرڅوونکي بللي او سرمېږي هم نه په اختلافي مسائلو کښې چه کله له هر لوري سره دلائل موجود وي نو دا خوله پرېکونه او د تهذيب خلاف خبرې لېکل دې ده ته مبارک وي، مونږ چا ته بد رد نه وايو يواځې د خپل مسلک په تائيد او تقويت باندې اکتفاء کوو

د دغو لسو حديثونو په بيانولو سره د تکمیل البرهان مؤلف د **(تلك عشرة كاملة)** تاج په سر باندې په کېښودلو سره ډېر په فخر سره ويلي دي چه "الحمد لله په امام پسې د سورۀ فاتحه د قرائت مسئله د نبي کريم ﷺ له دغو لسو حديثونو څخه په ښه توګه حل شوه" ګوا که له حنفيه وو سره نه له قرآن څخه کوم دليل شته او نه له حديثو څخه د علم خاوند دې د داسې خبرو په کولو سره بايد وشرمېږي آيا ده ته دا معلوم نه دي چه حنفيه هم په دې مسئله کښې يواځې له قرآن او حديثو څخه استدلال کوي

تر دې وروسته د تکمیل البرهان مؤلف د صحابه وو آثار بيان کړي دی ما ووېل چه له کومو حديثونو څخه هغه استدلال کړی دی هغه يا خو صحيح نه دي او که صحيح دي نو د قرائت خلف الامام په اړه صريح نه دي اوس آثار وګورئ

د حضرت عمر ﷺ اثر

لومړی اثر د حضرت عمر ﷺ دی چه له هغه څخه يزيد بن شريک د قرائت خلف الامام په اړه پوښتنه وکړه نو ده ورته وفرمايل سورۀ فاتحه لوله. ما ووېل چه اګر که ته (امام وې)؟ و ئې فرمايل اګر که زه (امام) وم ما ووېل چه اګر که تاسو جهر کوئ؟ ده وفرمايل چه اګر که زه جهر کوم دی لره دار قطني روايت کړی دی او ويلي ئې دي چه راويان ئې ثقه دي او په دويم سند سره ئې روايت کړی دی او ويلي ئې دي چه دا سند صحيح دی او طحاوي[1] هم دې لره روايت کړی دی

---

[1] څرګنده دي چه د صاحب تکمیل نه مخکښې طحاوي هم شته او مخکښه دده څخه موطاء امام محمد او نصب الرايه او زيلعي هم وو او عمدة القاري شرح بخاري للعيني هم وو نو آيا هغوی ته د حنفيه وو دلائل په حديثونو کښې نه نظر نه دي وراغلي؟ که څرګنده نظر نه دي وراغلي نو معلومېږي چه هغوی نه عربي نه دي پوهېدل او که څرګنده نظر وراغلي دي نو ښه نه کومه خوله نه دي د حنفي مسلک نه د رسول ﷺ د حديثو خلاف وايي؟ ۱۲ ط

خواب: دی چه له حضرت عمر رضی الله عنه څخه مختلف روایتونه دي عبد الرزاق پخپل مصنف کښې په موسی بن عقبه مغازي و السير څخه دا روایت کړی دی چه رسول الله ﷺ، صدیق اکبر او حضرت عمر رضی الله عنهما به له قرائت خلف الامام څخه خلک منع کول او دا حدیث مرسلاً صحیح دی او محمد پخپل موطاء کښې له داؤد بن قیس فراء څخه له محمد بن عجلان څخه روایت کړی دی چه حضرت عمر وفرمایل کاش چه د هغه سړي خولې ته ډبرې یا کاني ولویږي چه خوک په مقتدي کښې قرائت کوی د دی ټول راویان ثقه دي لیکن روایت مرسل دی ځکه چه غالباً د محمد بن عجلان سماع له حضرت عمر څخه نه دی لیکن مرسل او منقطع زمونږ په نزد حجت دی او علامه عینی په عمدة القاري کښې تصریح کړې ده چه کله چیرته دوه مرسله له یوه صحیح حدیث سره یکړ وی نو دوه مرسله باندې عمل کول بهتر دي ص۸۸۵ او شاه ولی الله صاحب په ازالة الخفاء کښې یو مستقل باب د عمر بن الخطاب د مذهب د تدوین لپاره منعقد کړی دی په دې کښې فرمائی (قلت روی اهل الكوفة من اصحاب عمر الكوفيين ان المأموم لا يقرأ شيئاً - آه). (د حضرت عمر رضی الله عنه چه کوم کوفیان اصحاب دي د هغو روایت دا دی چه (د حضرت عمر په نزد) مقتدي څه قرائت نه شي کولی په دې صورت کښې د ترجیح د اصولو مطابق د تحریم روایت ته ترجیح ورکول کیږي (فقد ثبت فى الاصول ترجيح المحرم على المبيح اذا تعارضا) (ځکه چه په اصولو کښې له دلائلو څخه ثابت شوی دي چه کله محرم او مبیح تعارض سره وکړي نو محرم ته ترجیح ورکول کیږي) خصوصاً چه کله د تحریم روایت د قرآن د نصّ او د صحیح حدیث موافق وي با دواړه روایتونه په دی ډول سره جمع کېږي چه د ممانعت روایت به دې صورت باندې محمول دی چه کله له امام سره یو ځای قرائت وشي او د قرائت امر به اجازه په هغه صورت کښې دی چه کله له امام څخه مخکښې وی یا د هغه په سکتو کښې وشي ت به سرّی لمانځه کښې قرائت وکړي لکه څرنګه چه د حضرت ابو هریره، عبد الله بن عمرو او حضرت عباده څخه د بیهقي په روایت مونږ د دې ثبوت وړاندې کړی دی چه د امام په ذمه د سکتې د واجب والي هیڅ دلیل نشته پس امر لره په وجوب باندې نه شي محمولیدلی بلکې به په جواز باندې محمولیږي

د حضرت علي رضی الله عنه اثر

دوهم اثر د حضرت علي کرم الله وجهه دی چه هغه به فرمایل وواین په امام پسې د ماسپښین او مازدیګر په دوه لومړنیو رکعتونو کښې سورة فاتحه او یو بل سورت دار قطني فرمایلي دی چه د دې سند صحیح دی

پردې چه صاحب تکمیل د مقتدي په ذمې باندې له سورة فاتحه پرته د یو بل سورت لوستل هم ضروری ګڼه نو ځکه څرنګه نې خوب هم وی مونږ د ... خلاف دی کوم خلک چه د قرائت ...

خلف الامام قائل دي په هغو کښې يو هم د مقتدي په ذمې باندې له سورهٔ فاتحه برسېره د بل هيڅ يوه سورت لوستلو ته واجب نه وائي پخپل اهل حديث هم د دې قائل نه دي او که چيرته ئې خواب د نفي وي نو د حضرت علي رضي الله عنه د اثر خواب دې ورکړي ځکه چه په دې مقتدي ته د سورهٔ فاتحه او د يوه بل سورت د دواړو حکم دی او زمونږ خواب دا دی چه له حضرت علي رضي الله عنه ځخه هم مختلف روايتونه راغلي دي عبد الرزاق او ابو بکر بن ابي شيبه پخپل مصنف کښې له حضرت علي رضي الله عنه ځخه داسې روايت کړی دی (قال من قرأ خلف الامام فقد اخطأ الفطرة) چه څوک په امام پسې قرائت وکړي هغه د فطرت (يعني د سنتو) په خلاف عمل کوي. دار قطني هم دې لره پخپل سنن کښې روايت کړی دی چه مونږ د شعبي له مرسل سره مخکښې بيان کړی دی او د دې په سند کښې خبره شته چه قيس او محمد بن سالم ضعيف دي ليکن دغو دواړو ته نورو ثقه ويلي دي د دې لپاره دا روايت رديدلی نه شي او د ابن ابي شيبه په سند کښې دا ضعيف راوي نه دی سند ئې د صحيح شرط موافق دی پرته له محمد بن الاصبهاني ځخه لېکن دې ته علامه ذهبي او ابن حبان ثقه ويلي دي او ظاهره خبره ده چه د حضرت علي فتاوی او قضايا له نورو خلکو ځخه زيات د کوفي خلک به پيژني ځکه چه د خلافت د انکار زمانه ئې اکثره په کوفه کښې تېره کړې ده د دې لپاره د هغو روايت ته ترجيح ورکول کيږي خصوصاً به داسې حال کښې چه دا روايت د کتاب الله او صحيح حديث موافق هم دی او امام عبد الله بن يعقوب سندموني پخپل کتاب کشف الاسرار کښې له عبد الله بن زيد بن اسلم ځخه روايت کوي. هغه له خپل پلار زيد بن اسلم مولی عمر بن الخطاب، ځخه روايت کوي چه له صحابه وو ځخه لس کسانو به له قرائت خلف الامام ځخه په سختۍ سره خلک منع کول کوم چه په لاندې ډول دي حضرت ابو بکر صديق، حضرت عمر بن الخطاب، حضرت عثمان بن عفان، حضرت علي بن ابي طالب، حضرت عبد الرحمن بن عوف، حضرت سعد بن ابي وقاص، حضرت عبد الله بن مسعود، حضرت زيد بن ثابت، حضرت عبد الله بن عمر او حضرت عبد الله بن عباس رضی الله تعالی عنهم اجمعين (عمده القاري) چه څومره سند مذکور دی د هغه ټول راويان ثقه دي عبد الله بن زيد ته امام بخاري او امام احمد ثقه ويلي دي او محدثين چه د سند کومه برخه حذف کوي په هغه کښې کلام نه کوي

پس د حضرت عمر رضي الله عنه غوندې د حضرت علي رضي الله عنه په اثر کښې هم محرم ته په مبيح باندې ترجيح ورکول کيږي. يا ممانعت په جهري لمانځه باندې او اجازت په سرّي لمانځه باندې محموليږي چه تائيد ئې د بيهقی د جزء القرائت له دې اثر ځخه کيږي

عن علي قال من السنة ان يقرأ الامام في الركعتين الاوليين من صلوة الظهر بأم الكتاب و سورة سرا في نفسه وينصتون من خلفه ويقرءون في انفسهم.

،حضرت علي ﷺ وفرمايل چه د لمانځه سنت دا دي چه امام د ماسپښين په لومړيو دوه رکعتونو کښې سورۀ فاتحه اويو بل سورت سوکه يا به پټه ووائي او په هغه پسې ولاړ خلک چپ يعنې غلي ودريږي. په زړه کښې دې وائي، امام بيهقي له ې څخه احتجاج کړي دی او په دې کښې بنه تصريح ده چه مقتدي دې خاموشه وي بيا له دې څخه تر سورۀ فاتحه وروسته د بل سورت د يو ځای کولو وجوب هم ثابت دی چه اهل حديث ئي قائل نه دي او حنفيان ئي قائل دي

د عبد الله بن عمر ﷺ اثر

دريم اثر: ابو العاليه وائي چه ما په مکّه مکرمه کښې له عبد الله بن عمر ﷺ څخه پوښتنه وکړه چه زه لمونځ وکړم؟ و ئي فرمايل چه د دې کور (بيت الله) له ربّ څخه ما ته حيا راځي چه زه لمونځ وکړم او په هغه کښې قرائت و نه کړم اگر که سورۀ فاتحه هم وي دې روايت لره امام بخاري په جزء القرائت کښې روايت کړی دی

زه وايم چه په دې کښې د قرائت خلف الامام ذکر نشته بلکه د مطلق قرائت ذکر دی چه په لمانځه کښې قرائت بايد ضرور وشي اگر که سورۀ فاتحه هم وي دا په غير مقتدي باندي محموليږي ځکه چه ابو العاليه پخپله مرسلاً روايت کړی دی چه خلکو به امام پسې قرائت کاوه نو د (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا) آيت نازل شو (فسکت القوم و قرأ النبی ﷺ) (بيا به خلک خاموش وو او نبي کريم ﷺ به قرائت کاوه) او له موطاء امام مالک څخه له تر ټولو صحيح سند سره د عبد الله بن عمر ﷺ مذهب ذکر شو چه کله له هغه پوښتنه کيدله چه آيا په امام پسې قرائت کيږي؟ نو ويل به ئي چه په امام پسې چه کوم سړی لمونځ کوي هغه د امام قرائت کافي دی او چه کله بواځې لمونځ کوي نو بايد چه قرائت وکړي تر دې وروسته نافع وويل چه عبد الله بن عمر ﷺ په امام پسې قرائت نه کوو او بيهقي هم په جزء القرائت کښې له صحيح سند سره له قاسم بن محمد څخه همدا روايت کړی دی چه عبد الله بن عمر په امام پسې قرائت نه کاوه نه په جهري لمانځه او نه په سرّي کښې

بس د ابو العاليه دا روايت له هغه سره نه ټکر کيږي دا روايت په امام او منفرد باندي محمول کول ضروري دی بس د دی دا لفظ اگر که سورۀ فاتحه هم وي دا وائی چه د عبد الله بن عمر په نزد د قرائت لپاره سورۀ فاتحه متعينه نه ده او دا صاحب د تکميل البرهان نه مضر ت وائي دی ځکه چه هغه د فاتحه د تعين او د هغه د رکنيت قائل دی تر دې وروسته له کنز العمال څخه چه کوم اثر ده د عبد الله بن عمر نقل کړی دی په هغه کښې کاتب غلطي کړې ده هغه په اصل کښې د عبد الله بن عمرو بن العاص اثر دی د امام بيهقي جزء القرائت ص۴۵ ملاحظه کړئ او د دې په سند کښې حسين بن صبيح ضعيف دی تعليق ص۲۰۱ بس په دې کښې په امام پسې د قرائت مطلقً ذکر

نشته بلکه تر امام مخکښې یا د سکتې په حالت کښې د قرائت کولو ذکر دی او له دی څخه هیڅوک انکار نه کوي همدارنګه په دې کښې دا لفظ هم دی چه **(من صلی مکتوبة او سجة فليقرأ بأم القرآن و قرأنا معها)** (کوم سړی چه فرض لمونځ کوي یا نفل نو سورۀ فاتحه دې هم لولي او له هغې سره دې د قرآن څه نوره برخه هم لولي) له دې څخه له سورۀ فاتحه سره د سورت د یو ځای کولو وجوب ښکاره معلومیږي لیکن اهلِ حدیث د دې قائل نه دي که چیرته له دې اثر څخه د مقتدي په ذمې باندې د سورۀ فاتحه قرائت واجب کړی شي نو د یوه سورت یا څو آیتونو لوستل به هم واجب شي او د دې هیڅوک هم قائل نه دی پس دا اثر په اتفاق سره متروک العمل دی

د ابی بن کعب رضی الله عنه اثر

څلورم اثر د حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه اثر دی چه هغه به په امام پسې قرائت کاوه لیکن ښکاره خبره دا ده چه هغه به له امام څخه مخکښې یا به د امام په سکتاتو کښې قرائت کاوه او له دې څخه مونږ هم منع نه کوو لکه څرنګه چه په راتلونکي اثر کښې د دې ښه تصریح راغلې ده

د عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه اثر

پنځم اثر د عبد الله بن عمرو بن العاص اثر دی چه هغه به په امام پسې قرائت کاوه

لیکن بخپل د تکمیل مؤلف د کنز العمال په حوالی سره د دې تشریح هم کړې ده چه هغه به ویل چه کله ته له امام سره وې نو سورۀ فاتحه له هغه څخه مخکښې یا د هغه په سکتاتو کښې وایه، او دا مونږ هم جائز بولو او د وجوب هیڅ دلیل نشته ځکه چه د امام په ذمې باندې د یوه دلیل له مخې هم سکوت واجب نه دی

د ابو هریره رضی الله عنه اثر

شپږم اثر د حضرت ابو هریره رضی الله عنه اثر دی چه په کوم لمانځه کښې سورۀ فاتحه و نه لوستل شي هغه خداج (ناقص) دی ابو السائب وویل چه کله زه په امام پسې یم او هغه په جهر سره قرائت کوي نو څه به کوم؟ حضرت ابو هریره رضی الله عنه په ځواب کښې وویل چه **(ویلك یافارسی اقرأبها فی نفسك . الخ)** د دې ترجمه صاحب تکمیل داسې کړې ده چه (سورۀ فاتحه سوکه او په پټه سره وایه) او زمونږ په نزد ئې ترجمه دا ده چه (سوۀ فاتحه په زړه کښې ئې وایه) ځکه چه په ابو داؤد. نسائي او داسې نورو کښې په صحیح سند سره له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی **(اذا قرأ الامام فا نصتوا)** چه کله امام قرائت کوي نو تاسو خاموش و اوسئ. او قلبي (د زړه قرائت) ته قرائت ویل د لغت او عرف له مخې ثابت دی لکه څرنګه چه مونږ مخکښې ویلي دي پس په دواړو روایتونو باندې د عمل کولو

صورت دا دی چه حضرت ابو هريرهؓ د مقتدي لـره د انصات رچپ والي، هم قائل دی چه مقتدي ته په امام پسې خاموش يا غلې درېدل واجب دی او په زړه کښې قرائت وئل جائز بولي. همدا زمونږ مذهب دی

د عبد الله بن مغفلؓ اثر

اووم اثر د عبد الله بن مغفلؓ اثر دی چه هغه به به امام پسې د ماسپښين او مازديګر به دوه لومړنيو رکعتونو کښې له سورۀ فاتحه سره يو بل سورت هم قرائت کاوه او په وروستنيو دواړو رکعتونو کښې به ئې يواځې سورۀ فاتحه تلاوت کاوه

زه وايم چه ابن سعد بحال تفسر کښې له عبد الله بن مغفل څخه د دې په خلاف روايت کړی دی چه ما د صحابه وو له يوه مشر څخه پوښتنه وکړه (راوي وائي چه زما ګومان دا دی چه هغه د عبد الله بن مغفل نوم واخيست)، آيا په هر سړي باندې څوک چه قرآن اوري د قرآن اورېدل او خاموش اوسيدل واجب دي؟ و ئې فرمايل چه دا آيت (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا) (چه کله قرآن ويل کيږي نو وا ئې ورئ او چُپ يا خاموش و اوسئ) د قرائت خلف الامام په باره کښې نازل شوی دی چه کله امام قرائت کوي نو هغه واورئ او خاموش و اوسئ (زيلعي ج۳. ص۲۳۲) پس که حبرته د بخاري د جزء القرائت په روايت کښې د خلف الامام د لفظ زياتوالی شاذ او منکر نه دی نو ويل کيږي چه عبد الله بن مغفل له امام سره يو ځای قرائت نه کاوه. له امام څخه ئې مخکښې يا د هغه په سکتاتو کښې قرائت کاوه بيا په دې روايت کښې له سورۀ فاتحه سره د بل يوه سورت د يو ځای کولو هم ذکر شته آيا صاحب تکميل دا د امام يا مقتدي په ذمې باندې واجب بولي؟ که چيرته ئې نه بولي نو د داسې اثر د بيانولو څه فائده په کوم باندې چه پخپل عمل نه کوي

د ابو سعيدؓ اثر

اتم اثر د ابو نضره اثر دی چه ما له ابو سعيد څخه د قرائت خلف الامام په باره کښې پوښتنه وکړه هغه وفرمايل چه سورۀ فاتحه وايه

زه وايم چه دا حديث ابو داؤد له ابو نضره څخه روايت کړی دی لکه څرنګه چه پخپله صاحب تکميل ر نقل کړی دی په دې کښې د خلف الامام يادونه نشته بلکه د دې لفاظ دا دي چه (قال امرنا ان نقرأ بفاتحة الكتاب وما تيسر) مونږ ته امر شوی دی چه سورۀ فاتحه لولئ او نور چه کوم ... دی او اهل حديث ئې سورۀ ... نور څه لوستل واجب نه بولي ترمذی او ابن ماجه کښې هم د حضرت ابو سعيد ... روايت موجود دی نه دی کښې هم د خلف الامام لفظ موجود نه دی ... په کامل ... کښې او ابن ابي شيبه په مصنف کښې، اسحق بن

راهو په بخپل مسند کښي او طبراني د اهل شام په مسند کښي دا حدیث روایت کړی دی د دغو حضراتو په روایتونو کښي هم د خلف الامام نوم او نښان نشته طبراني دا روایت لها بو نضره څخه له ابو سعید څخه په دې الفاظو روایت کړی دی **(لا صلوة الا بأم القرآن ومعها غیرها)** لمونځ نه کېږي لیکن له سورهٔ فاتحه سره او له هغې سره چه څه نور قرآن هم وي، او د کامل الفاظ دا دي **(لا صلوة الا بفاتحة الکتاب و سورة معها)** لمونځ نه کېږي مګر له سورهٔ فاتحه سره او له هغې سره یو بل سورت، د ابن ماجه الفاظ دا دي **(لا صلوة لمن لم یقرأ فی کل رکعة بالحمد و سورة فی فریضة و غیرها)** لمونځ نه کېږی د هغه سړي چه په هر رکعت کښي الحمد سره او بو بل سورت ورسره و نه وائي. که فرض لمونځ وي او که نفل، (اعلاء ج۲. ص۱۸۲) اوس که چیرته دا قرائت په خلف الامام باندي محمول کړی شي نو صاحب تکمیل باید د دې قائل شي چه د امام او مقتدي په ذمې باندې په هر رکعت کښي تر سورهٔ فاتحه وروسته د یو بل سورت لوستل هم واجب دي حالانکه هغه د دې قائل نه دی بیا د داسې آثارو له را نقل کولو څخه څه فائده په کومو باندې چه هغه بخپله عمل نه کوي

تر دې وروسته صاحب تکمیل د حنفیه وو خوا ته یوه مغالطه منسوب کړې ده چه د تعلیم په وخت کښي نبي کریمﷺ (مسیء[1] الصلوة ته **فاقرأ ما تیسر معك من القرآن**) ویلي وو چه له قرآن څخه هغه لوئي کوم چه تاسو ته آسانه وي (خاص ئې د سورهٔ فاتحه د لوستلو حکم نه دی کړی، له دې څخه څرګنده شوه چه د فرض قرائت د ادا کولو لپاره سورهٔ فاتحه خصوصیت نه لري د یوه یا دوو آیتونو په ویلو سره هم فرض ادا کېږي د دې په ځواب کښي صاحب تکمیل وائي چه حافظ صاحب یعنی حافظ ابن حجر عسقلاني فرمایلي دي د دې مطلب دا دی **(ای بعد الفاتحة)** یعنی تر سورهٔ فاتحه وروسته چه کوم سورت ستاسو یاد وي او آسانه وي هغه وایئ لکه څرنګه چه په ابو داؤد کښي د رفاعه بن رافع په حدیث کښي **(ثم اقرأ بأم القرآن)** صاف موجود دی یعنی رسول اللهﷺ مسيء الصلوة ته وفرمایل چه تر سورهٔ فاتحه وروسته چه کوم سورت آسانه وي هغه وایه

زه وایم چه دا حدیث له قرائت خلف الامام سره هیڅ تعلق نه لري بلکه د منفرد له لمانځه سره تعلق لري او د منفرد په ذمې باندې سورهٔ فاتحه او بو سورت یا دوو درې آیتونو لوستل واجب دي لیکن د صاحب تکمیل په نزد له سورهٔ فاتحه برته نور څه ویل واجب نه دي که چیرته دا حدیث د قرائت خلف الامام په باره کښي ومنل شي نو هغه باید په دې باندې قائل شي چه په امام او مقتدي دواړو باندې تر سورهٔ فاتحه وروسته څه نور لوستل هم واجب دي نو ثابته شوه د حنفیه وو دا وینا چه د مسيء

[1] یعني د لمانځه په بده توګه ادا کوونکی دا حدیث په همدې عنوان سره مشهور دی. ظ

الصلوة په حديث کښې د سورة فاتحه ذکر نشته يواځې دومره ده چه له قرآن څخه چه کوم تاسو ته آسانه وي هغه لولئ دا هيڅکله مغالطه نه ده بلکه واقعه دا ده چه د دې حديث راويان دوه صحابه دي يو ابو هريره او بل رفاعة بن رافع د حضرت ابو هريره په ټولو روايتونو کښې دا شته چه **(ثم اقرأ ما تيسر معك من القرآن)** بيا له قرآنکريم څخه چه کوم تاسو ته آسانه وي هغه لولئ، په هيڅ يوه روايت کښې هم د ام القرآن يا د سورة فاتحه ذکر نشته او د رفاعة بن رافع په حديث کښې هم اکثرو راويانو همدا خبره کړې ده يواځې يوه راوي محمد بن عمرو **(ثم اقرأ بأم القرآن وبما شاء الله)** ويلي دي بيا سورة فاتحه ولولئ او تر هغې وروسته چه څه خدای غواړي هغه لولئ، دا د ابو داؤد الفاظ دي او همدارنګه د محمد بن عمرو په روايت کښې د امام احمد او ابن حبان دا الفاظ دي **(ثم اقرأ بأم القرآن وبما شئت)** بيا سورة فاتحه لولئ او څه مو چه زړه غواړي هغه لولئ، پخپله حافظ ابن حجر په فتح الباري ج۲. ص۲۳۱ کښې د دې تصريح کړې ده:

قوله ثم اقرأ ما تيسر معك من القرآن لم تختلف الرواة في هذا عن ابي هريرة واما رفاعة ففي رواية اسحٰق المذكورة يقرأ ما تيسر من القرآن مما علمه الله وفي رواية يحيى بن علي فان كان معك قرآن فاقرأ والا فاحمد الله وكبره وهلله وفي رواية محمد بن عمرو عند ابي داؤد ثم اقرأ بأم القرآن وبما شاء ولاحمد وابن حبان من هذا الوجه ثم اقرأ بأم القرآن ثم اقرأ بما شئت اه. پس د محمد بن عمرو دا زياتوالی شاذ دی او شاذ حديث د حديث د اصولو له مخکې نه شي صحيح کيدلی خصوصاً په داسې حال کښې چه محمد بن عمرو متفق عليه ثقه هم نه دی يحيى بن معين او جوزجاني او يعقوب بن شيبه او ابن سعد ورته ضعيف ويلي دي او کومو خلکو ئې چه توثيق کړی دی هغوی هم ده لره د خطا او د ضبط د کموالي په الفاظو مجروح کوي ملاحظه کړئ تهذيب التهذيب ج۹. ص۳۷۲ ۲۷۷،

د داسې راوي تفرد يواځې والی، د محدثينو د اصولو له مخې د قبول وړ نه دی او بيا د زياتوالی د قرآن د نص خلاف دی په قرآن کښې (فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ) راغلی دی چه له قرآن څخه کوم آسانه وی هغه لولئ د سورة فاتحه قيد نشته پس کوم روايت چه د قرآن د نص موافق وی هغه راجح دی او کوم چه د قرآن په نص باندې زياتوالی ښيی هغه نه قرآني نص سره نه شي برابريدلی د دی لپاره موږ وايو چه فرض خو يواځې دومره قرائت دی کوم چه آسانه وي يعنی که ترکمه يو آيت او په خبر واحد کښې چه کوم زياتوالی مذکور دی هغه فرض نه دی بلکه واجب دی نو دی صورت کښې د قرآن په نص باندې هم عمل وشو او په حديث باندې هم او د سورة فاتحه قرائت د فرض ګڼلو په صورت کښې د نص ابطال لازميږي او دا نه ښايي چه خبر واحد د قرآن نه نص سره برابر شي او پس دی صحيح تکميل لره هر حال کړو ان نه مرتب کړی او ودی کوری چه

معتقنه ورکوونکي او د خبر واحد پر بناء د قرآن د نص باطلوونکي حوک دي. دی او که موږ ۱
پاتې شو د دعوی چه په قرآن او حدیث کښې له ماتهم اکوم چه آسانه وي، څخه مراد سورة فاتحه
دی. دا زور او زیاتی دی له سورة و العصر. انا اعطینک الکوثر او قل هو الله احد څخه سورة
فاتحه زیات آسان څرنګه کیدلی شي چه دوه خایه د ضاد لفظ پکښې دی د ض صحیح ادا کول
عوامو او خواصو ته هم مشکل دی او له همدې وجې څخه نر اوسه دا هنګامه (شور او غوغا) را
ولاړه شوی ده چه ضاد د ظ، مشابه ده او که د دال؟

د فرض او واجبو فرق

علامه شعراني شافعي په میزان کښې فرمائي **فرحم الله اباحنیفة حیث غیّر بین لفظ الفرض و الواجب وبین معناهما لجعل ما فرضه الله تعالی اعلی مما فرضه رسول الله ﷺ وان کان لا ینطق عن الهوٰی ادباً مع الله تعالی ونفس رسول الله ﷺ یحمد اباحنیفة لانه یحب رفع رتبة تشریع ربه علی تشریعه هو ولو کان ذلک باذنه تعالی ولم ینظر الی ذلک من جعل الفرض و الواجب مترادفین و قال الخلف لفظی و الحق انهما عند الامام ابی حنیفة متفاضلان والخلف معنوی کما هو لفظی. آه (فتح الملهم ج۲، ص۱۹)**

ترجمه الله تعالی دې په امام ابو حنیفه رحمه الله باندې خیل رحمتونه نازل کړي چه د فرض او واجبو تر منځ ئې فرق وکړ او د دواړو معناوې ئې ځان ځانته بیان کړې چه کوم عمل لره چه الله تعالی فرض کړی دی هغه ئې د رسول الله ﷺ له خوا تر فرض شوي عمل لمې او لوړ وګڼلو اګر که رسول الله ﷺ هم له خپل خواهش څخه خه نه دي فرمایلي امام ابو حنیفه رحمه الله د الله تعالی ادب ملحوظ کړ او په دې باندې د رسول الله ﷺ زړه هم د امام ابو حنیفه رحمه الله تعریف کوی ځکه چه ده په همدا خوند ورکوی چه د الله تعالی تشریع د ده له تشریع څخه په لوړې مرتبې باندې کښېنودل شي اګر که د ده تشریع هم د الله تعالی په اجازې سره دی په دې تکی باندې هغه خلک نه پوهیږي کوم چه فرض او واجب مترادف ګڼي څکه څو دا ده چه د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد د فرض او واجبو ترمنځ لفظي فرق شته دی ... په دواړو کښې د لفظي فرق تر څنګ معنوي فرق هم شته او ...

... تکمیل ... د علامه شعراني ... نقل کړی دی ... هغه سره دی ... هم ... کړی او ... کوری ... حنفیه ... چه د فرض او واجبو ... سره ... صحیح ... دی. چه کوم حکم له فرض څخه ثابت دی هغه فرض او کوم حکم چه له واجبو څخه ثابت ... هغه ... واجب ... شي

د حضرت عائشه رضي الله عنها اثر

نهم اثر د حضرت عائشه رضي الله عنها اثر دی چه هغې به په امام پسې د قرائت د کولو امر کاوه په دې کښې د سورۀ فاتحه ذکر نشته نه دا تصریح شته چه له امام سره به خاې په جهري یا سري لمانځه کښې دې مړ رکې د قرائت امر کاوه او یا ئې به جهري لمانځه کښې د امام په سکتو کښې پس په دې کښې د اهل حدیثو لپاره هیڅ حجت نشته مونږ وئیلي دی چه لس صحابۀ کرام چه په هغو کښې خلورګوني خلفاء راشدین هم شامل دي له قرائت خلف الامام خخه په سختی سره خلک منع کول د دغو صحابه وو قول د قرآن د نص (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا) او د صحیح حدیث (اذا قرأ الامام فانصتوا). موافق دي چه کله قرآن وئیل کیږی نو وا ئې وریئ او غلی شئ او چه کله امام قرائت کوي نو تاسو خاموش و اوسئ پس ترجیح دې ته ورکول کیږي د حضرت عائشې رضي الله عنها په مجمل قول سره قرآن او صحیح حدیث ته بربنوول کیږي په دې کښې تاویل کیږی چه په سرې لمانځه کښې یا د جهري لمانځه په سکتاتو کښې به ئې د قرائت کولو امر کړی وی

د حضرت جابر رضي الله عنه اثر

لسم اثر د حضرت جابر رضي الله عنه اثر دی چه مونږ په امام پسې د ماسپښین او مازدیګر د لمونځونو په لومړنیو دوه رکعتونو کښې سورۀ فاتحه او یو بل سورت قرائت کوه او په دوه آخرنیو کښې مو یو اخې سورۀ فتحه وایه

نو آ صاحب تکمیل د دې قائل دی چه د مقتدي په ذمې باندې له سورۀ فاتحه پرته کوم بل سورت وئیل واجب دي که څیرته د دې قائل نه وي نو داسې اثر خو پخپله به ده باندې حجت دی به کوم باندې چه دی پخپله عمل نه کوي بیا دا حدیث مضطرب دی خکه چه ابن ماجه دی حدیث له د یزید فقیر په واسطه سره له حضرت جابر رضي الله عنه خخه روایت کړی دی او بیهقي په جزء القرائت کښې خص د یزید فقیر په واسطه سره روایت کړی دی لیکن په دې کښې د خلف الامام ذکر نشته نو خې دومره خبره ده چه هغه به په لومړنیو دوه رکعتونو کښې سورۀ فاتحه او څه سورت تلاوت کوه و به وروستنیو دوه رکعتونو کښې به ئې یواخې سورۀ فاتحه تلاوت کوه ... بیهقي له عبید الله بن مقسم خخه له حضرت جابر خخه روایت کړی دی. په دې کښې هم د خلف الامام ذکر نشته د دې مضمون د دې چه په لمانځه کښې د قرائت سنت دا دی چه په لومړنیو دوه رکعتونو کښې سورۀ فاتحه او یو بل سورت وئیل شي او په وروستنیو دوه رکعتونو کښې یواخې سورۀ فاتحه ... د اعمش په واسطه سره له یزید فقیر خخه له حضرت جابر خخه په دې الفاظو روایت کړی دی (اقرأ في الاولیین بالحمد و سورة و في الاخریین بالحمد) چه په لومړنیو دوه رکعتونو کښې الحمد ... سره

سورت وايه او به آخري دوه ركعتونو كښي يواځي الحمد وايه پس په دا سې مضطرب روايت سره د هغه حديث معارضه نه شي كېدلی كوم چه امام مالک په موطاء كښي په صحيح سند سره او امام ترمذي په جامع كښي په صحيح حسن روايت سره روايت كړی دی چه حضرت جابر رضی الله عنه فرمائي چه چا په كوم لمانځه كښي سورۀ فاتحه و نه لوستلو هغه لمونځ نه دی كړی لېكن دا چه په امام پسې وي ،نو لمونځ ئې پرېنه له قرائت څخه صحيح دی او حافظ ابن حجر دی روايت ته مشهور ويلي دي بيا د ابن ماجه له روايت څخه يواځې دومره څرګنده شوه چه هغه په سرّي لمونځونو كښي په امام پسې قرائت كاوه او دی ته موږ هم جائز وايو. دا له كومه ځايه څرګنده شوه چه هغه په جهري لمونځونو كښي هم له امام سره يو ځای قرائت كاوه او د نزاع محل همدا صورت دی

د عباده رضی الله عنه اثر

بو‌ولسم اثر د حضرت عباده بن الصامت رضی الله عنه دی چه ابو داؤد له نافع بن محمود څخه روايت كړی دی چه حضرت عباده د سهار د لمانځه نه وځنډېده نو ابو نعيم لمونځ وركړ به دي منځ كښې عباده راغی او زه ورسره وم موږ په ابو نعيم پسې په صف كښي ودرېدلو. ابو نعيم په دې وخت كښي په جهر سره قرائت كاوه عباده د سورۀ فاتحه لوستل شروع كړ. له لمانځه څخه فارغ شولو ما وويل چه له ما نه مي د سورۀ فاتحه لوستل واورېده په داسې حال كښي چه ابو نعيم په جهر سره قرائت كاوه حضرت عباده وويل چه موږ به رسول الله صلی الله عليه وسلم بوه ورځ لمونځ راكړ الخ بيا ئې دې روايت لره له تمهيد د ابن عبد البر او مستدرک حاكم څخه نقل كړی دی. په دې كښي دا سوال او ځواب د محمود بن ربيع خوا ته منسوب شوی دی

م ويلي دی چه دا حديث مضطرب دی او د اضطراب تفصيل مې هم بيان كړی دی او دا چه د دې حديث په بولو طريقو كښي هغه طريقه راجحه ده كومه چه امام بخاري او مسلم غوره كړې ده په دې كښي يواځي دومره مضمون دی چه بې له سورۀ فاتحه څخه لمونځ نه كيږي د امام ته مقتدي به دې كښي بالكل ذكر نشته او سفيان بن عيينه او زهري او امام محمد دا په منفرد باندې محمول كړی دی و په كومې طريقې سره چه د نافع بن محمود سوال او ځواب مذكور دی نو دي لره امام احمد او يحيی بن معين او د حديثو د نورو امامانو دلې ضعيف ګڼلې دی بيا صاحب د تكميل البرهان باندې هم د فكر وكړی چه محمود بن ربيع يو صغير كوچنی صحابي دی او نافع بن محمود مجهول دی (كما في التقريب مستور من الثالثة) د دغو دواړو د حضرت عباده نه قرائت خلف الامام باندې انكار كول چه بې سوري له دې څخه څرګندېږي چه دغو دواړو نه حضرت عباده څخه يو هيڅ يو صحابي په امام پسې قرائت كول نه وو ليدلي و په د دغو دواړو په نزد مقتدي ته قرائت خلف الامام جائز وو و په هغوی باندې او سه بوری په قرائت خلف الامام

باندې روږدي وو. بيا ئې هم د حضرت عباده په قرائت باندې انكار وكړ نو كه چرته له سوه صحابي ښخه قرائت خلف الامام ثبوت هم پيدا شي نو له دې ښخه د اهلِ حديثو مدعى ځرنګه ثابتيدلى شي په داسې حال كښې چه له دې اثر ښخه دا هم څرګنده شوه چه پرته له دغه صحابي ښخه نور صحابهٔ كرام د قرائت خلف الامام قائل نه وو

د ابن عباس رضى الله عنهما اثر

دولسم اثر د عبد الله بن عباس اثر دى چه هغه فرمايلي دى چه په امام پسې سورة فاتحه لولئ بيا ئې دا د عيزار بن حريث په واسطه سره را نقل كړى دى

د دې په سند كښې ابو بحر بر بهارى دى چه دار قطني او محمد بن ابي الفوارس جرح پرى كړى ده او ابو البرقاني او ابن السرخسي ورته كذاب ويلي دي ابو الحسن بن الفرات ورته مخلط ويلي دي يعني په روايت كښې ګډوډوالى كوى په ده باندې غفلت غالب وو مونږ د ابو جمره په واسطه سره له عبد الله بن عباس رضى الله عنهم ښخه روايت را نقل كړى دى چه له هغه ښخه پوښتنه وشوه چه كله امام زما مخې نه وي نو زه قرائت وكړم؟ و ئې فرمايل نه د دې سند حسن دى همدارنګه پخپله ابن عباس دا روايت هم كړى دى چه رسول الله ﷺ وفرمايل چه تاسو ته د امام قرائت كافي دى كه امام په پټه سره قرائت كوي او كه جهر كوي او د دې سند هم حسن دى پس ب خو يو روايت بايد ردّ كړى شي او بل روايت كوم چه د قرآني نصّ ﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا﴾ او صحيح حديث (اذا قرأ الامام فانصتوا) موافق دى او ب دواړه په دې ډول سره بو ځاى شي عبد الله بن عباس د مقتدى په حق كښې قرائت لره فرض نه ګڼه او به جهري لمانځه كښې ئې له امام ښخه مخكښې يا د سكتې په وخت كښې قرائت مستحب ګڼه همدارنګه په سرّى لمانځه كښې هم او له دى ښخه حنفيه هم ممنعت نه كوي لكه ځرنګه چه خو خله په تفصيل سره نشر شول

د ابن مسعود ﷺ اثر

ديارلسم اثر د عبد الله بن مسعود ﷺ دى او هغه وئي چه ما عبد الله بن مسعود په امام پسې قرائت كوونكى وليده

صاحب تكميل بايد د دې اثر په را نقل كولو وشرميږى ځكه چه په دې كښې نه د سورة فاتحه ذكر شته او نه د بل كوم سورت ممكنه ده چه هغه به ثناء يعنى ﴿سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ ـ الخ﴾ و ﴿إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ﴾ وائي كوم چه مقتدى ئې د امام قرائت مخكښې وائي په دې كښې دا خبره صريح ده چه هغه به د فاتحه قرائت سره نو څنګه

کوه عبد الله بن مسعود او د هغه د ملګرو مذهب مشهور دی چه هغو به د قرائت خلف الامام حخه په سختۍ سره ممانعت کاوه لکه څرنګه چه مونږ مخکښي په ښه توګه واضحه کړې ده هو که چرته امام لحّان (غلط قرآن ویونکی او جاهل وي) نو په هغه پسې به ئې مقتدي ته د قرائت اجازه ورکوله او د حنفیه وو ځیني فقهاء ئې هم قائل دي

روی الطبرانی فی الکبیر بسند رجاله ثقات عن ابن مسعود انه قال یا فلان لا تقرأ خلف الامام الا ان یکون اماماً لا یقرأ (مجمع الزوائد) ای الا ان یکون الامام لحانا فحینئذ یجوز للمقتدی ان یقرأ خلفه و هذا وجه ذهب الیه بعض اصحابنا. (عمدة القاری)

(طبراني د ثقاتو په روایت سره له عبد الله بن مسعود ﷺ څخه روایت کړی دی هغه ووېل اي فلانیه په امام پسې قرائت مه کوه لېکن که چرته امام قاري نه وو (اُمّي وي نو قرائت وکړه) مجمع الزوائد یعنې که چرته امام غلط قرائت کوونکی او جاهل وي نو د مقتدي لپاره جائز دي چه په هغې پسې قرائت وکړي زمونږ ځیني اصحاب هم د دې قائل دي

تر دې وروسته صاحب تکمیل د ترمذي دو عبارت نقل کړی دی چه د عباده حدیث حسن صحیح دی او د رسول الله ﷺ د صحابو او د اسې نورو د علم خوندانو په دې باندې عمل کړی دی چه له همدې جملې څخه حضرت عمر فاروق، جابر بن عبد الله، عمران بن حصین رضی الله عنهم اجمعین هم دي. د دغو بولو قول او فتوی همدغه ده چه بې له سورهٔ فاتحه څخه لمونځ د کار نه[1] نه دی بلکل بیکاره دی آه لیکن د عباده د حدیث الفاظ ئې را نقل کړي نه دي الفاظ ئې دا دي

(لا صلوة لمن لم یقرأ بفاتحة الکتاب) (د هغه سړي لمونځ نه کېږي چه سورهٔ فاتحه و نه لولي) نو له دې څخه څوک انکار کوي. حنفیه هم وائي چه د سورهٔ فاتحه لوستل واجب دي. خبره خو نه قرائت خلف الامام کښې ده چه په مقتدي باندې هم د سورهٔ فاتحه قرائت واجب دی او که نه؟ د عباده په حدیث کښې د دې ذکر نشته او له نورو صحیحو احادیثو له مخې مونږ وېلي دي چه د مقتدي لپاره د امام قرائت کافي دی مقتدي ته د خاموش اوسېدلو حکم دی او په کوم ځای کښې چه ترمذي د قرائت خلف الامام ذکر کړی دی هلته ئې د محمد بن اسحق په واسطه سره د محمود بن ربیع حدیث له حضرت عباده څخه را نقل کړی دی چه په هغه کښې **(لا تفعلوا الا بأم القرآن)** لفظ راغلي دي (په امام پسې څه مه وائئ مګر سورهٔ فاتحه) دا تصریح ئې هم کړې ده چه دا حدیث زهري له محمود بن ربیع څخه له حضرت عباده څخه له رسول الله ﷺ څخه داسې روایت کړی دی **(لا صلوة**

[1] (لا تجزئ الصلوة) ... ترجمه ... صحیح ترجمه دا ده چه ... لمونځ کافي نه دی

لمن لم یقرأ بفاتحة الکتاب و هذا اصح) د هغه سړي لمونځ نه کیږي چه سورهٔ فاتحه و نه لولي او همدغه زیات صحیح دی. چه په دې کښې ئې اشاره وکړه چه د محمد بن اسحاق د (**الا بأم القرآن**) زیاتوالی صحیح نه دی. پس خبره د سورهٔ فاتحه په قرائت کښې نه ده ځکه وجوب ئې په امام او منفرد باندې متفق علیه دی بلکه خبره په قرائت خلف الامام کښې ده او مونږ ویلې دي چه د عباده له حدیث څخه په مقتدي باندې د قرائت خلف الامام وجوب نه ثابتیږي. امام ترمذي د ترک القرائت خلف الامام یو باب تړلی او د امام احمد بن حنبل دا قول ئې را نقل کړی دی

واما الامام احمد بن حنبل فقال معنی قول النبی ﷺ لا صلوٰة لمن لم یقرأ بفاتحة الکتاب اذا کان وحده واحتج بحدیث جابر بن عبد الله حیث قال من صلی رکعة لم یقرأ فیها بأم القرآن فلم یصل الا ان یکون وراء الامام قال احمد فهذا رجل من اصحاب النبی ﷺ تأول قول النبی ﷺ لا صلوٰة لمن لم یقرأ بفاتحة الکتاب ان هذا اذا کان وحده.(ص۴۲)

(لیکن احمد بن حنبل فرمائي چه د عباده په حدیث کښې د رسول الله ﷺ دا ارشاد چه د هغه سړي لمونځ نه کیږي چه سورهٔ فاتحه و نه لولي د هغه سړي لپاره ده چه یواځې لمونځ کوی او د حضرت جابر له حدیث څخه ئې استدلال کړی هغه فرمائي چه کوم سړی د لمانځه یوه رکعت کښې سورهٔ فاتحه و نه لولي د هغه لمونځ نه کیږي لیکن دا چه په امام پسې وي امام احمد وفرمایل چه وګورئ د رسول الله ﷺ دغه اصحابي همدا مطلب بیان کړی دی چه کوم سړی تنها لمونځ کوي د هغه لمونځ پرته د سورهٔ فاتحه له قرائت څخه نه کیږي)

د مقتدي لپاره ئې دی لره عام و نه ګڼه نو د کوم ځای انصاف دی چه د بیهقي او داسې نورو قول حجت وي او د امام احمد قول دې حجت نه وي

د عمران بن حصین رضی اللہ عنہ اثر

تر دې وروسته د تکمیل البرهان مؤلف د بیهقي له جزء القرائت څخه د حضرت عمران بن حصین قول را نقل کړی دی چه د هیڅ یو د مسلمان لمونځ بې له اودا سه، رکوع، سجدې او د سورهٔ فاتحه له قرائت څخه نه پوره کیږي په امام پسې او که یواځې وي

د دې اثر ټولې اجزاوې متفق علیه دي پرته له وراء الامام او غیر الامام له جزء څخه چه له هغې څخه په امام پسې د سورهٔ فاتحه د قرائت ثبوت ورکړ شوی دی صاحب تکمیل ته دی لازمه وه چه د دې جزء صحیح والی ئې ثابتولی ځکه چه په سند کښې ئې زید بن ابي زید الجصاص دی کوم چه امام محمد، یحیی بن معین او علي بن مدیني او ابو زرعه او ابو حاتم او نسائي، فلاس غلابي، دار قطني، ابن عدي ضعیف، متروک، مجهول، منکر الحدیث وړه ویلی دی او د دې

معارض (له دې سره په بکر کنى) هغه حدیث دی کوم چه امام بیهقي له سلمه بن فضل څخه له حجاج بن ارطاة څخه له قتاده څخه له زرارة بن اوفي څخه له حضرت عمران بن حصین څخه روایت کړی دی چه رسول الله ﷺ خلکو ته لمونځ ورکاوه او یو سړی د ده مبارک شا ته قرائت کوه چه کله دی مبارک ﷺ فارغ شو نو وې فرمایل چه زما په سورت کښې چا له ما سره جګړه کوله" سبا ده په امام پسې له قرائت کولو څخه خلک منع کړل

امام بیهقي په دې کښې دا کلام کړی دی چه (نهى عن القراءة خلف الامام) رسول الله ﷺ تر دې وروسته له قرائت خلف الامام څخه خلک منع کړل، یوازې حجاج بن ارطاة په دې حدیث کښې د زیاتوالي وېلي دی

زه وایم چه حجاج بن ارطاة له محمد بن اسحاق څخه زیات قوي دی چه روایت یې بیهقي او هل حدیث بار بار د حجت په توګه وړاندې کوي له حجاج بن ارطاة څخه امام مسلم مقروناً روایت کړی دی امام بخاري تعلیقاً له دې څخه استشهاد کړی دی شعبه د ده زیات تعریف کړی همدارنګه حماد بن زید او سفیان بن عیینه او سفیان ثوري د ده د تیقظ (بیدارۍ) او د حفظ د ښه توب تعریف کړی دی او د حدیثو ټول اماماتو له ده څخه روایت کوي ترمذي د ده د ځینو احادیثو تصحیح کړې ده او د ډېرو یې تحسین (ستاینه) کړې ده او له ده څخه روایت کوونکی سلمه بن الفضل هم ثقه دی یحیی بن معین د ده توثیق کړی دی همدانګه ابو داؤد او ابن سعد او امام احمد ورته ثقه وېلي دی پس د جصاص له روایت څخه احتجاج کول او د ارطاة له روایت څخه اعراض مخ اړول کول له انصاف څخه لرې ده او د خپل مذهب له حمایت پرته نور څه نه دی

تر دې وروسته صاحب تکمیل د تابعینو فتواوې هم نقل کړي دي ګوا که له اهل ظاهر سره د تابعینو له اقوالو سره احتجاج کول نه ښکاري دي د کومو په نزد چه د مرفوع حدیث څخه پرته د صحابي قول هم حجت نه دی

د سعيد بن جبير رحمه الله اثر

تر دې ځایه مخکښې یې د سعید بن جبیر رحمه الله فتوی را نقل کړې ده لیکن ترجمه یې نه ده کړې ځکه چه هغه د مؤلف له خلاف وه د دې حاصل دا دی چه له سعید بن جبیر رحمه الله څخه عثمان بن حسن پوښتنه وکړه چه ... سره ... وکړه او یې فرمایل هو ګرکه د ... ورې هم ... ځکه ... طریقه ... د کومو چه ... کښې نه وه د ... ترجمه وه چه کومه ... هغه ... ترجمه ... د ... هغه په ... کښې نه د ... څخه ولوست ... چه ... کړي ځکه ... سوي

زه وايم چه په دې اثر کښې چه ده د سلفو کومه طريقه بيان کړې ده په هغې کښې دا تصريح ده چه هغه به له امام سره يو ځاى قرائت نه کاوه بلکه د امام په سکتاتو کښې به ئې قرائت کاوه او د امام د قرائت په وخت کښې به خاموشه شول او په دې صورت کښې هيڅ اختلاف نشته د امام په سکو کښې قرائت نه مونږ هم جائز وايو او د وجوب ئې هيڅ دليل نشته ځکه چه په امام باندې د اوږدې سکتې واجب والى د هيڅ يوه دليل له مخې ثابت نه دى د علامه ابن تيميه په حوالې سره د دې ذکر تېر شوى دى او پخپله د سعيد بن جبير دا فتوى مذکوره ده چه له ده څخه د قرائت خلف الامام په باره کښې پوښتنه وشوه نو وئې فرمايل چه په امام پسې قرائت نشته او د دې روايت ټول راويان ثقه دي له کوم ځخه چه د صحاحو مصنفينو احتجاج کړى دى پس د هغو چه کومه فتوى د قرآن د نص او صحيح حديث (اذاقرأالامام فانصتوا) موافق وي هغه به راجحه او صحيح وي

د حماد بن ابي سليمان رحمه الله فتوى

تر دې وروسته ئې د امام ابو حنيفه د استاذ حماد بن ابي سليمان فتوى را نقل کړې ده چه له هغه څخه د ماسپښين او مازديگر په لمانځه کښې صاحب تکميل دا جمله حذف کړې ده. مغالطه ورکول دې نه وائي، د قرائت خلف الامام په اړه پوښتنه وشوه نو وئې فرمايل چه سعيد بن جبير به قرائت کاوه ما وويل چه ستاسو فتوى څه ده؟ ده وفرمايل چه زه هم دا خوښوم چه قرائت وکړم

له دې څخه په ظاهره دا ځرگنديږي چه سعيد بن جبير به يواځې په ماسپښين او مازديگر کښې د قرائت خلف الامام قائل وو همدا عمل حماد هم غوره کړ او په يوه روايت کښې کوم چه د هدائې ملا صاحب له امام محمد څخه نقل کړى دى. امام ابو حنيفه هم دا غوره کړى دى خبره په دې صورت کښې ده چه امام به جهر سره قرائت کوي به دې اړه د تکميل له مؤلف سره هيڅ دليل نشته چه به دې حالت کښې هم په مقتدى باندې قرائت واجب دى

د مکحول رحمه الله فتوى

تر دې وروسته ئې د مکحول شامي فتوى را نقل کړې ده ليکن ښکاره خبره ده چه مکحول يواځې دوه درې صحابه کرام ليدلي دي. د ده فتوى د محمد بن سيرين د فتوى په مخکښې هيڅ حيثيت نه لري کوم چه فرمائي چه زه به امام پسې قرائت کول سنت نه بولم لکه ځرنگه چه د صحيح سند له مخې د ... سره مونږ مخکښې بيان کړ

... د امام بخاري رحمه الله په جزء القرائت کښې دا وينا چه په تابعينو کښې فلاني او فلاني ... د قرائت خلف الامام قائل او عامل وو د دې په اړه د سند او الفاظو مخې ... ځکه چه ممکنه ده چه هغه حضرات به په سرّي لمانځه يا د جهري لمانځه په

سکتاتو کښي د قرائت قائل وو او له دې څخه مونږ هم ممانعت نه کوو امام بخاري د ډېرو صحابه وو او تابعینو نومونه د قرائت خلف الامام په قائلینو کښي شمار کړي دي حالانکه بر تحقیق وروسته څرګنده شوه چه هغوی مطلقاً د دې قائل نه وو بلکه په سرّي لمانځه کښي یا د جهري لمانځه په سکتاتو کښي د قرائت خلف الامام قائل وو او مونږ به څو ځو خله دا وېلي دي چه په دې صورت کښي نزاع (اختلاف) نشته لکه څرنګه چه صاحب تکمیل د حضرت سعید بن جبیر او ابو سلمه او حسن بصري فتوی پخپل تائید کښي را نقل کړي ده په داسې حال کښي چه دوی د امام په لومړۍ او دوهمې سکتې کښي د قرائت قائل دي او امام حسن بصري د **(فی نفسك)** قید زیاتوي چه په امام پسې سورة فاتحه پخپل زړه کښي لولي او له دې څخه هیڅوک ممانعت نه کوي د صاحب تکمیل دا ترجمه چه "سو که با ئې په پټه لولئ" په مونږ باندې حجت نه ده بیا د امام بخاري د جزء القرائت په حوالې سره ئې دا هم لیکلي دي چه حسن بصري، سعید بن جبیر، میمون بن مهران او داسې نورو بې شمېره تابعینو وېلي دي چه په امام پسې قرائت کوئ حالانکه د حسن بصري او سعید بن جبیر په الفاظو کښي د امام د سکتې په وخت یا په زړه کښي د لوستلو قید نه بېکاره توګه راغلی دی

د عطاء رحمه الله اثر

د حضرت عطاء بن ابي رباح فتوی د حنفیه وو موافقه ده. د اهل حدیثو موافقه نه ده دی فرمائي چه کله امام په جهر سره قرائت کوي نو مقتدي دې بېره کوي او د امام په سکوت کښي دې سورة فاتحه لولي او چه کله امام قرائت کوي نو مقتدي دې غلی شي لکه څرنګه چه الله تعالی فرمایلي دي له دې څخه پاک څرګندېږي چه د حضرت عطاء بن ابي رباح په نزد د **(وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا)** آیت د قرائت خلف الامام په باره نازل شوی دی او په مقتدي باندې د امام د قرائت په وخت خاموش اوسېدل واجب دي

د مجاهد رحمه الله اثر

ثابته شوه د مجاهد رحمه الله فتوی چه کوم سړی په امام پسې قرائت و نه کړي هغه بند خپل لمونځ سرته را وګرځوي همدارنګه عبد الله بن زبیر فرمایلي دي چه دې کښي د سورة فاتحه ذکر شته. چه د دې نه دونه ښه چه له امام سره دې نو څوک قرائت کوي ... دې د هغه د سکوت په وخت کښي د دې لپاره له دې څخه څرګنده شي چه فاتحه لي مونږ په مخکښنو بیو کښي د امام احمد قول نه ... څخه ... نقل کړی دی چه د مقتدي په ذمې ... امام پسې د قرائت په باب ... جمعي مسئله ده امام احمد فرمائي چه مونږ په مسلمانانو کښي له هیچا څخه دا نه دي اورېدلي

چه کله امام په جهر سره قرائت کوي او په هغه پسې ولاړ مقتديان قرائت و نه کړي نو لمونځ ئې نه کيږي. او ئې دليل چه رسول الله ﷺ. صحابه. تابعين. د حجاز په خلکو کښې امام مالک. د عراق په خلکو کښې سفيان ثوري. د شام په خلکو کښې اوزاعي او د مصر په خلکو کښې ليث بن سعد، د دوی ټه جملې څخه نو ئې هم دا نه واني چه چا په امام پسې قرائت و نه کړي او امام قرائت وکړي نو لمونځ باطل دی. او له دې څخه ځرګندېږي چه د امام احمد په نزد ت خو د مجاهد او عبد الله بن زبير دا فتوی د صحيح سند له مخې ثابته نه ده يا ئې هغه مطلب نه دی کوم چه اهل حديث ئې کړي

د امام اوزاعي او ليث بن سعد فتوی

همدارنګه صاحب تکميل د ابن عبد البر ته تمهيد څخه چه د امام اوزاعي او ليث بن سعد کومه فتوی نقل کړي ده چه هغو د مقتدي په ذمې باندې قرائت خلف الامام ضروري ګڼلی د قبول وړ نه ده حکه چه امام احمد بن حنبل د علماوو قول پر دوی زيات پيژني

د امام ليث بن سعد مصري په اړه د ابن خلکان په تاريخ کښې دي چه هغه حنفي وو. په معنی الاثار طحاوي په باب قرائت خلف الامام کښې د ليث بن سعد روايت له امام ابو يوسف څخه له امام ابو حنيفه څخه له موسی بن ابي عائشه څخه له عبد الله بن شداد څخه له حضرت جابر بن عبد الله څخه موجود دی چه رسول الله ﷺ وفرمايل (من کان له امام فقراة الامام له قراءة) کوم سړی چه له امام سره لمونځ کوي نو د امام قرائت د هغه لپاره قرائت دی

ليث بن سعد فرمائي چه ما د امام ابو حنيفه نوم اوريدلی وو او له هغه سره مې د ليدلو ډير شوق وو ما چه مکه کښې هغه په داسې حالت کښې پيدا کړ چه خلکو په هغه باندې هجوم وړی وو او په شرعي مسئلو کښې ئې فتواوی ترې غوښتلې په همدې حالت کښې يو سړي د حيل په اړه خاص حاجت په باره کښې فتوی وغوښتله نو زه د هغه له في البديهه خواب څخه ډير په تعجب کښې شوم (فيض الباري ج ۱ ص ۱۷۸) له دې څخه هم د ده حنفي والی ثابتيږي نو ممکنه ده چه د امام ابو حنيفه د روايت شوی حديث تر اوريدو مخکښې دی د قرائت خلف الامام قائل ده چه کله ئې د حديث اوريدلی وي چه رسول الله ﷺ فرمايلي دی چه کوم سړی له امام سره لمونځ کوي د هغه لپاره د امام قرائت کافي دی تر دې وروسته به د قرائت خلف الامام قائل نه وي پاتې شوی

د عبد الله بن مبارک فتوی

له تمهيد څخه د عبد الله بن مبارک چه کومه فتوی نقل شوې ده چه ... امام پسې قرائت کوم

او خلک ئې هم کوي لیکن د کوفې له خلکو څخه یو قوم نو د عبد الله بن مبارک دا ارشاد به هم د عراق د خلکو د دلائلو تر اوریدو مخکښې وي ځکه چه وروسته د ده د حنفي مذهب غوره کول ډېر په معلومه ده

مؤرخينو او د طبقاتو اصحاب ده لره په حنفیانو کښې شمار کړی دی ځینې خلک ئې بواځې د دې لپاره چه هغه له امام مالک څخه روایت کوي له مالکیه وو څخه ګڼلی دی لیکن د هغه فقهي کتابونه د امام ابو حنیفه په اقوالو باندې ښائسته او ډک دي د امام مالک قول شاذ او نادر کله کله بیانوي د ده له دې قول څخه چه (الاقوم من الكوفيين) لیکن د کوفې له خلکو څخه یو قوم دا را اخستل چه د کوفې له خلکو څخه یوه ډله قرائت خلف الامام نه کاوه او نورو ټولو خلکو کوه. د صاحب تکمیل خوش فهمي ده د کوفې خلک د عبد الله بن مسعود او د هغه د اصحابو او د حضرت علي د اصحابو په مسلک باندې وو او د دغو حضراتو مذهب په پرېښودلو د قرائت خلف الامام کښې مشهور او معروف دی

د علامه ابن تيميه تحقيق

صاحب تکمیل ته د علامه ابن تيميه قول ښا ور باندې کوم چه موږ مخکښې لیکلی دی چه کوم خلک مقتدي لره له امام سره یو ځای له قرائت کولو څخه منع کوي له هغو سره جمهور سلف او خلف دي او کتاب الله او صحيح احادیث هم د دوی تائید کوي او کوم خلک چه په مقتدي باندې له امام سره قرائت واجب بولي د هغوی حدیثونه د حدیثو امامانو ضعیف ګڼلي دي او د ابو موسی په حدیث کښې د رسول الله ﷺ دا ارشاد چه (واذا قرأ فانصتوا) چه کله امام قرائت کوی نو چُپ و اوسئ، د امام احمد، اسحاق بن راهويه، امام مسلم او داسې نورو په نزد صحیح دی په خلاف د دې چه له کوم څخه چه فاتحه خلف الامام ثابتیږي، دا په صحیح کښې نه دی شامل کړی شوی و د څو وجوهاتو له مخې ئې ضعف والی ثابت شوی دی او هغه یواځې د عباده بن الصامت قول دی او د رسول الله ﷺ وینا نه ده

تر دې وروسته د تکمیل مؤلف په امام پسې د سورة فاتحه قرائت د ائمة کرامو له اقوالو سره د منلو کوشش کړی دی چه امام مالک او امام احمد ئې هم پکښې شامل کړي دي حالانکه د کتاب المغني په حوالې سره موږ مخکښې وویل چه امام احمد په امام پسې د سورة فاتحه د قرائت په وجوب باندې هیڅکله قول نه دی کړی هغه خو په دې خبرې باندې اجماع نقل کوي چه د مقتدي په ذمې باندې د سورة فاتحه قرائت د هیچا په نزد هم واجب نه دی و په جهري لمونځه کښې خو امام مالک و احمد بن حنبل صاحب په امام پسې قرائت ناجائز بولي او مقتدي ته د خاموش پاتې کېدو حکم کوي ائمه په سري لمونځه کښې د قرائت خلف الامام اجازه ورکوي د نورو ئمه

کرامو مذهب هم ده په همدې دول را نقل کړی دی لکه څرنګه ئې چه د امام احمد او امام مالک مذهب را نقل کړی دی د دې لپاره تر څو پورې چه د دوی الفاظ په مخکښې موجود نه وي تر هغه وخته پورې فیصله نه شي کیدلی څکه چه صاحب تکمیل د امام زهري نوم هم په همدې فهرست کښې شائع کړی دی حالانکه مونږ د موطاء امام مالک او د بیهقي جزء القرائت په حوالې سره مخکښې وښودل چه امام زهري په جهري لمانځه کښې له قرائت خلف الامام څخه په سختۍ سره خلک منع کول د امام مسلم پخپل جامع صحیح کښې د **(اذاقرأالامام فانصتوا)** روایت داخلول او د ابي موسی او ابي هریره په حدیث کښې دا زیاتوالی صحیح بلل دا په ګوته کوي چه د امام مسلم په نزد قرائت خلف الامام نشته بلکه مقتدي ته خاموش اوسیدل ضروري دي د دې په خلاف تر څو پورې چه د هغه صحیح او واضح الفاظ نه وي تر هغه وخته پورې هغه په قرائت خلف الامام په کوونکو کښې څوک نه شي شمارلی

امام نووي رحمة الله عليه

د تکمیل مؤلف چه د امام نووي کوم عبارت را نقل کړی دی چه د سلف او خلف جمهورو علماوو په نزد په رکعت کښې سورۀ فاتحه لوستل واجب دي په دې کښې د قرائت خلف الامام ذکر نشته یواځې د سورۀ فاتحه د قرائت ذکر دی او دا مونږ د امام و منفرد په حق کښې واجب بولو

شاه ولی الله رحمة الله عليه

د شاه ولی الله قول مسلک ئې له حجة الله البالغه څخه را نقل کړی دی چه په جهري لمانځه کښې د هغه په نزد مقتدي ته چُپ اوسیدل واجب دي هغه یواځې په سرّي لمونځونو کښې یا د جهري لمونځونو په سکتاتو کښې د قرائت خلف الامام اجازه ورکوي او په دې کښې د هیچ خلاف نشته

همدارنګه له تفسیر خازن څخه ئې چه کوم عبارت را نقل کړی دی په دې کښې هم د قرائت خلف الامام ذکر نشته سواځې د فاتحه د قرائت وجوب پکښې مذکور دی او په دې کښې کومه خبره نشته د نزاع محل او ځای قرائت خلف الامام دی لنډه دا چه که امام نووي وي او که بغوي [illegible] ټولو سوځي د سورۀ فاتحه واجب والی بیان کړی دی دا حنفیان هم مني خبره په دې کښې ده چه د امام په قرائت سره دا واجب د مقتدي له ذمې څخه [illegible] کیږي او که نه [illegible] احمد له قوله [illegible] معلومه شوه چه په مسلکونو کښې هیڅوک هم [illegible] قائل نه دی چه له [illegible] مقتدي [illegible] په کړي [illegible] د صاحب تکمیل د سورۀ فاتحه د وجوب په [illegible] د سورۀ فاتحه په [illegible] مقتدي [illegible] محض [illegible] مغالطه ده

امام رازي رحمه الله

د امام رازي رحمه الله د (قسمت الصلوة بيني وبين عبدي) حديث څخه د فاتحه په رکنيت باندې استدلال نيول چه کوم وزن لري اهلِ علم پرې ښه پوهيږي ځکه چه له خبر واحد څخه رکنيت ثابتول د هغو خلکو کار دی چه د رکن او واجب له فرق او توپير څخه ناخبره وي بيا له دې حديث څخه خو دا هم ثابته ده چه (بسم الله الرحمن الرحيم) د سورة فاتحه جزء نه ده کوم چه د امام رازي او نورو اهل حديثو په خلاف ده چه د هغه کوم ځواب دی ورکوي هغه به زمونږ له خوا څخه هم ځواب وي

د رسول الله ﷺ عمل او خلفاء راشدينو رضي الله عنهم تعامل

ياتي سوه دا چه رسول الله ﷺ او خلفاء راشدينو په لمانځه کښې د سورة فاتحه په قرائت باندې هميشوالي او مداومت کړی دی هو، له دې څخه يواځې په امام او منفرد باندې د سورة فاتحه د قرائت وجوب ثابتيږي او حنفيان دا مني له دې څخه څرنګه قرائت خلف الامام ثابتيږي؟ په داسې حال کښې چه په صحيح حديث کښې مقتدي ته په امام پسې د خاموش او غلي اوسيدلو حکم دی (اذا قرأ الامام فانصتوا) او د قرآن له نصّ څخه هم په مقتدي باندې د اوريدلو او چُپ اوسيدو وجوب ثابت دی (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا) او مونږ خو ځو خله ويلي دي چه په اجماع سره دا آيت د قرائت خلف الامام څخه په منع کولو کښې را نازل شوی دی همدارنګه مونږ د کشف الاسرار نومي کتاب په حوالې سره په تيرو پاڼو کښې ويلي دي چه په صحابهٔ کرامو کښې لسو کسانو په سختۍ سره له قرائت خلف الامام څخه خلک منع کړي دي چه په هغو کښې څلور واړه خلفاء راشدين هم شامل دي

مشائخ صوفيه کرام رحمهم الله تعالى

تر دې وروسته صاحبِ تکميل د قرائت خلف الامام ثبوت د مشائخو کرامو او صوفيهٔ عظامو په اقوالو سره کړی دی ليکن دلته ئې هم هغه مغالطه ورکړې ده چه ځينو حضراتو د سورة فاتحه قرائت ضروري ګڼلی وو ده له هغه څخه په قرائت خلف الامام باندې دليل قائم کړی دی حالانکه د سورة فاتحه د قرائت په واجب والي کښې هيڅوک هم څه نه وائي خبره په خلف الامام کښې ده د شيخ عبد القادر جيلاني رحمه الله له قول څخه همدارنګه د خواجه بهاؤ الدين نقشبند. خو چه معين الدين چشتي او خواجه شهاب الدين سهروردي له اقوالو څخه يواځې د سورة فاتحه د قرائت وجوب ثابتيږي نه په امام پسې د قرائت وجوب د سلطان نظام الدين اولياء له تذکره څخه ئې نقل کړي دي (لکنه يجوز القراءة بالفاتحة خلف الامام في الصلوة وكان يقرأها في نفسه) هغه حنفي وو

لیکن د سورة فاتحه قرائت ئې خلف الامام جائز باله او پخپل نفس کښې ئې قرائت کاوه. د صاحب تکمیل په نزد د دې مطلب دا دی چه هغه نه سورة فاتحه په نه او سوکه وایه زمونږ په نزد ئې معنی دا ده چه په زړه کښې ئې وایه یا ئې د امام تر قرائت مخکښې او یا ئې د هغه په سکته کښې قرائت کوه. له امام سره ئې بو خای قرائت نه کاوه که جبرنه هغه نه جهري لمانځه کښې له امام سره بو خاې قرائت کاوه نو د هغه ئې بند خرګند ثبوت وړاندې کړی وای او دا ئې هم ښاند وللي وای چه د صحابه وو حضراتو. تابعینو. ائمهٔ مجتهدینو او جمهورو سلفو او خلفو په مقابله کښې د دغو حضراتو رایه څه وزن [۱] لري؟

امام ابو حنیفه او امام محمد رحمهما الله تعالی

تر دې وروسته صاحب تکمیل د امام ابو حنیفه او احنافو علماوو په اقوالو سره قرائت خلف الامام د ثابتولو کوښش کړی دی تر ټولو مخکښې ئې د علامه شعراني د میزان کبری په حوالې سره دا لیکلي دي چه د قرائت خلف الامام په باره کښې د امام ابو حنیفه او امام محمد دوه قولونه دی یو دا چه مقتدي ته د الحمد لوستل نه واجب دي نه سنت. دا د ده زوړ قول دی او همدا قول مشهور شوی دی دویم قول دا دی چه د احتیاط له مخې په سرّي لمانځه کښې د سورة فاتحه قرائت مستحسن دی. مکروه نه دی په دې باندې د صاحب تکمیل دا حاشیه چه "پاره خلکو دې رجوع لره دویم قول مشهورولو نه پرې نه ښود چه له وجې ئې په مسلمانانو کښې ډلبازی. طبقه بندی قائمي شوې سر تر بابه لغو او بې ځایه ده څکه چه لومړی خو په دواړو قولونو کښې کوم تعارض نشته به لومړي قول کښې د وجوب او سنت والي نفی وه په دویم قول کښې د استحباب ذکر دی خوک دې ووائي چه به دغو دواړو کښې تعارض څه شی دی؟ بیا په هدایه کښې چه د حنفي فقهې مشهور کتاب او به درس کښې داخل دی دا دویم قول مذکور دی چه امام محمد د احتیاط له مخې په سرّي لمونځونو کښې د سورة فاتحه قرائت مستحسن بللی دی له هدایې څخه زیات بل کوم کتاب په حنفي فقه کښې مشهور دی؟ نو دا خبره غلطه ده چه خلکو دویم قول مشهورولو ته پرې نه ښود

بیا شاه ولي الله په حجة الله البالغه کښې او حضرت فقیه لاسب. رشید الملت. قطب الارشاد مولانا رشید احمد ګنګوهي رحمه الله پخپل کتاب سبیل الرشاد کښې د دې تصریح کړې ده چه د جهري لمانځه به سکتو کښې قرائت خلف الامام جائز دی له امام سره بو خاې به جهري لمانځه

[۱] [illegible]

کښي قرائت کول د مقتدي لپاره منع دي
د صاحبِ تکميل دا وينا چه "کله امام صاحب خپل يو قول په غلط ګڼلو سره له هغه څخه رجوع کړې دی نبا هغه قول د هغه په ذمې باندې لګول او په هغه باندې د مباحثې او مناظرې په کولو سره په مسلمانانو کښې درز اچول تر کومه ځايه ديانت او انصاف دی الخ" سر تر پايه لغو او بې ځايه دی امام صاحب له خپل لومړي قول څخه رجوع نه ده کړې او نه د رجوع ضرورت وو ځکه چه د امام احمد بن حنبل له قول څخه څرګنده شوې ده چه "په اهل اسلام کښې هيڅوک هم د دې قائل نه دی چه کله امام قرائت کوي په دې وخت کښې د مقتدي په ذمې باندې قرائت واجب دی او که چيرته قرائت و نه کړي نو لمونځ ئې فاسد دی"

د اهل حديثو ډله د ډله ايز فساد باني ده

د امام صاحب له دويم قول څخه يواځې په سرّي لمونځونو کښې د احتياط له مخې د سورهٔ فاتحه قرائت نه مستحسن او مستحب ويلي دي لکه څرنګه چه صاحب د هدايې له امام محمد څخه نقل کړې دی او دا د دويم قول معارض (ټکر) نه دی او د شروحو په ټولو کتابونو کښې دا قول راغلی دی باتې شوه په دې مسئله کښې مناظرې او مباحثې کول نو د دې ابتداء د اهل حديث د ډلې له خوا شوې ده هغوی د صاحبِ تکميل البرهان غوندې د حنفيانو لمونځونو ته د فاسد. باطل. بيکاره په ويلو سره آسمان په سر باندې کيښود محض د دې لپاره چه هغوی په امام پسې سورهٔ فاتحه نه لولي نو د احنافو علماوو ته د دې د خواب ورکولو ضرورت پيښ شو لکه څرنګه چه په دې وخت کښې ما ناچيز ته د تکميل البرهان په خواب کښې د قلم پورته کولو ضرورت پيدا شو که چيرته د اهل حديث ډلې په اختلافي مسئلو کښې په دومره شدّت سره نزاع او اختلاف نه کولی نو حنفيانو ته د مناظرې او مباحثې بالکل ضرورت نه وو آخر په مکې او مديني کښې خو هم شافعيان موجود دي کوم چه د سورهٔ فاتحه قرائت په امام پسې فرض بولي ليکن د حنفيانو لمونځونو ته خو باطل او فاسد نه وائي هغوی په دې پوهيږي چه مسئله اختلافي ده. له حنفيانو سره هم له قرآن. حديثو او د سلف او خلف له عمل څخه دلائل موجود دي د دې لپاره هيڅوک دا حق نه لري چه د بوه او بل مسلک باطل او لمونځونه ئې فاسد وبولي له دې وجې هلته په دغو مسئلو کښې د مناظرې او مباحثې ضرورت هيڅکله نه دی پيدا شوی په پاکستان ب هندوستان کښې د دی ضرورت د اهل حديث د ډلې د بې ځايه خولې د استعمالولو له وجې مخې ته راغله و

البادي اظلم

علامه عيني رحمه الله

د غيث الغمام به حوالې سره د عيني چه کوم قول د بخارۍ له شرحې څخه را نقل شوی دی به هغه کښې خو دا لفظ شته (**على ان بعض اصحابنا استحسنوا ذٰلك على سبيل الاحتياط فى جميع الصلوات و منهم استحسنها فى غير الجهرية و منهم من راى ذٰلك اذا كان الامام لحانا**) (ج۲، ص۱۴) بيا زمونږ ځينو اصحابو حنفيه وو، دې لره (قرائت خلف الامام) د احتياط له مخې په ټولو لمونځونو کښې او ځينو په سرّي لمونځونو کښې او ځينو د لحان امام (غلط قرائت کوونکي امام) پسې قرائت مستحسن ګڼلی دی. لیکن واجب نې نه دی منلی او په جهري لمونځونو کښې د امام له قرائت سره مقتدي ته د قرائت کولو اجازه نه ده ورکړې شوې بلکه د هغه له قرائت څخه مخکښې یا وروسته نې اجازه ورکړي ده تر څو چه د انصات (چُپوالي) فرض فوت نه شي ځکه چه د مقتدي په ذمې باندې د امام د قرائت په وخت کښې د قرائت اوریدل او خاموشه پاتې کېدل واجب دي د کوم چه علامه عيني په همدې ځای باندې تصریح کړې ده لیکن د علامه عيني په عبارت کښې په دې ځای باندې د (**عليه فقهاء الحجاز والشام**) لفظ نشته چه (د حجاز او شام فقهاء کرام هم په همدې باندې دی، که چېرته په غیث الغمام کښې په دې ځای باندې دا لفظ موجود دی نو د علامه عيني خوا ته نې نسبت صحیح نه دی او که چیرته په دې کښې هم دا لفظ نه وي نو دا د صحب تکمیل اجتهاد دی د علامه عيني په عبارت کښې چه په کوم ځای کښې د حجاز او شام د فقهاوو ذکر دی هغه د صحب تکمیل لپاره مفيد (کټور) نه بلکه مضر (تاواني) دی د هغه عبارت ملاحظه کړی

و قال الثوری و الاوزاعی فی روایة و ابو حنیفة و ابو یوسف و محمد و احمد فی روایة و عبد الله بن وهب و الاشهب لا یقرأ المؤتم شیئاً من القران ولا بفاتحة الکتاب فی شیء من الصلوة و هو قول ابن المسیب و جماعة من التابعین و فقهاء الحجاز و الشام علی انه لا یقرأ معه فیما یجهر به و ان لم یسمعه و یقرأ فیما یسر فیه الامام اه

(ج۲، ص۱۱)

د امام سفیان ثوري رحمه الله او امام اوزاعي په یوه روایت کښې او د امام ابو حنیفه، ابو یوسف، امام محمد او امام احمد په یوه روایت کښې او د عبد الله بن وهب او اشهب قول دا دی چه مقتدي دې به امام پسې قرائت نه کوي. سورة فاتحه دې په هیڅ یو لمانځه کښې نه وائي او همدا قول د سعید بن المسیب او د تابعینو د یوې ډلې قول دی او د حجاز او شام د فقهاوو مسلک دا دی چه مقتدي دې به جهري لمونځونو کښې به امام پسې قرائت نه کوي اګر که د امام قرائت اوري هم نه او په سرّي لمونځونو کښې دې قرائت کوي

مولانا عبد الحی، شیخ التسلیم او ملا جیون

تر دې وروسته ني د مولانا عبد الحی لکهنوی او شیخ التسلیم او داسې نورو په حوالي سره حه لیکلي دی د نولو په اقوالو کښې یواځي به سرې لمونځونو کښې د قرائت خلف الامام استحسان والی دی جنانچه د مولانا عبد الحی او ملا جیون عالمګیر استاذ په عبارتونو کښې د امام محمد د قول حواله په صراحت سره موجوده ده او د امام محمد په قول کښې د سرې لمونځونو قید نه صراحت سره راغلی دی او به دې کښې د هیڅ اختلاف نشته بلکه مونږ خو په جهري لمونځونو کښې هم د امام له قرائت حخه مخکښې یا وروسته مقتدي ته د سورة فاتحه د قرائت اجازه ورکوو البته له امام سره نی یو ځای له قرائت حخه منع کوو چه په دې صورت کښې د انصات فرض له منځه ځي کوم چه په قرآن او حدیث کښې ناکید پرې سوی دی

د امام رازي د اقول چه امام ابو حنیفه په دې خبره کښې له مونږ سره موافقت کړی دی چه په امام پسې د الحمد په ویلو سره لمونځ نه باطلیږي آه د صاحب تکمیل لپاره ګټور نه دی ځکه چه د الحمد لله د ویلو په صورت کښې د لمانځه په نه باطلدو سره د قرائت خلف الامام استحباب یا وجوب یو هم نه ثابتیږي

تر دې وروسته د دخل مقدر د دفع به توګه صاحب تکمیل د ملا علي قاري او امام ابن الهمام اقوال د مولانا عبد الحی لکهنوی به عبارت سره رد کړی دی اهل علم پوهیږي چه د امام ابن الهمام او ملا علي قاري په مخکښې مولانا عبد الحی حه درجه لري؟ په دې باندې د صاحب تکمیل خوشحاله کېدل او په حنفي علماوو باندې الزام لګول پرته له (الغریق تتشبث بالحشیش) اوبو اخښتی ونیو نه هم لاس اخوي، څخه نور څه دي؟

د صاحب تکمیل بې ځایه خوله اچول

تر دې وروسته د هغه دا وینا چه "زیات افسوس په هغو حنفي علماوو باندې راځي چه د صحاح سته وو احادیثو ته نه متوجه کیږي بلکه د مذهبي حمایت له وجې موضوعي روایتونه. مکذوب. مختلف او باطل آثار بخپلو تصنیفاتو. لیکنو او حاشیو کښې راوړي او خپل عوام او جهلاء په فتنه کښې اچوي" آه

دا د کلام یا خبرې هغه طرز دی کوم چه د اهل حدیث د ډلې د ژبارو غریبو شیوه او طریقه ده دا خلک نه فروعی مسئلو کښې نه سختی سره جګړه کوونکي دي تا صاحب تکمیل دا نه دی لیدلي چه حنفي علماء کرام له قرائت خلف الامام څخه د منع کولو لپاره تر ټولو مخکښې د قرآن کریم دا (وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا) نص وړاندې کوي او مونږ ویلي دي چه په اجماع

او اتفاق سره دا آيت د قرائت خلف الامام په باره کښې نازل شوی دی تر دې وروسته صحيح حديث **(انما جعل الامام ليؤتم به فاذا كبر فكبروا واذا قرأ فانصتوا)** (رسول الله ﷺ فرمايلي دي چه امام د دې لپاره تاکل شوی دی چه د هغه اتباع وشي نو چه کله هغه تکبير وائي تاسو تکبير وايئ او چه کله قرائت کوي نو خاموشه اوسئ) دې روايت لره امام مسلم صحيح ګڼلی دی او ابو داؤد له صحيح سند سره دا روايت کړی دی او په دليل کښې ئې راوړي نو آيا مسلم او ابو داؤد له صحاح ستّه وو څخه نه دي؟ بيا هغه له صحيح حديث چه **(من كان له امام فقراءته له قراءة)** څخه استدلال کوي دا حديث ابن ماجه په سنن کښې، احمد بن منيع پخپل مسند کښې امام محمد پخپل موطاء او کتاب الآثار کښې روايت کړی دی بيا له موطاء امام مالک او ترمذي او مصنف ابني ابي شيبه او مصنف عبد الرزاق او داسې نورو څخه د صحابه وو او تابعينو د آثارو په بيانولو سره د سلفو او خلفو په تعامل سره د خپل مذهب تائيد بيانوي نو آيا د صاحب تکميل په نزد د موطاء امام مالک او ترمذي او داسې نورو دا حديثونه موضوعي، مکذوب (دروغجن) او باطل دي؟ څه نا څه خو له خدای څخه ويره. شرم او حيا په کولو سره خبره بايد وشي او دا ټوله زوروتيا. بيا کې په دې بناء باندې ده چه پخپله صاحبِ تکميل پخپلو دلائلو کښې د بيهقي له جزء القرائت څخه ډېر احاديث او آثار را نقل کړي دي چه سند ئې ضعيف، لغوه او باطل دی لکه څرنګه چه په تيرو شويو پاڼو کښې په تفصيل سره تېر شول

تر دې وروسته ئې د مولانا عبد الحی لکهنوي دا قول را نقل کړی چه "ځينو [1] فقهاوو چه دا وېلي دي چه له قرائت خلف الامام څخه د مقتدي لمونځ باطليږي دا قول شاذ او مردود دی له امام محمد څخه روايت دی چه هغه د مقتدي لپاره په سرّي لمونځونو کښې د فاتحه قرائت مستحسن بللی دی الخ" عوامو ته ئې دا دوکه ورکړې ده چه مولانا عبد الحی او امام محمد د مقتدي په ذمې باندې د فاتحه قرائت واجب بولي حالانکه د مولانا عبد الحی په عبارت کښې د سرّي لمونځونو تصريح موجوده ده او په جهري لمونځونو کښې د امام د سکتاتو قيد هم مذکور دی تر څو چه په استماع او انصات کښې خلل واقع نه شي

تر دې وروسته چه له کومو احنافو علماوو څخه د قرائت خلف الامام جواز را نقل شوی دی هغه يوه په سرّي لمونځونو او په جهري لمونځونو کښې د امام له سکتو سره مقيد دی په حنفي علماوو کښې له امام سره تر څوک د انصات د فرض په پرېښودلو سره د قرائت د جواز هيڅوک هم قائل نه دی

---

[1] لغوه ترجمه صاحب تکميل غلطه کړې ده [illegible] هغه نه مبارکه وی د [illegible] معنی نه [illegible]

د صاحب تکمیل په حنفي دلائلو باندې نیوکې

سر دی وروسته صاحب تکمیل د قرائت خلف الامام د مانعینو له دلائلو سره هم تعرض کړی دی او تر ټولو مخکښې ئې د قرآنکریم د دې (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا) «چه کله قرآنکریم ویل کیږي نو تاسو ئې واورئ او چُپ و اوسئ» آیت په وړاندې کولو سره له خانه خواب ورکړی دی لیکن دا څه ضروري نه ده چه د صاحب تکمیل په خواب سره د استدلال کوونکو خلکو تشفي او تسلي هم وشي خواب خو هر سړی د هر دلیل ورکولی شي نو دا څه ضروري ده چه هر خواب دې صحیح وي؟ بیا هغه خلک کوم چه د قرآنکریم له دې آیت څخه استدلال کوي په پرې شوې خوله مذهب پرست. هڅوکي خرخوونکي او داسې نورو بې خایه کلمانو سره یادول او د هغوی دلائل موضوعي. مکذوب بلل د کوم خای تهذیب. دیانت او انصاف دی؟ مونږ مخکښې ویلي دي چه په اتفاق سره دا آیت له قرائت خلف الامام څخه د منع کولو په اړه نازل شوی دی امام احمد بن حنبل د دې تصریح کړې ده او له تفسیر طبري او داسې نورو څخه مو ډیر آثار په تیرو شویو پاڼو کښې په صحیح او حسن سند سره نقل کړي دي

له کومو څخه چه دا خبره واضحه شوي ده چه خلکو مخکښې قرائت کاوه په هغه باندې دا آیت نازل شو د صاحب تکمیل دا وینا چه "احناف وروسته د فاتحه خلف الامام د لوستلو احادیث له دې آیت سره د ټکر په ګڼلو هغه احادیث نه مني الخ" با لکل غلطه ده بلکه مونږ دا احادیث په امام یا منفرد باندې محمولوو او مقتدي د امام د قرائت له وجې په قریانو کښې شمارو. د قرائت تارک ئې نه بولو ځکه چه د مسلم او ابو داؤد صحیح حدیث (اذا قرأ الامام فانصتوا) موجود دی چه «کله امام قرائت کوي نو تاسو خاموشه و اوسئ» او په ابن ماجه. موطاء امام محمد او د احمد بن منیع په مسند کښې صحیح حدیث موجود دی (من كان له امام فقراءته له قراءة) «کوم سړی چه له امام سره وي د امام قرائت د هغه لپاره کافي دی» حنفیان د حضرت عباده صحیح حدیث هیڅکله نه پریږدي بلکه دا هم مني او د قرآنکریم آیت او صحیح حدیث (اذا قرأ فانصتوا) او (من كان له امام فقراءته له قراءة) ټول سره یو خای کوي دا وائي چه په جهري لمونځونو کښې د امام ل قرائت سره قرائت کول منع دی. له امام څخه مخکښې یا وروسته د امام په سکته کښې او په سرّي لمونځونو کښې قرائت خلف الامام جائز یا مستحسن دی لیکن صاحب تکمیل او ډله ئې پخپله د قرآن او حدیثو تارکین دی کوم چه په جهري لمونځونو کښې د امام له قرائت سره یو خای قرائت نه واجب وائي او د صحیح حدیث (اذا قرأ فانصتوا) او د خداوندي حکم (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا) صریح یا ښکاره مخالفت کوي

د حنفيه وو په قرآني دليل باندې نيوکه

د حنفيه وو د دې دليل يو ځواب دا هم ورکړې شوې دې چه د قرائت خلف الامام احاديث له دې آيت سره ټکر نه دې بلکه مخصص ني دې او د کتاب تخصيص په سنت سره جائز دې په داسې حال کښې چه حديث متواتر وي او د (لا صلوٰة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب) حديث په يقيني توګه متواتر حديث دې لکه څرنګه چه امام بخاري په جزء القرائت کښې فرمايلي دي (تواتر الخبر عن رسول الله ﷺ لا صلوٰة الا بقراءة ام القرآن). د رسول الله ﷺ دا حديث متواتر دې چه لمونځ نه کيږي مګر د سورۂ فاتحه له قرائت سره.

سوال له آسمانه او ځواب له ريږي دې نه والي خبره په قرائت خلف الامام کښې ده او تواتر د سورۂ فاتحه د قرائت بيانوي مونږ سره خو څو ځله ولي دي چه د سورۂ فاتحه د قرائت په واجب والي کښې د هيڅ اختلاف او نزاع نشته خبره په دې کښې ده چه په امام پسې مقتدي ته د سورۂ فاتحه لوستل واجب دي او که نه؟ او د امام قرائت د هغه لپاره کافي دې او که نه؟ مونږ وايو چه د سورۂ فاتحه قرائت په لمونځه کښې واجب دې لېکن د امام قرائت د مقتدي لپاره کافي دې هغه په دې حالت کښې د قرائت سرينيودونکي نه دې بلکه د قاري لوستونکي په مرتبه کښې دې او د دغو دواړو مقدمو په صحيحو احاديثو سره ثبوت نه خو خو ځله مخکښې تير شول پس که څرته صاحب تکميل همت لري نو له رسول الله ﷺ څخه دې د قرائت خلف الامام تواتر ثابت کړي محض د سورۂ فاتحه د قرائت د تواتر په بيانولو سره عوامو ته د قرائت خلف الامام مغالطه ورکول يوا خې او يوا خي دوکه ده.

ب د حنفيه وو په نزد مشهور او متواتر حديث هغه دې کوم چه تابعينو په اتفاق سره قبول کړې دې او په دې مسئله کښې د تابعينو اختلاف دې نو دې حديث ته متواتر يا مشهور نه شي ويل کيدلې علامه عيني په شرح د بخاري کښې فرمائي

فان قلت هذا الحديث مشهور فتجوز الزيادة بمثله قلت لا نسلم انه مشهور لان المشهور ما تلقاه التابعون بالقبول وقد اختلف التابعون في هذه المسألة ولئن سلمنا انه مشهور فالزيادة بالخبر المشهور انما تجوز اذا كان محكما اما اذا كان محتملا فلا وهذا الحديث محتمل لان مثله يستعمل النفي الجواز ويستعمل لنفي الجواز ويستعمل لنفي الفضيلة كقوله ﷺ لا صلوٰة لجار المسجد الا في المسجد. (ولا صلوٰة بحضرة طعام. (رواه مسلم ج٢،ص١١)

که څرنګه سو ووايي چه دا حديث مشهور دې او په دې سره زياتوالي په کتاب الله باندې جائز دې نو زه وايم چه مونږ د دې مشهور والي نه منو ځکه چه مشهور هغه دې چه تابعينو قبول کړې دې او په دې مسئله کښې د تابعينو تر منځ خلاف دې او که څرنګه و منل شي چه دا حديث

مشهور دی نو په مشهور حدیث سره په کتاب الله باندې زیاتوالی په هغه وخت کښې جائز دی چه هغه بخپل مفهوم او مدلول کښې، محکم وي اوکه چیرته محتمل وي نو په هغه سره په کتاب الله باندې زیاتوالی جائز، نه دی او دا حدیث چه (لاصلوٰة الابقراءةام القرآن) محتمل دی ځکه چه دا ډول لفظ کله کله د جواز د نفی ،او عدم صحت، لپاره استعمالیږي او کله کله د فضیلت د نفی لپاره لکه څرنګه چه د رسول الله ﷺ ارشاد دی چه د جومات د ګاونډي لمونځ پرته له جومات څخه بل ځای نه کیږی د دې مطلب په اتفاق سره دا دی چه له جومات څخه پرته ادا شوی لمونځ به کامل نه وي دا معنی نی نه ده چه لمونځ به ئې بالکل صحیح نه وي، او ،همدارنګه د ده ارشاد دی، چه د خوراک مخته لمونځ نه کیږي دې لره مسلم روایت کړی دی آه د دې هم په اجماع سره دا مطلب دی چه کله د وږي سړي مخته خوراک راشي په دې وخت کښې د خوراک په پریښودلو سره لمونځ وکړي نو لمونځ به ئې کامل نه وي دا مراد هېڅکله نه دی چه لمونځ ئې صحیح کیږي نه

بیا دا حدیث له قرائت خلف الامام سره هیڅ تعلق نه لري په دې کښې یواځې د سورۀ فاتحه د قرائت ذکر دی او دې نه موږ هم واجب وایو لیکن په مقتدي باندې ئې واجب نه بولو ځکه چه د قرآن په آیت او صحیحو حدیثونو کښې مقتدی ته د خاموش اوسېدلو صریح حکم دی چه خلاف ورزي ئې جائزه نه دی له دې تقریر څخه د صاحب تکمل د دې خبرې خواب هم وشو چه "دا آیت مکّي دی او د سورۀ فاتحه د قرائت حکم مقتدی ته نبي علیه الصلوٰة و السلام په مدینه منوره کښې ورکړی دی" پس آیت مقدم النزول ،لومړی را نازل شوی آیت، د کوم مؤخر الافتراض ،کوم شی چه په آخر کښې فرض سوی وي، لپاره ناسخ کېدلی سي؟ له هغه څخه دې څوک پوښتنه وکړي چه په مدینۀ طیبه کښې په کوم حدیث کښې ئې مقتدي ته د سورۀ فاتحه د قرائت حکم ورکړی دی؟ که چیرته د حضرت عباده حدیث (لا تفعلوا الابأم القرآن) ئې مراد وي نو موږ ویلي دي چه له دې څخه وجوب هغه څوک ثابتولی شي چه د عربي ژبې له اصولو او قواعدو څخه خبر نه وي او که نه نو هر یوه لږونکی فقیه په دې پوهیږي چه تر نهې وروسته له استثناء څخه اباحت مستفاد کیږي. نه دا چه وجوب ثابتیږي بیا د همدې حدیث الفاظ په ابو داؤد کښې په دې ډول دي (ان کنتم لا بد فاعلین فلا تفعلوا الابأم الکتاب) ،که چیرته تاسو په امام پسې خامخا قرائت کول غواړئ نو تر سورۀ فاتحه بغیر به څه مه وایئ، له دې څخه هر عام سړی هم د اباحت مراد اخلي. وجوب ترې نه شي ختل کېدلی

بیا ئې له تفسیر فتح البیان څخه کوم شی را نقل کړی دی چه "په صحیح البخاري. صحیح المسلم ،او داسې نورو په حدیثونو کښې په امام پسې د سورۀ فاتحه د لوستلو حکم موجود دی الخ

لوی جرأت دی. د بخاري او مسلم په هيڅ يوه حديث کښې هم د قرائت خلف الامام حکم نشته صاحب تکميل البرهان بايد له خدای څخه وويرېږي رسول الله ﷺ په هيڅ يوه حديث کښې هم هېڅکله دا نه دي فرمايلي چه مقتديان بايد په امام پسې قرائت وکړي بلکه د صحيح المسلم په يوه حديث کښې ئي دا حکم ورکړی دی (اذا قرأ الامام فانصتوا) (چه کله امام قرائت وکړي نو تاسو خاموشه و اوسئ) او دي حديث ته امام احمد. مسلم. د طبري مفسر. علامه ابن تيميه او داسې نورو صحيح ويلي دي او د عباده په حديث کښې د (لا تفعلوا الا بأم القرآن) زياتوالي لره امام احمد. يحيى بن معين او د محدثينو يوې ډلې ضعيف بللی دی لکه څرنګه چه د کتاب المغني او علامه ابن تيميه د تنوع العبادات د رسالې په حوالې سره پورته تېر شول او د عباده د حديث چه کومه برخه صحيح ده هغه له قرائت خلف الامام سره هيڅ واسطه نه لري هغه د امام او منفرد په اړه ده لکه څرنګه چه پخپله د حديث راوي سفيان بن عيينه فرمايلي دي (قال هذا اذا كان وحده) (دا د هغه سړي په باره کښې ده څوک چه يواځې لمونځ کوي)

تر دې وروسته صاحب تکميل د آيت او (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا) کښې د تعارض (ټکر) په ثابتولو سره د دواړو د ساقطولو کوشش کړی دی او د نور الانوار او توضيح او تلويح حواله ئي هم ورکړې ده حالانکه د تعارض لپاره د محل (ځای) اتحاد (يو والی) شرط دی کوم چه دلته وجود نه لري ځکه چه د (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا) آيت په اتفاق سره د قرائت خلف الامام په اړه دی او د (فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ) آيت د منفرد د لمانځه په اړه دی ځکه چه دا آيت د قيام الليل په باره کښې نازل شوی دی او قيام الليل په جماعت سره نه ادا کيږي يواځې ادا کيږي طلباء د تعارض په مطلب ناندی د پوهولو لپاره د مثال په توګه په نور الانوار او داسې نور کښې دا آيتونه وړاندی کړی شوی دی چه شان نزول مه ګورئ نو په ظاهره کښې په تعارض معلوم شي (او نه په حقيقت کښې تعارض ثابول ئي مقصود نه دی لکه څرنګه چه د فقهاوو له طرز عمل څخه څرګنده ده چه هغوی يو شان له دواړو آيتونو څخه استدلال کړی دی عيني شرح د بخاري ج ۱. ص ۱۱ ملاحظه کړئ

... په حنفيه وو ... ندی صاحب تکميل دا الزام لګولی دی چه دا آيت (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا) حنفيه وو د جمعې د خطبې په وخت غلي اوسېدو ته واجب وېلي دی لېکن دا هم وائي چه کله خطيب د (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا) آيت ووائي نو اورېدونکي دی په زړه سره درود ووائي نو د فاتحه خلف الامام په زړه سره له ويلو څخه ولې خلک منع کوي؟

... د ... دی چه موږ ... خله د ... ولې دی چه دا آيت په اتفاق سره د قرائت خلف الامام په

باره کښې نازل شوې دی د جُمعې خطبه وروسته ورسره ملحقه شوې ده او که نه نو به مکې کښې د جُمعې لمونځ او خطبه چېرته وو؟ پس څومره چه په لمانځه کښې د استماع او انصات تاکید دی په خطبه کښې دومره نشـه د دې لپاره ځینو فقهاوو پر دې بناء باندې د درود ویلو اجازه ورکړې ده چه په خطبې کښې له امام څخه د کوم ضرورت په وخت خبرې کول یا د دُعا غوښتنه کول جائز دی او امام به هم له مقتدیانو سره خبرې کول او د کومې ضروري خبرې بوښتنه کول یا امر بالمعروف او نهی عن المنکر کول جائز دي. او په دې وخت کښې مقتدي د امام د خبرې ځواب هم ورکولی شي لکه څرنګه چه د سلیک غطفاني له واقعې څخه چه نبي کریمﷺ د خطبې په وخت کښې له هغه سره خبره وکړه او بوخل نبي کریمﷺ به د خطبه کښې د باران د دُعا په باره کښې خبره وشوه او د حضرت عمرؓ له واقعې څخه چه په خطبه کښې ئې حضرت عثمانؓ ته د ځنډ له وجې تنبیه خبرداری ورکړی وو او هغه به ځواب کښې خپل عذر بیان کړی وو (بخاري) ښکاره خبره ده چه دا له خطبې سره منافي یا بکر نه دی ګڼل شوی همدارنګه چه کله خطیب د خطبې په منځ کښې حکم کوی چه په نبي کریمﷺ باندې درود ولیږئ نو په دې حکم باندې عمل کول هم د خطبې منافي نه دی. په ښه سره درود ویلی شي نه په لوړ آواز سره او ځینو حنفي فقهاوو په دې صورت کښې هم په ژبې سره د درود شریف د ویلو اجازه نه ده ورکړې بواځې ئې په زړه کښې د ویلو اجازه ورکړې ده نو اشکال پاتې نه شو

یو الزام ئې دا لګولی دی چه کله د سهار لمونځ شروع شوی وي په دې حالت کښې د امام د قرائت په وخت کښې د حنفیانو په نزد د صف شا ته د سُنتو ادا کول جائز دي او په **(وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ)** سره دا ممنوع نه بولي. نو په دې آیت سره په امام پسې د سورۀ فاتحه قرائت ولې ممنوع دی؟

ځواب دا دی چه د عبد الله بن عباس او عبد الله بن مغفل روایتونه پورته تیر شول چه په هغو کښې تصریح شوې ده چه دا آیت بواځې د مقتدي په حق کښې ده چه هغه به قرائت خلف الامام نه کوي بلکه غلی به اوسي له دې پرته په نورو ځایونو کښې که چیرته قرآنکریم لوستل کیږي نو اوریدل او غلي اوسیدل فرض نه دي ځینو حنفي فقهاوو دا قول غوره کړی دی د هغو په نزد د سهار د لمانځه په وخت په جوماتونو کښې یوې خوا ته د سهار سنت ادا کول جائز دي ځکه چه دا سړی تر اوسه مقتدي نه دی او ځینو فقهاوو د لفظ د عموم پر بنا په داسې ځای کښې ئې د سهار د سنتو ادا کول منع کړي دي چرته چه د امام قرائت اوریدل کیږي هغوی وائي چه د جومات په دروازه کښې یا له جومات څخه د باندې سنت ادا کړي او بیا په جماعت کښې شریک شي

... شي د مقتدي **(سبحانك اللّٰهم)** لوستل. په دې کښې د حنفیانو صحیح قول دا دی چه په جهري لمانځه کښې د امام د قرائت په وخت مقتدي ته **(سبحانك اللّٰهم)** لوستل جائز نه دي ځکه

تکبیر تحریمه دي واني او چُپ دې ودریږي او که موقع به لاس ورتي نو د امام په سکتو کښي دې (سبحانك اللهم) لولي او د امام په سکتاتو کښي سورة فاتحه هم لوستلی شي لکه څرنګه چه مو خو حلقه سره شو

ښي سره دا چه کله امام جهر کوي په دې وخت کښي بايد د الله اکبر په ويلو سره هم لمونځ سره نه شي د دې خواب دا دی چه تکبير تحريمه د لمانځه شرط دی رکن ئې نه دی نو د تکبير تحريمه په وخت دا سړی مقتدي نه دی تر تکبير تحريمه وروسته مقتدي جوړيږي او په همدې وخت کښي د قرآن اوريدل او خاموش اوسيدل واجبيږي له دې څخه مخکښي نه واجبيږي بله دا چه په دې باندې د ټولو اجماع هم ده چه د امام د قرائت له اوريدو سره سره د تکبير تحريمه په ويلو سره لمانځه کښي سريکيدل صحيح دي پس صاحبِ تکميل دې بايد پخپلې پوهې باندې ماتم وکړي

او د امام بخاري له جزء القرائت څخه چه کوم الزام را نقل شوی دی چه په مدارسو او مکتبو کښي استاذ بوه هلک ته سبق ورکوي او پاتې هلکان هم قرائت کوي هلته د ﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا﴾ پر بناء باندې هلکان نه خاموشه کيږي الخ

د دې خو بو خواب هغه دی کوم چه پورته تېر شو چه دا آيت د مقتدي په حق کښي دی د غير مقتدي په حق کښي نه دی. دوېم دا چه هلکان په لوياتو باندې قياس کول هم غلط دي. هلکان خو بې اوده هم قرآنکريم لوستلی شي. هغوی مرفوع القلم بلل شوي دي

له دې وروسته ئې دعوی کړې ده چه د انصات معنی د مطلق چُپ والي نه ده بلکه معنی ئې سکوت سره له اوريدو ده نو له دې څخه هم د حنفيانو مطلب نه شي حاصليدلی څکه چه په دې سره په جهري لمانځه کښي په سواخې د امام د قرائت په وخت کښي ممانعت وي د امام په سکتاتو کښي د قرائت کولو ممانعت هيڅکله له دې آيت څخه نه ثابتيږي حالانکه د حنفيانو دعوی ده چه په جهري لمانځه کښي د امام د سکتاتو په وخت هم قرائت ناجائز او حرام دی الخ

د په حنفيانو باندې افتراء ده کوم خلک چه د امام د سکتاتو په رعايتولو سره سورة فاتحه خلف الامام لوستلي شي دی په هغوی هم ناجائز او حرام نه دي وايي همدارنګه په سرّي لمونځونو کښي هم د سورة فاتحه قراءت خلف الامام سوکه سوکه جائز دی په دا سې حال کښي چه له امام سره منازعت و هغه نه د ښوس خولو سيبيو نه کرځي لکه څرنګه چه څو ځو خله تېر شول

له دې وروسته ئې دعوی کړې ده چه کله امام په جهر سره قرائت وکړي او مقتدي هم سوکه سوکه هغه لفظ ولولي نو په دې کښي په سوکه د استماع او انصات حکم هم په ځاى کيږي الخ

د محققينو ده کومه چه ئې دليل دی نه ده رسول الله ﷺ د وحی د نزول په وخت خپلو شونډو

مبارکو ته حرکت ورکاوه او یو خای ني ورسره وايه. چهرنی نه کاوه حق تعالی له دي څخه هم منع کړاو ونی فرمایل چه لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ.
له قرآن سره خپلي ژبي ته حرکت مه ورکوه د دي لپاره چه زر دي یاد شي. دي لره ستا په زړه کښي خابول او په یا باندي د دي لوستل زمونږ په ذمه باندي دي. نو کله چه مونږ د جبرائیل علیه السلام په واسطه دا وايو نو د هغه د قرائت اتباع وکړی. د دي په تفسیر کښي عبد الله بن عباس فرمائي (فاستمع له وانصت) چه کله وحی نازلیږی نو هغه واورئ او چُپ و اوسئ.
له دي وروسته به هغه خپله ژبه نه خوځوله او غلی به اوسيده ملاحظه کړی بخاري شریف ج۱. ص۳ معلومه سوه چه د قرآن د قرائت په وخت کښي ژبی ته حرکت ورکول اتباع نه دی او مقتدي ته د امام د اتباع امر ورکړ شوی دی (انما جعل الامام ليؤتم به) چه امام د دي لپاره جوړ شوی دی چه د هغه اتباع وشي او د ابن عباس له حدیث څخه څرګنده شوه چه د قرائت اتباع دا دی چه با لکل سړی غلی و اوسي. ژبی ته حرکت ور نه کړي او په لغت کښي هم انصات صرف سکوت ته وائي البته که حیرته (انصت له) وویل شي نو د دي دوه معنوې دي یو غلي اوسيدل. دویم د غوږ په لګولو سره اوریدل او چه کله انصات مطلق وي نو معنی ئي یواځي د سکوت چُپوالي ده ملاحظه کړی قاموس ج۱. ص۹۸ پس له امام سره یو ځای قرائت کول د امام د اتباع هم خلاف ده او د انصات هم خلاف ده

تر دي وروسته ئی دا الزام لګولی دی چه له نبي کریم ﷺ څخه په لمانځه کښي څو سکتي ثابتي دی که چیرته مقتدی په نوموړی سکتو کښي سورهٔ فاتحه ولولي نو د (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ) آیت مخالف به نه وي

ځواب ښکاره دی چه دي صورت ته چا ناجائز ویلي دي؟ او دا هم ښکاره ده چه دا سکتات په امام باندي واجب نه دی ځکه چه د وجوب هیڅ دلیل نشته که چیرته امام سکته و نه کړي نو مقتدي د سورهٔ فاتحه قرائت نه شي کولی. نو نه به مقتدي ګنهګار وي او نه ئي لمونځ باطلیږي

تر دي وروسته ئی دعوی کړې ده چه دا آیت نه امام سی نه زوره زوره د لوستلو په ممانعت کښي نازل شوی دی او له امام رازي څخه نقل کړی دی چه د قول د امام ابو حنیفه او د هغه د اصحابو دی

ځواب: دی چه لکه څرنګه چه دی عبارت کښي د امام صاحب او د هغه د اصحابو خوا ته یرته له کوم سند د نوه غلط قول نسبت سوی دی همدا رنګه دا دعوی هم غلطه ده چه دا آیت په امام سی نه زوره زوره د قرائت کولو نه ممانعت کښي نازل سوی دی خبردار د صحابه وو به اړه حوک داګومان کولی سی چه هغوی به لمانځه کښي نه رسول الله ﷺ سی نه زوره زوره سوره و غوغا •

... ضرورت څخه نا لحال کوله ... هغوی د لمانځه له حقیقت او له هغه کښې د خشوع او خضوع له

حیرانه وو

اهل حدیث چه کوم په دې دول بې ځایه خبرې کوي او صحیح حدیثونه ردوي او د قرآن په آیت کښې غلط ... ویلونه کوي نو هغوی عامل بالحدیث په حدیثو عمل کوونکي ... وول او حنفیان چه د نصوصو صحیح معناوي بیانوي او په صحیح طریقې باندې عمل کوی هغوی مذهب پرست. هدوکي خرخوونکي جوړ شول سبحان الله دا څه انصاف دی؟ له دغو حضراتو څخه دي یو خوک پوښتنه وکړی چه کله چیرته دا آیت په امام پسې په چیغو چیغو د لوستلو په ممانعت کښې نازل شوی وی و ... قرائت جائز وي نو د جُمعې په خطبه کښې به هم په زوره خبرې کول منع وي په خومره اندازه او ... سره به خبرې کول. تسبیح. تکبیر او تهلیل باید ممنوع وي څکه چه ټولو علماوو د همدی آیت له مخې په خطبه کښې له خبرې کولو څخه منع کړې ده او پخپله صاحب تکمیل هم د دی آیت شان نزول خطبه ګڼلی ده نو آیا دی به د دې قائل وي چه د جُمعې په خطبه کښې د امام د خطبې د اوریدو په وخت کښې خلکو ته بې له چیغې خبرې کول یا ذکر الله. تکبیر. تسبیح او تهلیل جائز دی؟ که چیرته ئې جائز بولي نو دا د اجماع خلاف دی. اهل حدیث هم د دې قائل نه دي او که چیرته ئې جائز نه بولي نو آیا د خطبې درجه تر لمانځه زیاته ده؟ چه په لمانځه کښې ... سوکه لوستل جائز او په خطبه کښې حرام دی

تر دې وروسته ئې دعوی کړې ده چه د سورهٔ فاتحه په عدم فرضیت باندې د حنفیه وو له دې آیت څخه استدلال کول د ټولو محدثینو او مفسرینو په خلاف دی دا هغه مغالطه ده چه کومه چه له شروع څخه تر آخره پورې د صاحب تکمیل شیوه (خوی یا طریقه) ده حنفیه وو له دې آیت څخه کله د سورهٔ فاتحه د عدم فرضیت استدلال کړی دی؟ له دې څخه خو هغوی د قرائت خلف الامام په عدم فرضیت باندې استدلال کوي او په دې کښې جمهور سلف او خلف له دوی سره دي لکه څرنګه چه د علامه ابن تیمیه له قول څخه څرګنده شوې ده چه د سورهٔ فاتحه په عدم فرضیت باندې خو هغوی د (**فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ**) آیت څخه استدلال کوي او د اعرابي له حدیث څخه د دوی د استدلال بنیاد کیږي لکه څرنګه چه مخکښې په تفصیلي توګه تېر شول

تر دې وروسته ئې دعوی کړې ده چه دا آیت په لمانځه کښې د خبرو کولو په ممانعت کښې نازل شوی دی او د څینو تابعینو قول ئې را نقل کړی دی چه دا آیت د خطبې په باره کښې نازل شوی دی. د خطبې په وخت ئې خلکو ته د اوریدلو حکم ورکړی دی الخ

د دې خواب تېر شوی دی چه په مکه کښې نه جُمعه قائمه وه او نه خطبه وه د دې لپاره چه کومو حضراتو دا آیت په خطبې پورې تړلی دی د هغو مطلب دا دی چه خطبه ئې له لمانځه سره ملحق کړی دی د مطلب ئې نه دی چه شان نزول ئې یواځې د جُمعې خطبه ده څکه چه دا آیت په اتفاق سره

مکې دی او په مکې کښې نه جُمعه وه او نه خطبه او په خطبه کښې سوکه خبرې کول یا په پټه سره ذکر و تسبیح کول په اتفاق سره جائز نه دی نو په لمانځه کښې له امام سره سوکه قرائت به څه ډول جائز وي؟ په لمانځه کښې خبرې کول تر هجرت وروسته هم جائز وو چه کله د سورهٔ بقره آیت (وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ) نازل شو نو له خبرې کولو څخه خلک منع شول (صحیح مسلم) او (وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ) آیت په اتفاق سره مکې دی دا په لمانځه کښې د خبرې کولو په ممانعت باندې محمولول صحیح نه دي او که نه نو بیا دا لازمیږي چه صحابهٔ کرام له ممانعت سره سره هم په عامه توګه په لمانځه کښې خبرې کولې او دا د هغوی له شان څخه ډیره لرې خبره ده او په مدینه منوره کښې صحابهٔ کرامو په عامه توګه قرائت خلف الامام نه کول یوه یا دوو ناخبرو داسې کړی دی لکه څرنګه چه د حدیث له لوستونکو څخه پټه نه ده چه کله له نبي کریم ﷺ پوښتنه وکړه چه په تاسو کښې چا قرائت وکړ نو یواځې یوه سړي وویل چه ما قرائت وکړ هغه لره نبي کریم ﷺ منع کړ

بیا ئې د امام رازي رحمه الله قول را نقل کړی دی چه په دې آیت کښې کفارو ته خطاب دی او که چیرته دا آیت په قرائت خلف الامام باندې محمول کړی شي نو د قرآن سیاق او سباق هم ګډوډیږي او ترتیب ئې له منځه ځي الخ

زه وایم چه د امام احمد بن حنبل قول مخکښې تېر شو چه په اتفاق سره دا آیت د لمانځه په اړه د قرائت خلف الامام څخه په منع کولو کښې، نازل شوی دی نو آیا له احمد بن حنبل او د سلفو له نورو علماوو څخه زیات څوک د قرآن په سبق او سبق باندې پوهیدونکی کیدلی شي؟ بیا له دې آیت څخه مخکښې د لوی خدای ﷻ دا ارشاد دی چه (هٰذَا بَصَآئِرُ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ) (دا قرآن (پخپل ځای کښې، ګوا که ډیر دلیلونه دي ستاسو د ربّ له خوا څخه او هدایت او رحمت دی د هغو خلکو لپاره چه ایمان ئې پرې راوړی دی، په دې کښې د اهلِ ایمان او د قرآن ذکر دی تر دې وروسته (وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ) دی تر دې وروسته (وَاذْكُرْ رَّبَّكَ فِيْ نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَّخِيْفَةً وَّدُوْنَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ وَلَا تَكُنْ مِّنَ الْغٰفِلِيْنَ○) دی چه هر مسلمان ته د ذکر تاکید او له غفلت څخه د هغه ممانعت دی لنډه دا چه د وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ څخه مخکښې هم د ایمان د خاوندانو ذکر دی او وروسته هم د ایمان خاوندانو ته خطاب دی نو په منځ کښې د قرآن د قرائت په متعلق مسلمانانو ته د خطاب په کولو سره د قرآن سباق او سباق څنګه مختل او ګډوډ شو؟ تر دې آیت مخکښې د قرآن د عظمت (لوړوالي) بیان دی چه هغه د ایمان د خاوندانو لپاره بصائر، هدایت او رحمت دی. تر دې وروسته په یقیني توګه د هغه له عظمت سره دا مناسبه ده چه

په بنه توگه له کله هر نکرسم سه لمانځه کښې لوستل کېږي هغه واوري او غلي و اوسي تر څو چه په تاسو باندې خپل پروردگار سهار او بصيرت. هدايت او رحمت څخه برخمن شئ تر دي وروسته حکم دی چه مابام په زړه کښي له عاجزي. خوف او ويرې سره ياد او له غافلانو څخه مه کيږئ

وواني کوم عقلمند دا وبلی شي چه په دې صورت کښې د قرآن نظم گډوډ او له منځه تللی دی بلکه حه سه انصاف سره وکتل شي نو سه کوم ځای کښې چه قرآنکريم د کفرو شور. فرياد او چيغو ذکر کړی دی هلته نې د رحمت يادونه نه ده کړې بلکه هغوی ته نې د سخت عذاب اخطار ورکړی دی

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَسْمَعُوْا لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَالْغَوْا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُوْنَ ○ فَلَنُذِيْقَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَذَابًا شَدِيْدًا وَّ لَنَجْزِيَنَّهُمْ اَسْوَاَ الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ○

يعنې کفر خلک وائي چه دا قرآن مه اورئ او شور او غوغا جوړ کړئ ښائي چه تاسو په دې ډول غالب شئ موږ به هغوی ته د سخت عذاب خوند ورڅکو او هغوی د دې بد حرکت کوم چه دوی نې کوي سزا ورکړو

س د (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ) عنوان هم دا وائي چه په دې کښې مسلمانانو ته خطاب دی. همدوی د قرآن په اوريدلو او خاموشه اوسېدلو باندې د رحمت هيله مند کيدلی شي يواځې کفار به په دې باندې د رحمت اميدوار څنگه کيدلی شي تر څو پورې چه ايمان نې نه وی راوړی؟ س د تفسير فتح البيان دا قول هڅکله صحيح نه دی چه په دې آيت کښې کفارو ته خطاب دی او مسلمانانو ته د خطاب په منلو سره د قرآنکريم په آيتونو کښې ارتباط نه پاتې کيږي بلکه له سياق او سباق او د آيت له عنوان څخه ښه ښکاره ده چه په دې کښې يواځې او يواځې مسلمانانو ته خطاب دی. ټول مفسرين علماوو دا آيت له قرائت خلف الامام څخه په ممانعت باندې محمول کړی دی لکه څرنگه چه د علامه طبري په حوالې سره د تفصيل تر څنگ په لومړی سر کښې لیکلي دي غالباً کونکي به اندازه وکړي چه صاحب تکميل البرهان په څومره بې انصافي او مذهبی عصبيت سره د حنفيانو په دلائلو باندې نيوکي کوي چه د قرآن له کوم نص څخه چه د سلف او خلف جمهورو علماوو د قرائت خلف الامام په ممانعت باندې استدلال کړی وو هغه د تفسير فتح البيان او امام رازي په قول سره رد ول غواړي (الغريق يتشبث بالحشيش) دې ته وائي چه اوبو اخستونکي ته د وښو اسره هم ډير په نظر ورځي

د حنفيه وو د حديثو په دلائلو باندې نيوکې

لومړی دليل چې د ... کړی دی چه په صحيح البخاري کښې چه کوم روايت له ابو بکرة رضی

حخه روايت دى حه هغه د ركوع په حالت كښې رسول الله ﷺ سدا كړ نو په صف كښې له نو خاى كـدو خخه مخكښې ئې ركوع وكړه او د رسول الله ﷺ په حضور كښې ئې د دې خبرې يادونه وكړه هغه ﷺ ده نه د ركعت د بيرته را گرځولو حكم و نه كړ له دې خخه حنفيه په امام پسې د سورة فاتحه په نه فرض كيدو باندې دليل راوړي چه كله په ركوع كښې له امام سره د نو خاى كـدو په صورت كښې ايرته له سورة فاتحه، څخه ركعت ادا شو نو د قيام په حالت كښې هم برته له سورة فاتحه حخه لمونځ كيږي الخ

په دې اړه عرض دا دى چه دا يواځې د حنفيانو دليل نه دى بلكه د مالكيانو. حنبليانو هم د مسبوق له دې مسئلې څخه په مقتدي باندې د قرئت خلف الامام د نه واجب والي استدلال كړى دى لكه څرنگه چه د كتاب المغنى په حوالې سره مخكښې تير شو او يواځې ئې د ابى بكره ﷺ له حديث څخه استدلال نه دى كړى بلكه له اجماع څخه ئې استدلال كړى دى امام طحاوي تصريح كړې ده چه په دې كښې د فقهاوو اختلاف نشته چه مسبوق د ركوع په پيدا كولو سره ركعت پيدا كوى او د ابن قدامه په مغني كښې دي چه (ولانها قراءة لا تجب على المسبوق فلم تجب على غيره كا لسورة) ربيا په امام پسې د سورة فاتحه قرائت په مسبوق باندې واجب نه دى نو په غير مسبوق باندې به هم واجب نه وى لكه د (ضم) سورت غوندي آه

د دې دليل خواب دا ورکړ شوى دى چه د قرائت وجوب د قيام (دريدلو) په حالت كښې دى چه كله حالت بدل شو نو حكم هم بدل شو

زه وايم چه د اهلِ حديث له ژبې او قلم څخه د داسې خبرو وتل د تعجب وړ دي ځكه چه دا خو سراسر قياس دى حه نه پوهيږم دا خلك په ډير زور او شور سره د (اول من قاس ابليس) [1] نارې لگوي دوى بايد د كوم حديث له مخې دا ثبوت وركړي چه د قرائت وجوب د قيام له حالت سره مخصوص دى د حضرت عباده په حديث (لا صلوة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب) كښې خو د قيام شرط نشته كه چيرته په كوم بل حديث كښې دا قيد راغلى دى نو څرگند دې سى چه دى يو حديث په بل حديث باندې مقيد كولى شي بيا حنفيانو كومه گناه كړې ده چه هغوى له بل حديث (من كان له امام فقراءته له قراءة) څخه د عباده حديث په امام او منفرد پورې خاص كوي؟ بيا دا هم نه شوه چه كله حالت بدل شي نو حكم هم بدليږي اول خو دا ثابته كړئ چه د ركوع په كولو سره كوم حالت بدل شو؟ لمونځ ختم شو او كه لمونځ كوونكى بدل شو؟ آخر دا مسئله له كوم حديث څخه ده معلومه

[1] چه تر ټولو مخكښې ابليس قياس كړى وو مخكښې دا د هغه بې خبرى ده چه د ابليس قياس كوم ډول قياس وو او د مجتهد قياس كوم قياس ته وائي ۱۲ ظ

کړې ده د رکوع په کولو سره د لمانځه یا لمونځ کوونکي حالت بدلېږي؟ د ابو بکره حدیث او دغو بولو حدیثونو څخه کوم چه د رکوع په پیدا کولو سره د رکعت په پیدا کولو دلالت کوي څو دا څرګندیږي چه د شارع علیه السلام په نظر کښې رکوع د قیام په حکم کښې دی له دې وجې د رکوع په پیدا کولو سره رکعت پیدا کیږي. البته سجده د قیام په حکم کښې نه ده څکه چه د سجدې په پیدا کولو سره رکعت نه پیدا کیږي او چه کله رکوع د قیام په حکم کښې ده نو په رکوع سره حالت بدل نه شو پس په رکوع پیدا کوونکي باندې باید په رکوع کښې د فاتحه قرائت فرض شي لکه څرنګه چه څنې صحابه هم دې خوا ته تللي دي ملاحظه کړئ د بیهقي جزء القرائت ص۷۸

عن حسان بن عطیة عن ابی الدرداء قال لا تترك الفاتحة خلف الامام زاد ابن ابی الحواری ولو ان تقرأ والت راکع وفی روایة اخری عن ابی الدرداء قال لو ادرکت الامام وهو راکع لاحببت ان اقرأ بفاتحة الکتاب.

(حسان بن عطیه له حضرت ابو الدرداء څخه روایت کوي هغه وفرمایل چه په امام پسې د سورۀ فاتحه قرائت مه پرېږدئ. که په رکوع کښې هم وی بیا ئې هم ووایئ په بل روایت کښې دي چه ابو الدرداء ﷺ وفرمایل چه که چیرته زه امام په رکوع کښې هم پیدا کړم نو دا خوښوم چه سورۀ فاتحه په رکوع کښې هم، ولولم) په دې اثر سره د صاحبِ تکمیل ټول جوړ شوی عمارت رنګ شو څرګنده شوه چه په رکوع سره حالت هیڅ بدل نه شو بلکه په رکوع کښې هم د قیام غوندې د فاتحه قرائت کیدلی شي او دې اثر ته دې ضعیف نه شي ویلی څکه چه امام بیهقي دې لره د حجت په توګه وړاندې کړی دی پس د صاحبِ تکمیل دا نتیجه ایستل چه لکه څرنګه چه د شریعت دا حکم دی چه هیڅ یو رکعت پرته له سورۀ فاتحه څخه نه کیږي همدارنګه د شریعت دا حکم هم دی چه په رکوع کښې به یو ځای کیدو باندې رکعت، کېږي د حنفیانو او حنبلیانو د استدلال د وزني کیدلو اقرار دی چه کله په رکوع کښې په یو ځای کیدو سره رکعت پیدا کیږي او په رکوع کښې د سورۀ فاتحه لوستل فرض نه دی د امام قرائت کافي دی د صاحبِ تکمیل دا وینا چه د رکوع حالت ته په تلو سره حالت بدل شو او په مثال کښې د مسافر او مقیم مسئله بیانول د هغه چه څومره بد حواسي ښکاروي کتونکي به ئې خپله اندازه وکړي

حقه خبره دا ده چه کوم خلک د مقتدي په ذمې باندې په امام پسې د سورۀ فاتحه قرائت نه فرض واني هغوی خو دې ب د ظاهریه وو غوندې باید دا ومني چه د رکوع په پیدا کولو سره رکوع نه پیدا کېږي او یا دې د ابو الدرداء غوندې دا ومني چه امام په رکوع کښې پیدا کړي نو په رکوع کښې دې سورۀ فاتحه ولولي که چیرته هغوی د جمهورو غوندې دا ومني چه د رکوع په پیدا کیدو سره رکعت حاصل کېږي او په رکوع کښې سورۀ فاتحه فرض نه ده نو بیا هغوی په هیڅ دول هم په مقتدي باندې د فاتحه قرائت نه فرض نه شي ویلی

پاتې شوه دا چه د حنفیانو په نزد په تکبیر تحریمه کښې قیام فرض دی او په دې حالت کښې ابو بکره صحابي ته قیام هم په لاس ور نه غی پرته له قیام څخه د هغه رکعت ادا شو . پس څرگنده شوه چه قیام هم فرض نه شو الخ

له دې څخه د صاحب تکمیل د حواسو گډوډوالی ښکاره دی زه دا پوښتنه کوم چه حضرت ابو بکره تکبیر تحریمه ویلی وو او که نه؟ که چیرته خواب په اثبات کښې وي نو په حدیث کښې د دې ذکر چیرته دی؟ که چیرته وویل شي چه د تکبیر د ذکر کولو ضرورت نشته خکه چه معلومه خبره ده چه پرته له تکبیر تحریمه څخه لمونځ نه کیږي نو مونږ وایو د قیام د ذکر هم ضرورت نشته خکه چه معلومه خبره ده چه تکبیر تحریمه پرته له قیام څخه نه صحیح کیږي علامه شوکاني او امام طحاوي په دې باندې اجماع را نقل کړې ده چه تکبیر تحریمه پرته له قیام څخه نه صحیح کیږي او که چیرته ئې خواب په نفی کښې وي نو دا د ټول أمت خلاف دی. له تکبیر تحریمه پرته د هیچا په نزد هم لمونځ نه شي صحیح کیدلی

په دویم دلیل باندې نیوکه

تر دې وروسته ئې دویم دلیل د حضرت ابو هریرة رضی الله عنه حدیث د ابو داؤد په حوالې سره په لنډه توگه را نقل کړی دی مونږ دا حدیث پخپلو دلائلو کښې په مفصله توگه بیان کړی دی چه حضرت ابو هریرة رضی الله عنه فرمائي چه رسول الله ﷺ له یوه لمانځه څخه فارغ شو چه جهر ئې پکښې کاوه نو وئې فرمایل چه په تاسو کښې چا له ما سره یو ځای قرائت کړی دی؟ یوه سړي وویل چه هو' یا رسول الله ما قرائت کړی دی نو رسول الله ﷺ وفرمایل ما هم دا ویل چه دا څوک دی چه له ما څخه قرآنکریم په زوره وړي؟ چه کله خلکو د رسول الله ﷺ دا خبره واوریده نو صحابه وو په هغه لمانځه کښې له قرائت کولو څخه بند شول په کوم کښې چه رسول الله ﷺ په جهر سره قرائت کاوه دا روایت امام مالک په موطا کښې. امام شافعي په مسند کښې. څلور وارو امامانو په سنن کښې روایت کړی دی او ترمذي ئې تحسین کړی دی او ابن حبان ورته صحیح ویلي دي

د دې دلیل خواب صاحب تکمیل ورکړی دی چه صحابه له قرائت کولو څخه منع شول. دا لفظ مدرج یعني راوي پخپله ور زیات کړی دی، د صحابي قول نه دی، دی مرفوع نه دی دا د زهري تابعي قول دی

مخکښې ویلي دي چه ابو داؤد دا روایت د معمر په واسطه سره هم روایت کړی دی او په دې کښې تصریح ده چه حضرت ابو هریره رضی الله عنه وفرمایل خلک په جهري لمانځه کښې له قرائت کولو څخه منع شول او معمر ثقه. متقن دی له ده څخه روایت کوونکی احمد بن السرح هم ثقه ثبت دی پس دا دعوی غلطه ده چه دا د زهري قول دی بیا که چیرته د زهري قول هم وي نو دا د زهري فتوی نه ده بلکه د یوې واقعې خبر دی او زهري په مغازي. سیر او د رسول الله ﷺ په اخبارو کښې د

وجب امام دی د رسول اللهﷺ د زماني د واقعانو په بيانولو کښې د ده قول حجت دی
د صاحب تکميل دا وينا چه له دې ځخه په سرّي لمونځونو کښې د قرائت ممانعت نه ثابتيږي نو په سرّي لمونځونو کښې له قرائت ځخه مونږ هم ممانعت نه کوو ليکن په جهري لمانځه کښې خو د قرائت ممانعت ثابت شو او همدغه زمونږ مدعا او غوښتنه ده
تر دې وروسته صاحب تکميل فرمائي چه د حديث مطلب ښکاره دی چه تر سورة فاتحه وروسته چه کله امام په جهري لمونځونو کښې کوم سورت تلاوت کوي نو مقتدي دې په خاموشۍ سره هغه اوري الخ
ليکن دی خو دې دا ووائي چه د حديث دا مطلب د حديث له کوم لفظ ځخه معلوم شو؟ ښکاره ده چه (فانتهی الناس عن القراءة فی ما جهر فيه النبی ﷺ بالقراءة). پس خلک د قرائت له کولو ځخه منع شول په هغو لمونځونو کښې چه رسول اللهﷺ به جهر کاوه، په دغو الفاظو کښې د فاتحه او غير فاتحه هيڅ ذکر نشته بلکه مطلقاً له قرائت ځخه د بنديدلو مفهوم ترې ځرګنديږي که چيرته ووئيل شي چه له دويم حديث ځخه دا قيد ور زيات شوی دی په کوم کښې چه د ابو هريرةﷺ ځپل شاګرد ته امر پکښې موجود دی چه (اقرأبها فی نفسك) (چه سورة فاتحه پخپل نفس کښې وايه، نو د دې مطلب زمونږ په نزد دا دی چه په زړه کښې ئې وايه او که چيرته په يوه حديث کښې له بل حديث ځخه تاسو کوم قيد ور زياتولی شئ نو حنفيه وو بيا څه ګناه کړې ده چه هغوی د عبادة د حديث (لا صلوٰة لمن لم يقرأ بفاتحة الکتاب) کښې د بل حديث له وجې (هذا اذا کان وحده) قيد ور زياتوي چه د سورة فاتحه له قرائت پرته د لمانځه د نه ادا کيدو حکم په هغه وخت کښې دی چه کله يو ځوک تنها لمونځ کوي او دا قيد پخپله د حديث راوي سفيان بن عيينه ور زيات کړی هم دی او امام احمد بن حنبل د حضرت جابرﷺ له روايت ځخه د دې تائيد کړی دی او صحيح حديث (اذاقرأ فانصتوا) هم د دې تائيدوونکی دی (فما هوجوابکم فهو جوابنا). د صاحب تکميل د ترمذي د قول نقل کول او د امام احمد د قول پريښودل او له امام الکلام ځخه د اسرې غوښتل چه د هغه د کومې بيځرګۍ ښکارندوی دی په هغه باندې د علم خاوندان ښه پوهيدلی شي

په دريم دليل باندې نيوکه

د دريم دليل نه ځواب کښې خو صاحب تکميل کمال کړی دی نو ځو نی د حضرت جابر حديث (من صلی رکعة لم يقرأ فيها بام القرآن فلم يصل الا ان يکون وراء الامام) (چا چه کوم رکعت پرته له سورة فاتحه ځخه ادا کړ هغه لمونځ نه دی کړی ليکن د ځه به امام پسې وی. د دې مطلب ده دا ښي ـلي دی چه د مقتدي لپاره هغه رکعت چه امام ـ د رکوع په حالت کښې بيدا کړی وی

پرنه له سورهٔ فاتحه صحیح دی۔ خبردار! موطاء امام مالک او ترمذي له حضرت جابر څخه چه کوم الفاظ نقل کړي دي له هغو څخه د هیڅا ذهن هم د دې مطلب خوا ته رسیدلی شي کوم چه صاحب تکمیل له ځانه جوړ کړی دی ترمذې له دې حدیث څخه د امام احمد په عدم وجوب قرائت خلف الامام باندې استدلال نبول را نقل کړي دي نو آیا امام احمد د حدیث په مطلب باندې غلط پوه شوی دی او صاحب تکمیل ئې په مطلب صحیح پوه شوی دی؟ سبحان الله! د (وراء الامام) لفظ د مسبوق له دې رکعت سره څه تړاؤ لري کوم چه د رکوع په حالت کښې ئې پیدا کړی دی یوه خبره له آسمانه او یوه له زمکې۔ دې ته وائي که چیرته د داسې لرې او اوږدو مطالبو په بیانولو سره د نورو د دلائلو ځوابونه ورکوئ نو په خدای قسم تاسو به په یوه دلیل سره هم خپله مدعی و نه شئ کړئ چه ثابته ئې کړئ

دا خو د حدیث په معنی کښې بې مطلبه او موقع تاویل وو اوس د صاحب تکمیل د دیانت په سند کښې بحث ملاحظه کړئ لومړی خو ده د جابر اثر د موقوف په ګڼلو سره د اقاعده بیان کړې ده چه "د صحابي قول د مرفوع حدیث په خلاف وي نو هغه د حنفیانو په نزد مقبول نه دی" لیکن لومړی دې هغه دا ثابته کړې چه د حضرت جابر دا قول د مرفوع حدیث ولې خلاف دی؟ د (اذا قرأ فانصتوا) حدیث خلاف نه دی او (من کان له امام فقراءة الامام له قراءة) حدیث سره هم موافق دی پاتې شو د عباده حدیث. نو امام ترمذي د امام احمد قول نقل کړی دی چه هغه د حضرت جابر د همدې قول له وجې دعباده حدیث په منفرد باندې محمولوي ځکه چه د عباده په حدیث کښې له امام یا مقتدي څخه هیڅ تعرض هم نشته

بیا ده د ترمذي محشي او مولانا احمد علي محدث سهارنپوري د ناخبره په بللو سره دا ګلان شیندلي دي چه دغو خلکو دا اثر د طحاوي په حوالې سره مرفوع لیکلی دی حالانکه پخپله امام طحاوي په شرح معاني الآثار کښې د دې تردید په زوړورو الفاظو سره کړی دی بیا ئې له طحاوي څخه یو عبارت را نقل کړی دی (من ذلک یحیی بن السلام عن شعبة فهو منکر ۔ الخ) له پلوه د هغه حدیث یحیی بن سلام له شعبه څخه دی هو! هغه حدیث منکر دی۔ له دې څخه هر لیدونکی او وریدونکی به دې پوهیږي چه امام طحاوي به د یحیی بن سلام دې حدیث ته منکر ویلي وي کوم چه له حضرت جابر څخه مروي دی حالانکه د طحاوی قول په اصل کښې د جابر د حدیث په اړه نه دی بلکه د حج د مسئلو د هغه حدیث په اړه دی کوم چه یحیی بن سلام له شعبه څخه له ابن ابي لیلی څخه له زهري څخه له سالم څخه له عبد الله بن عمر ؓ څخه مرفوع روایت کړی دی چه تمتع کوونکی که چیرته هدی پیدا نه کړي نو د تشریق په ورځو کښې دې روژه ونیسي او د محدثینو د اصولو سره سم د دې حدیث مرفوع والی ئې منکر ګڼلی دی او ویلي ئې دي چه دا د عبد الله بن عمر

قول دی څکه چه يحيى بن سلام او ابن ابي ليلى په حفظ کښې محدثين څه خبره لري تر دي وروسته طحاوي دا هم ويلي دي چه (مع انّي لا احبّ ان اطعن على احد من العلماء بشيء ولكن ذكرته لما يقول اهل الرواية في ذلك آه) . ج۱، ص۲۶۵ - يعني اګر که په علماوو کښې په هيڅ باندي طعن (بد رد ويل) نه خوښوم ليکن د روايت خاوندانو چه څه ويلي دي هغه ما ذکر کړي دي

د صاحب تکميل خيانت

په دې ځای کښې صاحب تکميل څو خيانتونه کړي دي ي دا چه طحاوي د يحيى بن سلام هغه حديث ته منکر ويلي وو کوم چه د شعبه په واسطه د روژې او تشريق د ورځو په جواز کښې ئې روايت کوي دې حديث ته ئې هيڅکله منکر نه دي ويلي کوم چه په ج۱. ص۱۰۷ کښې د امام مالک په واسطه له وهب بن کيسان څخه له حضرت جابر څخه د قرائت خلف الامام په اړه مرفوعا روايت کړی شوی دی

دويم کوم حديث چه طحاوي د يحيى بن سلام او ابن ابي ليلى د ضعف له وجې منکر ويلي وو هلته ئې په نه توګه ترديد نه وو کړی بلکه پاک صاف ئې ويلي وو چه "زه پخپله په کوم عالم باندې طعن (رد بد ويل) کول نه غواړم يواځې د روايت د خاوندانو قول را نقلوم" له دې څخه په ښکاره توګه څرګنديږي چه پخپله د طحاوي په نزد يحيى بن سلام او ابن ابي ليلى ضعيف يا مطعون نه دي په دې باندې دا زړورتيا او بيباکي چه خپله خوږخان په خيانت ککړوئ او د ترمذي محشی او مولانا احمد علي صاحب باندې له خدای د نه ويريدو الزام لګوئ

دريم د رجالو له کتابونو څخه ئې د يحيى بن سلام ترجمه هم نه ده ليدلې چه دا ترې څرګنديږي چه څينو محدثينو ده ته هم ثقه ويلي دي او داسې راوي حسن الحديث وي او د صحيح او حسن راوي که چيرته داسې زياتوالی وکړي کوم چه د جماعت خلافه نۀ وي نو د هغه زياتوالی مقبول دی ملاحظه کړئ شرح نخبه ص۱۲ او ښکاره ده چه موقوف لره مرفوع ګرځول داسې زياتوالی نه دی چه په مخالفت باندې محمول کړی شي څکه چه صحابه وو حضراتو ﷺ کله کله د رسول الله ﷺ حديث د فتوی په توګه د ځان له خوا څخه استعمالول او کله کله به ئې د رسول الله ﷺ د نامه مبارک په يادوني سره حديث مرفوع ګرځاوه اوس د يحيى بن سلام ترجمه له لسان الميزان ج۲. ص۲۷۰ څخه ملاحظه کړئ ابن عدي وائي چه د ضعف تر څنګ دده حديث باند وليکل شي ابن حبان ده لره په ثقاتو کښې ياد کړی دی او ويلي ئې دي چه کله کله خطائي هم کوی ابو زرعي رازی ويلي دي چه (لا بأس به ربما وهم) دا کومه خبره نه ده کله کله وهم هم کوي ابو حاتم ويلي دي شيخ بصري لوی صدوق ريښتونی دی او ډير ريښتيا ويونکی دی ابو العرب د قيروان په طبقاتو کښې د

دي بادونه کړې ده او ویلي ئې دي چه (كان من الحفاظ ومن خيار خلق الله) د حدیثو له حفاظو څخه او له بهترینو خلکو څخه وو، آه یواځې دار قطني ورته ضعیف ویلي دي ابن عدي پخپلو منکراتو کښې د جابر حدیث نه دی ذکر کړی کوم چه په اوس وخت کښې د بحث لاندې دی نه طحاوي ورته منکر ویلي دي او اکثرو محدثینو د یحیٰی بن سلام توثیق کړی دی نو که چیرته د ده حدیث مولانا احمد علي صاحب حسن وویل نو کومه ګناه ئې وکړه؟

پاتې شوه دا چه طحاوي تر دې وروسته د اسمٰعیل بن موسٰی سُدّي اثر بیان کړی دی چه دا مضمون پکښې دی چه اسماعیل له امام مالک څخه پوښتنه وکړه چه زه د جابر دا حدیث مرفوع وګرځوم؟ امام ملک وفرمایل (خذوا برجله) په دې کښې تر ټولو مخکښې د اسماعیل سُدّي حال باید معلوم شي چه هغه د کومې درجې شخصیت دی؟ هو، اګر که ځینو محدثینو د ده توثیق کړی دی لیکن ابن حبان په ثقاتو کښې د ده یادونې سره لیکلي دي چه عبدان (شیخ د بخاري) وفرمایل چه ابو بکر بن ابي شیبه او نهاد بن السري (چه دا هم د امام بخاري د مشائخو له جملې څخه دی) مونږ د ده خوا ته له ورتلو څخه منع کړو او وئې ویل چه دا سړی فاسق دی. سلفو ته بد وائي ابن عدي وائي چه هغه د امام مالک دوه حدیثونه موصول کړل او له شریک څخه هم څو حدیثونه منفرد دي (هېڅوک ورسره شریک نه دی) خلکو د ده د غلو فی التشیع پر بناء ده ته منکر ویلي ده یعنې غالي (سرسخت) شیعه دی د دې لپاره محدثینو انکار پرې کړی دی (تهذیب ج۱، ص۳۳۲) د داسې غالي او کلک شیعه په روایت سره د ایحیی بن سلام غوندې بهترین حافظ روایت لره زخمي کول یواځې د صاحب تکمیل جرئت او زړورتیا ده بیا همدغه سرسخت شیعه د امام مالک چه کوم قول را نقل کړی دی له دې څخه داسې څه نه څرګندیږي چه امام مالک د دې حدیث په رفع باندې انکار کړی دی او که د دې سړي په همدرس والي باندې. د هغه الفاظ دا دي چه "د هغه پښې ونیسئ" چه مطلب ئې دا هم کیدلی شي چه دا بندي یا قید کړئ تر څو چه حدیث بیان نه شي کړی او دا مطلب هم کیدلی شي چه تر پښو ئې ونیسئ او له دې ځایه ئې وباسئ دا غالي شیعه زمونږ په درس کښې د کښیناستو لائق نه دی له دې څخه دا چیرته څرګندیږي چه امام مالک د حدیث په مرفوع والي باندې انکار کړی دی او که چیرته انکار هم وي نو رفع ئې نه صحیح کیږي لیکن حسن خو کیدلی شي او مولانا احمد علي صاحب رفع ته حسن ویلي دي، صحیح ئې نه دي ورته ویلي

په څلورم دلیل باندې نیوکه

د حنفیانو نه څو حخه څلورم دلیل دا بیان شوی دی چه په صحیح مسلم کښې له قتادة ﷺ څخه (واذا قرأ فانصتوا) راغلی دی د صاحب تکمیل له الفاظو څخه داسې مفهوم را ووځي چه هغه قتاده

لره صحابي کنې. دا غلط دی د حدیث راوي حضرت ابو موسی اشعري صحابي ﷺ دی. په دې حدیث کښې رسول الله ﷺ د امام او مقتدي فرائض بیان کړي دي چه امام د دې لپاره جوړېږي چه د هغه اتباع وشي چه کله تکبیر وائي نو تکبیر ورسره وایئ او چه کله قرائت کوي نو چُپ او غلي ودرېږئ او چه کله رکوع کوي نو رکوع وکړئ الخ له دې څخه هر سړی چه وا ئې وري نو په دې پوهېږي چه مقتدي باید د امام د قرائت په وخت کښې غلی او چُپ و اوسي مونږ دې حدیث ته د عباده د حدیث معارض (ټکر) یا د هغه ناسخ نه دي هیڅکله نه دي ویلي مونږ یواځې دا وایو چه د عباده په حدیث کښې د امام یا مقتدي هیڅ ذکر نشته. په دې کښې یواځې دا مضمون دی چه څوک سورۀ فاتحه و نه لولي نو لمونځ ئې نه کیږي دې ته د مقتدي په اړه ویل صحیح نه دي دا د غیر مقتدي په حق کښې دی او دابوموسی حدیث په ښکاره توګه د مقتدي په حق کښې دی او مونږ ویلي دي چه د عباده د حدیث راوي سفیان بن عیینه او زهري هم دا د غیر مقتدي په اړه بللی دی

اوس تر دې وروسته د اهلِ حدیث تاویلات وګورئ دوی وائي چه **(اذاقرأفانصتوا)** مطلب دا دی چه له سورۀ فاتحه پرته د بل سورت له ویلو څخه خاموشه و اوسئ یو څوک دې ترې پوښتنه وکړي چه **(اذاقرأفانصتوا)** په حدیث کښې د فاتحه او غیر فاتحه یادونه په کوم ځای کښې شوې ده چه دا قید ورسره زیاتوئ؟ په حدیث کښې خو مطلقاً د خاموش اوسیدو ذکر دی که چیرته دا وویل شي چه د عباده د حدیث له وجې دا قید ورسره لګول کیږي نو د دې څه دلیل دی چه د عباده په حدیث سره د **(اذاقرأفانصتوا)** حدیث مقید کول ضروري دي؟ د تطبیق او توفیق دا صورت خو هم کیدلی شي چه د عباده حدیث د دې حدیث له وجې په منفرد باندې محمول کړی شي لکه څرنګه چه سفیان بن عیینه، امام احمد بن حنبل او امام زهري محمول کړي دي او حنفیه وو هم همدا غوره کړی دی اوس دې صاحبِ تکمیل د دې وجه ووائي چه د تطبیق کومه وجه چه دی بیانوي هغه صحیح دی او کومه وجه مونږ بیان کړې ده هغه صحیح نه ده اهلِ حدیث کوم چه د تقلید منکر دي دا حق نه لري چه **(اذاقرأفانصتوا)** د حدیث ظاهري مطلب د چا د تقلید له وجې بدل کړي او که چیرته دوی د بیهقي او داسې د تقلید له وجې د دې یوه حدیث د مطلب د بیانولو حق وي نو مونږ ته هم د امام ابو حنیفه، احمد بن حنبل، سفیان بن عیینه او زهري د تقلید له وجې د دې د هغه مطلب د بیانولو حق لرو کوم چه د حدیث له الفاظو څخه پرته له تاویل څخه څرګندېږي

پ تې شوه دا چه د دې **(اذاقرأفانصتوا)** دوېم راوي حضرت ابو هریره ﷺ خپل شاګرد ته ویلي وو **(اقرأبهافي نفسك يافارسي)** چه د اقتداء په حالت کښې سورۀ فاتحه خپل نفس کښې ووایه د دې مطلب زمونږ په نزد دا دی چه په زړه کښې ئې ووایه څکه چه په موطا د امام مالک کښې : حضرت

ابو هریره ﷺ دا حدیث موجود دی **(فانتهی الناس عن القراءة فیما جهر فیه النبی ﷺ)** چه خلک به جهري لمونځونو کښې په رسول الله ﷺ پسې له قرائت کولو څخه منع شول لکه څرنګه چه مخکښې بیر سو له دي څخه پاک صاف څرګند شو چه به جهري لمونځونو کښې حضرت ابو هریره ﷺ د قرائت خلف الامام قائل نه وو **قال فی غیث الغمام قوله اقرأ بها المراد من القراءة فی النفس و الاخطار بالبال من دون ان یتلفظ بها ای احضر معانیها فی نفسك و تدبر فیها حین یقرأها الامام کذا نقله الزرقانی فی معناه عن عیسی و ابن نافع آه.** یعني د حضرت ابو هریره دا ویل چه پخپل نفس کښې سورهٔ فاتحه لولئ د دي مطلب دا دی چه په زړه کښې ئې وایئ او په زړه کښې فکر پرې وکړئ په ژبې سره تلفظ مه پرې کوئ بلکه معنی ئې په زړه کښې حاضره کړئ او سوچ فکر سرې وکړئ به داسې حال کښې امام سورهٔ فاتحه لولي زرقاني به همدې ډول د دی مطلب له عیسی او ابن نافع څخه نقل کړی دی آه ابن نافع د امام مالک شاګرد دی **وقال الطحاوی رحمه الله وکان من الحجة علیهم فی ذلك ان حدیثی ابی هریرة و عائشة الذی رووهما عن النبی ﷺ کل صلوة لم یقرأ فیها بام القران فهی خداج لیس فی ذلك دلیل علی انه اراد بذلك الصلوة التی تکون وراء الامام قد یجوز ان یکون علی بذلك الصلوة التی لا امام فیها للمصلی و اخرج من ذلك انما موم بقوله من کان له امام فقراءة الامام له قراءة فجعل المأموم فی حکم من یقرأ بقراءة امامه فکان المأموم بذلك خارجاً من قوله کل من صلّی صلوة لم یقرأ فیها بفاتحة الکتاب فصلوته خداج آه(ج۱،ص۱۰۶)**

امام طحاوي فرمائي چه کوم خلک د قرائت خلف الامام قائل نه دی د هغوی پخپلو مخالفینو باندې دا حجت دی چه د حضرت ابو هریره او حضرت عائشه به دي حدیث کښې چه په کوم لمانځه کښې سورهٔ فاتحه و نه لوستل شي هغه ناقص دی په دی باندې هیڅ دلیل نشته چه له دي څخه هغه لمونځ مراد دی چه په امام پسې وي. کیدلی شي چه له دي څخه هغه لمونځ مراد وی نه کوم کښې چه لمونځ کوونکی په امام پسې نه وي په دې حکم سره دد مقتدی نه بخیل دوهم قول سره چه د چا امام وی د هغه قرائت د مقتدي لپاره قرائت دی مستثنی کړی دی یه کوم کښې چه مقتدي لره د امام د قرائت له وجې حکماً قاري ګڼل شوی دی نو مقتدی نه دی حکم څخه مستثنی دی چه کوم لمونځ ئې نه سورهٔ فاتحه څخه داسې هغه ناقص دی

نوس دی تحت کمل نه تصنف سره ووائي چه **(اذا قرأ فانصتوا)** د حدیث چه کوم تاویل کوی د هغه د صحیح ولی او حق ولی چه دلیل دی لکه څرنګه چه په حدیث کښې صاف حکم دی چه کوم وخت قرائت کوی مقتدی دی غلی و اوسی

پاتې شوه دا چه د دار قطني په روایت کښې (اذا قال الامام غير المغضوب عليهم و لا الضالين فا نصتوا) چه کله امام سورهٔ فاتحه ختم کړي نو تاسو چُپ شئ چه له دې خخه څرګنده شوه چه د خاموشه اوسیدلو حکم تر سورهٔ فاتحه وروسته دی اهلِ حدیث دې د دې روایت په وړاندې کولو سره لږ باید وشرمیږي. دا روایت منکر دی ټولو ثقاتو دا روایت داسې بیان کړی دی (اذا قال الامام غير المغضوب عليهم و لا الضالين فقولوا امين). (چه کله امام غير المغضوب عليهم و لا الضآلين ووائي نو تاسو آمين ووایئ) کوم یوه محدث کیدای شي (فقولوا امين) په لټدو الفاظو یعنې د (فانصتوا) په لفظ سره بیان کړی وي دې لره کوم یوه عقلمند د تصحیف او تبدیل په کولو سره (فانصتوا) وویل؟ په داسې ګډو وډو او بې مطلبه خبرو سره صاحبِ تکمیل خپل خان خوشحاله کوي لیکن د پوهې خاوندان د هغه په بې وسې باندې نـه خبر دي او که چیرته دا صحیح ومنل شي چه نو تر و لا الضآلین وروسته په جهر سره آمین ویل به هم ممنوع وي ځکه چه په حدیث کښې تر و لا الضآلین وروسته د خاموشه اوسیدلو امر دی (انما هو جوابكم فهو جوابها). او که چیرته کوم مقتدي په لمانځه کښې داسې وخت له امام سره شریک شي چه امام سورهٔ فاتحه لوستلی وي نو ده ته د قیام په حالت کښې د سورهٔ فاتحه لوستل په امام پسې جائز نه وي ځکه چه په دې حدیث کښې د امام د و لا الضآلین تر ویلو وروسته مقتدي ته د خاموشه اوسیدلو حکم دی په دې اړوند د صاحبِ تکمیل څه فتویٰ ده؟

په پنځم دلیل باندې نیوکه

د حنفیانو له خوا څخه پنځم دلیل دا بیانوي چه من كان له امام فقراءته له قراءة (د چا چه امام وي نو د امام قرائت د هغه لپاره قرائت دی) صاحبِ تکمیل د علامه سندي حنفي اسره نیولې چه د دې په سند کښې جابر جعفي دی کوم چه کذاب دی او دا حدیث د صحاح ستّه د حدیث (د عباده د حدیث) خلاف دی الله. الله له تقلید څخه انکار کوونکی هم د سندي حنفي تقلید کوي با للعجب: که چیرته دی په رښتیا هم اهلِ حدیث وای نو د دې حدیث د طریقو پلټنه به ئې کوله تر څو چه ورته څرګنده شوې وای چه د ابن ماجه په سند کښې د جابر جعفي موجودوالی دا نه لازموي چه په هر سند کښې دې دی موجود وي اوس واورئ چه دا حدیث د حضراتو صحابو وو بوې ډلې روایت کړی دی

جابر بن عبد الله. عبد الله بن عمرو. ابو سعيد خدري. ابو هريره. ابن عباس او انس بن مالک رضى الله عنهم اجمعين د جابر حدیث چه په کوم سند سره له ابن ماجه څخه روایت کړی دی په دې

کښي جابر جعفي شته لېکن د دې دويم سند با لکل صحيح دی چه امام محمد صاحب په موطا کښې له امام ابو حنيفه څخه له موسی بن ابي عائشه څخه له عبد الله بن شداد څخه له حضرت جابر څخه په دې الفاظو روايت کړی دی (من صلّی خلف الامام فان قراءة الامام له قراءة) ،څوک چه په امام پسې لمونځ کو نو د امام قرائت د ده لپاره هم قرائت دی۔

په دې باندې د دار قطني دا وينا چه "دا حديث سفيان ثوري او ابو الاحوص. شعبه. اسرائيل. شريک. ابو خالد دالاني. سفيان بن عيينه او داسې نورو له موسی بن ابي عائشه څخه له عبد الله بن شداد څخه له نبي کريم ﷺ څخه مرسلاً روايت کړی دی ،د صحابي نوم ئې حذف کړی دی، او هم هغه صحيح دی" په مونږ باندې حجت نه دی ځکه چه د احمد بن منيع په مسند کښې دا حديث د سفيان ثوري او شريک القاضي په واسطه مرفوعاً موصولاً روايت شوی دی پس دا وينا غلطه ده چه امام ابو حنيفه يواځې دې لره موصول ګرځولی دی او که چيرته و هم منل شي چه امام ابو حنيفه يواځې موصول ګرځولی دی نو امام ابو حنيفه له زرګونو محدثينو څخه پورته ثقه دی هغه چه کوم حديث يواځې هم موصول وګرځوي د محدثينو د اصولو پر بناء واجب القبول دی

د حديثو په علم کښې د امام ابو حنيفه درجه

د يحيی بن معين تر زمانې پورې په امام ابو حنيفه باندې هېچا هم جرح نه وه کړې د خلق قرآن په مسئله کښې د فتنې تر را ولاړيدو وروسته ځينو حشويه محدثينو په هغه باندې جرح شروع کړه ځکه چه په دې فتنه کښې په محدثينو علماوو باندې زور او زياتی کوونکی قاضي د عقدې له مخې معتزلي او د فروعاتو له مخې حنفي وو حشويه وو له دغو قاضيانو څخه داسې انتقام واخيست چه امام ابو حنيفه. امام ابو يوسف او امام محمد بن حسن شيباني باندې جرح لګول شروع کړل کوم چه د حنفي مذهب ستنې دي (ولما سئل ابن معين عنه قال ثقة مأمون ما سمعت احدا ضعفه هذا شعبة بن الحجاج يكتب اليه ان يحدث وشعبة شعبة)۔

،چه کله له يحيی بن معين څخه د امام صاحب د نسبت په اړه پوښتنه وشوه نو وئې فرمايل چه ثقه او مامون دی ما له هيچا څخه نه دي اوريدلي چه هغه ته ئې ضعف ويلی وي شعبة بن الحجاج هغه ته د خط په ذريعه د حديث د بيانولو تاکيد کوی و سره خو شعبه دی

لوی لوی امامانو کرامو د امام صاحب تعريف کړی دی لکه عبد الله بن المبارک او دی خو د امام صاحب له شاګردانو څخه شمېرل کېږي. سفيان بن عيينه. سفيان ثوري. حماد بن زيد. عبد الرزاق. وکيع بن الجراح او ده خو د امام صاحب په فقهي بندې فتواوي ورکولې همدارنګه دري ګونی امامان امام مالک. امام شافعي او امام احمد بن حنبل رحمه الله عليهم هم د امام صاحب ډېر

صدف او حسن یه کړې ده (عیني شرح بخاري ج۲، ص۱۲)

په تاریخ د خطیب بغدادي کښې چه کوم له ځینو لویو خلکو څخه د امام صاحب تضعیف او تنقص، ضعیف او کم ګڼل منقول دی دا ټول د خلق قرآن تر فتنې وروسته د حشویه ډلې درواغ او له ځانه جوړې سوې خبرې دي ځکه چه دا ټول خرافات عموماً د مجهولینو، مجروحینو، کذابینو دروغجنو په ذریعې سره روایت شوي دي او د خطیب تر وفات ډېر وروسته د هغه په تاریخ پورې ملحق شوي دي. خطیب د مفاتو په ذریعې سره پرته د مناقبو او فضائلو څخه نور څه نه دي ذکر کړي ځکه چه په دې باندې د نور تفصیل د کتلو شوق وي نو زما مستقل مضمون "خطیب بغدادي او د حدیثو منکرین" په مطبوع شوې ماهنامه "الصدیق" ملتان سـ۱۹۵۷/۵۸ـه، کښې دې وګوري

پاتې سوې نورې طریقې کوم چه د حضرت عبد الله بن عمرو، ابو سعید خدري، ابو هریره، ابن عباس او انس بن مالک رضی الله عنهم څخه مروي دي د هغو په ځینو راویانو باندې اګر که دار قطني څه خبره کړې ده لیکن په هغو کښې اکثره داسې دي چه کوم چه د ځینو محدثینو په نزد ثقه دي بیا د اصول حدیث قاعده ده چه څو ضعیفان سره یو ځای شي د حسن او کله کله د صحیح درجې ته هم رسیږي پس دا وینا غلطه ده چه د حنفیانو د کور فیصله ده چه دا حدیث د منلو وړ نه ده که چیرته صاحب تکمیل د عیني شرح د بخاري مطالعه کړې وای نو ور معلومه شوې به وای چه د حنفیه وو په نزد دا حدیث بالکل صحیح بالکه په صحیح حخه هم پورته دی ځکه چه دې لره پخپله امام محمد له امام ابو حنیفه څخه په موطا او کتاب الآثار کښې په صحیح سند سره روایت کړی دی بیا امام دار قطني کوم چه دې حدیث ته مرسلاً صحیح ویلي دي هغه نه دې معلومه وي چه عبد الله بن شداد کوچنی صحابي دی او چه کله د امام شافعي په نزد د سعید بن المسیب غوندې د لوی تابعي مرسل د قبول وړ دی نو د کوچني صحابي مرسل به په طریقهٔ اولی سره د قبول وړ وي ځکه چه د صحابه وو مراسیل په اتفاق سره ټولو قبول کړي دي

تر دې وروسته صاحب تکمیل د امام بخاري رحمه الله یوه فیصله را نقل کړې او دعوی ئې کړې ده چه دا د سرو زرو په اوبو سره د لیکلو وړ ده چه حاصل ئې دا دی چه **(من کان له امام فقراءة الامام له قراءة)** حدیث عام دی او د عباده په حدیث کښې له **(الا بام القرآن)** څخه سورهٔ فاتحه مستثنی شوې ده د دې داسې مثال سو لکه څرنګه چه په یوه حدیث کښې دي چه زما له پاره د ځمکې ټول مخ د لمانځه ځای جوړ سوی دی. بیا په دوهم حدیث کښې ئې د **(الا المقبرة و الحمام)** په ویلو سره هدیره او د حمام ځای ترې مستثنی کړي دي

لیکن پوښتنه دا ده چه امام طحاوي خو هم دا ولې دی چه د ابو هریره حدیث **(کل صلوة لم یقرأ فیها بام القرآن فهی خداج)** په کوم لمانځه کښې چه سورهٔ فاتحه ونه لوستل سي هغه خداج ناقص

نسمگری، دی، عام دی چه له دې خخه (من كان له امام فقراءته له قراءة) حدیث مقتدي لره مستثنی کړی دی او مقتدي د امام د قرائت له وجې قاری گنل شوی دی نو د دې څه وجه ده چه د امام بخاری قول د سرو زرو په اوبو سره د لیکلو وړ دی او د امام طحاوي قول د سرو زرو په اوبو سره د لیکلو وړ نه دی دا بواخې او بواخې زور زیاتی او عصبیت دی نور څه نه دي حالانکه د قرائت لفظ نه عام وبل غلط دي او د ابو هریره په حدیث کښې د (كل صلوة) عام والی صحیح او څرګند دی بیا مونږ مخکښې ووبل چه د عباده په حدیث کښې استثنائیه جملې (الا بام القرآن) ته د فن امام یحیی بن معین ضعف ویلې دي له دې وجې څخه د (من كان له امام ـ الخ) کښې تاویل کول صحیح نه دی او د (من كان له امام) حدیث صحیح حدیث دی همدارنګه د مسلم حدیث (اذا قرأ فا نصتوا) او د قرآن نص (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا) سره موافق دی دا د عباده او ابو هریره د حدیثونو لره مخصص گنل صحیح دي پس د امام طحاوي قول ډیر وزني دی چه په مخکښې ئې د امام بیهقي او داسې نورو قولونه هیڅ حقیقت نه لري

پاتې شو دا چه دار قطني (او بیهقي) له حضرت جابر څخه روایت کړی دی چه یو سړي په مانسپین یا ماز دیګر کښې په رسول الله ﷺ پسې د (سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى) سورت ووایه نو ده تر لمانځه وروسته پوښتنه وکړه. دا څوک چه په ما پسې ئې قرائت کاوه؟ درې ځله ئې پوښتنه وکړه یوه سړي ووبل چه ما قرائت وکړ و ئې فرمایل ما لیدل چه تاسو له ما سره په قرآنکریم کښې منازعت کاوه کوم سړی چه په امام پسې لمونځ کوی د هغه لپاره د امام قرائت کافی دی الخ

دا حدیث خو د حنفیه وو دلیل وو چه صاحب تکمیل د مغالطې ورکولو په توګه خپل بللی دی له حدیث څخه په ښکاره توګه څرګندیږي چه نوموړي سړي په پټه سره قرائت کړی وو. که چیرته ئې په جهر سره قرائت کړی وای نو پیغمبر علیه السلام ته به د درې ځله پوښتني کولو ضرورت نه پیدا کیده صحابه وو به په لومړي ځل پوښتني سره ویلي وای چه فلاني قرائت کړی دی بیا د ده ﷺ دا وینا چه څوک په امام پسې لمونځ کوي نو د امام قرائت د هغه لپاره قرائت دی په پاکه توګه دا وائي چه په امام پسې مقتدي باید قرائت و نه کړی له دی څخه د مطلب احستل چه له سورة فاتحه څخه پرته بل کوم سورت دی نه وائي د زور او ز... ... دی کوم چه هیڅکله د نبي کریم ﷺ له ... څخه ئې مفهوم نه ... ووځي بلکه له دی څخه خو د معلومیږي چه په سري لمونځونو کښې هم ده ﷺ په د مقتدي قرائت ... او د څه په عامه توګه صحابه کرامو په ... کریم ﷺ ... کړی ... خو د ... کول څه ... کریم ﷺ معنوي له قرائت څخه منع کول که ... صحابه ... موږ ... کوی ... چه موږ ... د

سورۀ فاتحه قرائت کړی دی لیکن داسې و نه شول بلکه ټول خاموش او غلي شول بیا قرائت کوونکي دا هم و نه ویل چه ما سورۀ فاتحه او سورۀ (سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى) قرائت کړی دی. ده هم سواخې د (سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى) د قرائت اقرار وکړ چه دا ترې څرګندیږي چه صحابه وو د سورۀ فتحه خلف الامام اهتمام نه کاوه بیا که چیرته په امام پسې د سورۀ فاتحه قرائت لازم وای نو دا سړی به ئې له مطلقاً قرائت څخه نه منع کولی بلکه په ښکاره توګه به ئې ورته ویلي وای چه له سورۀ فتحه پرته نور څه مه وایه د حضرت جابر د حدیث په هیڅ یوې طریقې کښې هم د سورۀ فاتحه د قرائت استثناء نه ده راغلی او د عباده د حدیث د استثنائیه جملې حال پورته تیر شو چه د حدیثو امامانو ضعیف ګڼلی دی پس د حنفیانو دلیل لره خپل دلیل جوړوونکی پخپله د جهالت او ناپوهي ارتکاب کوي هغه د دې خطاب چه نورو ته ئې کوي پخپله ئې ښه مستحق دی

په شپږم دلیل باندې تنقید

تر دې وروسته ئې شپږم دلیل د عبد الله بن مسعود حدیث د کنز العمال په حوالې سره نقل کړی دی (اذا صلّى احدكم خلف الامام فليصمت فان قراءته له صلوة) (کوم سړی چه په امام پسې لمونځ کوي نو چُپ دې اوسې ځکه چه د امام قرائت د ده لپاره قرائت دی او د امام لمونځ د ده لمونځ دی)، دې حدیث ته خو ئې لومړی ضعیف ویلی دی لیکن مونږ ویلي دي چه دا حدیث له څو صحابهٔ کرامو ﷺ څخه روایت شوی دی چه عبد الله بن مسعود صحابي هم پکښې اضافه یا زیات شوی دی او د ضعیف حدیث په ګڼو طریقو سره د حسن یا صحیح درجې ته رسیدل د حدیثو په اصولو کښې تصریح برې سوې ده بیا د دې حدیث ځینې طریقې په یقیني توګه صحیح دي او ځینې حسن دي لکه څرنګه چه مونږ مخکښې پخپلو دلائلو کښې بیان کړي دي او دا هم تیر شول چه حافظ ابن حجر دا حدیث د حضرت جابر د روایت له وجې مشهور ګڼلی دی او د مشهور حدیث چه کومه درجه ده اهلِ حدیث ترې ناخبره نه دي بیا ئې په دې کښې هغه بې موقع او بې ځایه تاویل کړی دی چه د قرائت لفظ عام دی چه د عباده د حدیث له وجې سورۀ فاتحه ترې مستثنی ده الخ د دې تاویل بیکار والی اوس بیان شو

بیا ئې بو عجیب الزام لګولی دی چه که چیرته د (فان قرائته له قراءة) څخه دا مطلب واخیستل سي چه د امام قرائت مقتدی ته کافي دی. هغه ته د سورۀ فاتحه د لوستلو ضرورت نشته نو د (و صلوته له صلوة) به هم همدغه مطلب وي چه د امام لمونځ د مقتدی لپاره کافي دی نو تر اقتداء وروسته د لمانځه د رکنونو لکه رکوع، سجده او داسې نورو هم به مقتدي ته ضرورت نه وي

د دې ځواب دا دی چه د صاحب تکمیل په نزد صلوة سواخې سورۀ فاتحه ته وائي لکه څرنګه چه

د (قسمت الصلوٰة بینی وبین عبدی) په تفسیر کښې په ۵۴ مخ کښې له امام رازي څخه ئې نقل کړی دی چه الله تعالی په دې حديث کښې سورهٔ فاتحه ته صلوٰة ويلي دي چه دا ترې څرګنده شوه چه که چيرته فاتحه نه وي نو لمونځ هم نشته الخ چه کله د ده په نزد يواځې سورهٔ فاتحه ته لمونځ ويل کيږي نو د ابن مسعود د حديث حاصل به دا وي چه د امام قرائت د مقتدي قرائت دی او سورهٔ فاتحه ئې د مقتدي سورهٔ فاتحه دی پخپله مقتدي ته ئې د ويلو ضرورت نشته او تر قرائت وروسته ئې خاص د سورهٔ فاتحه يادونه د دې لپاره وکړه چه بناني څوک دا مطلب ترې واخلي چه له قرائت څخه مراد پرته له سورهٔ فاتحه څخه نور قرائت دی، د دې لپاره دا شبهه رفع کړې ده. دا خو الزامي ځواب وو وګورئ صاحبِ تکميل دا الزام په څه ډول سره له خانه لرې کوي

تحقيقي ځواب ئې دا دی چه د (وصلوته له صلوٰة) د جملې هغه مطلب دی کوم چه د (الامام ضامن) د حديث مطلب دی (د امام لمونځ د صحت او فساد له مخې د مقتدي د لمانځه متضمن دی) يعنې که چيرته د امام لمونځ صحيح شي نو د مقتدي به هم صحيح کيږي. که چيرته فاسد شي نو د مقتدي به هم فاسديږي چنانچه د ابو داؤد په يوه روايت کښې ئې دا مضمون په دې ډول بيان کړی دی (قال وحدثنا ان رسول الله ﷺ قال لقد اعجبنی ان تکون صلوٰة المسلمين او المؤمنين واحدة). (حضرت معاذ بن جبل بيان وکړ چه رسول الله ﷺ وفرمايل چه ما ته دا ښه کار څرګنديږي چه د مسلمانانو لمونځونه يو لمونځ وي) د جماعت لمونځ ده ﷺ يو لمونځ وباله او ځان ځانته ئې ډير لمونځونه به وبلل او د عرف او عادت له مخې هم د جماعت لمونځ يو لمونځ ګڼل کيږي او له همدې وجې د جماعت لمونځ يو لمونځ دی چه کله د سترې ضرورت پيښ شي نو يواځې د امام مخې ته ستره کافي ده د هر مقتدي مخې ته د ځان ځانته سترې لګولو ضرورت نشته نو د يوه لمانځه لپاره يو قرائت او يوه فاتحه کافي ده هر يوه د قرائت ضرورت نشته. پاتې ارکان په قرائت باندې قياس کول غلط دي ځکه چه د امام د قرائت لپاره خو استماع او انصات په قرآنکريم کښې واضح او څرګند حکم دی او د رکوع او سجدې لپاره نيابت کافي نه دی بلل شوی بلکه مقتديانو ته ښکاره حکم دی چه (اذا رکع فارکعوا و اذا سجد فاسجدوا). (چه کله امام رکوع کوي نو تاسو هم رکوع کوئ او چه کله سجده کوي نو تاسو هم سجده وکړئ) او دا عام عادت هم دی چه کله د بادشاه دربار ته ډير خلک د يوې عريضې د وړاندې کولو لپاره ورځي نو د تعظيم افعال هر سړی جلا جلا په ځای کوي لکن خبرې اترې يواځې د خلکو مشر او سردار کوي. هر سړی ځان ځانته خبرې نه کوي او د عريضې تر قبلېدلو وروسته هر سړی ځان ځانته د بادشاه شکريه ادا کوي او د تعظيم آداب په ځای راوړي شريعت په لمانځه کښې هم همدغه صورت اينبی دی چه لومړی هر يو تکبيرونه ووايئ. شاهي آداب په ځای راوړئ تر دې وروسته د عريضې وړاندې کول د امام کار دی چه کله

هغه تر سورهٔ فاتحه وروسته بل سورت قرائت کوي کوم چه د الله تعالی له خوا څخه د خواب ورکولو په مرتبه کښې ده نو هر سړی د تعظیم آداب په ځای راوړي او په رکوع او سجده کښې د شکرېې او تعظیم الفاظ ادا کوي

د اهلِ حدیثو له مصنفینو څخه هیله

که چیرته اهلِ حدیث له انصاف څخه کار واخلي نو د هغوی لپاره دومره پوهیدل کافي دي چه په کوم حدیث کښې رسول الله ﷺ د امام او مقتدي دواړو فرائض بیان کړي دي یعني د **انما جعل الامام لیؤتم به فاذا کبر فکبروا واذا رکع فارکعوا واذا قال سمع الله لمن حمده فقولوا اللّٰهم ربنا لک الحمد واذا سجد فاسجدوا الخ**. امام د دې لپاره ټاکل کیږي چه د هغه اتباع (پیروي) وشي. چه کله هغه تکبیر وائي نو تاسو هم تکبیر ووایئ. چه کله رکوع کوي نو رکوع وکړئ. چه کله سمع الله لمن حمده وائي نو تاسو اللهم ربنا و لک الحمد ووایئ. چه کله سجده کوي نو تاسو سجده وکړئ، په هیڅ یوه روایت کښې هم نشته چه **(واذاقرأفاقرءوا)** چه کله امام قرائت کوي نو تاسو هم قرائت وکړئ، که چیرته د مقتدي په ذمې باندې د امام له قرائت سره یو ځای قرائت فرض یا واجب وای نو بیان به ئې خامخا په دې حدیث کښې راغلی وای په کوم کښې چه د امام او مقتدي دواړو فرائض بیانیږي په دې حدیث کښې که چیرته دی نو **(اذاقرأفانصتوا)** چه کله امام قرائت کوي نو تاسو چُپ و اوسئ، دی ملاحظه کړئ مسلم شریف او ابو داؤد پس څوک چه په امام پسې د سورهٔ فاتحه قرائت د فرض کیدو دعوی کوي هغه دې د دې حدیث له طریقو څخه په یوې طریقې کښې **(اذاقرأفاقرءوا)** وښیي څکه چه په همدې حدیث کښې د امام او مقتدي دواړو فرائض بیان **شوي دي د عباده** حدیث وړاندې کول کافي نه دی څکه چه په هغه کښې د امام او مقتدي د دواړو د **فرائضو** بیان نشته بلکه د حدیث راوي سفیان بن عیینه، زهري او داسې نورو بخیله ویلي دي چه دا د **تنها** لمونځ کوونکي په اړه دی او همدغه امام احمد هم بیان کړی دی

په اووم دلیل باندې نیوکه

ووم دلیل له صحیح مسلم څخه د زید بن ثابت رضی الله عنه قول را نقل شوی دی **(لاقراءة مع الامام في شيء من الصلوات)** له امام سره د نو ځای په هیڅ یو لمانځه کښې هم قرائت نشته د امام طحاوی الفاظ دی **(لا تقرأ مع الامام في شيء من الصلوات ورجاله ثقات)** له امام سره نو ځای به هیڅ یو لمانځه کښې قرائت نه کوئ او د دې راویان ټول ثقه دي له دې وروسته هم هغه بې موقع او بې ځایه تاویل نه دی کښې هم شوی دی چه دا اثر سره مسوا د فاتحه نه دی محمول دی او په ډیر جرئت سره وئي

چه د صحیح مسلم په خواب سره په همدې مخ باندې موجود دی الخ یو څوک دې ترې پوښتنه وکړي چه د امام نووي تقلید له کومې ورځې څخه واجب شوی دی کوم چه د هغه د خواب په حنفيانو باندې لازم ګرځیدلی دی او چه و نې نه مني نو شب کور (هغه څوک چه د تعصب له مخې واضحه او ښکاره خبره هم نه مني) بلل کیږي؟ لیکن کوم خلک چه د امام طحاوي خواب و نه ویني. و نې نه مني د هغو لپاره کوم لقب باید غوره شي؟ دا دی د اهلِ حدیثو دیانت او تهذیب چه دخپل مطلب خبره له هر ځای څخه پیدا کړي نو فوراً په چنګک سره مقلد جوړیږي او په منلو نې دومره زور لګوي چه ګوا که له آسمان څخه وحی نازله شوه چه د زید بن ثابت د اثر هم هغه مطلب دی کوم چه امام نووي بیان کړی دی او که امام بیهقي د خپل مذهب په رعایت او حمایت کښې څه لیکلي دي زه پوښتنه کوم چه د زید بن ثابت په اثر کښې د فاتحه او غیر فاتحه یادونه چیرته شوې ده؟ او که چیرته له داسې ډول تاویلونو څخه کار واخیستل شي نو ستاسو یو دلیل به هم قائم پاتې نه شي هر سړي ته به اختیار وي چه ستاسو ټول دلائل په منفرد باندې محمول کړي او په تائید کښې د (اذاقرأفانصتوا) حدیث او (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا) قرآني آیت وړاندې کړي بیا دا د کوم ځای انصاف دی چه ستاسو تاویل او د امام نووي او بیهقي قول حجت وي او د نورو تاویل او امام احمد. سفیان بن عیینه. زهري. طحاوي او علامه عیني اقوال دې حجت نه وي؟ که چیرته تاسو رښتونی اهلِ حدیث یئ نو یواځې د حدیثو په الفاظ سره استدلال وکړئ. له دې خوا اخوا څخه پکښې قیدونه مه لګوئ که په دې لار باندې لاړ شئ نو انشاء الله د حنفیه وو د مسلک قوت به په ښو سترګو باندې تر نظر درشي

تاسو چه د حنفیه وو په څومره دلائلو باندې نیوکې کړي دي هغوی په ښکاره الفاظو کښې د قرائت خلف الامام ممنوع والی او نه واجب والی ظاهروي لیکن تاسو د امام نووي یا بیهقي یا امام رازي د تقلید د اسرې په نیولو سره په هغو کښې هغه تاویلونه کوئ د کومو تاویلونو چه تاسو هیڅ حق نه لرئ اوبو اخیستونکی وښو ته هم لاس غزوي دې ته وائي

د امام احمد او علامه ابن تیمیه د قول بې اعده کول

په آخر کښې د امام احمد بن حنبل او علامه ابن تیمیه قول ... در په زړه کوم امام احمد فرمائي چه مونږ په اهل اسلام کښې له هیچا څخه نه دی اوریدلي چه کله امام په جهر سره قرائت کوی او په هغه ... مقتدیان قرائت و نه کړی نو لمونځ نې نه صحیح کیږی رسول الله ﷺ. او د ده صحابهٔ کرام ﷺ. تابعین رحمهم الله. په اهل حجاز کښې امام مالک. د عراق په خلکو کښې امام سفیان ثوري. د شام له خلکو څخه امام اوزاعي. د مصر په خلکو کښې امام لیث بن سعد په دوی کښې ... هم دا نه وائي چه کوم سړی مقتدی وي او د ده امام قرائت کوی او دی قرائت و نه کړی نو د ده لمونځ باطل دی ... موفق بن قدامه د امام احمد د دې قول په عمل کولو سره په دې مسئله کښې د

اجماع دعوی کړې ده (ج ۱. ص ۲۰۲)
علامه عيني په شرح د بخاري کښې فرمايلي دي چه د قرائت خلف الامام ممانعت د اتياوو لويو لويو صحابهٔ کرامو څخه منقول دی چه له هغو څخه حضرت علي. عبادلهٔ ثلاثه (عبد الله بن مسعود. عبد الله بن عمر. عبد الله بن عباس) هم دي محدثينو ته د دغو صحابهٔ کرامو نومونه ښکاره دي د دغو حضرات په دي باندي اتفاق کول د اجماع په مرتبه کښې ده د دي لپاره د هدايي ملا صاحب فرمائي چه د قرائت خلف الامام په پرېښودو باندې د صحابه وو اجماع ده د ډېرو اتفاق ته اجماع ويل شوي دي ځکه چه زمونږ په نزد دې ته هم اجماع ويل کيږي او شيخ امام عبد الله ابن يعقوب حارثي پخپل کتاب "کشف الاسرار" کښې فرمايلي دي چه عبد الله بن زيد بن اسلم له خپل والد (پلار) څخه روايت کړی دی چه د رسول الله ﷺ له صحابه وو څخه لسوکسانو له قرائت خلف الامام څخه په ډېرې سختۍ سره ممانعت کاوه (چه د هغو نومونه دا دي) حضرت ابو بکر صدي. عمر بن الخطاب. عثمان بن عفان. علي بن ابي طالب. عبد الرحمن بن عوف. سعد بن ابي وقاص. عبد الله بن مسعود. زيد بن ثابت. عبد الله بن عمر. عبد الله بن عباس رضی الله تعالی عنهم اجمعين آه تر دې وروسته علامه عيني د ګڼ شمير صحابه وو اقوال د کتابونو او اسنادو په حوالې سره بيان کړي دي کومو لره چه مونږ پخپلو دلائلو کښې مخکښې بيان کړي دي
علامه ابن تيميه پخپل کتاب "تنوع العبادات" کښې فرمايلي دي چه "سلفو په عامه توګه قرائت خلف الامام مکروه ګڼلی دی په داسې حال کښې ه امام په جهر سره قرائت کوي او اکثرو امامانو تر سورۀ فاتحه وروسته اوږد سکوت نه کاوه (تر څو چه مقتدي سورۀ فاتحه ولولي په جهري لمونځونو کښې (په امام پسې) قرائت کوونکي ډير کم وو او له دي څخه کتاب الله هم خلک منع کړي دي او د رسول الله ﷺ سنتو هم او جمهور سلف او خلفو هم له دې څخه ممانعت کوي او د قرائت خلف لامام په صورت کښې د لمانځه په باطليدو کښې اختلاف دی څيني علماء په جهري لمونځه کښې هم په مقتدي باندې قرائت خلف الامام واجب بولي او که چيرته قرائت و نه کړي نو د لمانځه په فاسديدو کښې اختلاف دی پس نزاع په دوارو خواوو کښې دی ليکن کوم خلک چه له قرائت خلف الامام څخه منع کوي له هغو سره جمهور سلف او خلف دي. کتاب الله هم او صحيح حديثونه هم ورسره دي او کوم خلک چه په دې حالت کښې په مقتدي باندې قرائت واجب بولی نو هغو حديثونه امامانو ضعيف ګرځولي ابو داؤد دي لره روايت کړی دی او د ابو موسی په حديث کښې د رسول الله ﷺ ارشاد (واذا قرأ فانصتوا) چه کله امام قرائت کوي نو خپ شئ ته امام احمد. اسحاق. امام مسلم او داسي نورو صحيح ويلی دی په خلاف د هغه حديث کوم چه له حضرت عباده څخه روايت شوی دی (لا تفعلوا الا بأم القران) چه ته امام پسې نور څه مه وايئ پرته له سورۀ

ویحه څخه دا په صحیح کښې نه دی شامل شوی او د دې ضعیف والی له څو وجوهاتو څخه ثابت
دی په اصل کښې دا د حضرت عباده قول دی آه د رسول الله ﷺ ارشاد نه دی

د حنفیه وو په اهلِ حدیث باندې احسان (بنیگړه)

الحمد لله نن د چارشنبې په ورځ ۲۷ د ربیع الثاني کال ۱۳۸۰ هجري د تکمیل البرهان د رسالې خواب پای ته ورسیده چه کتونکو ته به په ښه توګه اندازه ولګیږي چه د قرائت خلف الامام په مسئله کښې د امام ابو حنیفه رحمه الله د مسلک په کتاب الله. سنت صحیحه او د جمهور سلفو او خلف په اجماع سره تائید شوی دی او کوم اهلِ حدیث چه د مقتدي لمونځ په امام پسې د سورۀ فاتحه د نه قرائت کولو له وجې باطل بولي له هغو سره هیڅ یو ښکاره دلیل نشته بلکه په امام پسې چه د قرائت کوونکو خلکو لمونځ هم وشي نو غنیمت دی څکه چه په قرآنکریم کښې. صحیحو احادیثو کښې مقتدي ته د قرآن د قرائت په وخت کښې د خاموشه اوسیدلو حکم دی. له قرائت څخه منع کړې شوی دی او د اهلِ حدیثو د اصولو له مخې د نهی په مخالفت سره عمل باطلیږي اګر که د حنفیه وو په نزد نه باطلیږي پس دوی باید د امام ابو حنیفه رحمه الله احسان ومني چه د قرائت خلف الامام له وجې د هغوی لمونځونو ته باطل یا فاسد نه وائي او که نه پخپل د اهلِ حدیث د اصولو مقتضی ده چه (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا) آیت په مخالفت سره کوم چه نزول ئې د اجماع له مخې د قرائت خلف الامام په باره کښې شوی دی لکه څرنګه چه امام احمد بن حنبل فرمیلي دي همدارنګ د صحیح حدیث (اذا قرأ فانصتوا) د خلاف ورزي له وجې کوم چه خاص د مقتدیانو په اړه راغلی دی چه کله امام قرائت کوي نو تاسو خاموشه و اوسئ د اهلِ حدیثو لمونځونه باید باطل وبلل شي لکه څرنګه چه د یوم النحر (د قرباني یا د لوی اختر) ورځې روژې ته په همدې باندې باطل وائي چه د شارع نهی (ممانعت) د عمل د باطل والي موجب دی

هیله ده چه د علم او پوهې خاوندان په دې نکتې باندې پوه شوي وي الله تعالی دې مسلمانان له جاهلي عصبیت څخه وساتي او د سلفو د امامانو د عظمت او ادب کولو توفیق دې ور په برخه کړي و دا رساله دې د عوامو او خواصو په مخکښې مقبوله وګرځوي آمین

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمین وصلی الله تعالی علی خیر خلقه سیدنا محمد واله واصحابه اجمعین والحمد لله الذی بنعمته وبعزته وجلاله تتم الصلحت. ۲۷ ربیع الثانی ۱۳۸۰ هجری

تمت بالخیر

داحسن الفتاوی دویم جلد ختم شو ولله الحمد اولاً واخراً وظاهراً وباطناً
وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد وعلی اله وصحبه وسلم اجمعین برحمتک یا ارحم الراحمین

د موضوعاتو فهرست

عنوان	صفحه
كتاب الصلوة	۳
د مازديگر د مستحب وخت تحقيق	۳
په اوږدو ورځو لرونكو خايونو كښې د لمانځه او د روژې دوختونه حكم	۶
د لمانځه د وختونو تخريج ، د قبلې د سمت قواعد او قطبينو ته نژدې د لمانځه د وختونو د تعين ضابطې	۱۴
الحاق	۲۰
په شكاگو كښې د صبح صادق او مغرب يعنې ماښام وختونه	۲۱
د هوسټن د ملک د لمانځه د وختونو نقشه	۲۱
د ټيكساس (امريكا) د ښار هوسټن لپاره د لمانځه د وختونو نقشه	۲۲
په لاړكانه او مكّه او مكرمه كښې د صبح صادق وختونه	۲۲
په لاهور كښې د صبح صادق وخت	۲۳
د شفق احمر (سره شفق) قول مفتى به دى	۲۳
د طلوع (لمر را ختو) په وخت كښې د سهار لمونځ صحيح نه دى	۲۴
د سهار او مازديگر په لمونځونو كښې د لمر د راختلو او ډوبيدلو حكم	۲۴
د سهار لمونځ د طلوع (لمر ختو) تر ابتداء پورې ادا كيدلى شي	۲۵
د طلوع په وخت كښې د تلاوت د سجدې حكم	۲۵
د مازديگر تر لمانځه وروسته د تلاوت سجده جائزه ده	۲۹
په مكروه وختونو كښې د جنازې د لمانځه حكم	۳۰
د شرعي او عرفي نصف النهار پيژندنه او د هغې احكام	۳۰
په رمضان شريف كښې د ماښام په لمانځه كښې د تاخير حكم	۳۲
دلمانځه تر ادا كولو وروسته معلومه شوه چه د لمانځه وخت وتلې دى	۳۲
د لمانځه د وختونو تعين په ساعتونو سره ممكنه نه دى	۳۳
د لمانځه د وختونو نقشې	۳۵

تمت بالخیر

تم فهرس الکتاب بعون الملک الوهاب

د احسن الفتاوی د دویم جلد فهرست ختم شو ولله الحمد اولاً واخراً

وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد وعلی اله وصحبه وسلم اجمعین برحمتک یا ارحم الراحمین

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیہ

پښتو ترجمه

از افادات

مفتی اعظم عارف باللہ مولانا مفتی محمد فرید صاحب دامت برکاتہم

مترجم

مولوی نصر اللہ "منصور" تخاری

ناشر

مکتبہ فریدیہ

محلہ جنگی پشاور

فتاویٰ دارالعلوم دیوبند

مدلله اومکمله

فارسی

تالیف

حضرت مولانا مفتي عزیز الرحمٰن عثماني صاحب

حسب هدایت ونګراني

حضرت مولانا محمّد طیّب صاحب

ترتیب اوحواشي

مولانا محمّد ظفیر الدّین صاحب

جدید اضافي تخریج

مولانا مفتي محمّد صالح کاروړي

ناشر:

مکتبهٔ فریدیه

محله جنګي، پشاور

فتاویٰ حقانیہ

پښتو ترجمه

له افادا تود

شیخ الحدیث حضرت مولانا عبدالحق صاحب رحمة الله علیه

څارنه او اهتمام

حضرت مولانا سمیع الحق صاحب مهتمم جامعه حقانیه

ترتیب: مفتی مختار الله حقانی

پښتو ژباړونکی

مولوی قاری محمد فاروق منګ مهتمم جامعه دارالعلوم ابوهریرة ارګون

ناشر:

مکتبه فریدیه

محله جنګی، پشاور